افغانیک

Afghanic

# افغانستان پوهنتونونو
# ته
# درسي کتابونه چاپول

ډاکتر یحیی وردک

افغانستان پوهنتونونو ته درسي کتابونه چاپول

ډاکتر یحیی وردک

"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کیفیت او زده کوونکو ته د نویو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړینه ده، چې په پښتو او دري ژبو د درسي کتابونو د ليکلو فرصت برابر شي، د تعليمي نصاب د ریفورم لپاره له انگریزي ژبې څخه پښتو او دري ژبو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړين دي، له دغو امکاناتو څخه پرته د پوهنتونونو محصلين او استادان نه شي کولای عصري، نويو، تازه او کره معلوماتو ته لاسرسی پيدا کړي."

*د لوړو زده‌کړو د وزارت ستراتيژيک پلان: ۲۰۱۰-۲۰۱۴ زکال*

"د لوړو زده کړو وزارت خپله دنده گڼي، چې د گرانو محصلينو د علمي سطحې د لوړولو لپاره د علومو په مختلفو برخو کې معياري او نوي درسي مواد برابر او چاپ کړي."

*ډاکتر عبداللطيف روشان، د لوړو زده‌کړو د وزارت پخوانی سرپرست وزير، ۲۰۱۷ زکال*

"د افغانستان په پوهنتونونو کې محصلين لا هم مناسب درسي کتابونه نه لري. استادان دوی ته تش په نامه چپترونه، چې له لکچرنوټونو او تېر وخت کتابونو څخه کاپي شوي دي، ورکوي. له بل پلوه کتابتونونه، د اهداء شويو کتابونو د بې بودجې انبارونو په څېر پاتې شوي دي، چې زياتره يې د اړتياوو، تعليمي نصاب او لکچرونو له محتوياتو سره سر نه خوري." *کرېستين روز، افغانستان انلېست نېټوورک، ۲۰۱۴ زکال*

"د افغاني پوهنتونونو درسي توکي زاړه دي، نوښت غواړي."

*مصطفی سالک، بي بي سي، ۲۰۱۱ زکال*

"له کتاب پرته يو محصل داسې دی، لکه يو عسکر چې وسله و نه لري."

*يوه پخوانۍ يوناني مقوله*




دريم چاپ

III. Edition

ISBN 978-9936-620-54-4

اقرأ باسم ربك الذي خلق

# افغانستان پوهنتونونو
# ته درسي کتابونه چاپول

**ډاکتر يحيی وردک**

**دغه کتاب په پي ډي ايف بڼه له تصويرونو، آډيو او ويډيو سره په ډي وي ډي کې کتلی شئ.**



د کتاب نوم افغانستان پوهنتونونو ته درسي کتابونه چاپول

لیکوال ډاکټر یحیی وردک

خپرندوی په لوړو زده کړو وزارت کې د یحیی وردک دفتر

وېب پاڼه www.mohe.gov.af

چاپکال ۱۴۰۲ ل

چاپوار دریم

چاپ شمېر ۱۰۰۰

ډاونلوډ www.ecampus-afghanistan.org

د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:

ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده وزارت، کابل

ټیلیفون ۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰، ۰۷۰٦۳۲۰۸۴۴

ایمیل info@ecampus-afghanistan.org

© د نقل قول او کاپي کولو اجازه په دې صورت کې شته، چې منبع وښودل شي.

ترجمه او بیا چاپول یې د مؤلف د کتبي موافقې څخه وروسته امکان لري.

ای اس بي ان ۹۷۸-۹۹۳٦-٦۲۰-۵۴-۴

## ډالۍ!

خپلې ادې ته،

چې د افغانستان په تحصيلي چارو کې د زياتو بوختياوو لـه املـه ما ونشو کړای د خپلې مور د ژوند پـه وروسـتيو کلونـو کې د هغې مناسب خدمت وکړم او خدمت ته يـې پـه پـوره توګه و رسېږم.

دا به زما د ژوند يو ارمان پاتې شي.

# د موضوعاتو لړلیک

لنډه سریزه ........................................................................................ ۱

**لومړی برخه: نظرونه، وړاندیزونه او مشورې**

د طب له پوهنځیو سره د مرستو پروګرام ............................................................. ۷
چیټر، کتاب که انټرنیټ؟ ........................................................................... ۱۴
د درسي کتابونو ملي پروګرام وړاندیز ............................................................... ۱۸
تدریس په انګلیسي که په ملي ژبو؟ ................................................................... ۲۰
لېسانس که ماستري؟ ................................................................................ ۲۲
د هېواد د راتلونکي لپاره د لوړو زده کړو ارزښت ....................................................... ۲٤
افغان ـ جرمن پوهنتون په کابل کې ..................................................................... ۲٦
د لوړو زده کړو څېړنیز مرکز ............................................................................ ۲۸
نظري او عملي زده کړې، لازم او ملزوم .................................................................. ۳۰
علمي مجلې ........................................................................................... ۳۲
ورکشاپونه او تش په نامه پروژې!؟ ....................................................................... ۳٤
سافټوېر لومړی که هارډوېر؟ ............................................................................. ۳۸
په پوهنتون کې زده کړې د ښوونیز سیستم یوه مهمه برخه ده ............................................ ٤۱
د ډیجیټلي کتابتون لپاره لومړی اغېزمن ګام ............................................................. ٤٥
د ننګرهار پوهنتون د انکشافي پروژو ګزارش .............................................................. ٤٧
په افغانستان کې طبي لوړې زده کړې ..................................................................... ٥۱
ولسمشر محمد اشرف غني ته لیک ......................................................................... ٥٤

**دویمه برخه: د کتاب چاپولو پروسه**

د خپرندویه ټولنې یادښت ............................................................................... ٥۷
د ۳٦۹ چاپ شویو کتابونو لست ............................................................................. ٦۰
د تصدیقونو څو بېلګې ..................................................................................... ۷٥
د ارسالي مکتوبونو څو بېلګې ................................................................................ ۷۹
د کتابونو د چاپولو د غوښتنلیک فورمه ..................................................................... ۸۳
د کتابونو د چاپ لپاره لازمي ټکي ............................................................................ ۸٤

د مولف لپاره د کتابونو د تسلیمي فورمه ...................... ۸۶
په نویو درسي کتابونو کې د لوړو زده کړو د وزارت د پیغام یوه بېلګه ...................... ۸۷
افغان درسي کتابونو ته آنلاین لاسرسی ...................... ۸۹
د پروسې لنډیز (پرېزنټېشن) ...................... ۹۰

**دریمه برخه: زموږ راپورونه**

د المان فدرالي جمهوریت ته د یوه سفر او کارونو راپور ...................... ۱۰۱
په لوړو زده‌کړو وزارت کې د یحیی وردک لنډ کاري راپور ۲۰۱۰-۲۰۲۲ ...................... ۱۰۷
په ننګرهار کې د چاپ شویو کتابونو وېش له ډاکتر ایروس سره ...................... ۱۰۹
په ۲۰۱۱ ز کال کې د طبي کتابونو د چاپولو راپور ...................... ۱۱۵
د پنځوس عنوان طبي کتابونو د چاپ ګزارش ...................... ۱۱۷
لوړو زده‌کړو وزیرې د سمت سازمان د اکاډمیکو همکاریو ټینګار ...................... ۱۱۹
په لوړو زده‌کړو وزارت کې د کتاب دارۍ ورکشاپ ...................... ۱۲۰
ایران ته د سرپرست وزیر پوهنوال محمد عثمان بابري د سفر د راپور یوه برخه ...................... ۱۲۱
د ننګرهار پوهنتون محصلینو ته د طبي کتابونو وېش ...................... ۱۲۲
د شل عنوان کتابونو د وېشلو پروګرام ...................... ۱۲۵
د ساینس، انجنیري، اقتصاد او زراعت په برخو کې د ۲۴ عنوانه کتابونه چاپ ...................... ۱۲۸
د ننګرهار پوهنتون کې محصلینو ته د غیر طبي کتابونو وېش ...................... ۱۳۰
د یوویشت نوي درسي کتابونه چاپ په ۲۰۲۲ کال کې ...................... ۱۳۷
د ننګرهار او خوست پوهنتونونو د۲۰ کتابونو د معرفي غونډې راپور ...................... ۱۳۹

**څلورمه برخه: درسي کتابونه د رسنیو په هینداره کې**

د افغاني پوهنتونونو درسي توکي نوښت غواړي ...................... ۱۵۱
په درسي کتابونو سره د طب پوهنځیو سمبال ...................... ۱۵٤
د ننګرهار طب پوهنځي ته درسي کتابونه ورکړی شول ...................... ۱۵۷
د پوهنتونونو نوی درسي نصاب اعلان ...................... ۱۵۹
د یو شمېر زړه سواندي افغانان مرسته ...................... ۱۶۰
مشکلات کتب درسی محصلین پوهنتون های افغانستان ...................... ۱۶۲
د طب په برخه کې ۱۱۵ عنوانه چاپ شوي ...................... ۱۷۲
د هېواد د طبي پوهنتونونو د محصلینو ستونزې ...................... ۱۷۶

ولې په زرګونو افغان ناورغان هند او پاکستان ته ځي ........................................ ۱۸۰
له ډاکتر یحیی سره د آزادۍ راډیو مرکه................................................................... ۱۸۱
هر کال د کتابونو لپاره زر ډالره: ............................................................................ ۱۸۹
محصلین تراوسه زاړه چپټر نوټونه کاروي ................................................................ ۲۱۵
د درسي کتابونو په هکله له آریانا تلویزیون سره مرکه.............................................. ۲۲۱
د افغانستان د پوهنتونونو لپاره درسي مواد نوي کیږي.............................................. ۲۳۰
یو افغان غواړي د پوهنتونونو چیپټرونه کتابي بڼې ته واړوي ....................................... ۲۳۵
اېډېټور ته لیک ...................................................................................................... ۲۳۹
خیرمن وګړي: له زړو چپټرونو یې بې غمه کړو .......................................................... ۲۴۰
پوهنتونونه نوي نصاب ته اړتیا لري ........................................................................... ۲۴۲
وردګ: د لوړو زده کړو زوړ سیستم باید نوی شي........................................................ ۲۴۴
د درسي کتابونو په اړه د شرق تلویزیو راپور .............................................................. ۲۴۶
د درسي کتابونو په اړوند له آریانا تلویزیون سره مرکه .............................................. ۲۴۹
د افغان پوهنتونونو لپاره شل ټوکه کتابونه چاپ شوي................................................. ۲۵۵
د خوست شېخ زاید پوهنتون له استادانو او محصلینو سره مرکه .................................. ۲۵۸
د درسي کتابونو چاپ دوام لري................................................................................. ۲۶۹
د ننګرهار او خوست پوهنتونونو ته د ۲۰ نویو کتابونو د تسلیمول راپور ........................ ۲۷۱

**پنځمه برخه: ملپاڼې، پوسټرونه، ستاینلیکونه او تصویرونه**

په وروستیو کلونو کې د چاپ شویو کتابونه پوسټرونه ................................................ ۲۷۴
د ستاینلیکونو څو نمونې ......................................................................................... ۲۹۲
تصویرونه ................................................................................................................ ۲۹۶
علاقمندو افغان مؤلفینو ته پیغام ............................................................................. ۳۰۶
د یحیی وردګ ژوندلیک ........................................................................................... ۳۰۷
انګلیسي خلاصه ..................................................................................................... ۳۰۸
اندېکس ................................................................................................................. ۳۱۱
اځلیکونه ................................................................................................................ ۳۱۵

# د اختصاراتو لیست

| شرح | اختصار |
|---|---|
| د آلمان فدرالي دفتر | AA |
| د افغانستان د ارزونکو شبکه | AAN |
| په کابل پوهنتون کې د افغانستان مرکز | ACKU |
| زیږدیز یا میلادي تاریخ | AD |
| د افغانستان د معلوماتو مرکز | Afghanic |
| د افغان ـ جرمن پوهنتون | AGU |
| د افغانستان د درسي کتابونو ملي پروګرام | ANT |
| د افغانستان د بیا رغونې د باور صندوق | ARTF |
| مخکې له میلاد څخه | BC |
| پیاوړې مېز | CD |
| د نړیوال مهاجرت او پرمختګ مرکز | CIM |
| مرکزي رواني سیستم | CNS |
| د آلمان د علمي مبادلې خدمت | DAAD |
| په آلمان کې د افغان روغتیاپالانو ټولنه | DAMF |
| د افغان- آلمان پوهنتون ټولنه | DAUG |
| د ماشوم روغتیا په برخه کې ډیپلوم | DCH |
| د جرمني د پراختیا خدمت | DED |
| ډاکټر | Dr. |
| د ډیجیټل ویډیو مېز | DVD |
| غوږ، پوزه او مرۍ | ENT |
| د جرمني انحصاري خیریه موسسه | gGmbH |
| د نړیوالې همکارۍ لپاره د آلمان ټولنه | GIZ |
| د غوره لابراتوار تمرین | GLP |
| د تخنیکي همکاریو لپاره د آلمان استازولي | GTZ |

| | |
|---|---|
| HERC | د لوړو زده کړو څېړنيز مرکز |
| HIV | ايډز ناروغي يا د انسانانو د کمزوري دفاعي سيستم په وړاندې ځواکمن وايروس |
| InWENT | د نړيوالو پراختيايي څېړنو لپاره د آلمان اداره |
| ISBN | په نړيوال سټنډرډ د کتاب شمېره |
| MD | روغتيايي ډاکتر |
| MoHE | د لوړو زده کړو وزارت |
| NATO | د شمالي اتلانتيک  پيمان (ناټو) سازمان |
| NGO | غير حکومتي سازمان |
| PCB | فزيک، کيميا او بيولوژي |
| PDF | د سند قابل انتقال فارمت يا شکل |
| PhD | د فلسفې ډاکتر (دوکتور) |
| PRT | د ولايتي بيارغونې ټيم |
| SAMT | د انساني علومو په هکله د پوهنتون د تدريسي کتابونو د  تصنيف او څېړنو اداره |
| SHEP | د لوړو زده کړو د ځواکمنتيا پروګرام |
| TM | حاروي طب |
| TV | تلويزيون |
| UN | ملګري ملتونه |
| UNESCO | د ملګرو ملتونو تعليمي، ساينسي او کلتوري اداره (يونسکو) |
| USA | د امريکا متحده ايالات |
| USAID | د نړيوالې پراختيا لپاره د امريکا د متحده ايالاتو د مرستو اداره |
| USD | د امريکا د متحده ايالاتو ډالر |
| USSR | د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو اتحاد |
| USWDP | پوهنتون او د کاري ځواک د پراختيا پروګرام |
| WHO | د روغتيا نړيواله اداره |

# سریزه

په بهر کې د لوړو زده کړو تر حصول، د مهاجرت ژوند او یو شمېر مرستندویو چارو څخه وروسته، زه په ۲۰۰۹ کال کې افغانستان ته راستون شوم. په ننگرهار پوهنتون طب پوهنځي کې مې د پنځه عنوان درسي کتابونو په خپرولو سره په کار پیل وکړ. د دې کار د دوام لپاره مو د لوړو زده کړو په وزارت کې یو دفتر جوړ کړ. د پوهنتونونو لپاره د درسي کتابونو د تهیه کولو بهیر پراختیا ومونده چې اوس هم دوام لري. موږ له ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۲۲ کال پورې د پوهنتونونو د استادانو په همکارۍ ټولټال ۳۶۹ عنوان درسي کتابونه تر څلور سوه زره زیات ټوکه چاپ او خپاره کړل او د هېواد ټولو پوهنتونونو ته مو په وړیا توگه وېشلي دي. دغه کتابونه په طب، وترنري، فارمسي، روانشناسي، انجنیري، ساینس، اقتصاد، ژورنالیزم، عامه اداره او پالیسي، ژبو او ادبیاتو، اداره او تجارت، کرنه او داسې نورو څانگو پورې اړه لري.

له دې کار څخه زموږ موخه د افغانستان پوهنتونونو ته د تدریسي کتابونو برابرول، د معیاري کتابونو بڼې ته د پخوانیو چپټرونو اړول، د هېواد له محصلینو، استادانو او پوهنتونونو سره مرسته ده.

دغه کتاب چې همدا اوس ستاسو په لاس کې دی، د موضوع په اړوند یې گڼ شمېر لاسوندونه په خپلو پاڼو کې را اخیستي دي، چې کېدای شي منځپانگه یې افغان محصلینو، استادانو، د لوړو زده کړو وزارت، پوهنتونونو، مرستندویانو او د افغانستان د تحصیلي چارو کارپوهانو ته د اهمیت وړ وي. په دې کتاب کې د هېواد د لوړو زده کړو د سیستم درسي اړتیاوې، ستونزې، چلنجونه، مشورې او هغه ته د لاسرسي لارې چارې په گوته شوي دي.

په دې اثر کې له ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۲۲ کال پورې د هغو فعالیتونو جامع راپور وړاندې شوی، چې د افغانستان د پوهنتونونو د قدرمنو استادانو په ملتیا د لوړو زده کړو په وزارت کې د یحیی وردک دفتر په مسلسله توگه د هېواد پوهنتونونو ته د درسي کتابونو د برابرولو، چاپ او توزیع په برخه کې سر ته رسولي دي. همدارنگه په دې کتاب کې د درسي کتابونو د چاپ او توزیع په اړوند خپاره شوي راپورونه، مقالې، په ملي رسنیو کې غبرگونونه، داخلي او بهرني سفرونه، ویناوې، مرکې، لېستونه،

جدولونه، تصویرونه، د چاپ شوو کتابونو نومونه، د کتابونو د وېش لړۍ، د غونډو راپورتاژونه، ستاینلیکونه او داسې نور شامل دي.
دغه کتاب پنځه برخې لري، چې په لاندې ډول دي:
۱. په لومړۍ برخه کې یې زما نظرونه، وړاندیزونه او مشورې دي، چې د افغانستان د لوړو زده کړو دودیز سیستم، اړتیاوې، ستونزې او تدریسي چارې یې په موثر شکل تشرېح کړي دي.
۲. په دویمه برخه کې یې د تدریسي کتابونو د چاپ پروسه راغلې چې له ټولو جزئیاتو سره یو ځای تشرېح شوې ده.
۳. په دریمه برخه کې یې د تدریسي کتابونو د تهیه کولو، چاپ او توزېع د فعالیتونو په هکله زموږ د دفتر راپورونه دي چې هر فعالیت یې له ټولو جزئیاتو سره یو ځای تشریح کړی دی.
۴. په ځلورمه برخه کې یې درسي کتابونه د رسنیو په هېنداره کې تشرېح شوي دي. په دې برخه کې یو شمېر هغه مقالې، لیکنې، راپورونه او مرکې له اړوندو لمن لیکونو سره یو ځای راغلې، چې په ملي او نړیوالو رسنیو کې یې انعکاس موندلی، چاپ شوې یا په آنلاین بڼه خپرې شوې دي.
۵. په پنځمه برخه کې یې د تدریسي کتابونو د چاپ او توزېع د پروسې په هکله یو شمېر پوسترونه، ستاینلیکونه، انځورونه، انډېکس او اخځلیکونه راغلي دي او دغه پروسه یې په تېرو ۱۴ کلونو کې گام پر گام مستنده کړې ده.
هیله مو دا ده چې د دې کتاب منځپانگه به لوستونکو او د افغانستان د تحصیلي چارو ملي او بهرنیو چارواکو ته نه یوازې په زړه پورې وي بلکې له دوی سره به د دې مهمې ملي پروسې په اړوند د مرستې او همکارۍ روحیه لا پیاوړې کړي.
دا کار کېدای شي لږ تر لږه ځلور گټې ولري:
۱. تاسو ته به معلوم شي، چې په تېرو ۱۴ کلونو کې ما په افغانستان کې څه کړي دي.
۲. د افغانستان د پوهنتونونو، د لوړو زده کړو وزارت او محصلینو د روان وضعیت د بیانولو تر څنگ به د دوی په وړاندې یو شمېر چلنجونه تاسو ته په نښه شي.

۳. همدارنگه له دې معلوماتو او مشورو څخه به د لوړو زده‌کړو مسوولین زموږ د راتلونکي نسل په روزلو کې ګټه واخلي.
۴.نور هغه کسان، بنسټونه او موسسې به تشویق شي، څو په کتابي بڼه خپل کارونه او پرمختګونه مستند کړي، چې د افغانستان لپاره یې سر ته رسولي دي.
غواړم چې د افغانستان د پوهنتونونو د استادانو، د پوهنتونونو او لوړو زده کړو د مسوولینو او مرسته کوونکو ټولنو څخه د زړه له کومي مننه وکړم، چې په دې روښانه مزل کې یې زموږ لاسنیوی کړی، خپله همکاري او مرسته یې راڅخه سپمولې نه ده.

په درنښت

یحیی وردک

بن، آلمان، ۲۰۲۳ کال

# لومړۍ برخه

# زما نظرونه، وړاندیزونه
# او مشورې

## د طب له پوهنځيو سره د مرستو پروګرام

له ۲۰۰۹ کال څخه تر ۲۰۱۲ زېږديز کال پورې د مزار شريف، ننګرهار او هرات پوهنتونونو د طب له پوهنځيو څخه د ليدنې پر مهال او هم د لوړو زده کړو په وزارت کې د کار په جريان کې ما احساس کړه، چې د هېواد د طب په پوهنځيو کې ډېرې ستونزې موجودې دي.

د خوست او کندهار د طب پوهنځيو رئيسانو،استادانو او محصلينو هم د لوړو زده کړو په برخه کې له ستونزو څخه شکايت کاوه.

په کابل پوهنتون او د لوړو زده کړو په خصوصي پوهنتونونو کې پر يو لړ پرمختګونو سربېره لا هم د لوړو زده کړو ځينو مؤسسو د نړيوال بانک له پروژو SHEP1 او ARTF2 څخه مرسته نه وه تر لاسه کړې.

د دې پوهنځيو له استازو سره د ليدنې پر مهال، دوی له خپلو پوهنځيو سره د اکاډميکو مرستو غوښتنه کوله، په دې پوهنځيو کې د زېربناوو، درسي موادو، لابراتوارونو، تکړه او مجربو استادانو کمی احساس کېده.

د تدريس چارې د زاړه او وروسته پاتې سيستم پر اساس رواني وې.

استادانو يوازې د لکچر ورکولو له مېتود څخه ګټه اخيسته او اکثراً زاړه نوټونه او لکچرنوټونه محصلينو ته وېشل کېدل.

له عصري او پرمختللي مېتود څخه د تدريس په چارو کې ګټه نه اخيستل کېده او د محصلينو لپاره دا فرصت او چانس هم نه وو، چې د ناروغۍ تشخيص او علاج له نږدې ځای څخه په روغتون کې د رنځور تر څنګ په عملي توګه ووينې او په عملي ډول سره يې زده کړي.

د لوړو زده کړو وزارت د ستراتيژيک پلان له مخې به په راتلونکو څلورو کلونو کې د طب پوهنځيو د محصلينو شمېره دوه برابره شي، چې د نوموړو پوهنځيو چارواکي له يو لړ ننګوونو سره مخ دي.

دوی نه شو کولای چې د محصلينو لپاره د درس ويلو ښه زمينه برابره کړي. له همدې

---

۱. SHEP (د لوړو زده کړو لپاره د نړيوال بانک د تقويې پروګرام)

۲.ARTF (د افغانستان لپاره د نړيوال بانک د بيارغاونې پانګونه)

امله د طبي ظرفیتونو او کادرونو د روزلو لپاره لنډ مهالي او اوږد مهالي پروګرامونه جوړول اړین دي.
د ماهرو او تکړه استادانو د نه شتون له امله د افغانانو لپاره د معیاري طبي خدمتونو برابرول شوني نه دي.
کوم پروګرامونه، چې په وروستیو کلونو کې عملي شوي دي، لنډ مهاله وو او هم له تطبیق کېدو څخه وروسته تعقیب شوي نه دي. دا ډول پروګرامونه باید دوامداره وي، چې د هېواد د طب پوهنځیو اړتیاوې پوره کړي او په ورته ډول باید پرمختیایي پروژې برابرې او پلې شي، چې له یوې خوا دوامداره وي او له بلې خوا د طب پوهنځیو د اوسني وضعیت او ستونزو پر اساس برابرې وي.
سربېره پر دې اړینه ده، څو له طبي پروژو څخه څارنه او ارزونه وشي او لازمه ده چې له ملي او نړیوالو بسپنه ورکوونکو سره په همغږۍ پلې شي.
د بېلګې په توګه یوه پروژه د کندهار طب په پوهنځي کې د نمونې په ډول په لاره واچول شي او بیا دا سلسله د هېواد د نورو پوهنتونونو د طب پوهنځیو ته وغزول شي.
د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی له لویو ستونزو څخه دی. یو زیات شمېر استادان او محصلین نویو معلوماتو ته لاسرسی نه لري، په زاړه مېتود تدریس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه کار اخلي، چې زاړه دي او په بازار کې په ټیټ کیفیت فوتوکاپي کېږي.
د دې ستونزو د هوارولو لپاره له ۲۰۱۰ زېږدیز کال راهیسې موږ د طب پوهنځیو د درسي کتابونو د چاپ لړۍ پیل کړې او تر اوسه پورې موږ د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ او کاپیسا پوهنتونونو د طب پوهنځیو او کابل طبي پوهنتون لپاره ۱۷۶ بېلا بېل طبي تدریسي کتابونه چاپ کړي دي او د ۳۰ نورو طبي کتابونو د چاپ چارې پیل شوي دي.
د یادونې وړ ده، چې دغه چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو طب پوهنځیو ته په وړیا توګه وېشل شوي دي.
د هېواد د طب پوهنځیو محصلین او استادان له ډېرو ستونزو سره مخ دي، تازه درسي موادو او معلوماتو ته نه لاسرسی او له هغو کتابونو او چپترونو څخه کار اخیستل، چې

په بازار کې په ډېر ټیټ کیفیت پیداکېږي، ددې برخې له ځانګړو ستونزو څخه ګڼل کېږي.
له همدې کبله هغه کتابونه، چې د استادانو له خوا لیکل شوي دي، باید راټول او چاپ کړل شي.
د هېواد د اوسني حالت په نظر کې نیولو سره مونږ تکړه ډاکټرانو ته اړتیا لرو، چې وکولای شي په هېواد کې د طبي زده کړو په ښه والي او افغانانو ته د لوړ کیفیت خدمتونو په وړاندې کولو کې فعاله برخه واخلي.
له همدې کبله باید د طب پوهنځیو ته زیاته پاملرنه وشي.
د لوړو زده کړو وزارت، استادانو او محصلینو د غوښتنې پر اساس په راتلونکي کې غواړو، چې دا پروګرام غیر طبي برخو لکه اقتصاد، ساینس، انجنیري، کرنې او نورو پوهنځیو ته هم پراخ کړو او د مختلفو پوهنتونونو او پوهنځیو د اړتیا وړ کتابونه چاپ کړو.

## د طبي درسي کتابونو چاپ

افغان ډاکټران، چې د ټرېننګ په موخه آلمان ته راغلي وو، ټول په دې نظر وو چې په افغانستان کې د لوړو زده کړو په برخه کې ستونزې موجودې دي.
د تکړه، مسلکي او ماهرو استادانو نشتوالی، د درسي موادو کمښت، د مجهزو لابراتوارونو نشتوالی او د نویو او درسي کتابونو نشتوالی هغه ستونزې دي، چې محصلین ورسره مخ دي.
د ولایتونو د طب پوهنځیو په کتابتونونو کې په انګرېزي ژبه یوازې یو څو مسلکي نوي کتابونه وجود لري.
همدا راز استادان او محصلین په انګرېزي ژبه تر ډېره بریده نه پوهېږي، له همدې امله نه شي کولای له انګرېزي کتابونو څخه ګټه واخلي، نویو کتابونو او درسي موادو ته لاسرسی نه لري.
د دې لپاره چې په راتلونکي کې مسلکي ډاکټران ولرو، نو چارواکي باید د درسي موادو او وسایلو برابرولو ته پوره پاملرنه وکړي.
د هېواد د لوړو زده کړو وزارت له ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۴ ز کال پورې په ستراتیژیک

پلان کې داسې راغلي:

***«د تدریس او ښوونې د علمي کچې د لوړتیا او نویو معلوماتو تیارول، د محصلینو لپاره دقیق، مؤثق او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره باید په پښتو او دري ژبو دا زمینه برابره شي، نو د نصاب د معیاري کولو په موخه باید له انګلیسي څخه پښتو او دري ژبو ته کتابونه او مجلې و ژباړل شي، له دغو پورته امکاناتو څخه پرته امکان نه لري، چې استادان او محصلین دې وکولای شي په ټولو برخو کې نویو، پرمختللیو او مډرن معلوماتو ته لاسرسی پیدا کړي.»***

له ټولو محترمو استادانو څخه هیله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه ولیکي، و ژباړي او یا هم خپل پخواني لیکل شوي کتابونه، لکچر نوټونه او چپټرونه ایډیټ او د چاپ لپاره تیار کړي.

زموږ په واک کې یې راکړي، چې په ښه کیفیت چاپ او وروسته یې د اړوند پوهنځي استادانو او محصلینو ته په واک کې ورکړو.

همدارنګه د یادو ټکیو په اړه خپل وړاندیزونه او نظریات زموږ سره شریک کړئ، چې په ګډه په دې برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړو.

له محصلینو څخه هم هیله کوو، چې په یادو چارو کې له موږ او خپلو استادانو سره همکاري وکړي.

د آلمان د بهرنیو چارو له وزارت او DAAD (د آلمان اکاډمیکو همکاریو ټولنې) څخه مننه کوم، چې تر اوسه پورې یې د ۹۵ عنوان طبي کتابونو مالي لګښت پر غاړه اخیستی دی.

په آلمان کې د افغان ډاکټرانو عمومي اتحادیې (DAMF e.V.)، د آلمان د ماینز پوهنتون (Mainz/Germany) د طب پوهنځي، د نوموړي پوهنځي استاد ډاکټر زلمي توریال، د افغانیک له موسسې، ښاغلو Dieter Hampel او Dr Juergen Kanne څخه هم مننه کوم، چې د طبي کتابونو د پروژې په اداري او تخنیکي چارو کې یې له موږ سره مرسته کړې ده.

په پام کې ده، چې ۳۰ عنوان نور طبي کتابونه هم د هېواد د طب پوهنځیو لپاره په روان کال کې چاپ کړو.

د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې (Kinderhilfe-Afghanistan) له مشر ښاغلي Dr. Eroes څخه هم ډېره مننه کوم، چې د ننګرهار د طب پوهنځي ۶۰ عنوانه طبي کتابونو د چاپ لګښت يې پر غاړه اخيستی دی.
همدا راز په روان کال کې به ۲۰ عنوان نور طبي کتابونه هم د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي لپاره د نوموړي په مرسته چاپ شي.
په ځانګړي توګه د (GIZ)[1] له دفتر او CIM (Center for International Migration and Development) يا د نړيوالې پناه غوښتنې او پرمختيا مرکز، چې زما لپاره يې په تېرو پنځو کلونو کې په افغانستان کې د کار امکانات برابر کړي دي، هم مننه کوم.

## د مولټي مېډيا په کارولو سره تدريس

په ۲۰۰۹ زېږديز کال کې، د ننګرهار او بلخ پوهنتونونو په طب پوهنځيو کې يوازې يوه يوه پايه پروجيکټورونه موجود وو، چې په درسي چارو کې په ټولو وختونو کې ترې ګټه اخيستل کېده او د ټولو استادانو له خوا په تيوريکي بڼه تدريس ترسره کېده.
موږ د DAAD د موسسې په مرسته وکولای شول، چې د ننګرهار، خوست، مزارشريف، کندهار او هرات د طب پوهنځيو په ټولو درسي خونو کې پروجيکټورونه نصب کړو.
همدارنګه د کابل طبي پوهنتون، پکتيا پوهنتون او په کاپيسا کې د البېروني پوهنتون د طب پوهنځيو لپاره د پروجکټورونو د برابرولو غوښتنه شوې ده چې موږ دغه غوښتنه د DAAD دفتر ته لېږلې او له منظورۍ وروسته به عملي شي.

## د اړتياوو ارزونه

په تېرو وختونو کې مختلفو خيريه ټولنو د هېواد په مختلفو پوهنتونونو کې د لوړو زده کړو د پياوړتيا لپاره ځينې پروژې عملي کړې دي.
دغه پروژې د بهرنيو هېوادونو د متخصصينو د تجربو پر اساس ډيزاين شوې دي، چې زياتره دغه پروژې دوامداره او پاتې کېدونکې نه وې.
ددې لپاره، چې له اوسني حالت څخه مو ښه ارزونه کړې وي او د راتلونکو ستونزو لپاره مو چمتوالی نيولی وي، بايد د طب پوهنځيو د اوسني وضعيت څېړنه وشي، نو د دې کار لپاره د طبي روغتيايي زده کړو جرمني او نړيوال متخصصين بايد د هېواد له

1. GIZ د آلمان د نړيوالو مرستو موسسه

طب پوهنځیو څخه لیدنه وکړي او د لوړو زده کړو وزارت او نړیوالو ټولنو لکه د آلمان د اکاډمیکو همکاریو ټولنې، نړیوال بانک، نړیوال روغتیایي سازمان (WHO)، د امریکا د متحدو ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداري(USAID) او نورو مرسته ورکوونکو ټولنو سره تر لیدنو او مشورو وروسته نوري نوې پروژې ډیزاین او د هېواد د لوړو زده کړو په موسسو کې عملي کړي.

## د طب د هر پوهنځي لپاره مسلکي کتابتون

د طب پوهنځیو د کتابتونونو له لیدني څخه راته معلومه شوه، کوم کتابونه چې په نوموړو کتابتونونو کې موجود دي، ټول زاړه او له وخت څخه تېر دي.

باید ددغو پوهنځیو لپاره په انګلیسي- ژبه په ټولو مهمو او مسلکي مضمونونو کې نړیوال معیاري کتابونه واخیستل شي او د کتابتونونو په واک کې ورکړل شي، چې استادان د هغه له مخې خپل درسي مواد جوړ کړي او محصلین هم ور څخه ګټه واخلي.

## په لابراتوارونو کې عملي کار

لکه څرنګه چې لیدل کېږي د طب په پوهنځیو کې ډېر کم لابراتوارونه موجود او فعال دي، چې هغه هم په پرمختللو وسایلو سره سمبال نه دي چې په داسې حالت کې عملي تدریس ممکن نه دی.

ددې لپاره چې محصلین وکولای شي نظري درسونه په ښه شان زده کړي، ددې اړتیا شته چې موجود لابراتوارونه په پرمختللو وسایلو سمبال او و رغول شي او د هېواد په هغو طب پوهنځیو کې چې لابراتوارونه یې نشته، نوي لابراتوارونه ورته جوړ شي.

## کادري روغتونونه

په ځینو طبي پوهنځیو کې کادري روغتونونه نشته او له نورو روغتونونو سره کومه اړیکه نه لري، چې دغه حالت هم باید بدلون و مومي. که محصلین ټریننګ نه شي او عملي زده کړې ترلاسه نه کړي، نه شي کولای د ډاکټر په توګه مؤثر تشخیص او علاج وکړي. ددې کار لپاره باید هڅه و شي، چې د طب په هر پوهنځي کې یو کادري روغتون جوړ شي او یا هم له نورو روغتونونو سره تفاهم لیک لاسلیک شي، چې محصلین د سیتاژ په دوره کې خپلې عملي زده کړې د ناروغ د بستر ترڅنګ تر

سره کړي.

## ستراتېژيک پلان

د لوړو زده کړو وزارت د ارقامو په پام کې نيولو سره به په راتلونکو څلورو کلونو کې د هېواد په پوهنتونونو کې د محصلينو شمېره دوه برابره شي. له همدې امله د لوړو زده کړو وزارت په پام کې لري، چې هر پوهنتون او هر پوهنځی بايد د لوړو زده کړو وزارت د ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۴ ز کال پورې د ستراتيژيک پلان په رڼا کې د خپل ځان لپاره ځانګړی ستراتېژيک پلان برابر کړي او د لوړو زده کړو وزارت او نړيوالو بسپنه ورکوونکو سره يې شريک کړي.

د ستراتېژيک پلان جوړول او عملي کول د هېواد د طب پوهنځيو لپاره ډېر اړين دي، چې د هغه په رڼا کې د هېواد د لوړو زده کړو موسسې د لوړو زده کړو وزارت او بسپنه ورکوونکو هېوادونو سره راتلونکې پروژې عيارې او عملي کړي.

*کابل، ۲۰۱۵ ز کال*

زما وړانديز دا دی، چې راشئ محصل ته ورشو چې څه مشکل لري، استاد ته ورشو او پوښتنه ترې وکړو چې څه غواړي، ډيپارټمنټونو ته ورشو، چې کومو څېزونو ته اړتيا لري او له هغه څخه وروسته بيا پروژې جوړې او پيسې مصرف کړو!

# چېټېر، کتاب که انټرنېټ؟

آیا دا خبره به څوک ومني، چې د افغانستان اکثره محصلینو درسي کتابونه نه درلودل او پر ځای یې پخواني چپټرونه (پر یو مضمون د استاد لیکل شوي مطالب  یا ژباړل شوي نوټونه) د یوازینیو درسي موادو په توګه کارېدل؟

هو؛ مابه هم داخبره نه وای منلې، خو که مې په کابل او ځینو نورو ولایتونو کې په خپلو سترګو دغه حالت، چې سړی په ژړا راولي، نه وای لیدلی.

محصلین لیدل کېږي، چې په لاسونو کې یې شل یا دېرش ورقې درسي چپټر نوټ د پلاستیکي پوښ سره یو ځای وړي او راوړي، د هغه محتویات په مېخانیکي ډول حافظې ته سپاري او بیا یې په آزموینه کې لیکي. محصلین په همدې توګه خپل ځانونه کامیابوي او لوړو ټولګیو ته د پرمختګ هڅه کوي.

حال دا چې؛ په نورو هېوادونو کې له محصلینو سره لوی لوی کتابونه وي او په اوونۍ کې څو ځله کتابتون ته ځي او راځي او له هغه څخه استفاده کوي. بل دا چې په نوره نړۍ کې پوهنتون د نوي علم، ټکنالوژۍ او څېړنو د لاسته راوړلو اساسي مرکز ګڼل کېږي. له بده مرغه د افغانستان په پوهنتونونو کې حالت داسې دی چې په ۲۱مه پېړۍ کې هم د ۲۰مې پېړۍ له درسي موادو څخه ګټه اخیستل کېږي.

که څه هم ځینو استادانو پخپلو رشتو کې کتابونه لیکلي، ژباړلي او ځینې کتابونه چاپ شوي هم دي، خو دا کار استثنائي بڼه لري او یوازې په ځینو رشتو کې یوازې د لږ شمېر استادانو له خوا تر سره شوی دی.

له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۳۹۰ هجري لمریز کال پورې هم د یادونې وړ سیستماتیک کار د نویو معیاري درسي موادو د جوړولو لپاره نه دی شوی.

د لوړو زده کړو وزارت له خوا په ۱۳۹۴ هجري لمریز کال په ۵۰ رشتو کې د درسي نصاب  لاربښود کتاب  چاپ شو چې څو ټوکه یې درلودل، په داسې حال کې چې دا یو لومړی مثبت ګام دی، خو د نصاب په دې چاپ شوي کتاب کې ټولې رشتې شاملې نه وې.

دا چې نصاب د تدریس په پلان او چوکاټ کې بڼه والی راولي، باید له نصاب څخه وروسته هر تدریسي مضمون د استاد او محصل په ژبه کتاب ولري، چې استاد د نصاب په چوکاټ

کې دغه کتاب تدریس او محصل له هغه څخه زده کړه وکړي.
ځینې بیا دا وړاندیز کوي، چې ولې له انگلیسي کتابونو او انټرنېټ څخه استادان او محصلین گټه نه اخلي؟ لنډ ځواب دا دی چې تر اوسه زموږ ټول استادان او محصلین په انگلیسي ژبه دومره بلدتیا نه لري، چې پوره استفاده ورڅخه وکړای شی.
له بلې خوا انټرنېټ به هېڅکله د کتاب ځای ونه نیسي، ځکه چې د زرگونو کلونو راهیسې د پوهې د انتقال او زده کړې لپاره کتاب تر ټولو غوره وسیله گڼل شوې او همدا اوس هم ځانگړی اهمیت لري.

«له کتاب پرته یو محصل داسې دی، لکه یو عسکر چې وسله و نه لري.»
یوه پخوانۍ یوناني مقوله

ما په خپله له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰۵ زیږدیز کال پورې د InWEnt په موسسه کې کار کړی، په آسیا، افریقا او لاتینې امریکا کې د ډاکټرانو لپاره مې د HIV/ ایډز په هکله د انټرنېټ له لارې کورس جوړ کړی او عملاً مې د یو لاربښود په توگه دنده اجرا کړې ده.
په داسې پرمختللي هېواد، لکه جرمني کې اوس هم په دغه برخه څېړنه کېږي او E-learning سیستمونه زیاتېږي، خو هېڅکله یې د حضوري درس ځای هلته نه دی نیولی او اکثره درسونه په موسساتو کې په حضوري ډول تدریس کېږي.
په افغانستان کې که څه هم له نوي ټکنالوژۍ څخه کال په کال د گټه اخیستونکو شمېر زیاتېږي، خو لا هم د بریښنا د نشتوالي یا تخنیکي ستونزو له امله انټرنېټ دوامدار کار نکوي. بل دا چې د انټرنېټ د شبکې خدمتونه د لوړې بیې له کبله عمومي نه دي، ټول استادان او محصلین استفاده نه شي ترې کولی.
بله ستونزه د ژبې ده، که څه هم تدریس د انټرنېټ له لارې امکان لري، خو باید درسي مواد پداسې ژبه برابر شي، چې محصلین پرې پوه شي او بیا دغه مواد په بهر کې هم د انټرنېټ له لارې هغه موسسې، اشخاص او کورسونه دایرولی شي، چې درسي مواد یې پخپلو ژبو برابر کړي وي او یوازې یوه برخه مواد د انټرنېټ له لارې مینه والو ته وړاندې کوي.
بله مسئله داده، چې د انټرنېټ له لارې درس ارزانه نه؛ بلکې نور هم قېمته دی. دا

کار پوره تخنیکي امکانات لکه برق، کمپیوټر، هوښیار تیلفون، آیپډ او فعاله انټرنېټي شبکه غواړي.
بل باید درسي مواد (Contents) موجود وي او دغه متنونه په  داسې توګه په کمپیوټر کې ځای پر ځای شي، چې محصل ورڅخه مناسبه ګټه واخیستلی شي.
یوازې ټول متن لیکل بې له چارټونو، عکسونو، آډیو او وېډیو څخه به ډېر ستړي کوونکی وي.
په دې برخه کې تر اوسه موږ په ټول افغانستان کې، حتی یوه متخصصه او  مسلکي موسسه نه لرو، چې دا کار وکړي او یا یې کړی وي.
په انګلیسي ژبه کې ځینې پرمختللي کورسونه شته، خو یوازې د هغه چا لپاره دي چې په دې ژبه پوره مسلط وي.
د لوړو زده کړو په وزارت کې کلونه مخکې د GLP په نامه آنلاین پروګرام د USAID له خوا عملي شو، چې د هغو له تجربو څخه باید کار اخیستل شوی وای.
که څه هم هغوی زیاتې پیسې مصرف کړې، خو دومره موفق نه وو او هغه انتظار یې پوره نه کړ.
په نوره نړۍ کې هم په هره برخه کې د محصلینو لپاره درسي کتابونه د مسلک د زده کولو لپاره بنیادي رول لري، په هر مضمون کې هر کال د استادانو او پوهانو لخوا زیات شمېر کتابونه لیکل کېږي او بین المللي سټنډرډ کتابونه ژباړل کېږي.
د هر پوهنتون کتابتون هر کال یو زیات شمېر کتابونه د خپلو محصلینو د ضروریاتو پر اساس په ملي او هم په انګلیسي ژبه اخلي او محصلینو ته یې رسوي، په هر پوهنتون کې د ننه یا ورته نږدې کتاب پلورنځي شته، چې بیا دا کتابونه محصیلینو ته رسوي.
راځئ؛ موږ هم همدا کار وکړو!
آیا زموږ کوم پوهنتون دا کار کوي؟ موږ په یو پوهنتون کې د کال زرګونه نوي محصلین جذبوو، خو څومره کتابونه ورته آماده کوو؟
له بده مرغه د لوړو زده کړو وزارت او د پوهنتونونو په کلنۍ بودجه کې د کتابونو د ژباړې، تالیف او چاپ لپاره پیسې نه دي منل شوې. ټولګی، استاد او کتاب د زده کړو بنسټ دی، خو بیا آنلاین تدریس به څلورم منزل وي.
راځئ! چې لومړی چې تهداب کېږدو او بیا نور منزلونه پرې جوړ کړو.

## وړاندیزونه:

- د لوړو زده کړو وزارت او د هر پوهنتون په بودجه کې باید د تالیف، ژباړې او چاپ لپاره یوه برخه مشخصه شي.
- د تدریسي کتابونو ملي پروګرام په نامه دې د لوړو زده کړو په وزارت کې یو لوی پروګرام پیل او دغه پروګرام دې د وزارت د کارونو په لومړیتوبونو کې ونیول شي.
- هرکال باید لږ تر لږه سل نوي درسي کتابونه چاپ او پوهنتونونو ته ورکړل شي.
- د لوړو وزارت په بودجه کې دې دغه پروګرام ته مالي امکانات برابر شي.
- د تدریسي کتابونو ملي پروګرام (ANT) لپاره دې له DAAD, USAID نړیوال بانک او نورو څخه مرسته وغوښتل شي.
- هدف باید دا وي، هر مضمون چې په پوهنتون کې تدریس کېږي، باید مشخص کریکولم او لږ تر لږه یو درسي کتاب ولري.
- دغه نوی جوړ شوی کتاب دې، هغو استادانو ته ور وپېژندل شي، چې ددې مضمون تدریس کوي.
- د افغانستان د پوهنتونونو او پوهنځیو کتابتونونه اوسمهال د کتابونو د ګدام په څېر دي، دغه حالت ته باید عاجل تغیر ورکړو.
- په کتابتونونو کې باید لږ تر لږه یو مسلکي کارمند (Librarian) کار وکړي.
- هر کتابتون دې هر کال د نویو کتابونو د پیرلو یا اخیستلو لپاره معینه بودجه ولري او نوي کتابونه دې پیري.

-

# د درسي کتابونو ملي پروګرام وړانديز

- د چېترونو او لکچر نوټونو مېتود بايد پای ته ورسول شي.
- په هره برخه کې بايد د پوهنتونونو د استادانو له خوا نـوي کتابونـه تـدوين او وژباړل شي.
- هر کال بايد لږ تر لـږه سـل کتابونـه چـاپ شي، پـه دې توګـه بـه پنځـه سـوه کتابونه په پنځو کالونو کې چاپ شي.
- هر درسي مضمون بايد لږ تر لږه يو درسي کتاب ولري.
- د ټولو درسي خونو لپاره بايد پروجکتورونه تيار شي.

## سپارښتني

### د لوړو زده کړو وزارت ته:

- د «تدريسي کتابونو ملي پروګرام» دې پيل کړي؛
- دا پروګرام دې د ستر پروګرام په توګه و ګڼل شي؛
- استادان بايد وهڅول شي، چې په خپل مسلک کې کتابونه وژباړي، وليکي او چاپ يې کړي.

## استادانو ته:

- استادان باید په خپلو کتابونو بیاکتنه وکړي او د لوړو زده کړو په وزارت کې یې دې د یحیی وردګ دفتر ته را ولېږي.
- استادان باید نوي درسي کتابونه ولیکي، ویې ژباړي او د چاپ لپاره یې تیار کړي.
-

- **مرسته کوونکوو (DAAD, USAID & World Bank) ته:**

- د«تدریسي کتابونو ملي پروګرام» مالي او معنوي ملاتړ دې وکړي.
- د کتابونو د چاپولو لګښت دې ورکړي.

❀❀❀

یو محصل بې له کتاب داسې دی لکه یو عسکر بې له وسلې.

یوناني وینا

# تدريس په انګليسي که په ملي ژبو؟

يو شمېر بهرني او افغاني متخصصين، کله چې د افغاني پوهنتونونو د سويې ټيټوالی او د نويو او معياري درسي کتابونو کموالی ويني، نو سمدلاسه دا وړانديز کوي، چې استادان او محصلين دې د انګليسي ژبې له کتابونو څخه ګټه واخلي او تدريس دې په انګليسي- ژبه شي.

که څه هم د د غو ښاغليو کتنه صحيح ده او د مسئلې د حل لاره هم معقوله ښکاري، خو آيا دغه د حل لاره عملي شوې ده؟

له لومړي ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې د افغانستان د پوهنې د نظام ژبه پښتو او دري ده او په ځينو سيمو کې په محدود ډول د هېواد يو شمېر نورې دوديزې ژبې د يو مضمون په توګه تدريس کېږي. همدارنګه انګليسي ژبه له اووم څخه تر دولسم ټولګي پورې د بهرنۍ ژبې په توګه داسې تدريس کېږي چې زده کوونکي په ابتدايي ډول او محدوده اندازه پرې پوهېږي. د دې خبرې معنی دا ده چې په افغانستان کې انګليسي- ژبه د تدريس د ژبې په توګه نه شي کارول کېدای او نه هم په فعلي شکل د دې امکان شته چې د تدريس ژبه شي. ځکه چې نه د ښوونکو او نه هم د زده کوونکو او محصلينو په بشپړه توګه زده ده.

زياتره تعليمي ا و تحصيلي مؤسسې د څلور څوېښت کلنې جګړې له امله له نړيوال علمي کاروان څخه وروسته پاتې شوي دي. په اتيايمه لسيزه کې د افغانستان په ښوونځيو او هم په پوهنتونونو کې بهرنۍ ژبه انګلېسي نه؛ بلکي تر ډېره حده روسي ژبه تدريس کېده، ما پخپله له نهم ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې روسي ژبه لوستې ده.

همدا شان په زرګونو افغانانو او زيات شمېر استادانو په پخواني شوروي اتحاد کې لوړې زدکړې کړې دي، چې همدا استادان اوس هم د افغانستان په ډېرو پوهنتونونو کې تدريس کوي او دندې اجرا کوي.

له بلې خوا د افغانستان په ښوونځيو کې هم د انګليسي ژبې درسونه په داسې لوړ کيفيت نه دي، چې د دولسم ټولګي فارغين دې وکولای شي په انګليسي- ژبه درس تعقيب او د انګليسي ژبې له کتابونو څخه پوره ګټه واخيستی شي.

بله ستونزه له انګليسي سرچينو څخه د ګټې اخيستلو د سويې په برخه کې موجوده ده، له

بده مرغه زموږ استادان او محصلین کـه څـه هـم پـه انگلیسـي- ژبـه پـوه شي، خـو هغـه درسي کتابونه چې په نورو هېوادونو کې تدریس کېږي، ښـایي پـرې پـوه نـه شي؛ ځکـه چـې زمـوږ د محصلینو او په بهر کې د محصلینو سویه ډېر توپیر لري.

په هغو هېوادونو کې چې د ښوونځي ژبه یې انگلیسي نه ده، زیاتره پوهنتونونه یې پـه انگلیسي ژبه نه؛ بلکې پخپلو ملي ژبو تدریس کېږي او کم شمېر موسسې شـته، چـې لوړې زده کړې یې په انگرېزي ژبه وي.

یوازې هغه هېوادونه چې د ښوونځیو ژبه یې انگلیسي ده، د پوهنتونونو ژبـه یـې هـم انگلیسي- وي، پداسې حالت کې نه استاد او نـه هـم محصـل د ژبـې مشـکل لـري؛ ځکـه چـې دوی لـه وړاندې څخه انگلیسي ژبه په ښوونځیو کې زده کړې وي او پوره تسلط پرې لري.

که څه هم دا خبره سمه ده چې د نړیوالې پوهې تـر لاسـه کـول د انگلیسي- ژبـې لـه لارې آسانه دی، خو دغه کار هغه ځوک کولای شي چـې انگلیسي- یـې زده وي او پـه پوره توګه ګټه واخیستی شي.

د افغانستان په ځینو پوهنتونونو کې په انگلیسي ژبه تدریس په وړاندیز او فرمـان نـه؛ بلکې د یوې منځمهالې ستراتیژۍ د جوړولو، عمـلي کولـو او دوامـداره کـار لـه مخـې امکان لري.

د دغې ستراتېژۍ په پایله کې باید د دولسمو ټولګیو ټول فارغان په انگلیسي ژبه پوره مسلط وي او د پوهنتونونو ټول ځوان استادان باید پـه انگلیسي- ژبـه تـدریس وکـړای شي، نو وروسته بـه پـه انگلېسي- ژبـه د تـدریس شرایـط پـوره او دغـه وړانـدیز عمـلي کېدای شي.

له دې پرته باید زموږ پوهنتونونه په ملي ژبو تدریس ته دوام ورکړي او هـم بایـد ژر تـر ژره د لوړو زده کړو په برخه کې په ملي ژبو کتابونه تیار، چاپ او د محصلینو په اختیار کې ورکړل شي.

زموږ استادان اوسمهال باید د انگلیسي ژبې له لارې پر نړیواله پوهـه ځـان سـمبال او بیـا محصلینو ته د دوی په ژبه او د دوی له سویې سره سم درسي مواد چمتو کړي.

# لېسانس که ماستري؟

پوهنتون د علمي پانګې د لاسته راوړلو لپاره جوړېږي، په وروستيو لسيزو کې د علـم کچـه په زياته پيمانه پراخه شوېده او هرکال لا نوره پراختيا مومي، چې پخوا په پېړيو کې هـم د پوهې اندازه دومره نه زياتېده. په ډېرو هېوادونو کې په منځنيو ښوونځيو کـې رشـته بنـدي پيل کېږي او زده کوونکي په ټولنيزو او ساينسي څانګو کې وېشل کېږي. د يو پوهنتـون د لېسانس په دوره کې د يوې څانګې عموميات لوستل کېږي، په دې معنی چـې لېسـانس درلودونکی شخص هم نن سبا د پوره تخصصي پوهې خاوند نه دی، چې په خپل مسـلک حاکم او په خپلواک ډول پکې کار وکړي.

همدا دليل دی چې زياتره لېسانس درلودونکي اوس په نړۍ کې بيـا د خپـل مسـلک پـه يوه ځانګړې برخه کې ماستري کوي او په دې توګه په يوه ټاکلې څانګه کې داسـې پوهـه ترلاسه کوي. نو په ټوله کې ويلای شو چې همدا دليل دی چې دندې ورته پيدا کېـږي او هماغه کار بيا په ښه توګه ترسره کولای شي.

زموږ ټولنه په اقتصاد، کرنه او مالدارۍ، طب او نورو برخو کې همدا شان مسلکي کـادرونو ته سخت ضرورت لري، چې پخپل مسلک پوره حاکميت ولري او دغه حاکميت يـوازې د يو پوهنتون په لوستلو نه؛ بلکې د نورو زده کړو، ټرېننګ، ماسـترۍ او دوکتـورا پـه درلودلـو سره حاصلولی شي خو له بده مرغه د ماسترۍ او دوکتورا زده کړې په افغانستان کې لا تر اوسه ډېرې کمې دي.

که څه هم هر کال د پوهنتونونو استادان، دولتـي کارمنـدان او يـو شـمېر نـور افغانـان پـه بهرنيو هېوادونو کې د ماسترۍ او دوکتورا په کچه زده کړې کوي، خو د هغوی شـمېر ډېـر کم دی او د افغانستان د کاري مارکېټ اړتيا نه شي پوره کولای، نو له همـدې کبلـه پکـار ده چې زموږ په پوهنتونونو کې د ماسترۍ او دوکتورا زده کړې پيل شي.

د همدې اړتيا پر بنسټ په ځينو دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې د ماسترۍ پروګرامونه پيل شويدي.

د دغو زده کړو لپاره باید د یوې مشخصې ستراتېژۍ او پروګرام پر اساس ټول شرایط، لکه زېربناوې، مالي امکانات، کریکولم، درسي کتابونه، لابراتوارونه، د څېړنې امکانات او عملي او اکاډمیک کادرونه چمتو شي.
که په یو پوهنتون یا پوهنځي کې د PhD استادان کم وي، دوی باید همدا اوس خپل استادان د PhD لپاره بهر ته ولېږي، تر هغه مهاله چې دوی بېرته خپلو دندو ته راستنېږي، قراردادي افغاني او بهرني استادان دې وګمارل شي.
زموږ له ځینو پوهنتونونو او پوهنځیو سره بهرني هېوادونه او یا بهرني پوهنتونونه مرستې کوي، موږ باید له دغه چانس او امکاناتو څخه د ماسترۍ پروګرامونو د جوړولو لپاره ګټه واخلو.
له دغو پوهنتونو سره باید په ګډه توګه د ماسترۍ پروګرامونه جوړ شي، حتی یوه برخه یې دلته او نوره برخه یې په بهر کې اجرا شي او هم دې بهرني استادان راشي او دلته دې د ماسترۍ او PhD پروګرامونو په جوړولو او  تدریس کې فعاله ونډه واخلي.
که څه هم ځینې بهرني پوهنتونونه د افغانستان لپاره ماستران تربیه کوي، خو که بهرني هېوادونه خپلې مرستې ودروي او یا یې کمې کړي، طبیعي خبره ده چې دغه پروګرامونه به هم بند شي او بیا به زموږ ماستران نه روزل کېږي. په خپل هېواد کې د ماسترۍ جوړولو یوه ګټه داده، چې د بهرنیو پروګرامونو په پرتله به زیات شمېر نښځینه محصلینې برخه پکې واخلي.
یوه بله ګټه یې دا ده، چې له افغانستان سره د مرستې په نامه کومې پیسې چې بهرنیو پوهنتونونو ته ورکول کېږي، ډېر لوړ مبلغ دی او په دغو پیسو دلته په افغانستان کې هم زېربناوې او هم درسي مواد برابرېدای شي. همدارنګه استادانو ته به د ټاکلې حق الزحمې ورکولو امکانات برابر شي. همدارنګه په دې توګه به دا ټولې پیسې له افغانستان څخه  بهر  کېږي نه؛ بلکې همدلته به خرڅې او په دوران کې به  لوېږي.

# د هېواد د راتلونکي لپاره د لوړو زده کړو ارزښت

دا خبره ډېره اورېدل کېږي، چې ځوانان د یوې ټولنې راتلونکی جوړوي او ځوانان به زموږ د راتلونکي مشران او رهبران وي.

دا خبره که څه هم سمه ده، خو آیا موږ په رښتیا سره ځوانانو، یعنې د خپلې ټولنې او هېواد بشري پانګې او راتلونکي ته ارزښت ورکوو او په دوی پانګونه کوو؟ د یوې ټولنې مشران هغه وخت ښه او مسلکي مشران کېدلای شي، چې دوی د ځوانۍ پر مهال ښه تحصیل کړی وي، پخپله رشته کې یې مسلکي زده کړې تر لاسه کړې وي او کاري تجربه هم و لري.

له بده مرغه افغانستان په نړیواله کچه د هغو هېوادونو په کتار کې راځي، چې په خپل حاضر او راتلونکي نسل ډېره کمه پانګونه کوي، یعنې لوړو زده کړو ته یې کمه پاملرنه کړې او ډېره لږه پانګونه پرې کوي.

د یوې ټولنې په پرمختګ کې د علمي او مسلکي کادرونو ونډه ډېره مهمه ده، په ځانګړي توګه په دې وروستیو کلونو کې د علم او ټکنالوژۍ په چټک پرمختګ سره د مسلکي او لوړو زده کړو ارزښت لا نور هم زیات شوی دی.

هغه ټولنې چټک پرمختګ کوي چې د نړۍ پر نوي پوهې سمبال ځوانان ولري، چې په نوښتونو (Innovations) او د ټولنې پر بنسټیزو ستونزو پوه، حل لارې یې پیدا او عملي اقدام وکړي.

یو تن دولسم پاس لوستی شخص، له مسلکي او لوړو زده کړو پرته دومره اغېزمن نه دی؛ ځکه چې هغه یو مسلکي کار نه شي تر سره کولای. همدارنګه د هغه او د یو نالوستي شخص عاید د هغه چا په پرتله چې لوړې زده کړې یې کړې وي، توپیر لري او د کار پیدا کول هم ورته ډېر ګران دی.

له بده مرغه چې افغان حکومت او نړیوالې ټولنې له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۲۱ زېږدیز

کال پورې ونه شوای کړای، چې په افغانستان کې د لوړو زده کړو د ارزښت په تناسب مناسب کار او پانګونه وکړي.

له همدې کبله افغان دولت باید د افغانستان پوهنتونونو ته، چې زموږ راتلونکي مشران پکښې روزل کېږي، لا زیاته پاملرنه وکړي او هغوی ته د پام وړ مالي امکانات برابر کړي.

د افغانستان د پوهنتونونو استادان لا زیات وهڅوي او لا نورو زیاتو محصلینو ته په پوهنتونونو کې د زده کړو مناسب شرایط برابر کړي، چې دوی هم په تیوریکي او هم په عملي پوهه سمبال ټولنې ته وړاندې شي.

دغه پانګونه به څو کاله وروسته په افغانستان کې د پرمختګ او ښې ادارې په رامنځته کولو کې ډېرې مثبتې اغېزې ولري.

پوهنتون؛ یعنې د پرمختګ موتور یا ماشین، پوهنتون یعنې د هېواد راتلونکي متخصصین او مشران، که موږ ته د هېواد راتلونکې مهمه وي، باید زموږ ځوان نسل ته د لوړو زده کړو حصول هم ډېر مهم وي.

# افغان ـ جرمن پوهنتون په کابل کې

آلمان په ۱۹۷۰یمو کلونو کې  د امریکا د متحده ایالاتو او پخواني شوروي اتحاد ترڅنګ د هغو هېوادونو له ډلې څخه وو چې د افغانستان د لوړو زده کړو د انکشاف او پراختیا په برخه کې یې اغېزمنې او اوږد مهاله مرستې کړې دي.

د شلمې مېلادي پېړۍ په شپږمه لسیزه کې په کابل پوهنتون کې د آلماني ژبې دیپارتمنت جوړ او د ساینس او اقتصاد له پوهنځیو سره یې علمي همکاري پیل شوه.

کابل ته به ګڼ شمېر آلماني پروفیسورانو سفرونه کول او په افغانستان به یې په درسي صنفونو کې افغاني محصلینو ته تدریس کاوه. د افغان محصلینو لپاره به له افغاني استادانو سره  په ګډه به یې درسي کتابونه لیکل .

آلمان د پوهنځیو لپاره د تعمیرونو د جوړولو، د لابراتوارونو د تجهیز کولو، کوریکولم او درسي کتابونو د چاپ په بهیر کې فعاله ونډه اخیسته، هر کال به یو شمېر افغان استادان د بوخوم، بُن او کِلن پوهنتونونو ته د اقتصاد او ساینس په رشتو کې د لیسانس، ماسترۍ او دوکتورا د حاصلولو لپاره لېږل کېدل.

د آلماني او افغاني پوهنتونونو ترمنځ د دغو اکاډمیکو همکاریو په نتیجه کې د کابل پوهنتون یادو پوهنځیو ته هم زېربناوې جوړې شوې، تدریسي شرایط ورته برابر او په ښه کیفیت درسونه پکې پیل شول.

د حالاتو د خرابېدو او جګړو له امله، دغه همکارۍ وځنډېده او په ۲۰۰۲ ز کال کې یو ځل بیا پیل شوه، له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۱۸ کال پورې د آلماني ژبې، اقتصاد، ساینس او کمپیوټر ساینس پوهنځیو سره ګډ پروګرامونه یو ځل بیا پیل شول.

سربېره پردې په طب، انجنیرۍ او فارمېسي څانګو کې هم یوه اندازه لنډمهاله مرستې د آلمان له خوا و شوې.

په وروستیو کلونو کې د دغو همکاریو په چوکاټ کې یو شمېر افغان ماستران و روزل شول چې په اړوندو پوهنځیو کې د درسي کیفیت په لوړولو کې تر یوې اندازې پورې

اغېزمن وو. له یوې خوا د افغانستان علمي ټولنه له نړیوال علم څخه ۳۰ کال وروسته پاتې شوې وه او نړیوال علم او ټکنالوژي په نړیواله سطحه په وروستیو لسیزو کې خورا زیات پرمختګ او پراختیا کړې ده. له همدې کبله زموږ پوهنتونونه، زېربناوې، لابراتوارونه، کریکولم او درسي مواد نوي کولو ته اړتیا لري. همدارنګه د ماسترۍ او دوکتورا په سویه د استادانو د روزلو په برخه کې زیاته اړتیا لري چې لازمه مرسته ورسره وشي. دغه ټول کارونه یوازې او یوازې د یو باب نوي (افغان- جرمن پوهنتون) په جوړولو کې تحقق موندلی شي.

د نوي اساسي قانون پر بنسټ، د ټولو تحصیلي امکاناتو برابرول اوسمهال د بهرنیو هېوادونو لخوا د خصوصي پوهنتونونو د جوړېدو له لارې هم ممکن شوي دي.

د افغانستان امریکایي پوهنتون یې لومړنۍ بېلګه ده او په راتلونکي کې به افغان- ترک پوهنتون هم جوړ شي.

په تېرو وختونو کې د آلمان د اکاډمیکو همکاریو او د افغانستان د اړتیاوو په پام کې لرلو سره، کېدای شي دغه نوی پوهنتون لاندې پوهنځي ولري: اقتصاد، ساینس، طب، کمپیوټر ساینس، انجنیري، کانونه او عامه اداره.

دا به د افغانستان او آلمان څه د پاسه سل کلنې دوستۍ په اړیکو، علمي او اکاډمیکو همکاریو کې د یو نوي فصل په توګه پرانیستل وي.

په ۲۰۱۵ زېږدیزکال کې له آلمان سره د افغانستان د اړیکو سلمه کلیزه ده او هیله ده چې د افغان - جرمن پوهنتون د دغې کلیزې د نمانځلو پر مهال د دواړو هېوادونو د مشرانو له خوا اعلان شي.

# د لوړو زده کړو څېړنيز مرکز

لوړې زده کړې د يوې ټولنې په پرمختګ او راتلونکي کې فوق العاده مهم رول لري. پوهنتون د ټولنې موتور او د راتلونکو علمي، اکاډميکو او لوړو سياسي، ټولنيزو کارپوهانو د جوړېدلو ځای دی. پوهنتون په خپلو پروګرامونو کې د لېسانس، ماسترۍ او دوکتورا په سويه متخصصين روزي، چې بيا دغه متخصصين د هېواد، ټولنې او اقتصاد په پرمختګ کې بنسټيز رول لوبوي.

له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۲۲ زېږديز کال پورې، که څه هم زموږ لوړو زده کړو په کمي لحاظ يو څه پرمختګ کړی، خو اوس هم له زياتو ننګونو سره مخ دي، چې د نه پاملرنې په صورت کې به په راتلونکي کې دغه ستونزې لږ نه؛ بلکې لا نورې زياتې شي.

د مثال په ډول، کال په کال د دوولسمو ټولګيو فارغان زياتېږي، په داسې حال کې چې د افغانستان دولتي او خصوصي تحصيلي مؤسسې اوسمهال يوازې محدود شمېر جذب لري او له دولسمو ټولګيو څخه پاتې نور فارغان، له لوړو زده کړو څخه بې برخې پاتې کېږي.

زموږ په پوهنتونونو کې د افغانستان د کاري مارکېټ لپاره مسلکي کسان نه روزل کېږي او زموږ لوړې زده کړې زياتره د لېسانس تر حد پورې منحصرې دي، خو د ماسترۍ او دوکتورا زده کړې ډېرې کمې دي.

پوښتنه داده چې د تدريس کيفيت به څنګه لوړ شي؟ د استادانو د ظرفيت لوړولو لپاره لنډمهاله پرو ګرامونه نه دي او که د ماسترۍ او دوکتورا پروګرامونه؟ تدريس په انګليسي ژبه وشي که په ملي ژبو؟ آيا موږ درسي کتاب ته ضرورت لرو او که ټول دې انلاين وي؟ کانکور دې وي که نه؟ کانکور دې له وزارت څخه لرې شي او که نه؟ ګټه او تاوان يې څه دی؟ خصوصي تحصيلات، لا نور هم پراخ شي او که اوسمهال تر اندازې زيات د خصوصي تحصيلاتو مؤسسات لرو؟

دا او داسې نورې پوښتنې باید د يو چا د شخصي غوښتنې او نظر پر اساس نه؛ بلکې د دقیقو ملي او نړیوالو مطالعاتو، څېړنو، ارزونو او تجربو پر اساس او په نظر کې نیولو سره وشي. له بده مرغه، نه زموږ د لوړو زده کړو په وزارت او نه هم زموږ په پوهنتونونو کې په دې اړوند کومه څېړنه شوې او نه په پلان کې ده.

۱۳۸۱څخه تر ۱۴۰۱ هجري لمریز کلونو پورې د لوړو زده کړو په وزارت کې ګڼ شمېر وزیرانو او سرپرست وزیرانو کار کړی دی، هر یو وزیر د بل وزیر کاري پروګرامونو ته دوام نه؛ بلکې پخپله یې لومړیتوبونه ټاکلي او خپل پروګرامونه یې پرمخ بېولي دي.

پورتنیو ټکو ته په پام سره وړاندیز کوو، چې په افغانستان کې د لوړو زده کړو په هکله دې یو څېړنیز مرکز جوړ شي، د تحصیلاتي څانګو د ځانګړتیاوو پر بنسټ دې څېړنې پیل او له دولتي اړوندو ارګانونو سره د مشورو له لارې دې د دولتي مرکزي پلان پر بنسټ په کار پیل وکړي.

موږ ډاډمن یوو چې دا به د لوړو زده کړو لپاره د یوې اغېزمنې تحصیلاتي پالیسۍ پیل وي، چې له نورو هېوادونو څخه د کاپي شویو موډلونو څخه په خپلواکه، اغېزمنه، ملي، علمي او تحصیلي پالیسي وي.

موږ باید د افغانستان د لوړو زده کړو ستونزې یوازې د بهرنیو موډلونو په راوستلو او کاپي کولو نه؛ بلکې موږ پخپله او د بهرنیو متخصصینو په همکارۍ وڅېړو، د حل پر لارو چارو یې یو له بل سره خبرې وکړو او بیا پلان جوړ او عملي کړو.

له شک پرته، د ځینو هېوادونو له تجربو او مشورو څخه به په ګټه اخیستنې سره دا علمي ملي پالیسي بشپړه او په بریالیتوب سره به عملي شی.

# نظري او عملي زده کړې، لازم او ملزوم

په ۱۳۹۴ هجري لمریز کال مې د ننګرهار انجنیري پوهنځي ته یو تن انجنیر د مسلکي پرېزنټېشن لپاره دعوت کړی وو، د خپل پرېزنټېشن په پای کې یو تن محصل لاس پورته کړ، ویې ویل: «دا لومړی ځل دی، چې د عملي کارونو لپاره مهمې خبرې اوري.» دا په داسې حال کې وه چې د دې پوهنځي په پنځم سمستر کې یې درس وایه، تر اوسه یې یوه خښته هم په لاس کې نه وه نیولې. که موږ د پوهنتونونو درسونه ارزیابي کړو، په رښتیا سره هم په زیاترو رشتو کې محصلین عملي کار په لابراتوار او یا ساحه کې نه کوي او همدا یې یو مهم علت دی، چې له فراغت څخه وروسته په عملي ډګر کې کار نه شي پیدا کولای او که یې وکړي هم، نو کیفیت به یې ډېر خراب وي.

ځکه نو په کار ده، چې د پوهنتونونو مسوولین استادان لابراتوارونه فعال او محصلینو ته په عملي توګه درسونه ور وښيي.

کله چې زه په چکوسلواکیا کې د طب محصل وم، موږ د سهار له ۸ بجو څخه تر ۱۲ بجو پورې نظري درسونه درلودل او په لومړیو سمسترونو کې مو هره ورځ د غرمې له ۱۲ بجو څخه وروسته په عملي درسي خونو او لابراتوارونو کې عملي کارونه ترسره کول. په وروستیو سمسترونو کې به مو نیمه ورځ نظري درس لوست او نیمه ورځ به د ناروغانو د دوسیو په مطالعې او معاینه کولو تېروله، په روغتون کې مو د ناروغانو سره عملي درسونه ویل او په دې توګه به مو بیا په عمل کې ورباندې کار کولو، چې په دې طریقې سره مو ډېر ښه سر پرې خلاصېدو او هم به تیوریکي درسونه ښه په حافظه کې پاتې کېدل.

د مثال په ډول کله مو چې د زېړي ناروغي برخه لوسته، نو بیا به زموږ د عملي کارونو رهنما استاد د زېړي په ناروغۍ یو اخته ناروغ ته وروستو، د هغه په وجود کې به یې موږ ته د دې ناروغۍ علایم رابښکاره کړل، لابراتواري معاینات به مو ولیدل او د ناروغ تاریخچه به مو ورڅخه واخیسته، په همدې ډول به بیا د زېړي ناروغۍ په اړوند دغه ناروغ را په یاد شو او ډېر شیان به مو زده او په حافظه کې پاتې شول.

زما وړاندیز افغان استادانو او مسوولینو ته همدا دی، چې په زیاته پیمانه په نظري او عملي درسونو کې کوښښ وکړي او په خپلو درسي پلانونو او تقسیم اوقات کې ځای ورکړي، یوازې په لکچر نوټ او چپتر باندې اکتفا ونه کړي؛ ځکه چې یوازې په لکچر او چپتر باندې موږ صحیح انجنیر او ډاکټر نه شو تربیه کولای.

نظري او عملي درس یو د بل لازم او ملزوم دي!

تر اوسه ځینې طب پوهنځي کادري روغتون، چېرته چې د طب محصلین د مریض په سر عملي زده کړې وکړي نه لري، دغه حالت هېڅ د منلو نه دی، باید زر تر زره حل لاره ورته و موندل شي، هر طب پوهنځی باید هرو مرو فعال او مجهز کادري روغتون ولري.

د ۲۰۱۵ زېږدیز کال د دسمبر میاشت کې مې د کنړ پوهنتون ته یو سفر درلود. دغه پوهنتون کې ما په خپلو سترگو ولیدل، چې د کمپیوټر ساینس پوهنځی په همدی کال فارغین ورکوي، خو یوه پایه کمپیوټر هم نلري. یوازې او یوازې استادانو تیوري درس ورکاوه او هېڅ ډول عملي کار یې په محصیلینو نشوکولای. دغه حالت د زغملو نه دی!

درسي کیفیت نه په ورکشاپونو، نه په ارزیابي او یا د تضمین کیفیت په کمېټو لوړېدلای شي!

زموږ په پوهنتونونو کې باید د استادانو د ظرفیت لوړولو ترځنگ په دریو برخو کار وشي:

۱-کریکولم او درسي کتابونه؛

۲- په لابراتوار کې عملي تجربې؛

۳- په ساحه (د مثال په ډول روغتون کې د ناروغ بستر ترځنگ) عملي زده کړې. په دې توگه به د لوړو زده کړو کیفیت لوړ شي.

# علمي مجلې

په ۱۳۹۴ هجري لمریز کال کې مې د ننګرهار پوهنتون د مجلې له مسئول مدیر سره، د دغه پوهنتون په مجله (پوهه) کې، زموږ لخوا د چاپ شویو کتابونو به اړه د یو مضمون او معلوماتو په هکله د مخکتنې خبرې کولې، ما تعجب وکړ چې ده وویل: «دا یوه علمي مجله ده او یوازې علمي مقالې په کې چاپیږي.» ما ورته وویل: «لطفاً ته بهرنۍ علمي مجلې وګوره، تقریباً د ټولو په آخر کې به د اړوندو مسلکونو د نویو خپرو شویو کتابونو په اړه مقالې (Book Review) لري.» خو زما دې خبرې او وړاندیز تر ننه پورې څه اغیزه نه ده لرلې.

د افغانستان ځینې خصوصي پوهنتونونه هم مجلې چاپوي او د دولتي پوهنتونونو په پرتله د دغو مجلو د چاپ کیفیت ښه دی، زیاتره یې رنګه وي او هم د محصلینو او علاقمندانو لپاره د پوهنتون د رشتو، لاسته راوړنو او نویو موضوعاتو په اړه پکې نوې خبرې چاپیږي، چې زیاتره یې د اشتهار بڼه لري او د استادانو علمي مقالې په کې کمې لیدل کیږي.

ښه به دا وي لکه د دولتي پوهنتونونو د مجلو په څېر دلته هم د استادانو علمي مقالې نشرکیدای. زما بل وړاندیز دا دی چې د دولتي پوهنتونونو مجلې هم د خصوصي پوهنتونونو د مجلو په څېر باید په زړه پورې او ګټور معلومات خپاره کړي.

مجلې تقریبا یوازې د استادانو علمي مقالې نشروي، ځکه چې دغه استادان د خپلو علمي رتبو لپاره د داسې مضمونونو نشرولو ته اړتیا لري. له همدې امله دا دله استادان "مولفین" د دغو مطالبو د چاپ لپاره پیسې ورکوي. د مثال په ډول که یو استاد د څلورو پاڼو مقاله لري هغه د څلورو او بل استاد شپږ پاڼې مقاله لري د شپږو پاڼو پیسې ورکوي. اصلي هدف د مجلو د نشر څخه هم همدا دی، چې د استادانو لپاره د نویو چاپي مقالو شمېر پوره شي، ترفیع پرې واخلي او تنخواوې یې یوه اندازه لوړې شي چې دا یې خپل حق دی خو له دې سره سره دغه مجلې باید علمي لیکنو او توکو ته هم په خپلو پاڼو کې ځای ورکړي.

**وړاندیزونه**

۱- د علمي مجلو تیراژ ډېر کم دی، یعنې د سل ګڼو څخه باید تر درې نیم سوو ګڼو

پورې و رسېږي او تیراژ یې لوړ شي.
۲ـ د هر پوهنتون په بودجه کې باید د مجلې لپاره یوه برخه مشخصه شي څو مجلې په خپل وخت او پر له پسې توگه چاپ شي.
۳ـ د کابل طبي پوهنتون لخوا (افغان طبي مجله) او ننگرهار طب پوهنځی لخوا (طب پوهنه) مجله چاپېږی. دغه او داسې نوری طبي مجلې دې سره یو ځای شي او بیا دې ټولو طب پوهنځیو ته واستول شي څو تیراژ یې لوړ شي او گڼ شمېر لوستونکي او گټه اخیستوکي ولري.
۴- علمي مجلې باید په ټول افغانستان کې نورو پوهنتونونو او پوهنځیو ته وویشل شي، څو اکاډمیکې او علمي اړیکې تینګې شي، د مثال په ډول د کابل طبي پوهنتون مجله باید د هېواد ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو ته چې د طب پوهنځي لري ولېږل شي.
۵- د علمي مقالو ترڅنگ باید د لوستونکو او استادانو لپاره د اړوندو رشتو مهم او گټور خبرونه او په زړه پورې مطالب هم په مجله کې ځای پر ځای شي. د مثال په ډول، که په یوه نوې رشته کې لنډ مهالي کورسونه، ماسټري یا دوکتورا پروگرام پیل کېږي، ښه به دا وي چې په دې اړه پکې معلومات خپاره شي.
٦ـ ترڅنگه چې باید په دغو مجلو کې څېړنیزې مقالې خپرې شي، نو په کار ده چې د څېړنو لارښودونه (Research Methodology) او مهم معلومات په کې نشر ته وسپارل شي.
۷ـ د افغاني استادانو د نویو کتابونو پیژندنه او نقد Book Review په کې وشي، ملي او نړیوال تحصیلي سټنډرډونه یې خپاره شي، د نړی په ټولو علمي مجلو کې د مجلې په پای کې دغه برخه یوه په زړه پورې برخه جوړه شي.
۸- د پوهنتونونو مجلې باید د اړوندو پوهنتونونو په وېب سایټونو کې خپرې شي، څو لا زیات شمېر استادان او محققین ورڅخه گټه واخلي. همدا شان کېدای شي په ځانگړي علمي وېب سایټ کې د نورو کتابونو او مونوگرافونو سره یو ځای خپرې شي.

# ورکشاپونه او تش په نامه پروژې!؟

له ۱۳۸۱ څخه تر ۱۴۰۰ هجري لمریز کال پورې د لوړو زده کړو په وزارت او پوهنتونونو کې یو شمېر بېلابېل سمینارونه، ورکشاپونه او مېتنګونه د درسي کیفیت لوړولو د مجازي زده کړې (E-learning)، په انګلیسي ژبه تدریس، جندر او د ښځو حقوقو د نومونو لاندې جوړ شول. همدا شان په دې نامه ځینې پروژې هم پلې شوې، چې په لسګونو میلیونونه ډالر پرې لګول ولګېدل.

زموږ مسئولین او کارمندان، په وزارت او پوهنتونونو کې  په دې ډول ورکشاپونو کې په خوښی سره ګډون کوي، ځکه چې زیاتره د بهرنیو ادارو په مالي مرسته جوړېږي.

په دې ډول ورکشاپونو کې ښه پرېمانه ډوډۍ، چای او کلچې هم وي، چې زیاتره برخه یې هسې عبث پاتې کېږي. ډېر عکسونه او فلمونه واخیستل شي او په پای کې ښایسته راپور پرې جوړ شي. ځینې وخت خو داسې هم کېږي، چې د ځینو مؤسسو کار او پروژې یوازې په همدې ډول غونډو تمامې شي، بله کومه لاس ته راوړنه نه لري او هم د ډېرو داسې سمینارونو او پروژو څخه کومه دوامداره ګټه زموږ پوهنتونونو، استادانو او محصلینو ته نه رسېږي. ما خو کاله مخکې په درېیو بېلابېلو داسې غونډو کې چې د نصاب په هکله د لوړو زده کړو د وزارت په تالار کې جوړې شوې وې، برخه واخیسته، په یادو غونډو کې ډېرو ویناوالو (د لوړو زده کړو د وزارت معین، عمومي رئیس، رئیس او څو استادانو) خپلې خبرې او پرېزنټېشنونه ورکړل شول چې تکراري بڼه یې درلوده. د بېلابېلو  ولایتي پوهنتونونو څخه هم رئیسان او علمي معاونین ورته راغوښتل شوي وو، هغوی ته یې د لارې لګښتونه، ورځنی مصارف او هم د اوسېدلو مصارف ورکړل. په یادو مجلسونو کې لګښتونه زښت زیات وو او مؤثریت یې ډېر کم وو.

همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت د نوي ستراتیژیک پلان  د ۲۰۱۵ او ۲۰۲۰ ز کلونو لپاره وو، د جوړولو په خاطر هم یو شمېر همداسې سمینارونه ونیول شول، خبر شوم چې د پلان د جوړولو لپاره کومه تخصیص شوې بودجه ټوله نه وه مصرف شوې، نو بیا مسئولینو دا بهتره وګڼله چې د ستراتیژیک پلان په هکله به د نظر خرګندونې او مشورو سمینار ونیسي. له بده مرغه کلونه نور هم تېر شول خو د لوړو زده کړو د وزارت دغه ستراتیژیک پلان چې د لوړو زده کړو او د راتلونکې لپاره تر ټولو مهم سند دی، تر ډېره وخته نهایي نه شو. د نړیوال بانک

لخوا د پلان جوړولو لپاره *۲.٦ میلیون ډالر مصرف شوي.
همدا شان له بده مرغه د افغانستان په بېلابېلو ادارو کې یو زیات شمېر پیسې په بې ځایه سمینارونو او ورکشاپونو مصرفېږي او هم یو زیات شمېر لوړ رتبه مامورین په دغو سمینارونو کې مصروف دي او خپل اصلي کارونو ته وخت نه لري، چې ورباندې فکر، غور او اجراآت وکړي.
اصلاً باید په یوه برخه کې یوه پروژه د هغې برخې د ستونزو د جامع تحلیل او ارزونې څخه وروسته پیل شي.
پروژه یعنې د معین هدف یا اهدافو د لاسته راوړلو لپاره معین کارونه (گامونه) په معینه بودجه او معین وخت کې له پروژې څخه عبارت ده. ځینې خلک داسې فکر کوي، چې پروژه یعنې پیسې مصرفول او هغه هم بې له کوم هدف او لاسته راوړنې څخه!
که موږ یوه ستونزه لرو، باید هغه وڅېړل شي، د مربوطو اشخاصو او ادارو سره خبرې پرې وکړو او د حل عملي لارې چارې یې وسنجوو او بیا دغه ډول مشکلاتو ته د حل لپاره یوه پروژه پېشنهاد کړو. د یادې پروژې په پلي کولو سره ستونزې ته حل لاره و مومو او خپل هدف ته ځان ورسوو. د اړوندو ادارو او خلکو لخوا د پیل شویو کارونو او د حل لارو چارو څخه ملاتړ د پروژې په بریالیتوب کې مهم رول لري، نه دا چې بېخي نوي ځیزونه چې هېڅوک یې نه پېژني، په پروژه کې عملي شي.
دلته به زه خپل مثال راوړم:
ما په ۱۳۹۰ هجري لمریز کال د ننگرهار پوهنتون په طب پوهنځي کې د محصلینو یوې اساسي ستونزې ته پام شو هغه داسې چې دلته د ۲۰ یا ۳۰ کلونو پخوانیو او په لاس لیکل شویو چپتر نوټونو څخه د یوازینیو درسي موادو په توگه گټه اخیستل کېده.
په زیاترو برخو کې حتی محصلینو چپترونه هم نه درلودل او هر څه به چې استاد په ټولگي کې ویل، هغه به یې د ځان سره نوټ کول، په میخانیکي ډول به یې حافظې ته سپارل او بیا به یې په آزموینه کې همدغه ځیزونه د خپلو ښوونکو د پوښتنو په ځواب کې لیکل. استادانو به هم یوازې د خپلو درسونو او چپترونو په محدوده کې سوالونه راوړل. په دې ډول به د گڼ شمېر محصلینو په زیاترو موضوعاتو سر نه خلاصېدو او درسي کیفیت به په پوهنځیو کې ډېر ټیټ وو. د دې کار مهم علت همدا وو چې د طب څخه فارغ شوي ځوان ډاکټران په

ډېرو موضوعاتو نه پوهېدل او مسلکي ډاکټران نه وو.
د دې مشکل له ليدلو او ارزولو څخه وروسته ما د محصلينو، استادانو، د طب پوهنځي رئيس او مرستيال، د پوهنتون رئيس او معاونينو او هم په کابل پوهنتون او کابل طبي پوهنتون کې د دغو موضوعاتو له څېړلو څخه وروسته، د درسي کتابونو د چاپولو پروژه پيل کړه. په دې لړ کې له ۱۲ څخه زيات تنه استادان حاضر شول، چې له کومې مادي معاوضې څخه پرته خپل چپترنوټونه نوي او ټايپ کړي. همدارنګه کتابونه يې نوي (Update) کړل او موږ ته يې وسپارل. په همدې ترتيب موږ تر ۱۴۰۱ هجري لمريز کال پورې ټولټال ۳۶۹ درسي او ادبي کتابونه چاپ او د مل سي ډي ګانو په ملتيا مو په وړيا توګه د دولتي او خصوصي پوهنتونونو، روغتونونو، علمي او څېړنيزو مرکزونو او اکاډميکو شخصيتونو په اختيار کې ورکړل. پر دې سربېره مو په انلاين بڼه دا زمينه برابره کړه چې مينه وال، محصلين او استادان کولای شي د دې کتابونو سافټ بڼه د انټرنټ پر مرسته ډاونلوډ او تر لاسه کړي.
زما د دغه مثال يادولو هدف دا دی، چې په همدې شان موږ بايد د لوړو زده کړو بېلابېلې برخې مطالعه کړو، و يې څېړو، ارزونه يې وکړو ، د محصلينو، استادانو او کارمندانو سره بحث پرې وکړو او د هغوی سره په ګډه د حل لارې چارې ورته و سنجوو. نه دا چې موږ ته بهرنيان راشي، چې تاسو دغه يا هغه شي ته ضرورت لري او بيا پکې په ميليونونه ډالر مصرف شي، چې هغه څيز نه د محصل، نه استاد او نه د پوهنتون د ادارې لومړيتوب وي. د مثال په ډول د جندر او ښځو تر عنوان لاندې په وروستيو ۲۰ کلونو کې په لسګونو ميليونونو ډالر ولګېدل چې هېڅ راز مشخصه اجنډا، ګټه او پايله يې نه درلوده.
زموږ د ښځينه محصلينو لپاره په يو لوی پوهنتون کې تر څه مودې مخکې يو ښځينه تشناب هم شتون نه درلود، حال دا چې د ښځينه محصلينو او جنډر په نامه ډېر مصارف کېدل.
همدا شان زموږ په پوهنتونونو کې لا تر اوسه دوامدار برق او انټرنېټ (حتی د لوړو زده کړو په وزارت کې) نشته، خو موږ لګيا يو د **E-learning** په نامه پروژې پلې کوو، دلته او هلته سمينارونه نيسو او په ميليونونو ډالر پرې مصرفوو.
زما وړانديز دا دی، چې راشئ محصل ته ورشو چې څه مشکل لري، استاد ته ورشو او ورڅخه وپوښتو چې څه غواړي، ډيپارټمنټونو ته ورشو، چې څه شيانو ته ضرورت لري، او له هغې څخه وروسته بيا پروژې جوړې کړو او پيسې مصرف کړو!

موږ باید خپلو نړیوالو مرسته کوونکو ته زموږ په تحصیلي بهیر کې د واقعي مشکلاتو د رفع کولو لپاره خپل وړاندیزونه او پیشنهادونه د پروژو په چوکات کې ورکړو.
ما تر دې مهاله د لوړو زده کړو په وزارت یا پوهنتون کې کوم مسئول نه دی لیدلی، چې د خپلو اړوندو ستونزو او چلنجونو د رفع کولو لپاره یې پروپوزل وړاندې کړی وي. د یو پوهنتون معاون د بهرنیانو سره په یوه غونډه کې د دې پوښتنې په ځواب کې چې ستاسو پوهنتون لومړنی ستونزې څه دي چې موږ بیا په دې هکله فکر او کار وکړو؟ داسې ځواب ورکړ: "زموږ پوهنتون هر شي ته اړتیا لري، که تاسو یو جنس، یو قلم هم مرسته کولای شی، نو ویې کړئ. موږ هر شي ته ضرورت لرو." هغه بهرنی شخص هک پک او حیران پاتې شو او بیا هېڅ هم و نشول.
د لوړو زده کړو وزارت، پوهنتون، وزیر او د پوهنتون رئیس باید د خپلې اداري کار لپاره یو Vision یا لرلید ولري. په دې مانا څه غواړم چې په خپله اداره کې یې د خپل مسئولیت پر مهال د خپلو همکارانو او مرسته کوونکو پر مټ، د خپل وزارت یا پوهنتون لپاره تر لاسه کړم. د دې لپاره خپل کاري پلان جوړول پکار دي، نه دا چې هره ورځ راشه، په څوکۍ کښېنه، ورقې چې راځي امضاء کوه یې، غونډو او دعوتونو ته غوښتل کېږه او نور هېڅ نه.
د لوړ پوړیو چارواکو تر ټولو مهمه دنده دا ده، چې د ټولو کارکوونکو لپاره د کار شرایط برابر کړي، د ورځینو چارو تر څنګ ښه کار وکړي، په خپلو کاري برخو کې و ارزول شي او نوښتونه رامنځته کړي.

کابل، نومبر ۲۰۱۰ ز کال
* *د لوړو زده کړو پراختیایي پروګرام کارمند د شفاهي معلوماتو پر اساس.*

# سافټوېر لومړی که هارډوېر؟

په لوړو زده کړو وزارت کې د CIM-Expert او سلاکار په توګه د افغاني پوهنتونونو لپاره د کار په موده کې ما له آلماني، امریکايي او نورو مرسته کوونکو ټولنو او مؤسسو سره ډېرې خبرې درلودې. دوی بیا بیا ویل چې تر ټولو لومړی غواړي استادانو ته د دوی په هېوادونو یا دریم هېواد لکه ترکیه او هندوستان کې د تحصیلاتو د لوړولو زمینه برابره کړي یا دا چې په افغانستان کې د پوهنتونونو استادانو ته د لوړو او تخصصي زده کړو لنډمهاله روزنه ورکړل شي.

د لوړو زده کړو وزارت او د پوهنتونونو استازي د زېربناوو لکه درسي خونې، چوکۍ، لابراتواري وسایل، کتابونه او درسي موادو د کمښت شکایت کوي. دوی وايي چې له دې ډول اړین چاپېریال څخه پرته استادان په اغېزناکه توګه تدریس نه شي کولای او محصلین هم له دوی څخه په پوره اندازه ګټه نه شي اخیستلای.

په ۱۴۰۰ لمریز کال کې۳۵۱۲۳۱ تنه نارینه او ښځینه محصلین په ۳۹ دولتي او ۱۲۹ بابه خصوصي پوهنتونونو کې په زده کړو بوخت وو او دغه شمېره د هر کال لپاره مخ په ډېرېدو ده. له بده مرغه د محصلینو دا لوی شمېر به نور هم د پوهنتونونو د کیفیت د خرابوالي لامل شي.[۱] د پوهنتونونو چارواکي په هر کنفرانس کې شکایت کوي چې پوهنتونونو ته په ډېر شمېر محصلین راځي چې د دوی له ظرفیت څخه حتی ۵۰ یا ۱۰۰ سلنه لوړ دي. د بېلګې په توګه که یو پوهنتون د ۱۰۰۰ تنو محصلینو د ځایولو ظرفیت ولري هغه ته ۲۰۰۰ تنه نوي محصلین ور پېژندل کېږي، پرته له دې چې دوی ته مخکې له مخکې پلان ورکړل شي او یا ورته اضافي استادان، چوکۍ، مېزونه، ځای، مسکن او داسې نور اړین خیزونه تیار شي. له همدې امله ډېری مسؤلین او استادان د تدریس د کیفیت له ټیټوالي څخه شکایت کوي. د سیاسي دلایلو له امله او د دې لپاره چې دا ځوان ګډون کوونکي په آرام

[۱] احصاییوي کالنۍ مجله، د افغانستان د احصاییې ملي اداره، د پوهنتونونو او لوړو زده کړو احصاییه، کابل، ۱۴۰۰ هجري لمریز کال.

کېني، نو دوی دولتي یا خصوصي پوهنتونونو ته لېږل کېږي چې دوهم او دریم چانس ورکړل شي. په پوهنتونونو کې د محصلینو د شمېر ډېرښت د دوولسم ټولګي د فارغانو په شمېر پورې تړلی دی. په ۱۴۰۱ هجري لمریز کال کې په کانکور آزموینه کې ګډون کوي.

له بده مرغه هغه مسؤولین چې په افغانستان کې دي یا له هېواد څخه د باندې دي، د دې وضعیت په اړه کومه اندېښنه نه لري. دوی یوازې خپل ورځني کارونه تر سره کوي، خو راتلونکې ته پاملرنه نه کوي. ځینې نړیوالې مرسته کوونکې موسسې ډېرې پیسې لګوي، خو د پوهنتونونو اړتیاوې نه شي پوره کولای او یا یې اړتیاوې تر هغه وخته پوره وي چې بودجه شتون ولري. د پروژو د پایدارۍ په اړه زیاتې خبرې کېږي، خو ډېرې یې د کار په جریان کې قطع کېږي یا د پروژې له ختمېدو سره هر څه پای ته رسېږي. د بېلګې په توګه USAID په کابل او نورو ولایتي پوهنتونونو کې د انګلیسي ژبې د زده کړې کورسونه حمایه کول او د هغو لپاره یې خپلې زېربناوې جوړولې. دوی په پوهنتونونو کې د انګلیسي له دیپارتمنتونو سره همکاري نه کوله او د هغوی د جوړښت او ظرفیت ملاتړ یې نه کاوه تر څو د بودجې له پای ته رسېدو وروسته یې هم دوام کړی وای. بله بېلګه یې دا ده چې د آنلاین او برېښنایي زده کړو (E-learning) په رامنځته کولو ډېرې پیسې لګول کېږي. له بده مرغه تر اوسه دا کار هم نه دی بریالی شوی ځکه چې هر استاد او محصل انټرنېټ ته لاسرسی نه لري او نه هم ټول له انګلیسي ژبې سره بلدتیا لري. دا پروګرامونه د یو څه مودې لپاره د پوهنتون له چوکاټ څخه د باندې روان وو، خو ډېر یې اوس بېرته د پخوا په شان دي (هېڅ په لاس نه دي راغلي او هېڅ یې له لاسه نه دي ورکړي).

الکترونیکي، آنلاین زده کړې او لنډ مهاله روزنې د یو کور د وروستي پوړ مثال لري چې د هغه لپاره موږ لومړي پوړ او لاندېنیو پوړونو ته اړتیا لرو. له شک پرته درسي خونې، زېربنا، وسایل، لابراتوارونه، کریکولم، کتابونه، د کاري مارکېټ سره سمې زده کړې، د کتابونو د ذخیرو پر ځای په پوهنتونونو کې د کتابتونونو فعالول او د درسي

کتابونو چاپول لومړني پوړونه دي.
دېته باید اړتیا پیښه نه شي چې د دې ټولو لپاره له مرسته کوونکو موسساتو څخه غوښتنه وشي، بلکې چارواکې باید له مالیې وزارت څخه د بودجې غوښتنه وکړي او بیا یې په یادو موخو باندې مصرف کړي. یوازې په هغه صورت کې چې وزارت یا پوهنتونونه د کوم دلیل له مخې دا کار ونشي کولای بیا دې له مرسته کوونکو څخه غوښتنه وشي څو ضروري زېربنا تیاره کړي. دا په دې مانا ده چې هارډوېر لومړی او سافټوېر وروسته په دویم قدم کې تر سره شي. د حیرانتیا خبره دا ده چې د نړدې راتلونکې لپاره د e-learning نور پروګرامونه هم په پلان کې دي. زه په سملاسي توګه سپارښتنه کوم مخکې له دې چې په دې برخه کې نوي پروګرامونه پیل شي، باید مخکینۍ پروژې په غور سره وارزول شي او په پایلې یې څرګندې شي.
تر ټولو وړاندې باید د کورسونو مواد او کتابونه افغاني ژبو ته وژباړل شي او هغو ته نوره پراختیا ورکړل شي. وروسته کولای شو هغه په ډیجیټل شکل سره (په آفلاین توګه په سي ډي او ډي وي ډي کې او همدارنګه په آنلاین توګه) د لاسرسي وړ وګرځول شي.
ما د ۲۰۱۴ زېږدیزکال د اکتوبر په ۱ نېټه یو پیغام تر لاسه کړ چې د پوهنې وزارت به ۳۴ مېلیونه کتابونه په ټول هېواد کې لومړنیو ښوونځیو ته ووېشي. د یاد وزارت وزیر وویل چې ۱۰ میلیون کتابونه یې په افغانستان کې چاپ شوي او پاتې برخه یې د USAID په مالي مرسته په اندونیزیا کې چاپ شوي دي. په تېرو ۱۵ کلونو کې د مختلفو ټولګیو مختلف عنوان کتابونه د ۱۱۹ میلیون امریکایي ډالرو په لګښت د امریکا، ډنمارک او نړیوال بانک له لوري چاپ شوي دي. خو د پوهنتونونو درسي کتابونه په کوم حالت کې دي؟ په دې برخه کې یوازې زما په شخصي هڅو له ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۲۲ زېږدیز کال پورې د ۳۶۹ عنوان کتابونو د چاپ څخه پرته په ټولو رشتو کې حتی ۱۰۰ عنوانه کتابونه هم نه دي چاپ شوي.
کابل، ۱ اکتوبر ۲۰۱۴ ز کال

# په پوهنتون کې زده کړې د ښوونیز سیستم یوه مهمه برخه ده

## په افغانستان کې د لوړو زده کړو د پالیسیو په هکله نظرونه

تر ټولو د مخه د دې خبرې یادونه ضروري ده چې په پوهنتون کې زده کړې د هېواد د تحصیلي سیستم مهمه برخه ده، د پوهنې وزارت د ورکړل شوو معلوماتو له مخې د طالبانو د لومړۍ واکمنۍ څخه وروسته په ۲۰۰۲ زېږدیز کال په افغانستان کې یوازې د ۱۰۰۰ بابه ښوونځیو د شتون خبر ورکړل شوی وو. خو له یادې نېټې څخه تر ۲۰۲۲ زېږدیز کال پورې په افغانستان کې ډېر شمېر ښوونځي جوړ شول او دغه شمېر کابو ۲۰۰۰۰ بابه ښوونځیو ته لوړ شوی دی. افغان حکومت او نړیوالې ټولنې هڅه وکړه چې ډېرو هلکانو او نجونو ته ښوونځي او په ښوونځیو کې د لیک لوست امکانات برابر کړي. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال محدود شمېر نجونو ته اجازه ورکول کېده چې یوازې په لومړنیو ښوونځیو کې لوست وکړي.[1]

د افغانستان لوړ پوړو چارواکو ډېر ځله په نړیوالو کنفرانسونو کې په ویاړ سره د زده کوونکو د زیاتېدونکي شمېر یادونه کوله څو د خپل سیاست او حمایت بریالیتوب خلکو ته وښیي. په وروستیو کلونو کې هم له ۱۱ میلیون څخه زیاتو ښځینه او نارینه زده کوونکو د شمېر یادونه وشوه په داسې حال کې دغه شمېره په ۲۰۰۱ زېږدیز کال یوازې یو میلیون زده کوونکي وو.

اصلي خبره دا ده چې د دې ځوانو زده کوونکو له فراغت څخه وروسته یې د راتلونکې په اړه ډېر فکر نه دی شوی چې آیا دوی به د کوم مسلک د زده کړې یا پوهنتون ته د تلو چانس تر لاسه کړي که نه؟ دا یوه عادي او ساده پوښتنه نه ده. خبره دا ده چې آیا میلیونونه کسان به وکولای شي دندې تر لاسه کړي؟ آیا دوی به نورو زده کړو ته لاسرسی پیدا کړي او دندې به تر لاسه کړي څو د ځانونو او کورنیو لپاره پیسې وګټي؟

[1] د پوهنې وزارت د ۱۴۰۰ کال کلنی انکشافي ګزارش، دغه راپور ته د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د عقرب په میاشت کې مراجعه و شوه.

داسې اټکل کېږي چې له ۱۳۸۲ څخه تر ۱۴۰۰ هجري لمریز کال پورې کابو ۲۰۰۰۰۰ زده کوونکي د افغانستان د ښوونځیو له دوولسمو ټولګیو څخه فارغ شوي چې د نورو زده کړو هیلې هم لري خو ټول په مسلکي انستیتوتونو یا پوهنتونونو کې د زده کړو چانس نشي تر لاسه کولای. په ټول هېواد کې یوازې ۳۲ دولتي پوهنتونونه کولای شي د دې شمېر فارغینو څلورمه برخه چې ۵۰۰۰۰ فارغان کېږي، ومني او پاتې نور یې باید یا په خصوصي پوهنتونونو کې په لوړه بیه شامل شي او یا به له لوړو زده کړو بې برخې پاتې کېږي. افغانستان له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۱۴ زېږدیز کال پورې پر ابتدایي زده کړو ډېر تمرکز درلود، خو مسلکي ښوونځي او پوهنتونونه یې له پامه غورځولي وو. د دې پالیسۍ پایله دا شوه چې د دوولسم ټولګي د فارغانو شمېر زیات شي، پوهنتونونو ته لاره نه شي موندلای او په هېواد کې حتی د پوهنتونونو فارغان هم د دندې د پیدا کولو په برخه کې ستونزې لري.[۱]

د دې حالت یو سبب په پوهنتونونو کې د درس د کیفیت ټیټوالی دی چې په هغه کې د کار د مارکېټ اړتیاوې په نظر کې نه نیول کېږي. بل لامل یې دا دی چې په افغاني پوهنتونونو کې یوازې نظري تدریس ترسره کېږي ځکه چې لابراتوارونه نه لري او محصلین عملي زده کړې او تړېننګونه نه تر لاسه کوي.

له عملي مهارتونو څخه پرته دا فارغین نه شي کولای چې د ډاکټرانو یا انجنیرانو په توګه کار وکړي نو له همدې امله ډېری یې داسې دندې تر سره کوي چې د دوی له تحصیلي څانګو سره کاملاً توپیر لري. همدارنګه د علمي کادرونو د بې کارۍ کچه هم په چټکۍ سره د زیاتېدو په حال کې ده.

ډېر ناروغان د معایناتو او درملنې په موخه له هېواد څخه بهر ځي. دا کار ولې صورت مومي؟ ځکه چې په افغانستان کې ښه روزل شوي ډاکټران نشته.

[۱] د پوهنې وزارت د ۱۴۰۰ کال کلنی انکشافي ګزارش، دغه راپور ته د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د عقرب په میاشت کې مراجعه و شوه.

ولې د دې هېواد ډاکټران په دې بد حالت کې دي؟ ځکه د طب برخې محصلين هغه په لاس ليکل شوي نوټونه د درسي موادو په توګه کاروي چې لسيزې پخوا ليکل شوي وو، دوی په لابراتوار کې د عملي کار تجربه نه لري او د ناروغ د بستر تر څنګ يې روزنه نه ده تر لاسه کړې. افغانستان بايد په دې او نورو برخو کې د روزنې د کمښت پايلې په ښه توګه تشخيص کړي. د دې لپاره چې دوامدارې لاسته راوړنې ولرو، بايد تغيرات رامنځته شي. همدارنګه د دې لپاره چې د پام وړ پرمختګونه تر لاسه کړو بايد د افغانستان د زده کړو پاليسي په غور سره بيا وکتل شي او بدلونونه پکې راوستل شي. د هېواد د پرمختګ په برخه کې بايد د مسلکي زده کړو او پوهنتونونو ارزښت له پامه و نه غورځول شي.

په افغانستان کې له ۱۴۰۰ هجري لمريز کال څخه د مخه ۱۰۰۰۰۰تنو بهرنيو کارکوونکو کار کاوه، ځکه چې په افغانستان کې په کافي اندازه مسلکي کسان نه وو. که څه هم هر کال د زده کړو په برخه کې په سلګونو ميليونه پيسې لګول کېدې، خو بيا هم د مسلکي کاروونکو شمېر کم وو. د بېلګې په توګه د سېول انجنيری، سړک جوړونې، مخابراتو او ډېرو نورو رشتو کې. ډېر بهرني استادان (چې اکثره يې پاکستاني او هندي وو) د افغانستان په زيات شمېر خصوصي پوهنتونونو او داسې نورو موسساتو کې په مسلکي دندو بوخت وو.

په تېرو شلو کلونو کې هر کال تر ۲۰۰۰ پورې محصلين بهر ته د زده کړو په موخه لېږل کېدل، خو دا شمېر د دې هېواد لپاره چې نفوس يې د ۳۴ ميليون تنو په شاوخوا کې دی، او څلور څلوېښت کلنې جګړې ځپلي دی، بسنه نه کوي. دلته ښو روزل شويو او مسلکي خلکو ته اړتيا ډېره زياته ده.

د هغو محصلينو سربېره چې په بهر کې زده کړې کوي افغانستان خپلو غوره پوهنتونونو ته اړتيا لري څو د لايقو کارپوهانو او مدېريتي کارکوونکو په برخه کې شته اړتياوې پوره کړي. دا پوهنتونونه بايد نړېوالې علمي تجربې افغانستان ته راوړي او په

هېواد کې ټولو نارینه او ښځینه محصلینو ته معیاري زده کړې ورکړي. له دې سره به ښځینه محصلینې هم وکولای شي چې عملي نړیوالو زده کړو ته لاسرسی ولري، ځکه دوی د کلتوري او کورنیو دلایلو له کبله نشي کولای چې له هېواد څخه بهر زده کړې وکړي.

هغه پیسې چې د زده کړو په برخه کې لګول کېږي باید په متوازنه توګه مصرف شي یعنې زیات مقدار پیسې باید په حرفه یی زده کړو او پوهنتونونو ولګول شي. دا غوښتنه له حکومت، پوهنې وزارت، د لوړو زده کړو وزارت او همدارنګه نړیوالې ټولنې او مرسته کوونکو هېوادونو څخه کېږي چې اوسنی حالت د پرمختګ پر لوري بوزي.

که څه هم د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي څو ځله یادونه کړې وه چې په دې برخه کې به ګړندي پرمختګونه رامنځته کوي، خو د طب او انجنیرۍ په برخو کې د پرمختګ پالیسۍ ته د مسئولینو او مرسته کوونکو ادارو لخوا پوره پاملرنه نه ده شوې. ځینو مرسته کوونکو اړخونو د دوی د موجوده پیسو د لګولو او کار لپاره مناسبه ساحه پیدا کړې وه.

په افغانستان کې د پوهنې وزارت د لومړنیو او حرفه یی زده کړو مسؤول دی او بل یې د لوړو زده کړو وزارت دی چې د پوهنتونونو مسئولیت لري. له همدې کبله د دوی تر منځ اړیکې او همغږي ډېره اړینه ده چې باید پراختیا ومومي. دا دواړه وزارتونه باید له یو بل سره خبرې اترې وکړي، حتی که اوسنی حالت هم نه بدلېږي بیا هم دوی باید د زده کړو لپاره یوه ګډه ستراتیژي جوړه کړي.

یوازې د لېسانس، ماسترۍ او دوکتورا په مرحلو کې شامل محصلین کولای شي په اقتصادي پرمختګ، نوښت پیلولو او اغېزناک مدیریت کې فعاله ونډه واخلي او د هېواد راتلونکې ستونزې حل او فصل کړي.

دا یوازینۍ لاره ده چې افغانستان کولای شي په نږدې راتلونکې کې په خپلو پښو و درېږي.

د افغانستان لوړې زده کړې باید داسې حالت ته و رسول شي چې له نړیوالو معیارونو سره سم په کور د ننه په خپلو تحصیلي بنسټونو کې، د خپلو استادانو په وسیله د هېواد د بېلابېلو اړتیاوو لپاره خپل کارپوهان او مدیران و روزي.

# په DVD کې ۲۷۳ طبي درسي کتابونه په افغانستان کې د ډیجیټلي کتابتون لپاره لومړی اغېزمن ګام

په افغانستان کې د ډاکتر یحیی وردګ دفتر توانېدلی دی چې د چاپ تر څنګ ۲۷۳ عنوان کتابونه دیجیټل کړي، په DVD کې یې واچوي، طبي پوهنتونونو، مینه والو، روغتونونو، استادانو او محصلینو ته یې وړاندې کړي. په DVD کې ۲۷۳ عنوان درسي کتابونه په افغانستان کې د ډیجیټلي کتابتون لپاره لومړی اغېزمن ګام دی.




افغانستان په نړۍ کې د هغو هېوادونو له ډلې څخه ګڼل کېږي چې ډېر کم کتابونه، هغه هم په ډېر کم تیراژ معمولاً د ۱۰۰۰ ټوکه په شاوخوا کې پکې چاپېږي. په نوره نړۍ کې د نوې ټکنالوژۍ په مرسته اوس ورځ په ورځ هر چاپ شوی کتاب په ډیجیټل فارمټ کې هم تر لاسه او لوستلو وړ وي.

د دغه نوښت له لارې کتابونه په ډېره آسانه او ارزانه توګه مینه والو ته رسېدلی شي. له همدې کبله زموږ له خوا ۲۷۳ عنوان طبي درسي کتابونه په انګلیسي، پښتو او دري ژبو چې زیاتره یې د افغانستان د بېلا بېلو پوهنتونونو (کابل، ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ او کاپیسا) د استادانو او یو شمېر یې په جرمني او امریکا کې د پوهانو له خوا لیکل شوي دي. دغه کتابونه په ۲ عدد DVD ګانو کې کاپي، چاپ او د هېواد د ټولو طب

پوهنځيو کتابتونونو ته ورکړل شوي دي.

په دې توګه هر استاد، محصل او مينه وال په ډېره آسانۍ سره ياد ۲۷۳ عنوان طبي درسي کتابونو ته لاسرسی پيدا کوي، هغه په سملاسي توګه په خپل کمپيوټر کې کتلی او په مکمل ډول لوستلی شي. دغه ټول کتابونه په

(www.ecampus-afghanistan.org) وېب سايټ کې هم د نړۍ په هر ګوټ کې کتلی شي او همدارنګه په کمپيوټر کې د ګټې اخيستنې لپاره يې ډاونلوډ کولی شي.

که څه هم د لوړو زده کړو وزارت، پوهنتونونه او مرستندويې ټولنې دلته له Digital Library څخه په خپلو پلانونو، پروژو او پروګرامونو کې تل يادونه کوي او USAID په دې نامه په تېرو کلونو کې يوه اندازه پيسې هم لګولي دي، خو اکثراً په دغو پروژو کې د افغاني ليکوالانو کتابونه نه؛ بلکې د بهرنيانو کتابونه را ټول او يا هم يوازې نورو ډيجيټلي کتابتونونو ته د لينکونو رسول دي. دغه مسئله د لوړو زده کړو وزارت په وېب پاڼه www.mohe.gov.af کې هم ليدلی شئ، دلته بيا پر الکترونيکي کتابتون کليک وکړئ.

زما وړانديز د لوړو زده کړو وزارت، پوهنتونونو او د پوهنتونونو استادانو ته دا دی، چې خپل ټول ليکل شوي کتابونه او نورې ليکنې په الکترونيکی ډول په CD يا که زيات وي په DVD او هم د خپلو پوهنتونونو په وېب سايټونو کې خپاره کړي.

څرنګه چې په افغانستان کې د چاپ شويو کتابونو تېراژ معمولاً زر ټوکه وي، د اړوندې رشتې يا مضمون ټولو استادانو، محصلينو او مينه والو ته نه شي رسېدلای، نو که هر درسي کتاب په الکترونيکي ډول هم خپور شي، هر نوی کتاب به ټولو استادانو، محصلينو او علاقمندانو ته په ټول افغانستان کې په آسانه توګه او په لنډ وخت کې و رسېږي چې ګټه ترې واخلي.

دغه کار به د زده کړو د کيفيت په ښه کولو کې مرسته وکړي او د افغاني پوهنتونونو او پوهانو تر منځ به اکاډميکې اړيکې او ګډ عملي کارونه نور هم ګړندي کړي.

* په DVD کې د طبي کتابونو لېست د همدې کتاب په ۵۲ مه کې کتلای شئ!

# د ننګرهار پوهنتون د انکشافي پروژو ګزارش

جلال آباد، درونته ۲۰۱۰ کال

د ننګرهار پوهنتون لپاره تر کار لاندې او وړاندیز شویو پروژو لنډ معلومات چې په ۲۰۱۰ کال ترتیب شوی په لاندې ډول وو:

## ۱. د طبي تدریسي کتابونو چاپول

د افغانستان په تعلیمي موسسو کې د استادانو د مسلکي زده کړو د ټیټوالي تـر څنـګ، د مسلکي کتابونو کموالی او نشتوالی یوه اساسي ستونزه ده. د دغې ستونزې د حل لپاره مـې لـه یـو کـال راهیسـې د افغـان او آلمـاني طبـي پرسـونل چـتري ټـولنې او د آلمـان د اکاډمیکو همکاریو ټولنې (DAAD) په تمویل سره د ننګرهار طب پوهنځي پنځه تدریسي-کتابونه (هر یو زر ټوکه او له هر ټوک سره یـوه سي ډي) چاپ کـړل. د دغـو کتـابونو ټولـه محتوا به د طب پـوهنځي او پوهنتـون پـر ویـب پـاڼو کـې هـم د (پـي ډي اف) پـه شـکل خپرېږي، چې د افغانستان په ټولو سیمو کی محصـلین او ځـوان ډاکټـران هـم تـرې ګټـه واخیستلی شي.

سل سل ټوکه کتابونه به خوست، کندهار او کابل پوهنتونونو ته هم ورکړل شي. د ۲۰۱۱ زیږدیز کال لپاره ۱۵ نور کتابونه انتخاب شوي او استادان ورباندې کار کوي.

د آلمان د اکاډمیکو همکاریو ټولنې له موږ سره د لګښت ورکولو وعده کړې ده او د ۲۰۱۱ زیږدیز کال په جنورۍ کې د دغه کار د تنظیم لپاره کابل او ننګرهار ته سفر کوم. برسېره پردې، د طب پوهنځي د لیلیې د ترمیم، رنګولـو او تشـنابونو د جوړولـو لپـاره مـو ۱۰۰۰۰ ایرو راټولې کړې دي، د نورو په لټه کې هم یو.

## ۲. عصري (مولټي میډیا) درس ورکول

د ننګرهار په طب پوهنځي کې اوسمهال ټول درسونه یوازې تیورتیک او د لکچر بڼـه لـري او په ټول پوهنځي کې یوازې یو پایه پروجکټور (بیمر) شته.

مورږ د افغان او آلماني طبي پرسونل چتري ټولنې او د آلمان د اکاډميکو همکاريو ټولنې (DAAD) په تمويل سره لـه لېوال کمپيوټر څخه شپږ پروجکټورونه اخيستي او ژر بـه د ننګرهار طب پوهنځي په هره تدريسي خونه کې نصب شي.
وروسته هغو استادانو ته د پروجکټور په کارولو او پر کمپيوټر د تدريسي موادو جوړولو کې ټرېننګ ورکوو.

## ۳. د همکاريو تواميت رامنځته کول

د آلمـان هايـدلبرګ پوهنتـون د عـامې روغتيـا انسـتيتيوت او ننګرهـار پوهنتـون د طـب پوهنځي او د عامې روغتيا ديپارتمنت تر منځ تواميـت رامنځتـه شـو. د آلمـان هايـدلبرګ پوهنتون د عامې روغتيا انسـتيتيوت مسـوولينو علاقـه ښـودلې ده چې لـه ننګرهـار طـب پوهنځي عامې روغتيا ديپارتمنت سره د نوي تعليمي نصاب په جوړولـو او عملـي کولـو، د دواړو پوهنتونونو د استادانو تګ راتګ او پـه ننګرهـار کـې د عـامې روغتيـا د کورسـونو پـه جوړولـو کـې همکـاري او ګـډ کـار وکـړي. مـا د ننګرهـار طـب پـوهنځي عـامې روغتيـا ديپارتمنت کې په ۲۰۰۹ زېږديز کال د اکتوبر مياشت کـې درې ورځـې څېړنـه وکـړه او د همدې کال د نوامبر په نهمه نېټه مې د هايدلبرګ پوهنتـون د عـامې روغتيـا انسـتيتيوت کې معلومات ورکړل. د آلمان د اکاډميکو همکاريو ټولنه (DAAD) هم له دغې همکـارۍ څخه خپل مالي ملاتړ ښکاره کړی دی.

## ۴. په ننګرهار کې د پلاستيکي جراحۍ نوې څانګه

د بن پوهنتون يوهانيتر روغتون د پلاستيکي جراحۍ شف ډاکټر ايمل صافي په مرسـته د ننګرهار پوهنتون روغتون کـې د پلاسـتيکي جراحـۍ د جوړولـو پـروژه پـه نظـر کـې نيـول شوېده. دغه څانګه به په لاندې برخو کې کار کوي:

- د بيا جوړولو او ښکلا جراحي؛
- د لاس جراحي؛
- د پښو جراحي؛

- د سویو جراحي.

د دغې پروژې موخه به دا وي، چې په ننګرهار کې د دغې څانګې لپاره شرایط، لوازم او فني پرسونل تیار کړی شي چې په دغو برخو کې ناروغان دلته په مستقله توګه تداوي شي. ډاکټر ایمل صافي په ۱۹۹۷ زیږدیز کال کې د یوهانیتر روغتون پلاستیکي جراحۍ څانګه پخپله جوړه کړې او تر نن پورې یې پر مخ بیایي. ده د ۲۰ کلونو راهیسې په پاکستان او افغانستان کې هر کال یو زیات شمېر ناروغ افغانان تداوي کړي دي.

## ۵. د کمپیوټر ساینس دیپارټمنت

په دې پوهنځي کې یوازې یو باب د کمپیوټر لابراتوار له څو پخوانیو کمپیوټرونو، بې له پروجکټور او بې له انټرنیټ څخه ما ولیدل.

د نویو تخنیکي امکاناتو تر څنګ، د استادانو مسلکي روزنه او د محصلینو لپاره مسلکي کتابونه او یو مسلکي کتابتون ډېر عاجل ضرورت ګڼل کېږي.

په دې برخه کې کېدای شي چې د ځینو آی ټي کمپنیو پاملرنه جلب شي. ما په افغانستان کې د زیمنس کمپنۍ، پیوستون نیټ ورکنګ لمېتډ او لېوال لمېټډ سره خبرې کړېدي، اړوندو اړخونو همکارۍ او ګډ کار ته چمتو والی ښودلی دی.

## ٦. د سولر انرژۍ نوی مضمون

پروفیسور ډاکټر انجنیر کلیمنټ شوارس، ډاکټر نظر سلطانزي او ډیپلوم انجنیر محمد اختري، چې درې واړه د سولر انرژۍ متخصصین دي او په دې برخه کې د کلونو کلونو تجربه لري، چمتو دي چې د ننګرهار پوهنتون په انجنیري پوهنځي کې د سولر انرژۍ مضمون رامنځته کړي او له استادانو او محصلینو سره په ګډه د افغانستان شرایطو لپاره د مناسبو شمسي وسایلو په تدریس، څېړنه او جوړولو کې مرسته وکړي.

## ۷. د آلماني ژبې تدریس

یو شمېر محصلین او استادان هر کال د مختلفو پروژو په چوکاټ کې آلمان ته راځي، خو تر اوسه په ننګرهار ولایت او شرقي سیمو کې د آلماني ژبې د زده کولو لپاره هېڅ ډول

امکانات نشته، په کار ده چې د ادبیاتو او ژبو پوهنځي کې آلماني ژبه هم تدریس شي.

په دې اړوند ما په هامبورگ کې د ژبې او بین الکلتوري ښوونځي مشر امادیوس هیمپل (له چا سره چې د ۱۵ کلونو راهیسې د هامبورگ افغانستان اوونۍ جوړوم) خبرې کړي او هغوی چمتو دي، چې د هامبورگ له تخنیکي پوهنتون سره په ګډه د آلماني ژبې تدریس په ننګرهار کې پیل کړي.

## ۸. له اقتصادي سکتور سره ګډ کار

ننګرهار پوهنتون ته د نویو مالي امکاناتو پیدا کول، د اقتصادي شرکتونو توجه جلبول، همکارۍ او ګډ کار امکانات هم باید ولټول شي، د مثال په ډول پوهنتون او د محصلینو لیلیو ته نږدې د کتاب پلورنځیو، انټرنیټ کافي او د ژبو او کمپیوټر کورسونو ته امکانات برابرول. دا به له یوې خوا د محصلینو او له بلې خوا د شرکتونو په ګټه وي او دوی به لا نورې پانګونې ته وهڅول شي.

## ۹. د نویو مالي سرچینو پیدا کول

افغانستان ته نن سبا ډېرې پیسې راځي چې له بده مرغه یوه برخه یې د ښو او ګټورو پروژو د نشتوالي له کبله همداسې پاتې کېږي، په کار ده چې هم په محلي سطحه (ولایت)، مرکزي سطحه (د لوړو زدکړو، اقتصاد او مالیې وزارتونو) او هم د بهرنیو او بین المللي ټولنو (لکه یو اس آی ډي، پي آر ټي، جي تي زيډ، ډي اي اي ډي...) ته د بېلابېلو پروژو وړاندیزونه (پروپوزلونه) جوړ شي.

### د پروژو تداوم

په نظر کې نیول شوې چې ټولې پروژې به د اړوندو مسوولینو په مشوره او په ګډه توګه تر سره کېږي چې له یوې مودې څخه وروسته مسوولین وکولای شي، په خپله دغه کارونه پر مخ بوزي.

# په افغانستان کې طبي لوړې زده کړې

اوسمهال په افغانستان کې یو طبي پوهنتون (کابل طبي پوهنتون) او ۸ دولتي طب پوهنځي (کابل پوهنتون، ننگرهار، خوست، پکتیا، کندهار، هرات، کندز، بلخ او کاپیسا) شتون لري، په دغو موسسو کې ۸۵۷۵ محصلین په درسونو بوخت دي.

په وروستیو کلونو کې ۳۰ خصوصي طب پوهنځي په ټول افغانستان کې تاسیس شوي، چې ۲۷۰۰۰ تنه محصلین پکې درس لولي.

په ۱۹۳۲ کال کې لومړی د طب پوهنځی جوړ شوی، چې تر ۲۰۰۵ کال پورې د کابل پوهنتون په چوکاټ کې یوه پوهنځی وو.

دغه پوهنځی په ۲۰۰۵ کال د کابل طبي پوهنتون په نامه تبدیله شوه، چې څلور پوهنځي لري: معالجوي، ستوماتولوژي، نرسنگ او عامه روغتیا.

د کابل طبي پوهنتون په څلور کادري روغتنونه لري: علي آباد، میوند، ستوماتولوژي او سترگه. دلته ۲٦۴۷ محصلین (٦۰.۷۸٪ هلکان او ۳۸.۸۳٪ نجونې درس لولي، ۲۱۳ استادان او ۱۸۸ اداري کارکوونکي دلته مصروف دي. *

## ننگرهار طب پوهنځی

له کابل څخه وروسته په کال ۱۹٦۳ کې د افغانستان دویم طب پوهنځی په ننگرهار کې جوړ شو، چې تر اوسه یې ۳۵۰۰ ډاکټران ټولنې ته وړاندې کړي دي.اوسمهال دلته ۹۸۸ محصلینو (یوازې ۱۵.۰۸٪ نجونه) ته د۱۰۲ استادانو له خوا درس ورکول کیږي، یو کدري روغتون لري او ۱۷ اداري کار کوونکي.

## بلخ پوهنتون طب پوهنځی

دغه پوهنځی په ۱۹۸۷ کال کې جوړ شوی، ۲۰۴۸ تنه ډاکټران یې فارغ کړي، په ۲۰۲۲ زیږدیز کال کې ۱۳٦۲محصلین لري چې د ٦۱ استادانو له خوا درس ورکول کیږي، کدري روغتون نه لري.

## د افغانستان دولتي طبي پوهنځي او محصلين

| شماره | د پوهنتون نوم | د محصلينو تعداد |
| --- | --- | --- |
| ۱ | د کابل طبي پوهنتون | ۲٦۴۷ |
| ۲ | ننګرهار | ۹۸۸ |
| ۳ | البيرونی | ۴۸۱ |
| ۴ | بلخ | ۱۳٦۲ |
| ۵ | خوست | ۴۸۰ |
| ٦ | هرات | ۱۳۴۳ |
| ۷ | کندهار | ۴۲۸ |
| ۸ | پکتيا | ٦۱۷ |
| ۹ | کندز | ۲۲۹ |
| | مجموعه | ۷۸۱۲ |

## د افغانستان خصوصي طبي پوهنځي

| شماره | ولايت | پوهنتون |
| --- | --- | --- |
| ۱ | کابل | ۱-کاتب پوهنتون؛<br>۲- ملي لوړو زده کړو موسسه؛<br>۳- کابل خاتم النبيين پوهنتون؛<br>۴- دعوت پوهنتون؛<br>۵- چراغ لوړو زده کړو طبي موسسه؛<br>٦- زاول لوړو زده کړو موسسه؛<br>۷ – افغان پامير لوړو زده کړو موسسه؛<br>۸- افغان سويس لوړو زده کړو موسسه؛<br>۹- نعمان سادات لوړو زده کړو موسسه. |
| ۲ | هرات | ۱-غالب خصوصي پوهنتون؛<br>۲- جامي لوړو زده کړو موسسه؛<br>۳- هريوا لوړو زده کړو موسسه؛<br>۴- عاطفي لوړو زده کړو موسسه. |

| | | |
|---|---|---|
| ۳ | مزار شریف | ۱-مولانا جلال الدین پوهنتون؛<br>۲- آریا پوهنتون؛<br>۳- تاج لوړو زده کړو موسسه. |
| ۴ | ننگرهار | ۱-آریانا لوړو زده کړو موسسه؛<br>۲- سپین غر لوړو زده کړو موسسه؛<br>۳- روښان لوړو زده کړو موسسه. |
| ۵ | هلمند | ۱-د هلمند وادي لوړو زده کړو موسسه؛<br>۲- اراکوزیا لوړو زده کړو موسسه؛<br>۳- بست خصوصي پوهنتون. |
| ٦ | کندهار | ۱-میرویس نیکه موسسه؛<br>۲- ملالۍ لوړو زده کړو موسسه. |
| ۷ | خوست | ۱- احمد شاه ابدالي لوړو زده کړو موسسه. |
| ۸ | بغلان | ۱ – حکیم سنايي لوړو زده کړو موسسه. |
| ۹ | پروان | ۱- دانش لوړو زده کړو موسسه. |
| ۱۰ | غزنی | ۱-مسلم لوړو زده کړو موسسه؛<br>۲- خاتم النبیین پوهنتون شعبه دوم. |

د طب پوهنځیو اساسي ستونزې دا دي:

- د واحد درسي نصاب نشتوالی او یا نه تطبیق؛
- تدریس په زاړه مېتود «لکچر نوټ»؛
- د نویو درسي کتابونو نشتوالی او کموالی؛
- انټرنېټ، نویو درسي موادو او کتابونو ته کم لاسرسی؛
- لابراتوارونه غیر فعال دي او محصلین هېڅ شی په کې نه شي زده کولای؛
- ځینې پوهنځي حتی تدریسي روغتون نه لري؛
- محصلین ډېر کم وخت د مریض په بستر او روغتون کې عملي زده کړې کوي.[۱]

---

[۱] د احصاییې مدیریت، د لوړو زده کړو وزارت، د افغانستان د لوړو زده وزارت، کابل، د اپریل میاشت ۲۰۱٦ زیږدیز کال.

# ولسمشر محمد اشرف غني ته ليک

د افغانستان د اسلامي جمهوريت جلالتمآب جمهور رئيس!

سلامونه او احترامات وړاندې کوم.

زموږ په تعليمي او تحصيلي سيستم کې درسي کيفيت ته پاملرنه او د هغه لوړوالی ستاسو د غوښتنو څخه وو. تدريسي کتابونه د درسي کيفيت په لوړولو کې د استاد تر څنګ اساسي رول لوبوي.

د ښوونځيو لپاره کلونه مخکې دکتابونو يو پروګرام جوړ او د هر مضمون لپاره يو کتاب تر تدوين او ليکلو وروسته چاپ شو، چې دا لړۍ دوام لري.

له بده مرغه د افغانستان د لوړو زده کړو په موسساتو او پوهنتونونو د تدريسي کتابونو د تدوين او چاپ لړۍ پلې شوې نه او لا هم د يوې پېړۍ وړاندې چپترونه تدريس کېږي او په دې برخه کې د پام وړ او سيستماتيک کار نه دی شوی.

د همدې اړتيا د رفع کولو لپاره ما د آلمان د يو شمېر بنسټونو په مرسته په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۲ زېږديز کلونو کې يو کوچنی پروګرام يا د پوهنتونونو لپاره د درسي کتابونو چاپ پيل کړ او تر اوسه مو دوه سوه عنوان ښلا ښل درسي کتابونه د طب، انجينري او ساينس په برخو کې چاپ او په وړيا توګه په ټولو پوهنتونونو کې محصلينو ته وېشلي دي.

په دې وروستيو درېو کلونو (له ۲۰۱۲ څخه تر ۲۰۱۵ زېږديز کال) پورې مو د يوې کوچنۍ آلماني موسسې په مرسته د ننګرهار لپاره سل عنوان کتابونه چاپ کړل. ما په دې اړه څو ليکنې کړې دي او يو وړانديز (د درسي کتابونو ملي پروګرام) چې د دغه ليک سره مل دي.

د محصلينو لپاره درسي کتابونو ته بايد جدي پاملرنه وشي. زما غوښتنه داده، چې د لوړو زده د کړو وزارت په همکارۍ او د آلمان يا نورو مراجعو څخه په جدي توګه غوښتنه وشي، څو د هر درسي مضمون لپاره لږ تر لږه يو عنوان درسي کتاب تدوين او چاپ شي.

زما په اند دغه کار به په لږ وخت کې په پوهنتونونو کې د درسي کيفيت په لوړوالي کې اساسي رول ولوبوي.

همدارنګه زما يو ځانګړی وړانديز دا دی چې په افغانستان کې **د افغان-جرمن پوهنتون** تاسيس شي. خپل وړانديز ستاسو درانه حضور ته ستاسو د معلوماتو او د امکان په صورت کې د اجراآتو لپاره وړاندې کوم چې متن يې د همدې ليک سره مل دی.

په درنښت

ډاکټر يحيی وردک، په لوړو زده کړو سلاکار، کابل، د ۲۰۱۵ زېږديز کال د جولای ۱۱ مه نېټه

# دویمه برخه

# د کتابونو د چاپولو پروسه

# په درسي کتابونو کې د خپرندویه ټولنې یادښت

قدرمنو استادانو او گرانو محصلینو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لویو ستونزو څخه گڼل کېږي. یو زیات شمېر استادان او محصلین نویو معلوماتو ته لاسرسی نه لري، په زاړه میتود تدریس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه گټه اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټیټ کیفیت فوتوکاپي کېږي.

موږ تر اوسه پورې د ننگرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، البیروني، کابل پوهنتون، د کابل طبي پوهنتون او د کابل پولي تخنیک پوهنتون لپاره ۳۶۹ عنوان مختلف درسي کتابونه د طب، ساینس، انجنیري، اقتصاد، ژورنالیزم او کرهنې پوهنځیو لپاره چاپ کړي دي. ۹۶ عنوان طبي کتابونه د آلمان د علمي همکاریو ټولنې DAAD، ۲۳۰ عنوان او غیر طبي کتابونه د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې (Kinderhilfe-Afghanistan)، ۷ عنوان کتابونه د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې DAUG، ۲ عنوان کتابونه په مزار شریف کې د آلمان فدرال جمهوري جنرال کنسولگرۍ، ۴ عنوان کتابونه د Afghanistan-Schulen، ۲ عنوان کتابونه د سلواک ایډ، ۸ عنوان کتابونه د کنراد ادناور شتیفتونگ بنسټ (KAS) او ۲ عنوان کتابونه د HUMEDICA په مالي مرسته چاپ کړي دي.

د یادونې وړ ده، چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو اړوندو پوهنتونونو او یو زیات شمېر ادارو او موسساتو ته په وړیا توگه وېشل شوي دي. ټول چاپ شوي کتابونه له www.afghanistan-ecampus.org ویب پاڼې څخه ډاونلوډولی شئ.

دا کړنې په داسې حال کې ترسره کېږي، چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۴ ز کلونو په ملي ستراتیژیک پلان کې راغلي دي چې:

*«د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کیفیت او زده کوونکو ته د نویو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړینه ده، چې په پښتو او دري ژبو د درسي کتابونو د لیکلو فرصت برابر شي، د تعلیمي نصاب د ریفورم لپاره له انگریزي ژبې څخه پښتو او دري ژبو ته د کتابونو او درسي*

*موادو ژباړل اړين دي، له دغو امکاناتو څخه پرته د پوهنتونونو محصلين او استادان نه شي کولای عصري، نويو، تازه او کره معلوماتو ته لاسرسی پيدا کړي.»*

د لوړو زده کړو وزارت، پوهنتونونو، استادانو او محصلينو د غوښتنې پر اساس مـوږ دا پروگرام غير طبي برخو تـه لکـه ساينس، انجنيري، کرنـې او نـورو پوهنځيـو تـه هـم وغزاوه، چې د مختلفو پوهنتونونو او پوهنځيو د اړتيا وړ کتابونه چاپ شي.

موږ غواړو د درسي کتابونو په برابرولو سره د هېواد له پوهنتونونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچرنوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو.

د دې لپاره دا اړينه ده، چې د لوړو زده کړو د موسساتو لپاره هر کال څه نا څـه ۱۰۰ عنوان درسي کتابونه چاپ شي.

له ټولو محترمو استادانو څخه هيله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه وليکـي، و ژباړي او يا هم خپل پخواني ليکل شوي کتابونه، لکچر نوټونه او چپټرونه ايډيټ او د چاپ لپاره تيار کړي، زموږ په واک کې يې راکړي، چې په ښـه کيفيـت چـاپ او وروسـته يـې د اړونـد پوهنځي استادانو او محصلينو ته په واک کې ورکړو.

همدارنگه د يادو ټکو په اړوند، خپل وړانديزونه او نظريات لـه مـوږ سره شريـک کـړئ، چې په گډه په دې برخه کې اغېزمن گامونه پورته کړو.

د يادونې وړ ده، چې د مؤلفينو او خپروونکو لخوا پوره زيـار ايسـتل شـوی دی، چـې د کتابونو محتويات د نړيوالو علمي معيارونو پر اساس برابر شي، خو بيا هم کېدای شي د کتاب په محتوا کې ځينې تېروتنـې او سـتونزې وليـدل شي، نـو لـه درنـو لوسـتونکو څخه هيله من يو، چې خپل نظريات او نيوکې ليکوال او يـا مـوږ تـه پـه ليکلـې بڼـه را ولېږي، چې په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

د آلمان د علمي همکاريو ټولنې (DAAD)، د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې او د هغـې له مشر ډاکټر ايروس، د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټـولنې (DAUG)، پـه مـزار شريـف کـې د آلمان قونسگرۍ او د (Afghanistan-Schulen) او نورو مرستندويه ټولنو څخه ډېره مننه کوو، چـې د کتابونو د چاپولو په بهير کې يې له موږ سره مالي مرستې کړي دي.

په ځانګړي توګـه د (GIZ) او Center for International Migration & Development(CIM) له دفتر څخه چې زما لپاره يې په تېرو اوو کلونو کې په افغانستان کې د کار امکانـات برابر کړي دي، هم د زړه له کومې مننه کوم.

د کتابونو له مؤلفينو څخه ډېر منندوی يم او ستاينه يې کوم، چې خپل د کلونو کلونو زيار يې په وړيا توګه او دکتابونو په شکل ګرانو محصلينو ته وړاندې کړ.

همدارنګه د دفتر له همکارانو هر يو حکمت الله عزيز او فهيم حبيبي څخه هـم مننـه کوم، چې د کتابونو د چاپ په برخه کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړي دي.

ډاکټر محمد يحيی وردګ

د لوړو زده کړو وزارت سلاکار، کابل، ۲۰۲۲ زېږديز کال




*د لوړو زده کړو وزارت کې د ډاکتر يحيی وردک د کار دفتر کابل، ۲۰۱۵ ز کال*

# د ۳۶۹ چاپ شویو کتابونو لیست

# (۲۰۱۰ – ۲۰۲۲)

| شمیره | د کتاب نوم | لیکوال | پوهنتون |
|---|---|---|---|
| | **I. اخلاق، طبي لارښود او ترمینولوژي** | | |
| ۱ | اخلاق طبابت | پوهاند داکټرعبدالغفورهمدل صدیقی | بلخ |
| ۲ | د طبابت لنډ تاریخ | پوهاند عبدالحی مومني | ننگرهار |
| ۳ | رهنمای تدریس طب | پوهاند دوکتورنادراحمد اکسیر | کابل طبي پوهنتون |
| ۴ | طبي ترمینولوژي | دوکتورگل سیما ابراهیم خېل قادري | ننگرهار |
| ۵ | د ننگرهار طب پوهنځي نصاب او درسي مفردات (انگلیسی) | ننگرهارطب پوهنځی | ننگرهار |
| ٦ | انگلیسي- پښتو طبي قاموس I | رنځورمل دوکتور عجب گل مومند | ننگرهار |
| ۷ | رهنمود PBL در افغانستان | پوهنوال دوکتورمحمد فرید برنایار | کاپیسا |
| ۸ | انگلیسي- پښتو طبي قاموس II | رنځورمل دوکتور عجب گل مومند | ننگرهار |
| ۹ | د طب محصلینو درسي کتابونه | ډاکټر یحیی وردک | ټول پوهنتونونه |
| ۱۰ | ۱۴۰ طبي کتابونه په ډي وي ډي کې (پښتو، دري او انگلیسي) | بېلا بېل مؤلفین | ټول پوهنتونونه |
| ۱۱ | ۲۷۳ طبي کتابونه په ډي وي ډي کې (پښتو، دري او انگلیسي) | بېلا بېل مؤلفین | ټول پوهنتونونه |
| ۱۲ | د طبیعي علومو انگلیسي- پښتو قاموس | پوهنوال ډاکټر نظر محمد سلطانزی ځدران | ننگرهار |
| | **II. فزیک** | | |
| ۱۳ | په معاصر طب کې د فزیک پېژندنه | گل احمد سهیل | ننگرهار |
| ۱۴ | بیوفزیک | پوهنیار گل احمد سهیل | ننگرهار |
| ۱۵ | بیوفزیک | پشتنه بنایي | ننگرهار |
| ۱٦ | بیوفزیک | پوهاند میر محمد ظاهرحیدری | بلخ |
| ۱۷ | طبي فزیک | پوهنیار هدایت الله مهمند | ننگرهار |
| ۱۸ | فزیک طبی بخش حرارت | پوهاند میر محمد ظاهرحیدری | بلخ |
| ۱۹ | فزیک طبی بخش میخانیک | پوهاند میر محمد ظاهر حیدری | بلخ |
| ۲۰ | توضیح اساسات فزیکی، وسایل تشخیصیه طبی | پوهاند میر محمد ظاهرحیدری | بلخ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۱ | فزيک نور | پوهاند مير محمد ظاهر حيدری | بلخ |
| ۲۲ | نور و فزيک جديد | پوهنوال غلام قادر دهگان | هرات |
| ۲۳ | فزيک اوپتيک | پوهنوال غلام قادر دهگان | هرات |
| ۲۴ | د نور فزيک | پوهنيار هدايت الله مهمند | ننگرهار |
| ۲۵ | ميخانيک او د نور فزيک | پوهنيار هدايت الله | ننگرهار |
| ۲٦ | حرارت و ترموديناميک | پوهنوال غلام قادر دهگان | هرات |
| ۲۷ | د برق فزيک | پوهنيار هدايت الله | ننگرهار |
| ۲۸ | کوانتم ميخانيک | پوهنيار اکرام الله وقار | ننگرهار |
| | **III. کيميا** | | |
| ۲۹ | طبي کېميا | پوهنوال امرالله آصفي | خوست |
| ۳۰ | طبي بيوشمي | پوهاند خان محمد احمدزی | کابل طبي پوهنتون |
| ۳۱ | کېميايي عنصرونه I | محمد طاهر کاښی | ننگرهار |
| ۳۲ | کېميايي عنصرونه II | محمد طاهر کاښی | ننگرهار |
| ۳۳ | فزيکی کېميا ګازونه او کېمياوي ترموديناميک | پوهاند خير محمد ماموند | ننگرهار |
| ۳۴ | عضوي کېميا، کړيوال ترکيبونه | پوهاند دوکتور محمد غوث حکيمي | ننگرهار |
| ۳۵ | فزيکی کيميا دوهم جلد، ترموديناميک | حبيب الله نوابزاده | ننگرهار |
| ۳٦ | فزيکی کېميا II، الکتروليتي محلولونه او الکتروکېميا | پوهاند دوکتور خير محمد ماموند | ننگرهار |
| ۳۷ | فزيکی کېميا III، کېمياوي کنتک او کتلسس، کروماتوګرافي او اسپکتروسکوپي | پوهاند دوکتور خير محمد ماموند | ننگرهار |
| ۳۸ | عضوی کيميا، د اليفاتيک برخه | پوهنوال ډاکترګل حسن وليزی | خوست |
| ۳۹ | عمومي کيميا | پوهاند دوکتورخيرمحمد ماموند | ننگرهار |
| ۴۰ | عضوي کيميا، د اروماتيک او هيترو سيکليک برخه | پوهنوال ډاکترګل حسن وليزی | کابل |
| ۴۱ | د قندونو هضم، جذب او استقلاب | پوهيالی دوکتوريحيی فهيم | ننگرهار |
| ۴۲ | د شحمياتو استقلاب | دوکتور محمد عظيم عظيمي | ننگرهار |
| | **IV. بيولوژي او جنيتيک** | | |
| ۴۳ | عمومي بيولوژي | پوهندوی جماعت خان همت | ننگرهار |
| ۴۴ | عمومي بيولوژي | پوهندوی الفت شيرزی | ننگرهار |
| ۴۵ | بيولوژی ماليکولی حجره I | پوهنوال علی يوسف پور | کابل طبي پوهنتون |
| ۴٦ | د حجري بيولوژي | پوهندوی جماعت خان همت | ننگرهار |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴۷ | بیولوژي ماليکولی حجره II | پوهنوال علی یوسف پور | کابل طبي پوهنتون |
| ۴۸ | ماليکولي بیولوژي | پوهندوی جماعت خان همت | ننگرهار |
| ۴۹ | وراثت | پوهنوال دوکتور گل سالم شرافت | ننگرهار |
| ۵۰ | وراثت او ږ سمورفولوژي | پوهنمل ډاکتر مسیح الله مسیح | ننگرهار |
| ۵۱ | کلاسیک او مالکیولی جنتیک | دوکتورمحمد صابر | ننگرهار |
| ۵۲ | طبي جنیتیک | پوهندوی الفت شیرزی | ننگرهار |
| ۵۳ | زولوجي غیرفقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار |
| ۵۴ | زولوجي فقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار |
| ۵۵ | حیوانات مفصلیه | پروفیسور داکتر دیپلوم علی آقا نحیف | هرات |
| | **۷. اناټومي او هستالوژي** | | |
| ۵٦ | اناتومي لومړی جلد<br>( هډوکي، مفاصل او عضلات) | پوهنمل ډاکتر محمد ناصر نصرتي | ننگرهار |
| ۵۷ | د زړه او د ويني د رګونو اناټومي | پوهنمل ډاکتر محمد ناصر نصرتي | ننگرهار |
| ۵۸ | اناټومی دریم جلد، عصبي سیستم،<br>حواس او اندوکراین غدوات | پوهنمل ډاکتر محمد ناصر نصرتي | ننگرهار |
| ۵۹ | د هضمي سیستم اناټومي | پوهنمل ډاکتر محمد ناصر نصرتي | ننگرهار |
| ٦۰ | د بولي تناسلي سیستمو اناټومي | پوهنمل ډاکتر محمد ناصر نصرتي | ننگرهار |
| ٦۱ | د عصبي سیستم اناټومي | پوهنیار دوکتور یما صدیقي | ننگرهار |
| ٦۲ | د ټټر اناټومي | پوهنیار دوکتور یما صدیقي | ننگرهار |
| ٦۳ | اناتومي | پوهنمل ډاکټرحفیظ الله سهار | کابل طبي پوهنتون |
| ٦۴ | د جهازاتو اناټومي | پوهنوال ډاکتر محمد حسین یار | ننگرهار |
| ٦۵ | د هډوکو او مفاصلو اناټومي | پوهنوال دوکتور حمیدالله حامد | خوست |
| ٦٦ | اناتومي و فزيولوژی انسان، جلد اول | پوهندوی محمد طاهرنسیمي | بلخ |
| ٦۷ | اناتومي و فزيولوژی انسان، جلد دوم | پوهندوی محمد طاهرنسیمي | بلخ |
| ٦۸ | د سيني بطن او حوصلې اناټومي | پوهنوال دوکتور حمیدالله حامد | خوست |
| ٦۹ | د انسان فزیولوژي او اناټومي | عبدالملک پرهېز | ننگرهار |
| ۷۰ | د سر او غاړې اناټومي درسي کتاب I | پوهندوی دوکتور یما صدیقي | ننگرهار |
| ۷۱ | عمومي هستالوژي | پوهاند ډاکټر خلیل احمد بهسودوال | ننگرهار |
| ۷۲ | عمومي هستالوژي | پوهندوی ډاکترفضل الهي | کندهار |
| ۷۳ | د سر او غاړې اناټومي درسي کتاب II | پوهندوی دوکتور یما صدیقي | ننگرهار |
| ۷۴ | طبي هستالوژي | پوهاند داکتربری صدیقي | خوست |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷۵ | طبي هستولوژي | پوهاند ډاکټر خلیل احمد بهسودوال | ننګرهار |
| ۷٦ | هستالوژي | پوهاند ډاکټربری صدیقي | کابل طبي پوهنتون |
| ۷۷ | د سیستمونو هستالوژي | پوهاند ډاکټر خلیل احمد بهسودوال | ننګرهار |
| | **VI. امبریولوژي** | | |
| ۷۸ | عمومي امبریولوژي | پوهاند دوکتور بری صدیقي | خوست |
| ۷۹ | امبریولوژی طبی | پوهندوی داکتر بشیر نورمل | کابل طبي پوهنتون |
| ۸۰ | امبریولوژي | پوهنوال ډاکتر محمد حسین یار | ننګرهار |
| ۸۱ | طبي امبریولوژي | پوهنمل داکتر ناصر نصرتي | ننګرهار |
| ۸۲ | امبریولوژی عمومی انسان | پوهندوی داکتربشیر نورمل | کابل طبي پوهنتون |
| ۸۳ | د انسان عمومي کلینیکي امبریولوژي | پوهنیار ډاکتر عبدالله جان شینواری | ننګرهار |
| | **VII. فزیولوژي او پتولوژي** | | |
| ۸۴ | طبي فزیولوژي | داکتر شریف الله | ننګرهار |
| ۸۵ | د اندوکراین، زړه، رګونو او پښتورګو فزیولوژي | پوهنوال دوکتور احسان الله احسان | ننګرهار |
| ۸٦ | د ځانګړو حسیتونو، پوستکي، اوتونومیک او مرکزي سیستم فزیولوژي | پوهنوال دوکتور محب الله شینواری | ننګرهار |
| ۸۷ | د تنفسي سیستم فزیولوژي | پوهنوال دوکتور احسان الله احسان | ننګرهار |
| ۸۸ | د وینې فزیولوژي | پوهنمل ډاکتر ولي محمد ویاړ | کندهار |
| ۸۹ | پتالوژی عمومی | پوهندوی داکتر زهرا فروغ | هرات |
| ۹۰ | عمومي پتالوژي | پوهاند دوکتور خلیل احمد بهسودوال | ننګرهار |
| ۹۱ | عمومي پتالوژي | پوهندوی دوکتور محمد آصف | ننګرهار |
۷. کونيګز وينتر ښار، د و ينبيک فونډېشن؛

۸. بن ښار، د بين المللي پرمختيايي زده کړو دولتي موسسه (اينوينټ)؛

۹. بن ښار، د آلمان غږ راډيو د افغانستان سرويس؛

۱۰ بېلا بېلې اړيکې.

## لومړی: بن ښار، د DAAD موسسه

د آلمان د اکاډميکو همکاريو موسسه (DAAD) د افغانستان د څانګې مسؤولين (ښاغلی ډاکټر کوفپر، ښاغلی ګيرولډ) او په آلمان کې د افغان طبي پرسونل چتري ټولنې د مشرتابه غړي ښاغلي همپل په ګډون، ما د افغانستان د عمومي وضعيت، د

لوړو زده کړو په وزارت کې د کار او دفتر جوړولو او د بلخ پوهنتون او د بلخ طب پوهنځي ته د بلخ پوهنتون د آلماني پروفیسور فینکي او په افغانستان کې له (DAAD) مسؤول ښاغلي ارسلایي سره د ګډ سفر راپور ورکړ. دوی له دغه ګډ سفر څخه خپله خوښي څرګنده کړه او و یې وغوښتل، چې په راتلونکي کې هم د آلمان لخوا چې کوم کارونه د GIZ موسسې له خوا کېږي، DAAD اداره په جریان کې وي.

د بلخ پوهنتون له خوا، چې ماته لیک راکړ شوی وو، هغه مې په آلماني ژبه ترجمه او هغوی ته وسپاره. په دغه لیک کې د بلخ طب پوهنځي د پنځو استادانو د تدریسي- کتابونو چاپولو او د طب پوهنځي په ټولو څلورو تدریسي- ټولګیو کې د یو یو پروجکټور غوښتنه شوې وه.

د DAAD ادارې زما سره په دې مورد کې سمدلاسه شفاهي هوکړه وکړه. دوی له ما څخه هیله وکړه، چې ددې لپاره یو پروپوزل ولیکم او دوی ته یې ور واستوم، چې ما دا کار وکړ او رسمي ځواب یې هم راغی. همدا شان د کندهار د طب پوهنځي د غوښتنې پر اساس د دوی لپاره هم د پنځو تدریسي کتابونو د چاپ او څلورو پرجکټورونو پروپوزل ورته وړاندې شو. په ټولیزه توګه د ۱۵ عنوان تدریسي- طبي کتابونو (۵ عنوانه بلخ، ۵ عنوانه کندهار او ۵ عنوانه ننګرهار ته) چاپ او ۸ پایې پروجکټورونه (۴ پایې بلخ او ۴ پایې کندهار) ته به ان شاء الله سږ کال تر لاسه شي.

ما دوی ته په ټول افغانستان کې د طب له پوهنځیو سره د کتابونو چاپ، پروجګټورونو، آلمان ته د افغاني استادانو د ماسټرۍ سکالرشیپونو، د کادري روغتونونو جوړول او د دغو روغتونونو سمبالول د عاجل ضرورت په توګه وړاندې کړل. د دوی له علاقې څخه وروسته په دې خبره توافق ته و رسېدو، چې په ډېر لنډ وخت کې به له طب پوهنځیو سره د مرستې یو پلان (کانسپټ) جوړوو او دوی ته به یې ور استوو.

ما بیا همدغه وظیفه تر سره او په آلماني ژبه مې دغه کاغذ جوړ او دوی ته ور ولېږه. پر دې اساس کېدای شي چې DAAD موسسه او آلمان حکومت، لکه د افغانستان د نورو

پوهنځيو په شان، د طب له پوهنځيو سره خپله مرسته او همکاري پـه سيسـتماتيکه توګـه پيل کړه او دوام به ورته ورکړل شي.

## دويم: فرانکفورټ ښار، GTZ/سيم مرکزي دفتر

د فرانکفـورټ پـه ښـار کـې د GTZ/سـيم مرکـزي دفـتر وربللـی وم، چـې د افغانسـتان د څانګې له کارکوونکيو سره ليدنه کتنه وکړم او زما د کار او دفتر په هکله معلومـات ورکـړم. همدارنګه له اړوندو همکارانو سره له نږدې معرفي او دغـه مؤسسـه، چـې زمـا سره مرسـته کوي، له نږدې څخه وګورم.

## دريم: هايدلبرګ پوهنتون او د عامې روغتيا انستيتيوت

ددغه انستيتيوت د عامې روغتيا په څانګه کې د ماسټرۍ پروګرام مشر ډاکټر کولکر سره د ښاغلي همپل (په آلمان کې د افغان طبي پرسونل چتري ټولنې د مشرتابه غړي) په ګډون خبرې وشوې. له دغه انستيتيوت سره زه د ۱۵ کلونو راهيسې اړيکه لرم او ما هم عامه روغتيا او حاروي طب دلته لوستلي دي او د عامې روغتيا دغه انستتيوت په جرمني کې تر ټولو پخوانی او معتبر ځای بلل کېږي. دغه انستيتيوت چمتو دی، چې د افغانستان د بېلابېلو طب پوهنځيو د عامې روغتيا د ډيپارټمنتونو څخه  هر کال ۳يا ۴ استادان د  ماسټرۍ په پروګرام کې ونيسي. ما د هغوی د ماسټرۍ د پروګرام معلومات او کريکولم له ځان سره کابل ته راوړل، د دوی د لګښتونو لپاره د DAAD موسسې له اداري سره ابتدايي خبرې هم شوي دي.

## څلورم: فرايبورګ ښار، سيمينار

افغانان څرنګه کولای شي چې د افغانستان د روغتيايي سيسـتم پـه بيا جوړلـو کـې ونـډه واخلي؟ د ننګرهار د طـب پـوهنځي لپـاره د کتـابونو د چاپ او وېش پـه هکلـه او د نـورو پوهنځيو لپاره ددغې پروژې د غزولو په هکله مفصلې خبرې وشـوې. پـه تدريسـي- پروسـه

او د کیفیت د لوړولو لپاره په افغاني ژبو د مسلکي کتابونو ارزښت مهم وګڼل شو او په دې بحث وشو، چې دغه پروژې ته دې دوام او پراختیا ورکړ ل شي. همدا شان په آلمان کې مېشت افغان ډاکټرانو هم د نویو کتابونو د ژباړې وعده وکړه. دلته په مزارشریف کې له نوي ملکي روغتون آلماني کارکوونکو سره په دغه روغتون کې د طب محصلینو لپاره د عملي زده کړو شرایط برابرولو خبرې وشوې.

## پنځم: ایش ایشبورن ښار، د آلمان د روغتیایي اقتصاد د ټولنې د مرستو او همکاریو مسلکي سیمینار

زه دلته په تېره بیا د دغې ټولنې له مشر او د ګرایفسوالد پوهنتون استاد پروفیسور ډاکټر فلیسه سره د طب پوهنځیو د ارزیابۍ لپاره د آلماني او نړیوالو متخصصانو راوستلو په هکله وغږېدم. ده ددې کار لپاره دوه متخصصین (پروفیسور ګورتلیر او پروفیسور نیارانګه) را وپېژندل او ورسره په اړیکه کې یو. دلته د GTZ د روغتیا د څانګې له مشر سره هم خبرې وشوې او هغه هم د همکارۍ ژمنه وکړه.

## شپږم: باد هونیف ښار، د بین المللي پرمختیایي زده کړو دولتي موسسه (اینوینت)

دلته د پرمختګ، منجمنټ او پروژو جوړولو په یو دوه ورځني سیمینار کې د ګډون لپاره زه د GTZ/سیم لخوا معرفي شوی وم.

دا ډېر ګټور سیمینار و او ټول آلمانیان چې بهر ته د کار لپاره لېږل کېږي، دلته د آمادګۍ لپاره ټرینینګ ورکول کېږي.

## اووم: کونیګز وینتر ښار، د وینبیک فونډېشن

دغه موسسه له کلونو راهیسې د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې د انډوسکوپي کورسونه جوړوي او په ځینې روغتونونو کې د انډوسکوپي د څانګې په جوړولو کې هم مرسته کوي.

ما د فونډېشن مشري مېرمن وينبيک ته د افغانستان په کادري روغتونونو کې د انډوسکوپي د څانګو جوړولو او د استادانو د ټرېننګ وړانديز وکړ، چې دې علاقه وښودله او د نومبر په مياشت کې مېرمن وينبيګ کابل ته راځي او په لا نورو جزئياتو به خبرې وشي.

## اتم: بن ښار، د بين المللي پرمختيايي زده کړو دولتي مؤسسه (اينوينت)

ددغې دولتي مؤسسې د روغتيا څانګې او د افغانستان اړوندې څانګې له مسؤولينو سره مې د افغانستان د طب په پوهنځيو کې د ټرېنينګ په هکله خبرې وکړې. ما په خپله پنځه کاله له (۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۰۷ زېږديز کال پورې) په دغه مؤسسه کې (د پرمختګ په لور هېوادونو کې د ځوانو ډاکټرانو لپاره د آنلاين کورسونو جوړول، په افغانستان کې دغې موسسې له پروژو سره د همکارۍ په برخه کې کار کړی دی.
دوی له ما سره ژمنه وکړه چې زما کانسپټ به وګوري، په خپلو کې به مشوره وکړي او په راتلونکي کال کې به د ګډو کارونو په هکله خبرې سره وکړو.

## نهم: بن ښار، آلمان غږ راډيو د افغانستان سرويس

د آلمان غږ (ديوچې ويلې) راډيو د افغانستان سرويس مشر ښاغلي رتبيل آهنګ شامل سره د دوی په راډيو او انټرنېټ کې د افغانستان د لسو پوهنتونونو معرفي په اړوند خبرې وشوې. دوی به د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو کې خپلو همکارانو ته دنده وسپاري، چې د افغاني محصلينو او استادانو په مرسته بېلابېل پوهنتونونه معرفي او د راډيو او خپلې انټرنېټي شبکې له لارې يې خلکو ته معرفي کړي او په دې هکله خپرونې و لري. دا کار به هم افغانان او هم آلمانيان د افغانستان پوهنتونونه او د هغوی روان وضعيت، برياوو او ستونزو ته متوجه کړي او د مرستو او همکاريو باعث به شي.

## لسم: بېلابېل تماسونه

په برلين کې د آلمان د بهرنيو چارو وزارت له افغانستان سره د مرستو د برخې له

مسؤول ښاغلي بلديان سره د ليدلو وخت پيدا نه شو، نو د ايمېل او ټېلفون له لارې مو د يو بل د کارونو په اړوند معلومات تبادله کړل. دوی په تېره بيا د افغانستان په شمال کې د ګډو کارونو علاقه وښوده.

د وايزين مډيسين ټولنې له مشر پروفيسور شتاهل سره د بلخ طب پوهنځي او د بلخ د لشمانيا او ملاريا مرکز د پروژې په باب مشوره و شوه. له دوی سره په کتنه او ارتباط کې د بن-کولن ښارونو مېشت افغانان د افغانستان د بېلابېلو پوهنتونونو په اړوند معلوماتو او پخپلو مسلکونو کې د آلماني کتابونو ژباړې ته وهڅول شول. د آلمان د عامې روغتيا ټولنې مشر او له بيليفلد پوهنتون پروفيسور ډاکټر رازوم سره خبرې وشوې او په آلمان کې افغان استادانو د عامې روغتيا په مضمون کې مرستې او ګډ کار ته چمتووالی وښود.

د ادارا په نامه غير دولتي ټولنې د ارتباط له مسئول ښاغلي ډاکټر نای بيرګ سره په دې اړوند خبرې وشوې، چې د افغانستان له کادري روغتونونو سره د آلماني روغتوتونونو اړيکې ټينګې او له افغاني کادري روغتونونو سره د آلماني کادري روغتونونو مرستې او ګډ کار ته لاره هواره شي.

د هامبورګ په ښار کې د البرتينين فونډېشن مشر ښاغلی کاسپر سره د هامبورګ د البرتينين په کادري روغتون کې د يو شمېر استادانو مسلکي ټرېننګ تر سره شو. دا فونډېشن حاضر دی، چې د يو تعداد افغاني ډاکټرانو لپاره په آلمان کې د زده کړو زمينه برابره کړي.[1]

[1] وردک، ډاکتر يحيی، د آلمان فدرالي جمهوريت ته د کاري سفر ګزارش، کابل، د ۲۰۱۰ هجري لمريز کال د اکتوبر د مياشتې له ۸ څخه تر ۲۷مې نېټې پورې.

# په لوړو زده کړو وزارت کې د یحیی وردګ لنډ کاري راپور ۲۰۱۰-۲۰۲۲

- د طب فارمسي، وترينري، روانشناسي، انجنيري، ساينس، اقتصاد، تعليم وتربيې، ژورناليزم، ځمکپوهنې او کرنې پوهنځيو په هکله د ۳۶۹ عنوان درسي کتابونو چاپول چې د کابل طبي پوهنتون، کابل پوهنتون او د نورو پوهنتونونو لکه ننگرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ او کاپيسا د طبي پوهنځيو د استادانو لخوا په پښتو، دري او انگليسي ژبو ليکل شوي دي، په دې ډله کې د يو شمېر بهرنيو ليکوالانو کتابونه هم شامل دي.

ټولټال له ۳۶۹۰۰۰ څخه زيات ټوک کتابونو چاپول له سي ډي گانو سره چې د کتابونو ټوله منځپانگه (محتوا) پکې شامله ده.

- د برېښنايي کتابتون په ډول د ټولو چاپ شويو درسي کتابونو خپرول پورټال کې (انټرنتي پاڼې) له لارې www.ecampus-afghanistan.org

- د يادو ټولو کتابونو وېشل په ټول افغانستان کې دولتي او خصوصي طب پوهنځيو او يو شمېر نورو ادارو ته (لکه د عامې روغتيا وزارت، ځينې روغتونونه، د علومو اکاډمي، عامه کتابتونونه او نور...)

- د چاپ لپاره د ۱۰۰ عنوان کتابونو تيارول چې نيمايي طبي او نيمايي غير طبي کتابونه دي؛

- د ډي وي ډي گانو خپرول او وېشل چې د ۲۱۴ چاپ شويو کتابونو محتوا پکې شامله ده؛

- د ډي وي ډي گانو خپرول او وېشل چې د ۲۷۳ چاپ شويو کتابونو محتوا پکې شامله ده؛

- د ننگرهار، خوست، کندهار، هرات او بلخ پوهنتونونو د طب پوهنځيو ټول ټولگي په پروجکټورونو سمبالول؛

- د لوړو زده کړو وزارت او د کابل او بلخ پوهنتونونو ته د ۱۰ آلماني او آلماني-افغان سلاکارانو په جلب او راوستلو کې سلا مشوره، مرسته او لارښوونه؛

- د لوړو زده کړو په اړه د ۱۲ بېلا بېلو مقالو او وړانديزونو ليکل.

- چيټر، کتاب که انټرنيټ؟
- په DVD کې ۲۷۳ طبي درسي کتابونه، په افغانستان کې د ډيجيټلي کتابتون لپاره لومړی اغېزمن گام؛
- تدريس په انگليسي که ملي ژبو؟
- ليسانس که ماسټري؟
- د هېواد راتلونکي ته د لوړو زده کړو ارزښت؛
- افغان- جرمن پوهنتون په کابل کې؛
- د لوړو زده کړو څېړنيز مرکز؛
- نظري او عملي زده کړې لازم او ملزوم؛
- علمي مجلې!؟
- ورکشاپونه او تش په نامه پروژې!؟
- په پوهنتون کې زده کړې د تحصيلي سيستم يو مهمه برخه ده؛
- سافټوېر لومړی که هارډوېر.

# په ننګرهار کې د چاپ شویو کتابونو وېش، له ډاکتر ایروس سره

راپور، ۱۲/۰۴/۲۰۱۱

په دې سفر کې چې د ننګرهار پوهنتون ته د نویو کتابونو د وېش په هکله ترسره شوی وو، له ډاکتر یحیـی وردګ سره د آلمان اوسېدونکی ډاکـتر ایروس هم ملګری وو.



ډاکټر اېروس ډېـر خوشاله دی چـــې د ننګرهـــار پوهنتون طب پـوهنځي تـه راغلی دی. وایي چې دلتـه پخـوا هــم راغلــی وم او د دې پوهنځي له استادانو سره پېژنـدګلوي لـري. نـن ستاسـو راتـګ د یـوې ډېـرې مهمـې مسئلې لپاره دی چې هغه د تدریسي- کتـابونو د چاپ او توزېـع محفـل دی. دغـه پـروژه څو کاله مخکې له ننګرهار څخه پیل شوې وه او اوس یې یـو ملـي رنـګ غـوره کـړی دی، ځکه چې اوس ستاسو کتابونه لـه ننګرهـار څخـه هـرات او د افغانسـتان ټولـو ولایتونـو تـه تللي دي او هم د نورو ولایتو کتابونه دلته طب پوهنځي ته راځي. ډاکتر یحیـی وردک لـه نوموړي څخه مننه وکړه چې په وروستیو کې یې د دغـو کتـابونو د چاپ مصـارف پـه غـاړه اخیستي دي او له دغې پروسې سره یې کمک کړی دی.

- ډاکټر اېروس: (په آلماني ژبه)

- ډاکټر یحیی وردګ (ژباړه): دوی چې مخکې له یو بل سره خبرې وکـړې، ډاکټـر صاحب اېروس پوښتنه وکړه چې آیا تاسو پخوا هم د پښتو تدریسي طبـي کتابونـه درلـودل؟ پـه ځـواب کـې ورتـه وویـل شـول چـې هـو پخـوا هـم وو خـو پـه دغسـې

سیستماتیک ډول نه وو او په دغسې کیفیت باندې نه وو او په دومره لوړه اندازه باندې نه وو. دغه پروسه چې پیل شوې ده اوس بېخي په یو نوي کیفیت او په ډېر جدیت باندې ده. په دې باندې موږ او تاسې باید په کډه فکر وکړو چې دا څه رقم پر مخ بېولی شو، په آینده کې چې یو دوامداره کار وي. په آینده کې به د دې پروژې پیسې څوک ورکوي؟ یا یې داسې کړو چې له شخصي- لارې څخه چاپ شي او د آینده لپاره به یې موږ او تاسو په کډه فکر وکړو.

- ډاکټر اېروس: (په آلماني ژبه)

- ژباړه: ما دوی ته وویل چې ددې پروژې یوه فایده هم په دې کې ده چې موږ وکولای شو په ډېرو کمو پیسو باندې دا کار وکړو، که دا سړی مقایسه کړي له هغو مرستو سره چې په تېرو ۱۰ کالو کې په مختلفو ساحو کې د نړۍ څخه اخیستل شوې دي، که یې مقایسه کړو دا کار په ډېرو کمو پیسو باندې شوی دی، نو په دې لحاظ هم دغه پروژه ډېره مهمه او مفیده پروژه ده. ما په خپلو مخکینیو خبرو کې هم دا سوال ځواب کړ چې د دې پروژې د دوام لپاره به موږ خپله فکر کوو چې په څه قسم سره دوام پیدا کړي؟ په هر صورت دا نوی د اېډېشن سیستم دی چې دا وړاندې بوزي. نوموړي ته مې وویل چې مونږ ستاسو له کمک څخه ډېره زیاته مننه کوو او په دې برخه کې ستاسو د لا زیاتو کمکونو غوښتونکي یو.

- ډاکټر یحیی وردګ: د لوی او ښښونکي خدای په نامه. لومړی مېرمن اېروس او ډاکټر صاحب اېروس، رئیس صاحب د پوهنتون او رئیس صاحب د طب پوهنځي، ډېرو قدرمنو استادانو او ګرانو محصلینو (که زنانه دي که مردانه) ټولو ته ښه راغلاست وایم. زه هغه د دوو اونیو څخه مخکې خبره کله چې وزیران هم راغلي وو، که څه هم ځینو ته شاید تکراري وي، خو دغه د کار شروع او اصلي موتور زما د کار هغه حالت وو چې ما دلته درې کاله مخکې په طب پوهنځي کې ولیدو، لیلیې ته کوز شوم، بیخي ژړا راته راغله او بیا له محصلینو سره چې کېناستم هغوی خورې ورې پاڼې راته وښودې چې په لاس لیکل شوې وې او دا یې وویل چې دا واقعاً شل دېرش کاله پخوا

لیکل شوي دي او په ځینو تداویو کې حتی تغییر راغلی دی، خو هغه تداوي په هغه کې نه وه نو استاد په لکچر نوټ کې ویل چې دغه په چپتر کې لیکل شوې دوا ده دا تاسو مه استعمالوئ او بله دوا استعمال کړئ. یعنې له دغو لکچر نوټونو څخه ځینې داسې زاړه وو، نو د دې په خاطر ما هغه وخت له ځان سره تصمیم ونیو چې که امکان وي زه یې خپله په ښه کولو کې کار وکړم، ولې ما خپله پنځه ویشت کاله په خارج کې درس ویلی او کار مې کړي. دا یو ډېر آسانه کار دی په نوره دنیا کې چې یو شی ولیکل شي، چاپ شي او محصل ته ورکړل شي، نو همغه سلسله وه چې زه د لوړو زده کړو وزارت ته راغلم او کار مو پیل کړ چې نتیجه یې همدغه شوه چې فعلاً یې یې تاسو هلته ګورئ چې ٦١ عنوان طبي تدرسي کتابونه مو چاپ کړي دي.

په دې کې زه په لومړي قدم کې له محترمو استادانو څخه ډېر زیات منندوی یم چې دوی په ما باندې او په دغه کار باندې اعتماد وکړ او خپل کتابونه یعنې د لسو- شلو دېرشو کالو زحمت په ویستلو سره زما په اختیار کې راکړل، لکه پوهاند صاحب ظفرزی چې زما چپ لاس ته ناست دی هغوی څلور طبي کتابونه تر اوسه چاپ شوي دي او انشاء الله په یو بل عنوان کتاب باندې یې هم کار کوي. همداسې تر څنګ یې ډاکټر صاحب رحمانزی دی چې دوه کتابونه مو ورته چاپ کړي دي. ډاکټر صاحب قمبرعلي، ډاکټر صاحب دل، جبار خېل صاحب او همداسې نور چې د ځینو کتابونه تاسو دلته وینئ. اصلي کار استاد کړی دی، موږ فقط وسیله ګرځېدلي یو چې دا کتاب او مواد راواخلو، چاپخانې ته یې وکړو، د یو چا څخه کمک وغواړو او بېرته یې استاد او محصل ته وکړو، یعنې اصلي کرېډېټ یې واقعاً د استاد دی. په راتلونکې کې هم که (دا خبره ددې لپاره کوم چې که یو کتاب چاپېږي یا نه چاپېږي مسئولیت به یې د استاد وي، که استاد موږ ته کتاب راکړي موږ یې چاپولی شو، موږ به امکانات ورته پیدا کړو. که استاد کتاب و نه لیکي نو موږ هېڅ هم نه شو کولای) نو ددې په خاطر ددې پروژې اصلي قهرمان، یا کرېډېټ زما په نظر باید موږ همدغو استادانو ته ورکړل شي چې په وړیا توګه یې تر اوسه چې دغه ٦١ عنوان کتابونه

چاپ کړي خلاف د نورو پروژو چې په هره صفحه ۱۰ ډالره ورکول شوي دي، ددغې پروژې موږ یوه روپۍ هم هېچا ته نه ده ورکړې.

اوس راځم په لنډه توګه دغه پروسې ته، هغه استادان چې خبر نه دي، موږ یوازې او یوازې تدریسي او ممد تدریسي کتابونه چاپوو، ددې کار باید لیکوال موافقه وکړي، د دیپارتمنت آمر ، رئیس پوهنځی او رئیس پوهنتون موافقه وکړي چې ما دغه فورمې هم دلته برابرې کړې دي. د ډاکټر صاحب ایروس په هکله زه باید دومره ووایم چې یو نیم یا دوه کاله مخکې موږ دلته سره ولیدل، ما چې دغه کتابونه ورته وښودل، دا مې لږ څه ورته تشریح کړل تاسو باور وکړئ چې همغه ثانیه یې وویل چې دا ښه کار دی، زه درسره کمک کوم. نو همغه وو چې تر اوسه پورې د دوی د موسسې په مرسته د ننګرهار پوهنتون ۱۳ عنوان کتابونه چاپ شوي دي. زه د دوی څخه یو ځل بیا مننه کوم. دلته باید ووایم چې ډاکټر صاحب ایروس دی خپله، کار او موسسه یې له پخوا څخه پېژنم، لس پنځلس کاله کېږي. تاسو به خبر وی چې نورې پروژې داسې جوړېږي یا پیسې یې پیدا کېږي چې په میلیونو ډالر یا ایرو د دولت له خوا تخصیص کېږي او تر څو چې دلته رارسېږي نیمایي یا اویا اتیا فیصده یې مصرفېږي خو د ډاکټر صاحب ایروس موسسه دولتي پیسې نه اخلي. هغه به خپله کېدای شي تاسو که سوال لرئ (ځواب کړي).

زه خپله داسې تجربه لرم، درې کاله مخکې موږ یو محفل په بن ښار کې جوړ کړ. مېرمن، آښې او فامیل مو ډوډۍ پخه کړې وه، ده (ایروس) هلته خبرې وکړې د افغانستان په هکله، موږ ټولو او پنځوس شپېته نفره آلمانیان او افغانان چې راغلي وو، هغوی لس یا شل ایرو مېرمن یې هلته ناسته وه او په یوه کاسه کې موږ یو بل ځای دا پیسې ټولې را جمع کړې، فکر کوم شپږ یا اووه سوه ایرو شوې چې خلکو ورکړې او موږ افغاني ډوډۍ خرڅوله په پنځه ایرو، تروې (شرومبې) مو خرڅولې په یوه ایرو او دغه پیسې مو راټولې کړي دي او دوی ته مو ورکړې. هغه وخت د ننګرهار پوهنتون د کتابونو هېڅ مسأله نه وه یعنې تاسې چې متیقن وی چې دا میلیونونه نه دي چې

کېدای شي په ځينو پروژو کې وي، دا يې په يوه يوه ايرو باندې (ټولوي)، بيا يوه بله خبره داده چې د دوی د راتګ مصارف وو چې دا به اوس څوک (په غاړه اخلي). دوی دا تأکيد وکړ، زما خپله په ياد دي، چې د دغو پيسو څخه چې را ټولې شوې دي خپل مصارف نه اخلم، يعنې حتی دوی تر دې اندازې پورې مخلص وو. دا زما خپله تجربه ده چې زه خپله په دې پروسه کې وم چې دوی دومره امانتکار او په زحمت يې راټولوي او يو دوې ايرو راټولوي او دلته يې مصرفوي.

موږ زر ۱۰۰۰ ټوکه کتابونه چاپوو، په دې کې ۱۰۰۰ سي ډي ګان هم شته دي. زياتره برخه يې موږ ننګرهار پوهنتون ته فعلاً ورکړي دي. هر محصل ته يې په وړيا توګه توزيع کوو او ان شاء الله هغه محصلين چې تر اوسه پورې يې دا کتابونه نه دي تر لاسه کړي (ځکه تعداد ستاسو محصلينو هم زيات شوی دی) دوی به هم دا کتابونه تر لاسه کړي.

نور زما غوښتنه دغه ده او نظر مې دغه دی چې واقعاً په افغانستان کې زموږ محصلين سبا ما هم تداوي کوي زموږ اولادونه به هم تداوي کوي او تاسو به تداوي کوي، نو د دې لپاره هر څومره که سرمايه ګزاري وکړو په دوی باندې هغه په يو رقم نه په يو رقم موږ ته بېرته را ګرځي او زما خواهش همدغه دی چې تر هغه وخته چې زه يم يا ډاکټر صاحب اېروس دغه امکانات لري، تاسو محترم استادان خصوصاً هغه استادان چې تدريسي کتابونه يې تر اوسه نه دي ليکلي او يا يې پخوا ليکلي دي، هغه بېرته اپډېټ کړي او له سره پرې کار وکړي، تجديد يې کړي او هغه د سافټ کاپي په توګه په ډېره عاجله توګه موږ ته راورسوي، څو لکه همدغسې چې دا ۱۳ عنوان کتابونه چاپ شول دا به هم چاپ شي.

دغه امکانات يا چانس چې نن شته دی شايد سبا ته نه وي، نو ددې په خاطر زما خواهش يو ځل بيا همدغه دی چې هغه محترم استادان چې خپل کتابونه يې تر اوسه پورې موږ ته نه دي را سپارلي، هغوی خپل کتابونه موږ ته راکړي څو لکه همداسې چې دا نور چاپ شول دا به هم چاپ شي. ددې حقوق ټول مؤلف ته محفوظ دي يعنې موږ په دې بهير کې کومه خپله ګټه نه لرو. نور تشکر کوم فعلاً. اوس به له ډاکټر صاحب اېروس څخه خواهش وکړو چې

خپلې خبرې وکړي.
- ډاکټر ابروس: (په آلماني ژبه)
- ژباړه (یحیی وردګ): ډېر قدرمن د ننګرهار پوهنتون رئیس، قدرمنو استادانو، ډېر زیات خوشحاله یم چې یو ځل بیا دلته تاسو ته د ننګرهار طب پوهنځي ته راغلی یم، له مېرمن سره مې.
زه په یاد لرم چې له رئیس صاحب د پوهنځي سره په ۲۰۰۳ زېږدیز کال کې هغه وخت چې افغانستان او د طب پوهنځي وضعیت ډېر خراب وو، زه دلته راغلی وم، له دوی سره مې په دې باندې خبرې وکړې چې دی او د دوی موسسه څرنګه کولای شي چې دلته له تاسو سره او د طب پوهنځي سره مرسته وکړي او د همغه خبرو څخه وروسته بیا موږ یوه کمه اندازه مرسته له تاسو سره کړې ده.
ډاکټر صاحب ابروس وویل چې زما رابطه له افغانستان سره نوې نه ده. ډېر کلونه پخوا هغه وخت چې افغانستان ته روسان راغلي وو یعنې په اتیایمه لسیزه کې دی د آلمان څخه افغانستان او پاکستان ته راغلی وو، هغه وخت چې افغانستان کې جنګ وو، ده د افغانستان په مختلفو خصوصاً شرقي سیمو کې، خوګیانیو کې، او کومې بلې ولسوالۍ ته وایي له پاکستان څخه به راتلو، دلته به یې ماشومان او مریضان تداوي کول او په دغه وخت کې لکه انجنیر صاحب عالم، چې تر اوسه پورې ورسره همکار دی له همغه وخته د دوی ملګری دی. له افغانستان سره خصوصاً په شرقي سیمو کې دلته ډېر حتی فامیلي روابط لري او ځان د افغانستان مېین ګڼي او یا له افغانانو او افغانستان سره د مینې په شان ښه نظر او روابط لري.[1]

[1] وردک، ډاکتر یحیی، ننګرهار ته د سفر او درسي کتابونو د وېش ګزارش، د ۲۰۱۲ زېږدیز کال د اپرېل د میاشتې ۱۲مه نېټه

# په ۲۰۱۱ ز کال کې د طبي کتابونو د چاپولو راپور

په افغانستان کې شپږ طب پوهنځيو ته شل عنوان بېلا بېل طبي کتابونه چې ټولټال ۲۹۰۰۰ ټوکه کېږي، له مل سي ډي سره توزيع شول.

دا پروژه د DAAD اداري له خوا تمويل شوې، ټول کتابونه د افغانستان د څلورو پوهنتونونو ( بلخ، کندهار، ننگرهار او خوست ) د استادانو له خوا په پښتو او دري ژبو ليکل شوي وو.

## اوسنی حالت

په افغانستان کې د پوهنتونونو محصلين يو لړ ستونزې لري، چې محصلين په دوديز ډول لکچر نوټونه اخلي او دا نوټونه زياتره وخت پرته له کومې عملي مرستې او نورو اړوندو توکو څخه ورکول کېږي. د پوهنتونونو او پوهنځيو لکچر هالونه، سيمينار خونې او لابراتوارونه په بد حالت کې دي. زده کونکي يوازې لکچرنوټونه اخلي او يا دوی ته د استادانو له خوا په لاس ليکل شوي مواد ورکول کېږي. دا لکچر نوټونه د زده کوونکو له خوا په خپل مالي لگښت فوتوکاپي کېږي او کله ناکله يې په لاس ليکي. له دې څخه علاوه د فوتو کاپي کيفيت يې هم ښه نه وي او همدا راز هغه مواد، چې په لکچر کې استعمالېږي د وخت څخه تېر او زاړه دي.

## د چاپي کتابونو کموالی

دا چې د دغې ستونزې يوه برخه حل شي، وخت پر وخت تازه مواد چاپ شي، نو په ۲۰۰۹زېږديز کال کې يوه پروژه پيل شوه چې له مخې يې د ننگرهار د طب پوهنځي د استادانو له خوا ليکل شوي طبي کتابونه، د DAAD موسسې له خوا چاپ شول چې د هر کتاب سره يوه سي ډي (CD) هم مل وه. دا کار د افغانستان د نورو پوهنتونونو او پوهنځيو له خوا مثبت وارزول شو او غوښتنه وشوه، چې د هغوی درسي مواد دې هم چاپ کړل شي او د افغانستان ټولو پوهنتونونو ته وويشل شي.

## له افغانستان سره د اکاډميکو مرستو ملاتړ

په ۲۰۱۰زېږديز کال کې، ۲۰ عنوان نور کتابونه هم داستادانو له خوا د څلورو پوهنتونونو (بلخ، کندهار، خوست، ننګرهار) لپاره تيار او د چاپ چارې يې د DAAD موسسې له خوا تمويل شوې. د دې پروژې تخنيکي او اداري چارې په آلمان کې د افغان طبي ډلې (DAMF) او افغانيک مرکز له خوا ترسره شوې. دغه چاپ شوي کتابونه او سي ډي ګانې، پرته له کومې بيې، د اړوندو پوهنتونونو محصلينو ته ورکړل شول. بيا دغه مفکوره پيدا شوه چې يادې سي ډ ي ګانې او د دوی خپاره شوي کتابونه، په ويب پاڼه کې پر ليکه شي. له همدې کبله په دې بهير کې داسې سهولت رامنځته شو چې ټول خپاره شوي کتابونه د PDF په بڼه د www.ecampus-afghanistan.org څخه ښکته کېدلی شي. بايد وويل شي، چې د ننګرهار، خوست، کندهار او هرات له طب پوهنځيو سره د عملي لکچر په موخه په ټولو ټولګيو کې پروجيکتورونه نصب شول.

## غوښتنې او اړتياوې

په ۲۰۱۱زېږديز کال کې د پنځو افغاني پوهنتونونو، طب پوهنځيو د ۳۰ عنوان نورو تدريسي کتابونو او د ۲۰ عنوان کتابونو غوښتنه د ادبياتو، ژبپوهنې، انجنيرۍ، ساينس، ټولنپېژندنې، لرغون پېژندنې او ساينس په برخه کې و شوه. دغه ستره اړتيا د نورو زياتو مرستو غوښتونکې ده، چې دغه پروګرام په برياليې ډول دوام ومومي، څرنګه چې د تدريسي کتابونو ليکل او چاپول، په بېلا بېلو تدريسي برخو کې يوه لويه اړتيا ده، هيله مند يو چې دغه کوچنۍ پروژه په يو ملي پروګرام بدله شي او په ټولو پوهنځيو کې بايد نوي کتابونه چمتو او چاپ شي څو په تدريس کې ترې ګټه واخستل شي او په دې هيله يو، چې دغه پروګرام د لوړو زده کړو د وزارت د پوهنتونونو ملاتړ او د مرستندويو ټولنو لخوا تمويل شي. د دغو (۲۹۰۰۰ ټوکه کتابونو او ۲۹۰۰۰ سي ډي ګانې ) ټول لګښت ۵۰۰۰۰€ پنځوس زره يورو شوی دی.[۱]

---

[۱] وردک، ډاکتر يحيی، د طبي کتابونو په هکله راپور، کابل، د ۲۰۱۱ زېږديز کال.

# د پنځوس عنوان طبي کتابونو د چاپ ګزارش

د ۵۰ عنوان طبي کتابونو د چاپ پروسه چې په ۲۰۱۲ زېږدیز کال کې پیل شوې وه، په بریالیتوب سره پای ته ورسېده. دغه کتابونه د کابل طبي پوهنتون او د پنځو ولایتونو (بلخ، هرات، کندهار، خوست او کاپیسا) د طب پوهنځیو د استادانو له خوا لیکل شوي دي. د دغه کتابونو ځینې په ۱۰۰۰ ټوکو کې او ځینې نور یې په ۲۰۰۰ ټوکو کې په پښتو او دري ژبو چاپ شوي دي.

له دې جملې څخه یو کتاب د کندهار د طب پوهنځي له خوا او دوه نور کتابونه (د مخ پر ودې هېوادونو لپاره د انستېزی اساسي لارښود) تر نامه لاندې په دوه ټوکو کې په انګلیسي ژبه چاپ شوي دي.

د انستېزی کتاب د انستېزی د یو امریکایي عالم ډانیل ډیموس له خوا په انګرېزي ژبه لیکل شوی او د یو مسلکي ټیم لخوا، چې په هغه کې انستزیولوګان او طبي ژباړونکي شامل وو، دري ژبې ته ژباړل شوی دی او کتاب په (دري او انګلیسي) ژبو ترتیب شوی او د کابل طبي پوهنتون لخوا تایید شوی هم دی.

نومړي کتابونه په دریو مطبعو کې د کابل په ښار کې چاپ شول او وروسته بیا د کابل طبي پوهنتون او د اړوندو ولایتونو د طب پوهنځیو ته وویشل شول.

د یادونې وړ ده، چې د نومړو کتابونو یوه یوه کاپي د طب خصوصي پوهنځیو او نورو اړوندو ادارو، لکه د روغتیا وزارت، روغتونونو، د کابل پوهنتون عمومي کتابتون، د پوهنې وزارت د څېړنو او ساینس مرکز، د کابل پوهنتون د افغانستان مرکز، د علومو اکاډمي او د افغانستان د څېړنو او ارزونې واحد ته ورکړل شول.

د کتابونو د چاپ پروسه د مؤلف لخوا د غوښتنلیک په ډکولو او رالېږلو پیل کېږي چې وروسته بیا دغه فورمه د اړوند دیپارتمنت له خوا تایید کېږي او همدا راز د اړوند پوهنځي د رئیس له خوا تر تایید وروسته د پوهنتون د رئیس له خوا تایید، تصدیق او لاسلیک کېږي، د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

کله چې موږ د کتاب سافت کاپي او د غوښتنلیک فورمه تر لاسه کړو، مطبعه د کتاب د پوښ ډیزاین او فارمت پیلوي او کتاب د چاپ لپاره برابروي. د اړوند کتاب پرنټ اوټ، مؤلف ته د هغه د نظر اخیستلو او مرور لپاره استول کېږي، ځینې وختونه د کتابونو پرنټ اوټ له اړوندو مطبعو څخه په کابل کې د یحیی وردگ دفتر ته رارسېږي او حتی دوه یا درې ځلې د اصلاح لپاره مؤلفینو ته لېږل کېږي. کله کله دغه پروسه ډېر وخت په بر کې نیسي او بالآخره کتاب د چاپ لپاره برابرېږي. د لوړو زده کړو د وزیر پیغام او زموږ د پروگرام په اړوند معلومات په هر کتاب کې چاپ شوی دی، هر کتاب یوه سي ډي لري او ټول چاپ شوي کتابونه د بوخم د پوهنتون له خوا په www.ecampus-afghanistan.org وېبپاڼه کې اچول کېږي او په آسانۍ سره له نوموړې وېبپاڼې څخه ډاونلوډ کېدای شي. د لوړو زده کړو د موسسو د غوښتنې پر اساس په راتلونکي کې ددې اړتیا شته، چې هر کال ۱۰۰ عنوان طبي کتابونه چاپ کړو. موږ همدا اوس د ۳۰ عنوان کتابونو د چاپ لپاره غوښتنلیکونه او د کتابونو سافټ کاپیانې تر لاسه کړې دي او مؤلفین پر نورو کتابونو کار کوي، چې په نږدې راتلونکي کې به زموږ دفتر ته را ورسېږي. موږ هیله من یو چې دغه پروژه په ۲۰۱۳ کال کې هم دوام وکړي او موږ به وتوانېږو، ټول هغه کتابونه چې په ۲۰۱۲ کال کې له چاپ څخه پاتې شوي دي یا چاپ ته تیار دي، چاپ کړو. د آلمان د بهرنیو چارو له وزارت او DAAD ټولنې (د آلمان اکاډمیکو همکاریو ټولنې) څخه مننه کوم، چې تر اوسه یې د ۹۵ عنوانه طبي کتابونو مالي لگښت پر غاړه اخیستی دی. د آلمان د ماینز پوهنتون (Mainz/Germany) د طب پوهنځي، د نوموړي پوهنځي استاد ډاکټر زلمي توریال، ښاغلي Dieter Hampel او افغانیک موسسې څخه هم مننه کوم، چې د کتابونو په اداري او تخنیکي چارو کې یې له موږ سره مرسته کړې ده.په ځانگړي توگه، د (GIZ) له دفتر او CIM (Center for International Migration and Development) له دفتر څخه هم مننه کوم چې زما لپاره یې په تېرو دوو کلونو کې د کار امکانات برابر کړي دي.[1]

[1] وردک، ډاکتر یحیی، د پنځوس عنوان طبي کتابونو گزارش، کابل، د ۲۰۱۱ زېږدیز کال.

# د لوړو زده‌کړو وزیرې د سمت سازمان د اکاډمیکو همکاریو په پراختیا ټینګار وکړ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د لوړو زده کړو وزیرې پوهنوال دوکتور فریده مومند د سمت سازمان د غړو هېوادونو تر منځ د اکاډمیکو همکاریو پر پراختیا ټینګار وکړ. نوموړې د انساني علومو د مطالعې او کتابونو د تدوین سازمان (سمت) له مدیره پلاوي سره په لیدنه کې، د لوړو زده کړو له وزارت سره د نوموړي سازمان د علمي او اکاډمیکي فعالیتونو پر پراختیا ټینګار وکړ.

په دغه لیدنه کې د لوړو زده کړو وزیرې پوهنوال دوکتور فریده مومند د یاد سازمان له مخکینیو مرستو څخه چې د کابل پوهنتون مطبعې په تجهیز، د پوهنتونونو استادانو د ٦٥ عنوان کتابونو په چاپ او په اړوندو نورو برخو کې ترسره کړي دي، مننه وکړه او په اکاډمیکو برخو کې د ورته همکاریو غوښتونکې شوه.

وروسته د سمت سازمان استازي په تېرو څو کلونو کې د نوموړي سازمان د سر ته رسول شویو فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل او د کتابونو د تدوین، کتاب لیکلو، تالیف، کتابونو د ډیزاین، د مطبعو د کارکوونکو د ظرفیتونو لوړولو او نور برخو کې د لوړو زده کړو وزارت د همکارۍ ژمنه وکړه.

دا په داسې حال کې ده چې تازه د هېواد د پوهنتونونو د استادانو ۲۱ عنوان کتابونه، چې ۱۰۵۰۰ ټوکه کېږي، د یوې مخ کتنې په ترڅ کې د لوړو زده کړو وزارت ته وسپارل شول او همدارنګه په تېرو کلونو کې ۴۴ عنوان نور کتابونه د نوموړي سازمان له خوا چاپ او لوړو زده کړو وزارت ته ورکړل شوي دي.[1]

---

[1] د لوړو زده کړو وزارت، د ګډې همکارۍ په هکله راپور، کابل، ۱۴ زمرۍ، ۱۳۹۴ هجري لمریز کال،
*www.mohe.gov.af/news/ps/510*

# په لوړو زده کړو وزارت کې د
# کتابدارۍ د ورکشاپ گزارش

د کابل، ننگرهار او هرات پوهنتونونو د روزونکو لپاره د کتابدارۍ په اړه په لوړو زده کړو وزارت کې ورکشاپ داير شو. دا ورکشاپ د يادو پوهنتونونو د کتابتونونو د روزونکو د ظرفيت لوړولو په موخه د USAID په مالي مرسته او د پوهنتونونو څخه د ملاتړ او بشري ځواک د پياوړتيا اداري USWDP په همکارۍ جوړ شوی وو.

په دې اړوند د لوړو زده کړو وزارت علمي مرستيال پوهنوال محمد عثمان بابري د USAID اداري او USWDP دفتر څخه د منني تر څنگ کتابتونونه او کتابداري د تحصيلي بنسټونو اساسي توکي و بلل او زياته يې کړه: «کتابتونونو ته پاملرنه او د لوړو زده کړو د بنسټونو د لابراتوارونو مجهز کول د دې وزارت له لومړيتوبونو څخه دي چې د تېرو څو کلونو په ترڅ کې په دې برخه کې د پام وړ کارونه تر سره شوي دی.»

نوموړي وويل: «کتابداري د پوهنتونونو او تحصيلي مؤسسو د څېړنو په برخه کې مهم رول لري، چې د کتابتونونو رامنځته کول او تجهيز د پوهنتونونو د مسؤلينو جدي پاملرنې ته اړتيا لري.»

وروسته د پوهنتونونو څخه د ملاتړ او بشري ځواک د پياوړتيا اداري مشر وحيد عمر د موضوع په اړوند خبرې وکړې او ويې ويل: «موږ په دې ورکشاپ کې د هېواد د پوهنتونونو اړتياوې وپېژندې او د دې اړتياوو د پوره کولو لپاره به ځانگړي پروگرامونه په کار واچوو.»

همدارنگه گډونوالو دا ورکشاپ اغېزمن وباله او د پوهنتونونو د کتابدارۍ د سيستم د لا ښه والي لپاره يې گڼ شمېر وړانديزونه او نظرونه وړکړل چې د مسؤلينو لخوا ورسره د همکارۍ ژمنه وشوه.

د دې پروگرام د يو تن مسؤل په وينا، ياد ورکشاپ د پنځو ورځو لپاره دوام وکړ چې د هېواد د لوړو زده کړو د بنسټونو د کتابتونونو نور روزونکي به يې په راتلونکو پروگرامونو کې گډون وکړي.[1]

---

[1] د لوړو زده کړو وزارت، ويب پاڼه، د کتابدارانو لپاره د روزنيز ورکشاپ گزارش، کابل، د ۱۳۹۴ هجري لمريز کال، د غبرگولي ۱۱مه نېټه. *http://mohe.gov.af/news/da/398*

# ایران ته د لوړو زده کړو وزارت د علمي مرستیال او سرپرست وزیر پوهنوال محمد عثمان بابري د سفر د راپور یوه برخه

د لوړو زده کړو د وزارت ویاند عبدالعظیم نوربخش د معلوماتو له مخې د عدم انسلاک خوځښت (NAM) د علومو، ټکنالوژۍ او نوښت د وزیرانو د دریې ورځني کنفرانس په څنډه کې د لوړو زده کړو وزارت د سرپرست وزیر محمد عثمان بابري او د یو شمېر هېوادونو د وزیرانو، پوهنتونونو او مختلفو علمي مرکزونو د مسؤلینو تر منځ د ۱۳۹۴ هجري لمریز کال د غویي د میاشتې په ۲۸مه نېټه ګټورې لیدنې او خبرې اترې وشوې. افغان پلاوي د مطالعې او تدوین د ټولنې (سمت) له مسؤلانو سره د یوې ناستې په ترځ کې د همکارۍ او د افغاني پوهنتونونو د استادانو د کتابونو د چاپولو په اړه په یو تفاهم لیک موافقه وکړه چې د هغه د علمي کولو لپاره ځانګړې پرېکړې وشوې.[1]

که تاسو د یو کال لپاره پلان لرئ، وریجې وکرئ.
که تاسو د لسو کلونو لپاره پلان لرئ، یوه ونه وکرئ.
که تاسو د سلو کلونو لپاره پلان لرئ، خپل ځان وروزئ.

*[چینایي فیلسوف، ژوانګزي (چوانګ زو، څلورمه پیړۍ BC)]*

[1] نوربخش، عبدالعظیم، د افغان پلاوي سفر، د لوړو زده کړو د وزارت ګزارش، ۲۸ غویی ۱۳۹۴ هجري لمریز کال *http://www.mohe.gov.af/publications/da/459*

# د ننګرهار پوهنتون محصلينو ته
# د طبي درسي کتابونو وېش

د درسي موادو کمښت په افغانستان کې د لويو ستونزو څخه ګڼل کېږي او د زده کړو پر وړاندې لوی خنډ دی چې لا هم شتون لري.

ننګرهار ته د کاري سفر په ترڅ کې مو پرېکړه وکړه چې هغه ۴۰ عنوان طبي درسي کتابونه چې په ۲۰۱۴ زېږديز کال کې مو چاپ کړي وو او شمېر يې ۴۰۰۰۰ ټوکو ته رسېدلی وو، محصلينو ته ووېشو.

د چاپ شويو کتابونو له ډلې څخه ۱۹۸۴۲ ټوک کتابونه ننګرهار ته ولېږدول شول او د درسي کرېکولم سره سم د ننګرهار پوهنتون په ټولګيو کې محصلينو ته ووېشل شول.

په لومړي ټولګي کې چې درې ګروپونه (الف، ب، ج) او ۲۱۵ محصلين يې درلود، ۱۵۰۵ ټوک کتابونه ووېشل شول. په دې توګه هر محصل ته ۷ عنوان کتابونه (اناتومي اول ټوک، طبي امبريولوژي، امبريولوژي، د جهازاتو اناتومي، د شحمياتو استقلاب، د تنفسي جهاز فزيولوژي او طبي ترمينالوژي) ورکړل شول.

د ننګرهار پوهنتون محصلين چې د درسي کتابونو له نه شتون څخه يې شکايت کاوه، د يادو کتابونو په لاسته راوړلو سره ډېر خوښ شول او د افغان محصلينو د زده کړو د کچې د لوړولو لپاره يې د ورته پروژو د دوام غوښتنه وکړه.

د دويم ټولګي محصلينو ته چې شمېر يې ۹۴ تنه وو، ۱۰۳۴ ټوک کتابونه ورکړل شول. هر محصل ته ۱۱ عنوان (عمومي کېميا، احصاييه، وراثت او د سمورفولوژي، طبي ترمينولوژي، اناتومي دريم ټوک، د جهازاتو اناتومي، امبريولوژي، د شحمياتو استقلاب، فزيکي تشخيص، د تنفسي جهاز فزيولوژي او د سيستمونو پتالوژي) کتابونه ورکړل شول.

د دریم ټولګي د محصلینو شمېر ۱۰۸ تنه وو او هغوی ته ۷۴۲ ټوک کتابونه ورکړل شول چې هر محصل ته ۷ ټوکه (وراثت او دسمورفولوژي، د سیستمونو پتالوژي، د جهازاتو اناتومي، فزیکي تشخیص، هلمنتولوژي، طبي ترمینولوژي او احصاییه) کتابونه ورکړل شول.
د څلورم ټولګي د محصلینو شمېر ۱۱۵ تنه وو او هر یو ته ۸ عنوان کتابونه (د سیستمونو پتالوژي، د عامې روغیتا اساسات او اداره، تصویري یا ترسیمي رادیولوژي، د اتومونو او مرکزي عصبي سیستم فارمکولوژي، هلمنتولوژي، فارمکولوژي دوهم ټوک، فزیکي تشخیص او التراسونډ) کتابونه ورکړل شول چې ټولټال ۹۲۰ ټوک کتابونه کېږي.
پنځم ټولګي ته چې ۱۳۴ تنه محصلین یې درلودل، هر محصل ته ۱۹ عنوان کتابونه (وراثت او دسمورفولوژي، د عامې روغتیا اساسات او اداره، په ماشومانو کې توبرکلوز، د کوچنیانو خوارځواکي، د نوي زېږېدلي ماشوم څارنه، د بیړینو پېښو د درملنې لارښود، د درملو د استعمال عملي لارښود، نشه یی توکي او اړوندې ناروغۍ، د طبي عامو ستونزو عملي لارښود، د ماشومانو د ناروغیو عملي لارښود، د رواني روغتیایي ستونزو عملي لارښود، بیړنۍ طبي درملنې، حاد اپندیسایتس تفریقي تشخیص اختلاطات او تدواي، د زړه برقي ګراف، التراسونډ، سرطان او د چاپېریال رادیواکتیویټي، عصبي ناروغۍ، د شکرې ناروغي او نیونتولوژي) کتابونه د اړتیا او درسي کریکولم سره سم ورکړل شول چې په ټولیزه توګه ۲۵۴۰ ټوک کتابونه کېږي.
بل مهم کار چې موږ تر سره کړ هغه دا وو چې د شپږم ټولګي له محصلینو سره مو په روغتونونو کې وکتل چې د ستاژ دورې عملي زده کړې یې کولې او د کتابونو د وېش په اړه مو معلومات ورکړل. ټولټال ۱۲۰ تنه محصلین د ستاژ په دوره کې په زده کړو بوخت وو.
د ستاژ د دورې محصلینو ته مو ۱۰ عنوان کتابونه (بیړنۍ طبي درملنې، حاد اپندیسایتس تفریقي تشخیص اختلاطات او تداوي، التراسونډ، سرطان او د چاپېریال رادیواکټیویټي، د شکرې ناروغي، نیونتولوژي، د طبي عامو ستونځو عملي لارښود، د

ماشومانو د ناروغیو عملي لارښود، د رواني روغتیایي ستونزو عملي لارښود او نشه یی توکي او اړه ناروغۍ) کتابونه ورکړل چې په ټولیزه توګه ۱۲۰۰ ټوکه کتابون کېدل.[۱]




*د ننګرهار طب پوهنځي استادان د خپلو چاپ شویو کتابونو سل ټوکه ترلاسه کوي، بله کومه حق الزحمه نه ورکول کېږي، خو دوی په ډېر اخلاص سره درسي کتابونه لیکي.*

[۱] وردک، ډاکتر یحیی، د ننګرهار محصلینو ته د درسي کتابونو وېش ګزارش، جلال آباد، ۱۵ فبروري ۲۰۱۵ کال.

## د شل عنوان کتابونو د وېشلو پروګرام

د ننګرهار پوهنتون د استادانو او ځینو لیکوالانو لخوا ۲۰ عنوان کتابونه چې په ۲۰۱۵ زېږدیز کال په افغانستان کې د یحیی وردک د دفتر له لوري چاپ شوي وو، د وېش پروګرام د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي په کتابتون کې نیول شوی وو. پروګرام د قرآن کریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شو.




د ننګرهار پوهنتون مرستیال چاردهي وال، انجنیر عالم او یو شمېر نورو استادانو لخوا د هر اړخیزو معلوماتو ورکولو وروسته، یاد پروګرام د لاندنیو وړاندیزونو او لیکوالانو ته د کتابونو په ورکولو او انځورونو په اخیستلو سره پای ته ورسېد.

## ډاکټر ایروس ته د ننګرهار د طب پوهنځي وړاندیزونه:

۱ ـ د طب پوهنځي د ودانۍ جوړول او رنګول؛

۲- د تدریس لپاره د پروجکټورونو نصبول؛

۳- د انټرنېټ د شبکې آسانتیا برابرول، په دې اړوند یو تن مسلکي کارمند نیول له حقوقو سره یو ځای؛

۴- د کتابتون لپاره یو تن مامور نیول د هغه له حقوقو سره؛

۵- د کتابونو د عکسونو او ګرافونو رنګه چاپول؛

٦- د ښخوا په شان فارغېدونکو اول نمره ګانو ته د يو لپټاپ کمپيوټر ورکول.
په پای کې د هر ليکوال څخه د تصديق په اخيستلو سره د دوی د کتابونو څخه ۱۰۰ ټوکه کتابونه ورکړل شول.
همدارنګه په پوهنتون کې د کتابونو د ويشلو پروګرام له پنځم ټولګي څخه چې ۱۰۹ تنه محصلين يې درلودل، پيل شو او د درسي کريکولم سره سم کتابونه ورکړل شول.
هغه کتابونه چې پنځم ټولګي ته ورکړل شول په لاندې ډول دي:
۱ – د کوچنيانو د جهازاتو معمولې ناروغۍ لومړی ټوک، ډاکتر عبدالستار نيازی؛
۲ – د کوچنيانو د جهازاتو معمولې ناروغۍ دويم ټوک، ډاکتر عبدالستار نيازی؛
۳ – د کوچنيانو ناروغۍ لومړی سمستر پنځم ټولګي لپاره، ډاکتر عبدالستار نيازی؛
۴ – عصبي جراحي، ډاکتر فضل الرحيم شګېوال؛
۵ – عقلي ناروغۍ، ډاکتر بلال پاينده؛
٦ – د کوچنيانو ناروغۍ لومړی ټوک، پوهاند ډاکتر احمد سير احمدي؛
۷ – د کوچنيانو ناروغۍ دوهم ټوک، پوهاند ډاکتر احمد سير احمدي؛
۷ – جراحي انکال، ډاکتر عجب ګل مومند.
دغه کتابونه د محصلينو د حاضري اخيستلو له مخې او د هر يو محصل له لاسليک اخيستلو څخه دوی ته ورکړل شول. د وېش د سلسلې په دوام سره کتابونه د ټولګيو په ترتيب سره محصلينو ته وويشل شول.
څلورم ټولګي ته چې ۱۱۸ محصلين يې درلودل لاندې کتابونه د درسي کرېکولم سره سم ورته و وېشل شول:
۱ – انتاني ناروغۍ، پوهاند ډاکتر حفيظ الله اپريدي؛
۲ – د ځيګر ويروسي التهاب طبي تشخيص او درملنه، ډاکتر محمد اسحاق شريفي؛
۳ – تلويزيوني آزموينې، ډاکتر نجيب الله خليلي؛
۴ – ملاريا، ډاکتر محمد اسحاق شريفي.

په همدې توګه د ډاکتر غلام جیلاني ولي کتاب (طبي پرازیټولوژي) د دریم ټولګي ۱۱٦ تنو محصلینو ته ورکړل شول.
د دویم ټولګي محصلینو ته چې شمېر یې ۸۰ تنو ته رسېده، د ډاکتر احسان الله احسان کتاب (د اندوکراین، زړه، رګونو او پښتورګو فزیولوژي) ووېشل شو.
د لومړي ټولګي د دوو څانګو محصلینو ته چې ټولټال ۲۰۰ تنه وو لاندې کتابونه ورکړل شول:

۱ – بیوفزیک، پښتنه بنایي؛

۲ – د هضمي سیستم اناټومي، ډاکتر محمد ناصر نصرتي؛

۳ – د زړه اناتومي، ډاکتر محمد ناصر نصرتي؛

۴ – د بولي او تناسلي سیستم اناتومي، ډاکتر محمد ناصر نصرتي.

بالآخره د PCB څانګې محصلینو ته چې شمېر یې ۲۴۲ تنه وو، د لاندې کتابونو په ورکولو سره د وېش دا لړۍ پای ته ورسېده.

۱ – وراثت، ډاکتر ګل سالم شرافت؛

۲ – فزیکي کېمیا، حبیب الله نوابزاده.

باید وویل شي چې ننګرهار پوهنتون ته ټول لېږل شوي کتابونه نه دي وېشل شوي، بلکې د راتلونکو دورو د محصلینو لپاره په کتابتون کې ساتل شوي دي.[۱]

---

[۱] وردک، ډاکتر یحیی، د ننګرهار محصلینو ته د ۲۰ عنوان درسي کتابونو وېش ګزارش، جلال آباد، اکتوبر ۲۰۱۵ زېږدیز کال.

# د ساینس، انجنیري، اقتصاد او کرنې
# په برخو کې د ۲۴ عنوان کتابونو چاپ

دغه ۲۴ عنوان نوي کتابونه د ساینس، انجنیري، اقتصاد او کرنې په څانګو پورې اړه درلوده چې په ۲۰۱۵ زېږدیز کال چاپ او د استفادې وړ و ګرځېدل.

د کتابونو لپاره اړتیا، د هغوی کمښت او د محصلینو، پوهنتونونو او استادانو د غوښتنو له امله موږ هڅه وکړه چې د کتابونو د چاپ پروسه له طبي کتابونو څخه نورو رشتو ته هم وغزوو. له نېکه مرغه د ۲۰۱۵ زېږدیز کال په اوږدو کې د هېواد د دولتي پوهنتونونو د ۱۷۶ عنوان بېلا بېلو طبي کتابونو د چاپ په لړ کې د ساینس، انجنیري، اقتصاد او کرنې په برخو کې د ۲۴ عنوان غیر طبي کتابونو په چاپ بریالي شوو.

د ۸۰ عنوان طبي کتابونو د چاپ په دوام چې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې (Kinderhilfe-Afghanistan) په مالي مرسته چاپ شوي وو، ۲۰ عنوان غیر طبي کتابونه هم چاپ شول.

همدا راز موږ هڅه کوو چې د نورو رشتو د اړتیا وړ کتابونه هم چاپ کړو او تر یوې اندازې پورې د افغان محصلینو اړتیاوې پوره کړو.

یاد طبي او غیر طبي چاپ شوي کتابونه مو د هېواد دولتي او خصوصي پوهنتونونو، روغتونونو، کتابتونونو، لیکوالانو او افغان ډاکترانو ته په وړیا توګه ورکړي دي. همدارنګه هر څوک کولای شي دا ټول طبي او غیر طبي کتابونه له www.ecampus-afghanistan.org وېب سایټ څخه په وړیا توګه ډاونلوډ کړي.

اړتیا لیدل کېږي چې د افغان او نورو لیکوالانو د درسي کتابونو چاپ او نشر د لوړو زده کړو وزارت په یو منظم سیستم کې شامل شي څو منظم فعالیتونه ولري، یعنې د امکان تر حده هڅه وشي چې د پوهنتونونو د استادانو لکچر نوټونه، زاړه کتابونه او نور درسي مواد چاپ او د پوهنتونونو، لیکوالانو او محصلینو تر لاسونو پورې ورسول شي.

درسي مواد، چې د زده کړې بنسټیز توکي دي، له بده مرغه زموږ په هېواد کې د اقتصادي فقر، ناسمو شرایطو او د چارواکو او مسؤلینو د نه پاملرنې له کبله محصلین او استادان له جدي ننګونې سره مخ کړي دي، په دې اساس په هېواد کې د لوړو زده کړو بنسټ خورا ضعیف دی او دا ستونزه تر اوسه پورې په خپل ځای پاتې ده.

د درسي موادو کمښت او نه شتون، په ځانګړې توګه د کتاب په شکل چې په ملي ژبو (پښتو او دري) لیکل شوي وي، په افغانستان کې د پرمختګ او علمي سطحې د لوړولو د خنډونو له ډلې څخه دي، له دې کبله د معیاري لوړو زده کړو د درلودلو لپاره په هر مضمون او تحصیلي رشتې پورې د اړوند کتابونو شتون اړین برېښي.

له بده مرغه معیاري کتابونه چې د وخت او محصلینو غوښتنه ده شتون نه لري او یا که چېرې شتون هم ولري د ټول هېواد د محصلینو اړتیاوې نه شي پوره کولای. همدا راز هغه کتابونه چې په بهر کې چاپ شوي دي او لیکوالان یې بهرني دي په بازار کې په ټیټ کیفیت او لوړه بیه پلورل کېږي. نو ډېر کم شمېر محصلین د دې کتابونو د پېرلو او له هغه څخه د ګټې اخیستلو توان لري.

موږ په افغانستان کې د دې ډول وضعیت د لیدلو لپاره لاس په کار شوو او په ځانګړې توګه د طب په برخه کې مو کار وکړ او تر یو حد پورې د محصلینو اړتیاوې پوره کړو. تر دې مهاله موږ ۲۰۰ عنوان طبي او غیر طبي کتابونه د افغانستان د پوهنتونونو لپاره چاپ کړي دي، خو له دې سره سره چاپ شویو کتابونو د محصلینو ټولې اړتیاوې نه دي پوره کړې که څه هم تر یوې اندازې پورې ګټور تمام شوي دي.

په پای کې د لوړو زده کړو له وزارت او مرستندویو بنسټونو څخه هیله کوو چې موږ ته په دې برخه کې د مرستې لاس راکړي څو د پوهې او زده کړې د خپرولو، چې جاري صدقه ده، بنسټیز کار تر سره کړو او د لوی خدای (ج) له دربار څخه عظیم اجر تر لاسه کړو.[1]

---

[1] وردک، ډاکتر یحیی، د ۲۴ عنوان کتابونو وېش ګزارش، کابل، دېسمبر ۲۰۱۵ زېږدیز کال.

# په ننګرهار پوهنتون کې د غیر طبي کتابونو وېش

د ننګرهار پوهنتون او په لوړو زده کړو وزارت کې د ډاکتر یحیی وردګ د دفتر لخوا لیکوالانو او محصلینو ته د کتابونو د وېش د پروګرام لنډ ګزارش په لاندې ډول دی:

په دې پروګرام کې د ننګرهار پوهنتون علمي مرستیال ډاکتر ناصر کامه وال، حاجي عالم (د ډاکتر اېروس استازي)، ډاکتر یحیی وردګ، د ساینس پوهنځي رئیس او یو شمېر هغو لیکوالانو ګډون کړی وو چې په دې ورستیو کې یې کتابونه چاپ شوي وو. دوی د درسي کتابونو د چاپ د پروسې په اړه خپل ملاتړ او خوښي څرګنده کړه. همدارنګه دوی د یادې پروژې په اړوند ځینې وړاندیزونه هم درلودل.

د پروګرام ګډونوالو په نوبت سره خبرې وکړې، تر ټولو د مخه د ننګرهار پوهنتون علمي مرستیال ډاکتر ناصر کامه وال غونډې ته وینا وکړه او یاده پروژه یې ډېره مهمه و بلله. ده وویل چې دې کار د پوهنتونونو استادان و هڅول چې په خپلو کتابونو له سره کتنه وکړي او چاپ یې کړي. نوموړي د چاپ شویو درسي کتابونو د کیفیت ستاینه هم وکړه. ډاکتر کامه وال د خپلو خبرو په پای کې د ننګرهار پوهنتون د استادانو په استازیتوب د ډاکتر اېروس له مؤسسې او ډاکتر یحیی وردګ څخه مننه وکړه.

وروسته ډاکتر یحیی وردګ د پوهنتونونو د درسي کتابونو د چاپ د پروسې په اړه هر اړخیز معلومات ورکړ. وروسته بیا هغو استادانو چې کتابونه یې چاپ شوي وو، ډاکتر اېروس ته د هغه د استازي حاجي عالم په لاس ستاینلیکونه واستول. په همدې ترتیب د پروګرام په جریان کې د چاپ شویو کتابونو هر لیکوال ته د خپلو کتابونو ۱۰۰ ټوکه ورکړل شول.

استاد محب الرحمن جنتي هم په خپل نوبت سره خبرې وکړې او د کتابونو یاده پروژه یې له نورو پروژو سره پرتله کړه. نوموړي وویل: «د پوهنتونونو د کیفیت د لوړولو په موخه ځینې پروژې په کار اچول شوې وې خو د محصلینو او استادانو لپاره ګټورې نه وې. خو دا پروژه چې د ډاکتر یحیی وردګ له خوا پر مخ وړل کېږي د نورو پروژو

پرتله ډېره مهمه ده ځکه چې لکچرنوټونه هېڅکله د درسي کتابونو په شان اغېزمن کېدای نه شي.» ښاغلي استاد همداراز زیاته کړه: «تر هغه چې د لوړو زده کړو سیستم سم نه وي زموږ د هېواد بیارغونه ناممکنه ده.» استاد جنتي د خپلو خبرو په پای کې وړاندیز وکړ چې د هر ټولګي د لومړي تر لسم نومره محصلینو ته باید د کتابونو د ډالۍ کولو لپاره مالي لګښتونه برابر شي.

په همدې ترتیب استاد پوهاند عارف الله مندوزي هم د افغانستان د پوهنتونونو لپاره د درسي کتابونو د چاپ د پروژې د ارزښت په اړه خبرې وکړې او له ډاکتر اېروس او ډاکتر یحیی وردګ څخه یې د طبي کتابونو د چاپ تر څنګ غیر طبي کتابونو ته د دې پروسې د غځیدلو له امله مننه وکړه.

ورپسې د ننګرهار پوهنتون علمي مرستیال د ډاکتر اېروس لپاره د هغه استازي حاجي عالم ته مننلیک ورکړ.

د پروګرام د پای په شېبو کې آزادې خبرې اترې وشوې او په ترځ کې یې د ننګرهار پوهنتون د کیفیت د تضمین مسئول وړاندیز وکړ چې یاده پروژه د طبي او ساینسي مضامینو تر څنګ ټولنیزو علومو ته هم وغزول شی. د دې وړاندیز په ځواب کې ډاکتر یحیی وردګ وویل چې دی له دې نظر سره موافق دی خو د هر مضمون لپاره یو کتاب موجود وي، خو د ده په وینا اوسمهال کافي اندازه بودجه شتون نه لري. له دې سره سره نوموړي د پوهنتونونو استادان وهڅول څو په هره برخه کې کتابونه ولیکي نو ښايي په راتلونکي کې په تدریجي توګه هغه هم چاپ شي.

ډاکتر یحیی وردګ وویل چې د دوی کار د نورو مؤسسو د پروژو په شان نه دی. ده وویل: «موږ لومړی خلک په کار ګمارو او وروسته بودجه ورته پیدا کوو، خو نور چې بودجه په لاس کې لري د کاري ساحو په لټه کې دي.»

ښاغلي وردګ هیله څرګنده کړه چې دوی به په راتلونکي کې وکولای شي د نورو برخو کتابونه هم چاپ کړي.

د پروګرام په پای کې ځینو محصلینو د یادې پروژې د دوام هیله وکړه. د مننې کولو تر څنګ دوی د هر محصل لپاره په سی ډي کې د کتابونو د سافټ کاپي غوښتنه هم وکړه.

دا پروګرام د ډاکتر یحیی وردګ او نورو هغو کسانو په ستایلو سره پای ته ورسېد چې د کتابونو د چاپ په برخه کې یې هلې ځلې کړېدي.

له پروګرام څخه ورسته، چاپ شوي درسي کتابونه د ساینس، کرنې، انجنیري او نورو پوهنځیو او همداراز کتابتونونو ته ووېشل شول.[1]

د وېشل شویو کتابونو نومونه او شمېر په لاندې جدولونو کې لیکل شوی دی:

### الف. د ساینس پوهنځی

| ګڼه | د کتاب نوم | لیکوال | شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | چاپېريالي انجنيري | عارف الله مندوزی | ۱۰۵ |
| ۲ | عضوي کېميا | پوهاند ډاکتر محمد غوث حکیمي | ۱۷۵ |
| ۳ | د عالي رياضياتو کورس | محب الرحمن جنتي | ۲۷۷ |
| ۴ | کېمياوي عنصرونه لومړی ټوک | محمد طاهر کاښی | ۲۳۵ |
| ۵ | کېمياوي عنصرونه دويم ټوک | محمد طاهر کاښی | ۲۳۳ |
| ٦ | عالي کلکولس دويم ټوک | نظر محمد | ۱۹۱ |
| ۷ | فيزيکي کېميا دويم ټوک | ډاکتر خير محمد ماموند | ۲۸۰ |
| ۸ | فيزيکي کېميا دريم ټوک | ډاکتر خير محمد ماموند | ۲۷۲ |
| ۹ | عالي کلکولس رياضي ۱ | حميدالله يار | ۲۱۰ |
| ۱۰ | د ژويو فزيولوژي | غنچه ګل حبيب صافی | ۱۵۹ |
| ۱۱ | د ميټريولوژي اساسات | عبدالغياث صافی | ۲۵۵ |
| ۱۲ | د جامداتو ميخانيک | محمد اسحاق رازقي | ۱۵۵ |
| ۱۳ | د نفوسو جغرافيه | لطف الله صافی | ۱۵ |

[1] وردک، ډاکتر یحیی، په ننګرهار کې د غیر طبي کتابونو د وېش ګزارش، جلال آباد، ۱۵ فبروري ۲۰۱٦ زېږدیز کال.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۴ | د ودانیو د تودولو تخنیک لومړی برخه د سون تخنیک | ډاکټر غلام فاروق میر احمدي | ۱۵ |
| ۱۵ | معیارهای جدید اعمار ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموری | ۱۵ |
| ۱٦ | چگونگی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | انجنیر محمد عمر تیموری | ۱۵ |
| ۱۷ | د اوسپنیزو کانکرېټي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتودیکي لارښود | انجنیر عبادالرحمن مومند | ۱۵ |
| ۱۸ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات لومړی ټوک | ډیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ۱۵ |
| ۱۹ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات دویم ټوک | ډیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ۱۵ |

## ب: د ښوونې او روزنې پوهنځی

| ګڼه | د کتاب نوم | لیکوال | شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | الجبر او د عددونو تیوري لومړی برخه | سلطان احمد نیازمن | ٦۴ |
| ۲ | عضوي کیمیا | پوهاند ډاکټر محمد غوث حکیمي | ۸۰ |
| ۳ | کېمیاوي عنصرونه لومړی ټوک | محمد طاهر کاکړ | ۵٦ |
| ۴ | کېمیاوي عنصرونه دویم ټوک | محمد طاهر کاکړ | ۵٦ |
| ۵ | عالي کلکولس دویم ټوک | نظر محمد | ۸۸ |
| ٦ | فزیکي کیمیا دویم ټوک | ډاکټر خیر محمد ماموند | ۱۴۰ |
| ۷ | فزیکي کیمیا دریم ټوک | ډاکټر خیر محمد ماموند | ۱۴۰ |
| ۸ | عالي کلکولس ریاضي ۱ | حمیدالله یار | ۷۰ |
| ۹ | د ژویو فزیولوژي | غنچه ګل حبیب صافی | ۱۴۴ |
| ۱۰ | د نفوسو جغرافیه | لطف الله صافی | ۱۵ |

## ج: د انجنیري پوهنځی

| ګڼه | د کتاب نوم | لیکوال | شمېر |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | عضوي کېمیا | پوهاند ډاکتر محمد غوث حکیمي | ۸۰ |
| ۲ | د عالي ریاضیاتو کورس | محب الرحمن جنتي | ۱۴۰ |
| ۳ | کېمیاوي عنصرونه دویم ټوک | محمد طاهر کاښی | ۸۳ |
| ۴ | د ژویو فزیولوژي | غنچه ګل حبیب صافي | ۴۰ |
| ۵ | د نفوسو جغرافیه | لطف الله صافي | ۹۰ |
| ٦ | د ودانیو د تودولو تخنیک لومړی برخه د سون تخنیک | ډاکتر غلام فاروق میر احمدي | ۳۸۰ |
| ۷ | معیارهای جدید اعمار ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموري | ۳۳۰ |
| ۸ | چګونګی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | انجنیر محمد عمر تیموري | ۳۴۲ |
| ۹ | د اوسپنیزو کانکرېټي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتودیکي لارښود | انجنیر عبادالرحمن مومند | ۴۴۰ |
| ۱۰ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات I | ډیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ۵۰۴ |
| ۱۱ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات II | ډیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ۴۴۰ |
| ۱۲ | چاپېریالي انجنیري | عارف الله مندوزی | ۲۸۸ |
| ۱۳ | الجبر او د عددونو تیوري لومړی برخه | سلطان احمد نیازمن | ۱۲۸ |
| ۱۴ | عالي کلکولس دویم ټوک | نظر محمد | ۱۳۸ |
| ۱۵ | عالي کلکولس ریاضي ۱ | حمیدالله یار | ۱۳٦ |
| ۱٦ | کېمیاوي عنصرونه لومړی ټوک | محمد طاهر کاښی | ۱۱۱ |
| ۱۷ | د جامداتو میخانیک | محمد اسحاق رازقي | ۱۸۷ |

## د: د ننګرهار پوهنتون کتابتون

| ګڼه | د کتاب نوم | لیکوال | شمېر |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | چاپېریالي انجنیري | عارف الله مندوزی | ۲۴ |
| ۲ | عضوي کېمیا | پوهاند ډاکتر محمد غوث حکیمي | ٥٦ |
| ۳ | د عالي ریاضیاتو کورس | محب الرحمن جنتي | ۷ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴ | کېمیاوي عنصرونه لومړی ټوک | محمد طاهر کانې | ۷۰ |
| ۵ | عالي کلکولس دویم ټوک | نظر محمد | ۱۹ |
| ٦ | د ژویو فزیولوژي | غنچه گل حبیب صافی | ۲۹ |
| ۷ | د میتریولوژي اساسات | عبدالغیاث صافي | ۳۹ |
| ۸ | د جامداتو میخانیک | محمد اسحاق رازقي | ۱۴ |
| ۹ | د نفوسو جغرافیه | لطف الله صافي | ۲۴ |
| ۱۰ | د ودانیو د تودولو تخنیک لومړی برخه د سون تخنیک | ډاکتر غلام فاروق میر احمدي | ۱۷ |
| ۱۱ | معیارهای جدید اعمار ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموري | ۳۱ |
| ۱۲ | چگونگی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | انجنیر محمد عمر تیموري | ۴۳ |
| ۱۳ | د اوسپنیزو کانکرېټي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتودیکي لارښود | انجنیر عبادالرحمن مومند | ۴۰ |
| ۱۴ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات لومړی ټوک | ډیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ٢٦ |
| ۱۵ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات دویم ټوک | ډیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ٢٦ |

## هـ: د وترنري پوهنځی

| گڼه | د کتاب نوم | لیکوال | شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | عضوي کیمیا | پوهاند ډاکتر محمد غوث حکیمي | ۸۰ |
| ۲ | عالي کلکولس دویم ټوک | نظر محمد | ۱۳۸ |
| ۳ | د ژویو فزیولوژي | غنچه گل حبیب صافي | ۴۰ |
| ۴ | د نفوسو جغرافیه | لطف الله صافي | ۹۰ |
| ۵ | د ودانیو د تودولو تخنیک لومړی برخه د سون تخنیک | ډاکتر غلام فاروق میر احمدي | ۱۹۰ |
| ٦ | معیارهای جدید اعمار ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموري | ۱۷۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷ | چگونگی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | انجنير محمد عمر تيموري | ۱۲۸ |
| ۸ | د اوسپنيزو کانکرېتي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتوديکي لارښود | انجنير عبادالرحمن مومند | ۷۷ |
| ۹ | د ودانيو د جوړولو مهندسي اساسات لومړی ټوک | ډيپلوم انجنير اسدالله ملکزی | ۲۰ |
| ۱۰ | د ودانيو د جوړولو مهندسي اساسات دويم ټوک | ډيپلوم انجنير اسدالله ملکزی | ۳۰ |

## و: ليکوالان

| ګڼه | د کتاب نوم | ليکوال | شمېر |
|---|---|---|---|
| ۱ | چاپېريالي انجنيري | عارف الله مندوزی | ۱۰۰ |
| ۲ | د عالي رياضياتو کورس | محيب الرحمن جنتي | ۱۰۰ |
| ۳ | عالي کلکولس دويم ټوک | نظر محمد | ۱۰۰ |
| ۴ | عالي کلکولس رياضي ۱ | حميدالله يار | ۱۰۰ |
| ۵ | د ژويو فزيولوژي | غنچه ګل حبيب صافي | ۱۰۰ |
| ٦ | د جامداتو ميخانيک | محمد اسحاق رازقي | ۱۰۰ |
| ۷ | د اوسپنيزو کانکرېتي عناصرو د لومړي صنفي کار مېتوديکي لارښود | انجنير عبادالرحمن مومند | ۱۰۰ |

# یوویشت نوي درسي کتابونو په
# ۲۰۲۲ کال کې چاپ شول

د افغانستان د پوهنتونونو لپاره ۲۱ عنوان نوي درسي کتابونه د ۲۰۲۲ زېږدیز کال د جنوري د میاشتې څخه د همدې کال د ډېسمبر د میاشتې تر ۳۱مې نېټې پورې د افغانستان د لوړو زده کړو په وزارت کې د ډاکتر یحیی وردگ دفتر چاپ او خپاره کړي دي او توزیع لړۍ روانه ده.

هغه کتابونه چې د یاد دفتر له لوري په ۲۰۲۲ زېږدیز کال کې چاپ شوي نومونه یې په لاندې ډول دي:

۱. حیواني تغذیه لومړۍ برخه، لیکوال پوهندوی روزي خان صادق، ننگرهار پوهنتون، وترنري پوهنځی.

۲. حیواني تغذیه دوهمه برخه، لیکوال پوهندوی روزي خان صادق، ننگرهار پوهنتون، وترنري پوهنځی.

۳. د اوبو لگولو انجنیري، لیکوال پوهندوی دیپلوم انجنیر اصغر غفورزی، ننگرهار پوهنتون، انجنیري پوهنځی.

۴. مالیکولي ایمیونولوژي، لیکوال پوهاند داکتر خلیل احمد بهسودوال، ننگرهار پوهنتون، طب پوهنځی.

۵. وترنري داخله، لیکوال پوهنوال پیرمحمد ستانکزی، ننگرهار پوهنتون، وترنري پوهنځی.

٦. وترنري فارمکولوژي دوهمه برخه، لیکوال پوهنوال محمد بایر درمل، ننگرهار پوهنتون، وترنري پوهنځی.

۷. د انسان فزیولوژي او اناتومي، لیکوال عبدالمالک پرهېز، ننگرهار پوهنتون، د ښووني او روزنې پوهنځی.

۸. عامه اقتصاد، لیکوال پوهندوی ریحان الله رحیمي، ننگرهار پوهنتون، د عامه اداره او پالیسۍ پوهنځی.

۹. د ریاضي منطق، لیکوال سلطان احمد نیازمن، خوست شیخ زاید پوهنتون، د ښووني او روزنې پوهنځی.

۱۰. رهبري له تیوري تر عمله، لیکوال پوهنمل محمد عرفان قریشي، ننگرهار پوهنتون، عامه اداره او پالیسۍ پوهنځی.

۱۱. د جرمني ژبې آسانه زده کړه له اساساتو تر ادبیاتو پورې، لیکوال ډاکتر اکرم ملکزی، ننگرهار پوهنځی، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی.

۱۲. د کورنیو الوتونکو د روزنې بنسټونه، لیکوال پوهاند میر حاتم نیازي، ننگرهار پوهنتون، د کرنې پوهنځی.

۱۳. د کرنې تشریحي قاموس انگلیسي ـ پښتو، لیکوال پوهاند محمد بشیر دودیال، ننگرهار پوهنتون، د کرنې پوهنځی.

۱۴. امېندواري او زېږون، لیکوال پوهنوال دوکتورس حفیظه سهاک، ننگرهار پوهنتون، د طب پوهنځی.

۱۵. د څېړنې مېتودولوژي، لیکوال پوهنیار نثار احمد مصلح، ننګرهار پوهنتون، د عامه اداره او پالیسۍ پوهنځی.

۱۶. مرکزي بانک او پرمختللي سیاستونه، لیکوال پوهاند دوکتور عبدالقیوم عارف، ژباړن امان الله ورین، خوست شیخ زاید پوهنتون، اداره او تجارت پوهنځی.

۱۷. کوانتم میخانیک، لیکوال پوهنیار اکرام الله وقار، ننګرهار پوهنتون، د ساینس پوهنځی.

۱۸. د سازماني اړیکو مدیریت، لیکوال پوهاند محمد بشیر دودیال، ننګرهار پوهنتون، د عامه اداره او پالیسۍ پوهنځی.

۱۹. د بشري سرچینو مدیریت، لیکوال پوهنمل منصور فقیرزی، ننګرهار پوهنتون، د عامه اداره او پالیسۍ پوهنځی.

۲۰. نیماتولوژي، لیکوال پوهنوال حسین آرمان، ننګرهار پوهنتون، د کرنې پوهنځی.

۲۱. د ریاضي منطق، لیکوال سلطان احمد نیازمن، شیخ زاید پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځی.

د افغانستان د لوړو زده کړو په وزارت کې د ډاکتر یحیی وردګ د دفتر له لوري چاپ شوي درسي کتابونه په طب، انجنیري، اقتصاد، عامه اداره او پالیسي، اداره او تجارت، کرنې، ادبیاتو او داسې نورو پوهنځیو پورې اړه لري او د درسي کتابونو د تهیه کولو او چاپ د هغې لړۍ یوه برخه ده چې په افغانستان کې یې نوموړی دفتر د هېواد د پوهنتونونو د استادانو په مرسته تهیه، چاپ او په وړیا توګه توزیع کوي.

د دې کتابونو د چاپ او توزیع سلسله د ډاکتر یحیی وردګ د دفتر له لوري په ۲۰۰۹ زیږدیز کال کې پیل شوې ده، د ۲۰۲۲ زیږدیز کال د ډېسمبر تر میاشتې پورې یې ټولټال ۳٦۹ عنوان درسي کتابونه له هر کتاب څخه لږ تر لږه ۱۰۰۰ ټوکه چاپ او توزیع کړي دي چې ټولټال ۳٦۹۰۰۰ ټوکه کتابونو ته رسېږي. دغه کتابونه له چاپ څخه وروسته د افغانستان دولتي او خصوصي پوهنتونونو، روغتونونو، علمي بنسټونو، مولفینو، اکادمیکو او څېړنیزو مرکزونو، عامه کتابتونونو او حتی ځینو علمي کادرونو ته وېشل شوي دي. له نېکه مرغه په دې لړۍ کې له پیل څخه تر دې مهاله هېڅ راز وقفه نه ده راغلې، اوس مهال هم جریان لري او هیله ده چې د راتلونکي لپاره به دوام ومومي.[۱]

[۱] احمدي، ګل آغا، یوویشت نوي درسي کتابونه په ۲۰۲۲ کال کې د یحیی وردګ د دفتر له لوري چاپ شول، ۲۰۲۲ زېږدیز کال، د ډېسمبر د میاشتې ۳۱مه نېټه

## د ننګرهار او خوست پوهنتونونو د

## چاپ شوو کتابونو د معرفي غونډه

*۲۴ جنوري ۲۰۲۳ ز کال*

د ۲۰۲۳ زېږدیز کال د جنوري د میاشتې ۲۴مه نېټه چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د دلوې میاشتې د ۴مې نېټې سره برابره وه، د ننګرهار پوهنتون د مسلکي زده کړو پرمختیایي مرکز PDC د غونډو تالار د هغې علمي غونډې شاهد وو چې د ننګرهار او خوست پوهنتونونو د استادانو د چاپ شوو کتابونو په ویاړ د لوړو زده کړو په وزارت کې د ډاکتر یحیی وردګ د دفتر له لوري جوړه شوې وه او د ننګرهار پوهنتون په رئیس، اداري پلاوي او ۱۳ ګونو پوهنځیو په رئیسانو سربېره، د همدې پوهنتون هغو لسګونو استادانو او لیکوالانو هم ګډون کړی وو چې په ۲۰۲۲ زېږدیز کال کې یې کتابونه چاپ شوي وو.

دغه ۲۰ عنوان کتابونه په ۲۰۲۲ زېږدیز کال کې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې ټولنې (Kinderhilfe-Afghanistan) له خوا چې مشر یې ډاکتر Dr. Eroes دی، د ننګرهار او خوست پوهنتونونو لپاره چاپ کړل چې شمېر یې ټولټال ۲۰۰۰۰ ټوکه کتابونه وو.

د همدې غونډې په لړ کې په تشریفاتي ویناوو سربېره هغه کتابونه معرفي شول چې په ۲۰۲۲ زېږدیز کال کې چاپ شوي او په رسمي توګه د ننګرهار پوهنتون د مشرتابه، اداري پلاوي او استادانو په واک کې ورکړل شول.

دغې غونډې چې د ویناوو، پوښتنو ځوابونو، د کتابونو د معرفي او مولفینو ته په رسمي توګه د خپلو چاپ کتابونو د ورکولو برخې یې درلودې، د سهار په ۱۰ بجو پیل شوه او د غرمې په ۱۲ بجو په دعاییه سره پای ته و رسېده. د دې غونډې د راپور بشپړ جزئیات په لاندې ډول دي:

## لومړی: د ویناوو برخه

د غونډې د ویناوو په برخه کې د ننګرهار پوهنتون رئیس پوهاند دکتور خلیل احمد بهسودوال، ډاکتر یحیی وردګ او د ننګرهار پوهنتون د کرنې د پوهنځي رئیس پوهاند میر حاتم نیازي وو چې هر یو د موضوع په ارتباط خبرې وکړې او د ویناوو لوی ټکي یې په همدې ځای کې را اخیستل کېږي.

## د ننګرهار پوهنتون د رئیس وینا

۱. د مجلس ټولو حاضرینو، د پوهنتون اداري پلاوي، د پوهنځیو رئیسانو، استادانو، لیکوالانو او له کابل څخه راغلي پلاوي ته ښه راغلاست ویل؛

۲. د جرمني کمېټې ټولنې (Kinderhilfe-Afghanistan) مشر ډاکتر Dr. Eroes څخه ځانګړې مننه چې په ۲۰۲۲ زېږدیز کال کې یې د خوست او ننګرهار د پوهنتونونو ۲۰ عنوان درسي کتابونه چاپ کړل؛

۳. د افغانستان د لوړو زده کړو په موسساتو او پوهنتونونو کې د درسي کتابونو د ضرورت، موجودیت اهمیت بیانول چې یوه حیاتي موضوع ده او باید موجود چپټرنوټونه په داسې کتابونو بدل شي لکه د ۲۰۱۰ کال څخه تر دې دمه چې د لوړو زده کړو په وزارت کې د ډاکتر یحیی وردګ دفتر چاپ کړي او د پوهنتونونو په واک کې یې ورکړي دي؛

۴. زه ویاړم چې دغه لړۍ زما د یو عنوان کتاب په چاپ سره پیل شوې او زه فکر کوم چې تر ټولو څخه د مخه زما زیات کتابونه د همدې پروګرام له لارې چاپ شوي چې شمېر یې ۸ عنوان کتابونو ته رسېږي.

۵. دغه لړۍ په ۲۰۰۹ زېږدیز کال کې د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي څخه پیل شوې چې ډېر ژر هېوادشموله شوه او د افغانستان د ګوټ ګوټ څخه یې د پوهنتون د استادانو تدریسي کتابونه چاپ کړل. دا کار نه یوازې د لیکوال لپاره د اهمیت وړ او امتیاز بلل کېږي، بلکې په دې کار سره د افغانستان د پوهنتونونو د استادانو او محصلینو یوه اندازه هغه ستونزې هوارې شوې چې د لوړو زده کړو په موسساتو کې یې د معیاري درسي کتابونو د نشتون له کبله درلودې.

٦. موږ ویاړو چې د همدې لړۍ په چاپ شوو کتابونو کې ٦٠ یا ٧٠ سلنه هغه کتابونه دي چې د ننګرهار پوهنتون په مختلفو پوهنځیو پورې اړه لري او د یادو پوهنځیو استادانو لیکلي دي.

۷. د لوړو زده کړو لپاره د درسي کتابونو د ليکنې پروسه آسانه خبره نه ده، ډېره سخته ده ځکه چې له نوي عصر، نوي کريکولم او نوو غوښتنو سره سم بايد په هغه کې بدلونونه راوړل شي چې ليکوالان او استادان دغه ټکی د راتلونکي لپاره په پام کې و نيسي.
۸. د کتاب چاپولو دغه روښانه لړۍ چې کله په ۲۰۰۹زېږديز کال کې پيل شوه نو هغه مهال ورسره DAAD جرمنۍ موسسې يوه اندازه همکاري کوله خو وروسته د Dr. Eroes په مشرۍ د جرمني کمېټې ټولنه (Kinderhilfe-Afghanistan) دغه ډگر ته را وړاندې شوه او د دې پروسې مالي ملاتړ يې وکړ. زه هيله من يم چې د کتاب چاپولو دغه لړۍ به د راتلونکي لپاره هم دوام کوي او په يو لوی ملي پروگرام به بدلېږي. زه په همدې مناسبت له Dr. Eroes او ټولو هغو کسانو څخه ځانگړې مننه کوم چې دا لړۍ يې فعاله ساتلې ده. زه بايد يادونه وکړم چې ډاکتر Dr. Eroes په تېرو کلونو کې د ننگرهار پوهنتون ته راغلی وو، د دې پوهنتون له مختلفو برخو څخه يې ليدنه وکړه او زموږ له پوهنتون سره تر خپل توان پورې په گڼو برخو کې د همکاريو لړۍ جاري ساتلې ده چې د درسي کتابونو چاپ يې يوه نمونه ده.

## د ډاکتر يحيی وردگ وينا

۱. زه چې کله په ۲۰۰۹ زېږديز کال د ننگرهار پوهنتون او په ځانگړې توگه د طب پوهنځي ته لاړم او له هغه څخه مې ليدنه وکړه، د هغو چپترونو او درسي موادو حالت ژړونکی وو چې د محصلينو په لاسونو کې وو او په پلاستيکي کڅوړو کې به يې لېږدول. له هماغه شېبې مې له ځان سره تصميم و نيو چې زموږ په پوهنتونونو کې دا حالت بايد بدلون و مومي او د افغانستان د پوهنتونونو محصلين د نورې نړۍ د محصلينو په څېر معياري درسي کتابونه و لري.
۲. د کتابونو د چاپ د لړۍ تصميم په بهر کې نه دی نيول شوی بلکې دا يو بشپړ داخلي تصميم دی چې افغانانو پخپله نيولی، پخپله يې دغه پروسه انتخاب کړې او د دې پروسې د ټولو اړخونو لپاره يې کار کړی دی.
۳. په دې خبره اعتراف په کار دی چې له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۲۱ زېږديز کال پورې د لوړو زده کړو په برخه کې د داخلي او بهرنيو موسساتو له خوا ډېر کار شوی خو ځينې کارونه لومړيتوب نه گڼل کېږي او د درسي کتاب چاپولو په شمول يو شمېر هغو برخو ته زياته پاملرنه و نه شوه چې بايد ورته شوې وای. دا يو حقيقت دی چې د لوړو زده کړو د وزارت په

اسنادو او ستراتیژیک پلان کې د کتاب اهمیت بیا بیا یاد شوی خو عملا کار نه دی ورته شوی او د دې وزارت په اډانه کې د کتاب چاپولو لپاره سیستماتیک پروګرام موجود نه وو.

۴. د همدې ضرورت پر بنسټ موږ خپل کار د استادانو او لیکوالانو په مرسته د ننګرهار پوهنتون د طب له پوهنځي څخه په ۲۰۱۰ زېږدیز کال پیل کړ او توانېدلي یو چې د ۲۰۲۲ کال تر وروستیو پورې د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه په مختلفو څانګو کې ۳٦۹ عنوان کتابونه چاپ کړو چې ټولټال ۳٦۹۰۰۰ ټوکه کېږي. همدارنګه دغه لړۍ له بدخشان څخه تر کندهار پورې او په ټول هېواد کې افغانستان شموله کړو.

۵. زموږ سره د دې لړۍ په لومړي سر کې د آلمان د DAAD موسسې همکاري کړې ده او نه یوازې دا چې له چاپ څخه درسي کتاب په فزیکي شکل تر استاد او محصل پورې رسولی دی، بلکي موږ هغه په CD کې هم رایټ کړی او هر درسي کتاب مل CD له ځان سره لري. پر دې سربېره موږ د طب او انجنیري ټول کتابونه په بېلابېلو DVD ګانو کې هم رایټ کړي او د پوهنتونو په واک کې مو ورکړي دي. همدارنګه د دې کتابونو سافټ کاپي په انټرنټ کې موجوده ده او www.ecampus-afghanistan.org ویب سایټ څخه د لاسرسي وړ ده او مینه وال کولای چې که په افغانستان یا د نړۍ په هر هېواد کې هستوګنه و لري، دغه ویب سایټ ته ورشي او د خپلې خوښې درسي کتابونه ښکته یا ډاونلوډ کړي.

٦. د کتاب چاپولو دغه پروسه داسې ده چې د تدریسي کتاب مولف یا استاد زموږ د پالیسۍ او خپرې شوې فورمې مطابق د خپل دیپارتمنت د آمر، د اړوند پوهنځي د رئیس او پوهنتون د رئیس موافقه باید له ځان سره و لري او په رسمي توګه یې زموږ د دفتر مسئولینو ته د کتاب له سافټ PDF کاپي سره یو ځای و سپاري. موږ هڅه کوو چې د خپلو همکارانو په همکارۍ ورته بودجه ورته پیدا او کتاب یې چاپ کړو. په دې معنی چې موږ د کتاب چاپولو لپاره مخکې له مخکې بودجه نه لرو بلکي زموږ د لایحې مطابق چمتو شوي کتابونه د خیر غوښتونکو اشخاصو یا موسساتو په همکارۍ چاپوو، په دې اړوند د هغوی موافقه اخلو او مالي امکانات ورته پیدا کوو.

۷. زه باید ووایم چې د دې لړۍ اصلي مالکان هغه استادان او لیکوالان دي چې دغه کتابونه یې لیکلي او دغې لړۍ ته دوام ورکوي ځکه چې په دې لړۍ کې ۹۵ سلنه کار د کتابونو د لیکوالو او استادانو پر غاړه دی او یوازې ۵ سلنه کار یې موږ کوو او

کتاب یې په داسې حال کې ورته چاپوو چې د کتابونو مولفین هېڅ ډول حق الزحمه نه تر لاسه کوي او یوازې له خپل هېواد، محصلینو او تحصیلي نظام سره د مینې او تقویت په اساس دا کار کوي چې واقعا د قدر وړ دی او د دې لړۍ زیاته برخه کرېډېټ د کتابونو مولفینو ته حاصل دی او دوی یې مالکان دي.

۸. د چاپ شوو تدریسي کتابونو د توزیع په هکله باید ووایم چې موږ د دې کتابونو ۱۰۰ ټوکه لیکوال ته ورکوو چې هغه یې پخپله خوښه توزیع کړي. ۱۰۰ ټوکه د کابل عامه کتابتون ته په واک کې ورکوو ځکه چې دغه اداره یې د افغانستان د ۳۴ ولایتونو عامه کتابتونونو او ځینو مهمو علمي مرکزونو ته توزیع کوي. پاتې کتابونه په ټول افغانستان کې دولتي او خصوصي پوهنتونونو، علمي څېړنیزو بنسټونو، استادانو، محصلینو او حتی ځینو علمي کادرونو ته هم توزیع کېږي.

۹. موږ د دې لړۍ څخه زیات څه زده کولی شو ځکه چې د دې پروسې ۹۵ سلنه کار خپله افغانان کوي، حقوق یې په بشپړه توګه د کتابونو له مولفینو سره دي او کولای شي چې په بل ځای کې یې هم چاپ کړي. د دې لړۍ یوازینۍ موخه له استاد، محصل، پوهنتون او افغانستان د لوړو زده کړو له تحصیلي نظام سره مرسته ده چې د معیاري درسي کتابونو خاوند شي او استادان و توانېږي چې لیکلي آثار یې چاپي بڼه غوره کړي.

۱۰. د دې لړۍ یوه لویه ښېګڼه دا ده چې پروسه یې ژر عملي کېدی شي، ځوک چې له موږ سره په دې برخه کې مرسته کوي، مرسته یې معلومېږي چې دا کار په عمل کې شوی دی. زه هیله من یم دغه پروسه چې له ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۲۲ زېږدیز کال پورې له کومې وقفې پرته روانه ده، د راتلونکي لپاره به هم زموږ د کاري ټیم، استادانو، لیکوالانو او مرستندویو اړخونو په همکارۍ دوام کوي.

۱۱. موږ د کتابونو د چاپ په برخه کې هر کال پلان لرو او غواړو چې د خپل پلان مطابق تدریسي کتابونه چاپ کړو. په دې برخه کې مو د لوړو زده کړو د وزارت له چارواکو، اداري او د لوړو زده کړو په بهیر کې له ښکېلو بهرنیو موسساتو څخه هم د کتاب چاپولو په برخه کې د همکارۍ غوښتنه کړې ده چې راشئ او په دې برخه کې زموږ سره مرسته وکړئ. زموږ غوښتنې ته د Kinderhilfe-Afghanistan مشر Dr. Eroes مثبت ځواب ویلی او له موږ سره یې په دې برخه کې همکاري کړې ده چې مننه ترې کوو.

۱۲. زما پلان، وېژن او وړاندیز د درسي کتابونو د چاپ په هکله دا دی چې بیا هم د افغانستان د لوړو زده کړو د وزارت په لوړپوړو چارواکو او ټولو اړوندو اشخاصو او موسساتو غږ کوم چې راځئ په دې برخه کې پنځه کلن پلانونه جوړ کړو او هر کال د لوړو زده کړو د موسساتو لپاره له ۳۰ څخه تر ۱۰۰ عنوان کتابونو چاپ کړو څو د افغانستان هره تحصیلي رشته او هر مضمون د هېواد په ملي ژبو کې لږ تر لږه یو عنوان چاپ شوی کتاب و لري. زما ستره هیله دا ده چې موږ دغه کار ته د یوې لویې ملي ژمنې او یو ملي پروګرام په چوکاټ کې را وړاندې شو، د لوړو زده کړو پوهنیز چاپېریال، استادان او محصلین په نوو چاپ شوو کتابونو سمبال او پخپلو تحصیلي موسساتو کې د لیکچرنوټونو دور ته د پای ټکی کېږدو.

۱۳. زما سپارښتنې استادانو او د کتابونو مولفینو ته دا دي:

لومړی: استادان دې خپل چپټرونه د چاپ لپاره آماده کړي، موږ ته یې دې د توزیع شوې فورمې او رسمي پروسې له مخې را و سپاري موږ به د چاپ کولو لپاره خپلې ټولې هلې ځلې وکړو.

دویم: د لوړو زده کړو د وزارت او هر پوهنتون په سطح دې د هغو کتابونو لېستونه چمتو او موږ ته دې را وسپارل شي چې په تحصیلي موسساتو کې د یوې لسیزې را پدېخوا د چاپ انتظار باسي او څوک یې نه چاپوي.

دریم: له ټولو تمویل کوونکو اړخونو او موسساتو څخه مې غوښتنه دا ده چې راځئ او د کتابونو د چاپ د ملي پروګرام په چوکاټ کې د کتاب چاپولو له بهیر سره مرسته وکړئ او دغه بهیر پیاوړی کړئ.

څلورم: زما وړاندیز له ټولو اړوندو اړخونو څخه دا دی چې هغه پیسې چې په تشو غونډو او سیمینارونو مصرفېږي، د تدریسي کتاب چاپولو ملي پروګرام ته ځانګړې کړو او کتابونه پرې چاپ کړو.

پنځم: له هغو استادانو او مولفینو څخه چې کتابونه یې چاپ شوي او اشتباوې لري، زما هیله او غوښتنه دا ده چې د خپلو چاپ شوو کتابونو سافټ کاپي اېډېټ کړی، په کابل کې یې زموږ همکارانو ته و سپارئ څو هغوی یې نوی اېډېټ شوی ورژن زموږ په ویب سایټ کې خپور او د مینه والو د استفادې وړ و ګرځی. همدارنګه هیله مې له ټولو څخه دا ده چې زموږ ویب سایټ له محصلینو سره شریک کړی څو د اړتیا پر مهال مراجعه ورته وکړي او تدریسي کتابونه ځینې ډاونلوډ کړي.

د خپلو خبرو په آخر کې د لوړو زده کړو د وزارت، د ننګرهار پوهنتون له مشرتابه او استادانو، ډاکتر ايروس او ټولو هغو اړخونو څخه مننه کوم چې په دې برخه کې يې مرسته کړې ده او خپلو مرستو ته دوام ورکوي. زموږ شعار دی: (لږ خبرې، ډېر کار). مننه

## د کرنې پوهنځي د رئيس وينا

۱. د کتاب په اهميت ډېرې خبرې وشوې او رښتيا هم چې کتاب ډېر مهم دی خو زه يو بل ټکي ته اشاره کوم هغه دا چې کتاب ته اوس هم د ننګرهار پوهنتون او د افغانستان ټول تحصيلي نظام اړتيا لري څو معياري تدريسي کتابونه ورته چاپ شي. د کتاب کمبود ډېر احساسېږي، اوس هم شته، د چپټرونو نظام په بشپړه توګه ختم شوی نه دی، د ډاکتر ايروس مرسته او په کابل کې د هغه د همکارانو اخيستل شوي ګامونه د اهميت وړ دي چې مننه ترې کوو.

۲. کوم کتابونه چې د دې پروګرام له لارې چاپ شوي دي، استادانو ليکلي چې د چاپ هيله يې درلوده چې دا دي د لوړ کيفيت له مخې، په داسې ښه صحافت، ظرافت او بهترين کاغذ چاپ شوي دي چې زموږ د تمې څخه ډېر لوړ کار دی.

۳. د دې کتابونو بله لويه ګټه دا ده چې دا کتابونه افغانستان شموله او جهان شموله شول، د انټرنيټ د لارې د لاسرسي وړ دي، په ويب سايټ کې موجود دي، په CD او DVD کې هم رايټ شوي او د هېواد ټولو پوهنتونونو ته توزيع شوي دي چې له دې کار سره د دې کتابونو ارزښت نور هم لوړ شوی دی.

۴. د افغانستان د پوهنتونو لپاره د تدريسي کتابونو د تهيه کولو او چاپ لړۍ ته اوس هم په ټول هېواد کې په ملي کچه اړتيا ده، بايد په دې برخه کې نورې همکارۍ اداري زياتې شي، استادان دې خپل کتابونه د چاپ لپاره چمتو کړي او له دغې لړۍ سره دې همکاري وکړي چې د آلماني دوستانو او ډاکتر ايروس په همکارۍ روانه ده.

۵. ما ته چې د خپل چاپ شوي کتاب ۱۰۰ ټوکه سپارل شوي دي، د هغه څخه مې ۳۰ ټوکه د لغمان پوهنتون ته ورکړي، د کابل، خوست او کنړ پوهنتون ته مې هم له دې کتابونو څخه خپل سهم ساتلی او ورته سپارم يې.

## دویم: د پوښتنو او ځوابونو برخه

د غونډې یوه برخه د استادانو او لیکوالانو پوښتنو ته ځانګړې شوې وه چې د کتاب چاپولو د لړۍ په هکله له ډاکټر یحیی وردګ څخه و شوې او بهیر یې په لاندې ډول وو:

د شرعیاتو د پوهنځي رئیس پوهاند محبوب شاه هاشمي داسې پوښتنه وکړه: آیا تاسو په پام کې لرئ چې د شرعیاتو لکه (تفسیر او حدیث) په برخه کې هم کتابونه چاپ کړئ؟

ځواب: زموږ له نظره د پوهنتون د کریکولم له مخې په هر مضمون، هره څانګه او هره رشته کې باید کتابونه تدوین او چاپ شي خو اصلي خبره دا ده چې د دې پوښتنې په اړوند زه او زما کاري ټیم تصمیم نه شو نیولای ځکه چې موږ د کتابونو د چاپ وړاندیز تمویل کوونکو ته کوو او هغوی تصمیم نیسي چې کوم کتابونه باید چاپ شي. هغوی هڅه کوي داسې کتابونه چاپ کړي چې په ساینسي، ټولنیزو او اجتماعي علومو پورې اړه و لري. موږ به بیا هم په دې هکله غور وکړو او ستاسو غوښتنه به هرو مرو تر تمویل کوونکو پورې رسوو.

د ادبیاتو د پوهنځي استاد ډاکټر جبارخېل پوښتنه وکړه چې آیا په دې لړۍ کې د ادبیاتو په برخه کې هم لیکل شوي کتابونه د چاپ وړ دي که نه؟ ځکه د ادبیاتو پوهنځی ٦ رشتې لري او په دې برخه کې هم هر مضمون کتاب ته اړتیا لري.

ځواب: د ادبیاتو برخه ډېره مهمه ده، زموږ هیله د دې برخې له هغو استادانو څخه چې کتابونه لري دا ده چې دوی دې هم د کتاب چاپولو پروسه طی کړي، زموږ له خوا توزیع شوي فورمې دې ډکې کړي موږ به هڅه وکړو چې د چاپ امکانات ورته پیدا کړو.

یو بل استاد د کریکولم په هکله پوښتنه وکړه چې څه وخت به بشپړ کېږي؟ ډاکتر یحیی وردک وویل چې نصاب جوړول زموږ کار نه دی، هغه د لوړو زده کړو د وزارت او پوهنتونونو د اداري کار دی.

همدارنګه د یوې بلې پوښتنې په ځواب کې ډاکتر یحیی وردک وویل چې موږ اوس مهال لیکوال ته ۱۰۰ عنوان کتابونه ورکوو خو کولای شو چې په راتلونکي کې دغه شمېر د هغو لیکوالانو لپاره اضافه کړو چې د خپل چاپ شوي کتاب زیات شمېر ټوکو ته اړتیا لري.

### دریم: مولفینو ته د کتابونو د ورکولو برخه

د مجلس دریمه برخه هغو مراسمو ته ځانګړې شوې وه چې د چاپ شوو کتابونو لیکوالانو، مولفینو او استادانو ته یې خپل کتابونه په رسمي او تشریفاتي توګه تسلیم شول. په دې مراسمو کې د ننګرهار د پوهنتون رئیس پوهاند دوکتور خلیل احمد بهسودوال، د علمي چارو مرستیال پوهندوی احسان الله ناصح له کابل د ډاکتر وردک د دفتر څخه راغلي پلاوي ګډون درلود چې په ترڅ کې یې د ننګرهار پوهنتون استادانو ته د دوی چاپ شوي کتابونه په رسمي توګه و سپارل شول.

### څلورم: د مجلس ختم

په ۲۰۲۲ زېږدیز کال کې د ۲۰ عنوان چاپ شوو کتابونو او استادانو ته د هغه د سپارلو  په ویاړ جوړ شوی مجلس د شرعیاتو د پوهنځي د رئیس سید محبوب شاه هاشمي په دعاییه او جمعي فوټو اخیستلو سره پای ته و رسېد.

د دې خبرې یادونه ضروري ده چې د Kinderhilfe-Afghanistan تر دې مهاله د ننګرهار او خوست پوهنتونونو لپاره ۲۳۰ عنوان کتابونه، د ۲۳۰۰۰ ټوکو په تیراژ کې  چاپ کړي دي.[۱]

❖

[۱] احمدي، ګل آغا، د ننګرهار او خوست پوهنتونونو ته د چاپ شوو کتابونو د معرفي د غونډې ګزارش، ننګرهار پوهنتون، جلال آباد، ۲۴ جنوري ۲۰۲۳ زېږدیز کال.

# څلورمه برخه

## درسي کتابونه د رسنيو
## په هېنداره کې

# د افغاني پوهنتونونو درسي توکي
# زاړه دي، نوښت غواړي

*يادښت: دغه ليکنه افغان ليکوال نباغلي مصطفی سالک ليکلې او د ۲۰۱۱ زېږديز کال د جنوري د مياشتې په ۱۱مه نېټه يې د بي بي سي راډيو په پښتو ويب پاڼه يې خپره کړې ده. د مقالې متن په لاندې ډول دی:*




د کابل پوهنتون مشر، پوهاند حميدالله امين دا خبره مني، چې د افغانستان د پوهنتونونو نصاب ډېر زوړ دی، خو وايي نوې طرحه به دغو ټولو ستونزو ته ځواب ووايي.

د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت داسې هڅې پيل کړې، چې موخه يې په دغه هېواد کې د لوړو زده کړو معياري کول دي.

د نصاب نوي کول او په بهر کې ښوونکو ته د لا نورې زده کړې زمينه برابرول له همدغو هڅو څخه بلل کېږي.

چارواکي وايي چې د لوړو زده کړو د جوړښت معياري کول او نوي کول به تر ډېرو کلونو پورې ډېر وخت ونيسي.

په پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په نيمه عالي موسساتو کې د ښوونيز نصاب زوړوالی او د ښوونيزو توکيو لږوالی د لوړو زده کړو د معياري کولو په برخه کې تر ټولو ستره ستونزه بلل کېږي.

د کابل پوهنتون يو تن زده کوونکی احمد شعيب وايي: «ښوونکي ورته د لسګونو کلونو زاړه ښوونيز درسونه تدريسوي.»

اوس د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د ټولو پوهنتونونو او د لوړو زده کړو د نیمه عالي مؤسسو مشران کابل ته راغوښتي، چې ورسره د شته ستونزو او د لوړو زده کړو د معیاري کولو په اړه خبرې وکړي.

د افغانستان د لوړو زده کړو وزیر سرور دانش وایي په دې برخه کې یې یوه طرحه جوړه کړې ده چې په اړه به یې د لوړو زده کړو له استادانو سره مشوره وشي او بیا به پلي شي. نوموړی وایي:

«ډېر پام به د لوړ زده کړو کیفیت او هغو پروژو ته وي، چې پر دې اړه یې لرو، زموږ د دوه درې ورځو خبرې به د کیفیت پر لوړولو راغونډې وي، موږ به د لوړو زده کړو له ټولو ۲۵ موسسو سره همغږي پیدا کوو، سلا او مشوره به ترې اخلو او له هغو کسانو سره به همغږي پیدا کوو، چې دا پروژې پلي کوي چې د پلان له مخه په ۹۰ یم کال کې دا پروژې پلې شي.»



د کابل پوهنتون یو تن محصل احمد شعیب وایي: «ښوونکي ورته د لسګونو کلونو زاړه ښوونیز درسونه تدریسوي.»

د لوړو زده کړو د ښوونیز نصاب نوي کول هم ددغې طرحې یوه برخه ده.

د کابل پوهنتون مشر، پوهاند حمیدالله امین دا خبره مني، چې د افغانستان د پوهنتونونو نصاب ډېر زوړ دی، خو وایي نوې طرحه به دغو ټولو ستونزو ته ځواب ووایي:

«زموږ کریکولم زوړ دی، چې باید د دې مهال او ۲۱ پېړۍ د غوښتنو په رڼا کې نوی شي. همدا راز کتابتونونه باید کمپیوټري شي، کمپیوټرونه باید ډېر شي، موږ باید له هغو

آسانتیاوو او ښوونیزو توکو څخه ګټه واخلو، چې په یوویشتمه پېړۍ کې په ټوله نړۍ کې دود دي. مونږ لابراتوارونه، سم کتابتونونه او ښوونیز توکي نه لرو، د کتاب د چاپ آسانتیا هم نه لرو، دا ټول باید له یوې مخې سم کړل شي.»

د ورځې له دود سره برابرې ښوونیزې لارې غوره کول او د علمي سویې د پورته کولو په موخه بهرنیو هېوادونو ته د لوړو زده کړو ښوونکي استول هم د یادې شوې طرحې برخې بلل کېږي.

ټاکل شوې ده، چې دغه طرحه په ۲۰۱۲ زېږدیز کال کې پلې شي، چې مالي لګښت یې نړیوال بانک پرغاړه اخستی دی.

چارواکي هیله من دي، چې دا به د لوړو زده کړو د معیاري کولو په لوري یو ګټور ګام وي، خو وایي د ټولو ستونزو هواري ډېرو کلونو او میلونونو ډالرو ته اړتیا لري.[1]

[1] http://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2011/01/110115_hh-afg-univ-syllabu.shtml?print=1

## په درسي کتابونو د طب پوهنځیو
## سمبالولو هڅې دوام لري

*یاددښت: دغه لیکنه د ۲۰۱۲ زیږدیز کال د اپریل د میاشتې په ۲۸مه نېټه د افغانستان ټایمز د انګلیسي ژبې ورځپاڼې په درېیم مخ کې چاپ شوې وه چې د پښتو ژباړې متن یې په لاندې ډول دی:*

د لوړو زده کړو وزارت له خوا د افغانستان د مختلفو پوهنتونونو له استادانو سره په ګډو فعالیتونو او د آلمان د علمي همکاریو د مرکز (DAAD) کمېټې په مالي مرسته هڅې دوام لري، چې د هېواد طب پوهنځیو د محصلینو لپاره درسي کتابونه چمتو کړي.

د لوړو زده کړو وزارت سلاکار ډاکټر یحیی وردک وایي، چې د درسي کتابونو کمښت، د لیدلو وړ درسي موادو پرته زاړه لکچرونه، د عصري سیمینارخونو او لابراتوارونو کمښت په افغانستان کې د محصلینو په مخکې لویې ننګونې دي.

له همدې کبله د لوړو زده کړو وزارت د استادانو په همکارۍ او د DAAD کمېټې په مالي ملاتړ سره د طب پوهنځیو لپاره د درسي کتابونو چاپولو ته زمینه برابره کړه او په ټول هېواد کې له یادو ننګونو سره مبارزه کوي.

نوموړي څرګنده کړه، چې د لکچر نوټونو له بدلې کولو او بیا کتنې وروسته به دغه پروژه د آلمان د علمي همکاریو مرکز (DAAD) کمېټې ته د دوی د مالي مرستو لپاره وړاندې شي.

ده همدارنګه زیاته کړه، چې هر کتاب به په کافي اندازه چاپ او ټولو پوهنتونونو او محصلینو ته به په وړیا توګه وکړل شي.

ددغه معیاري کتابونو چاپول د علمي ظرفیت د پراختیا او په ټول هېواد کې د پوهنځیو او محصلینو د پرمختګ لپاره په لاره اچول شوی دی.

نوموړی په ټینګار سره وایي، چې د درسي کتابونو چاپ به یوازې تر طبي پوهنځیو پورې محدود نه وي، بلکې په نږدې راتلونکي کې به د لوړو زده کړو وزارت له خوا نورو

پوهنځیو ته هم وغځول شي.

ده زیاته کړه چې له هر کتاب سره یوه سي ډي مله ده او همدارنګه هر کتاب په PDF شکل سره په www.ecampus-afghanistan.org وېب پاڼه باندې هم د لاسرسي وړ دی، نو هر محصل کولی شي په آسانۍ سره د کتابونو مجموعې ته لاسرسی ولري.

ډاکټر یحیی وردک څرګندوي، چې دغه نوښت له ۲۰۰۹ زکال راپدېخوا، له کله نه چې د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي پنځه تنه استادان د طبي کتابونو د لیکلو په حال کې وو او د هغوی د چاپ لپاره یې له DAAD کمېټې څخه مالي مرسته تر لاسه کړه، دوام لري.

دغه پروژې د ټول افغانستان له پوهنتونونو څخه مثبت نظرونه تر لاسه کړل او همدا راز نورو پوهنتونونو هم د دوی د درسي موادو د چاپ غوښتنه وکړه.

دی څرګندوي، چې په ۲۰۱۰ زېږدیز کال کې ۲۰ نور درسي کتابونه د څلورو مختلفو پوهنتونونو (بلخ، کندهار، خوست او ننګرهار) د استادانو له خوا ولیکل شول.

تر اوسه تقریباً ٦۰ عنوان بېلابېل طبي کتابونه چاپ شوي او محصلینو ته ورکړل شوي دي.

دا کتابونه د کابل، ننګرهار، خوست، هرات، بلخ، کندهار، پکتیا او کاپیسا پوهنتونونو په طب پوهنځیو کې وېشل شوي دي.

د ۲۰۱۲ زېږدیز کال د اپرېل په ۴مه نېټه، د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عبیدالله عبید او د مالیې وزیر ډاکټر عمر زاخېلوال له ننګرهار پوهنتون څخه لیدنه وکړه.

محصلینو ته د کتابونو د وېشلو پر مهال، د لوړو زده کړو مالي او اداري معین پوهاند خیشکی، د انتشاراتو رئیس ښاغلی نوربخش، د پلان او پالیسۍ رئیس محمد مهرور او د ننګرهار پوهنتون رئیس ډاکټر محمد صابر هم موجود وو.

د همدې میاشتې په ۱۱مه نېټه د افغان ماشومانو لپاره د آلمان د مرستو مشر، چې د ۱۳ بېلابېلو طبي کتابونو مالي لګښت یې پر غاړه اخیستی وو، د ننګرهار له طب پوهنځي څخه لیدنه وکړه.

نومورړي له استادانو او محصلينو سره وکتل او محصلينو ته يې کتابونه وويشل.
ده له افغانستان ټايمز سره په يوه مرکه کې وويل، چې اوسمهال د طب او نورو پوهنځيو (انجنيري، ساينس، ټولنيز علومو، لرغونپوهنې، او طبيعي علومو) لپاره له ۴۵ عنوان څخه زياتو نورو درسي کتابونو د ليکلو چارې د مختلفو پوهنتونونو د استادانو له خوا دوام لري، چې ډېر ژر به ترسره شي.
ډاکټر وردګ وويل «د کتابونو د چاپولو او د هغوی لپاره د بودجې د پيدا کولو لپاره موږ د نورو لارو چارو په لټه کې يو.»
د دې ډول پروژو او معياري کتابونو چاپول، د لوړو زده کړو او پوهنتونونو د پرمختګ په لوري يو ګام دی، چې تقريباً د طبي پوهنځيو ۶۰۰۰ محصلين به ورڅخه ګټه واخلي. دا به د دوی په راتلونکي کې د ډاکترانو په ښه روزنه او د ناروغانو په درملنه کې مرسته وکړي.
نومورړي په پای کې وويل چې له ټولو استادانو څخه هيله لرم چې په خپلو رشتو کې نوي کتابونه وليکي، د چاپ لپاره يې زموږ په واک کې راکړي، چې د ټولو پوهنځيو محصلينو ته ورسوو.
همدارنګه له استادانو څخه غوښتنه کوو، چې د نويو کتابونو د ليکلو ترڅنګ علمي کتابونه و ژباړي، پر خپلو پخوانيو کتابونو، لکچرنوټونو او چپټرونو بيا کتنه وکړي، د چاپ لپاره يې چمتو کړي او تر موږ يې را ورسوي، موږ دوی ته د با کيفيته ترتيب او چاپ ډاډ ورکوو.[۱]

❖

[۱] افغانستان ټايمز، په درسي کتابونو سره د طب پوهنځيو سمبالتيا، کابل، د ۲۰۱۲ زېږديز کال د اپرېل د مياشتې ۲۸مه نېټه.

# د ننګرهار طب پوهنځي
# ته درسي کتابونه ورکړل شول

*یاددښت: د افغان ماشومانو لپاره د آلمان د مرستندویه ټولنې په مالي مرسته د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي د یو شمېر استادانو بېلابېل طبي کتابونه چاپ او د ۲۰۱۳ کال د جنوري میاشتې په ۹مه نېټه یې دغه پوهنځي ته د ګټې اخیستنې په موخه ډالۍ شول. د افغانستان ملي تلویزیون د دې کتابونو د ډالۍ په بهیر یو ګزارش جوړ کړی وو چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:*

د افغان ماشومانو لپاره د آلمان د مرستو ټولنې د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي د یو شمېر استادانو ۷ عنوان بېلابېل طبي درسي کتابونه د چاپ په ګاڼه سمبال او د ننګرهار پوهنتون په طب پوهنځي کې یې د یوې غونډې په ترڅ کې په وړیا ډول ددغه پوهنځي په واک کې ورکړل.

د لوړو زده کړو وزارت سلاکار ډاکټر یحیی وردګ په وینا، دغه کتابونه په ټولیزه توګه ۷۰۰۰ ټوکه دي، چې ترڅنګ یې په ۷۰۰۰سي ډي ګانو کې د کتابونو لیکنې برخه هم له کتاب سره مل ورکړل شوه.

ننګرهار طب پوهنځي ته د دغه کتابونو د ورکړې په غونډه کې، چې د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي مسؤولینو او استادانو برخه درلوده. د ننګرهار ولایت مرستیال محمد حنیف ګردیوال، ددغه کتابونو په چاپ خوښي وښوده او زیاته یې کړه، چې په دې سره به د محصلینو په علمي سویه کې مثبت بدلون راشي.

د ننګرهار پوهنتون رئیس ډاکټر محمد صابر مومند وویل: «په دغو کتابونو سره به یې د محصلینو هغه ستونزه، چې د کتابونو او درسي موادو د کمښت په برخه کې یې درلوده، تر یو حده حل شي.» نوموړي همدارنګه د افغان ماشومانو لپاره د آلمان د مرستو ټولنې له دغه ستري مرستې څخه مننه وکړه او په راتلونکي کې یې ترې د

دوام هیله وکړه.

د افغان ماشومانو لپاره د آلمان د مرستو ټولنې مشر، ډاکټر ایروس وویل: «دوی په دې هڅه کې دي چې افغان محصلینو ته درسي مواد برابر کړي، چې په همدې ترځ کې یې تر دې دمه ۲۰ عنوان بېلابېل طبي کتابونه، چې د ننگرهار د طب پوهنځي استادانو لخوا لیکل شوي دي، چاپ کړي او د دې ۷ عنوان کتابونو په شمول یې ننگرهار طب پوهنځي ته په واک کې ورکړي.»

د لوړو زده کړو وزارت سلاکار ډاکټر یحیی وردگ په وینا دا کتابونه په دې ډول دي: «د قندونو هضم، د پوستکي ناروغۍ، د هاضمې جهاز ناروغۍ، د کوچنیانو ناروغۍ، غوږ پزې او ستوني او د ویټامینونو د کموالي ناروغیو کتابونه شامل دي، چې د ننگرهار د طب پوهنځي استادانو ډاکټر یحیی فهیم، ډاکټر میر محمد اسحاق خاورین، مرحوم ډاکټر اسدالله شینواري، پوهاند ظفرزي، ډاکټر ایمل شېرزي او ډاکټر عبدالستار نیازي لیکلي دي.»

د نوموړي په وینا، دغه کتابونه هر یو یې ۱۰۰۰ ټوکه چاپ شوی او په ننگرهار طب پوهنځي برسېره به یې د هېواد نورو دولتي طب پوهنځیو ته هم واستوي، چې محصلین ترې گټه واخلي. ده وویل: «دغه کتابونه به د لوړو زده کړو د کیفیت په لوړوالي کې گټور تمام شي.»[1]

[1] د افغانستان ملي تلویزیون، ننگرهار، د جنوري د میاشتې ۹مه نېټه، ۲۰۱۳ زېږدیز کال

# د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت نن د
# هېواد د پوهنتونونو نوی درسي نصاب اعلان کړ

د لوړو زده کړو وزیر عبیدالله عبید، نن په یوه خبري غونډه کې وویل چې دغه نصاب د بهرنیو هېوادونو له درسي معیارونو سره برابر دی.

نوموړي زیاته کړه چې د ټولو پوهنتونونو او پوهنځیو پر درسي نصاب له سره کتنه شوې او نوی نصاب جوړ شوی او پر همدې اساس غواړي، چې درسي پروګرامونه پرمخ بوزي.

اوسمهال د اکثرو پوهنتونونو زده کوونکي شکایت کوي، چې د درسي نصاب مواد یې زاړه دي[1].




د ننګرهار طب پوهنځي کې دغه زاړه چپترونه تدریس کېدل چې کابو دېرش کاله زاړه وو، چې بیا قدرمنو استاذانو اپډېټ کړل، وروسته مو د کتابونو په شکلچاپ او تقسیم کړل.

---

[1] مشال راډیو، واشنګټن ډي سي، د امریکا متحده ایالات، ۲۶ مارچ ۲۰۱۳ زېږدیز کال،
*http://www.mashaalradio.org/content/news/24939265.html*

# یو شمېر زړه سواندي افغانان د خپل هېواد له روغتیايي سیستم سره مرسته کوي

*یاددښت: دغه مطلب چې عنوان يې دی: (د افغانستان روغتیایي سیستم او زړه سواندي افغانان) لیکوال او څېړونکي ښاغلي حیات الله حلیم د ۱۳۹۱ هجري لمریز کال د وری د میاشتې په ۱۴ مه نېټه د هېواد په مشهوره دولتي ورځپانه کې خپور کړی دی چې بشپړ متن يې دلته خپرېږي.*

د افغانستان اقتصاد دمګړۍ په نظامي، فرهنګي او سیاسي برخو کې د نړیوالو په مرستو ولاړ دی، خو دغه مرستې په پورتنیو برخو کې د زماني په تېرېدو سره د فساد قرباني شوي دي. ماهرو کړیو ددې مرستو بهیر د ځان په لوري کش کړ او بیا يې په ملیونونو ډالرو له افغانستان څخه بهر ته انتقال کړل او په بهرنیو ملکونو کې يې پرې پانګوني وکړې. څه موده د مخه پخپله جمهور رئیس ښاغلي حامد کرزي هم دغه ټکي ته په اشارې سره پر هغو کسانو غږ وکړ، چې پیسې د باندې مه وړئ او هیله يې ترې وکړه چې پخپل هېواد کې سرمایه ګزاري وکړي او دا ګټه پخپلو هېوادوالو ولوروي. خو دغو سپین سترګو کسانو د هېچا خبره و نه منله او په ډېره بېرحمۍ يې پیسې له ملکه یوړې، دا د هغوی خپل کار دی.

خو په مقابل کې يې داسې زړه سواندي هېوادوال هم لرو، چې د پورتنیو بېرحمو کسانو پر خلاف يې د نړیوالو یو مقدار مرستې پخپل لاس ملک ته راوړي او پرته له دې، چې راوړل شوې مرستې ددغه راز هوس بازانو د هوسونو قرباني شي، پخپل لاس يې د خپلو هېوادوالو په درد دوا کوي چې یو هم له دغو زړه سواندو هېوادوالو څخه ډاکټر محمد یحیی وردګ دی، چې د هېواد طبي خدمتونو ته يې له بهر څخه داسې پروګرام راوړی چې په دغه پروګرام کې په نړیوالو معیارونو برابر د عصري او پرمختللیو وسایلو په ذریعه تدریسي نوی مېتود پر مخ وړل کېږي.

ډاکټر یحیی وردګ، دمګړۍ د لوړو زده کړو په وزارت کې د هېواد د شپږو پوهنتونونو (کابل، ننګرهار، هرات، کندهار، بلخ، خوست) د طب پوهنځیو د استادانو علمي او

څېړنيز اثار د طب د محصلينو د پوهې د کچې د لوړولو لپاره په پښتو او دري ژبو چاپوي، چې يوازې د ۲۰۱۰ کال څخه تر ۲۰۱۱ زېږديز کال پورې يې د نوموړو پوهنتونونو لپاره په بېلابېلو رشتو کې ٦۰ عنوان ډول ډول کتابونه، چې هر يو يې زرهاوو ټوکو ته رسېده چاپ کړي او د يادو پوهنتونونو په واک کې يې ورکړي دي. تر دې د مخه د افغانستان د طب د پوهنځيو محصلين او استادان له ډېرو ستونزو سره مخ وو؛ ځکه چې پخواني مواد په زړه طريقه او بې کيفيته کاغذ چاپ او په ورته مېتود تدريس کېدل. د درسي کتابونو د چاپ تر څنګ، چې ددغه پروګرام يوه پروژه ده؛ بلکې لکه د مخه چې وويل شول په نوي مېتود او عصري او پرمختلليو وسايلو په کارولو سره د تدريس د چارو مخته وړل او همدارنګه په هېواد کې د طبي تدريس د اوسني وضعيت او کيفيت شننه او د اړتياوو ارزونه، په هر طبي پوهنځي کې کتابتون او کادري روغتونونه، چې پر هغو بايد محصلين په علمي ډول ټريننګ شي او د ستراتيژيک پلان برخه شامله ده. د کتابونو مالي لګښت د يوې داسې موسسې لخوا ورکول کېږي، چې د ډاکټر يحيى وردګ لخوا دې کار ته هڅول شوي او افغانستان ته راوستل شوې ده.

که ډاکټر يحيى وردګ او دده نه ستړې کېدونکې هڅې نه واى، نو زموږ هېواد به په طبي ډګر کې له داسې سترې شتمنى، چې د طبي کتابونو چاپ او د نورو لازمو اسانتياوو شتون دى، بې برخې واى. پخپله ډاکټر محمد يحيى وردګ وايي: «د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۲ زېږديز کلونو تر منځ مې د ننګرهار او مزار شريف د طب له پوهنځيو ليدنه وکړه او دا مې احساس کړه، چې نوموړي پوهنځي ډېرې ستونزې لري. ددغو پوهنځيو استادان د ليدنې پر مهال د خپلو پوهنځيو لپاره د اکاډميکو او رغنيزو مرستو غوښتونکي شول او د ليدنې په ترځ کې دا هم وليدل شول، چې استادان د تدريس چارې په زاړه او وروسته پاتې سيستم پر مخ بيايي او د ليکچر له مېتود نه ګټه اخلي.

ددې ستونزې د هوارولو لپاره موږ د تېرو دوو کلونو په ترځ کې د طب پوهنځيو لپاره د کتابونو چاپولو او د نور عصري سيستم هلې ځلې پيل کړي.»[1]

---

[1] حليم، حيات الله، د افغانستان روغتيايي سيستم او زړه سواندي افغانان، هېواد ورځپاڼه، کابل د ۱۳۹۱ هجري لمريز کال د ورى د مياشتې ۱۴مه نېټه.

# مشکلات کتب درسی محصلین پوهنتون های افغانستان

*یاددنبت: په بن نبار کې له آلمان غږ راډیو سره د ډاکټر یحیی وردک مرکه چې د ۲۰۱۳ زېږدیز کال د سپتمبر په میاشت کې ترسره شوه.*




در برنامه امروز، گزارش های از ولایات هرات و خوست در مورد مشکلات محصلین در افغانستان در زمینه دسترسی به کتب و مواد درسی داریم و در همین رابطه با آقای داکتر یحیی وردک مشاور و متخصص اداری وزارت تحصیلات عالی افغانستان و رئیس مرکز افغانیک را در ستدیو با خود داریم و به سوالات شما شنوندگان عزیز در همین رابطه پاسخ خواهند گفت:

*- سلام خدمت شما آقای وردک و خوش آمدید.*

-وعلیکم السلام، من هم سلام های خود را از بن به شنوندگان عزیز در افغانستان و در هر جای دنیا که هستند میگویم.

*- وردک صاحب زمونږ خپرونې ته ښه راغلاست.*

- مننه.

*پوښتنه: وردک صاحب که په لومړي سر کې دا راته ووایاست، چې تاسې د درسي موادو او کتابونو په برخه کې د محصلینو دغه ډول مشکلات څه ډول ارزیابي کوئ؟*

ځواب: په ۲۰۰۹ زېږدیز کال، کله چې زه د افغانستان ځینو پوهنتونونو ته تللی وم، هلته مې محصلین ولیدل، چې د لسګونو کلونو پخواني لکچر نوټونه، چپټرونه او په لاس لیکل شوي درسي مواد په خپله فوتوکاپي کوي او له هغو څخه منحیث درسي

موادو استفاده کوي. دغه حالت زه ډېر خپه کړم، حتی ما و ژړل، نو بیا ما تصمیم و نیو، چې زه به د درسي موادو په برخه کې کار کوم او له هغې راهیسې زه د افغانستان د لوړو زده کړو په وزارت کې کار کوم او تر اوسه پورې مو ۱۱٦ عنوان طبي درسي کتابونه هر کتاب لږ تر لږه د ۱۰۰۰ ټوکه په تیراژ چاپ کړی دی او د افغانستان ټولو طبي پوهنځیو ته مو رسولي دي.

*سوال: بلی آقای وردک، شما گفتید که کتاب های چاپ شده، آیا این کتابها تالیف و یا ترجمه شده و به چه تعداد بوده، اگر درین رابطه روشنی بیاندازید؟*

ځواب: بلی، کتابهای که ما تا حال چاپ کردیم هم تالیف است و هم ترجمه، اکثریت این کتابها در حدود ۹۰٪ از طرف استادان پوهنتون های مختلف افغانستان مثلاً ننگرهار، خوست، کابل، هرات و بلخ تالیف شده اند، که این استادان ۲۰ الی ۳۰ سال تجربۀ کاری دارند. اینها در طول همین کار خود کتابها ومواد درسی را جمع آوری نموده و تالیف کرده و بعدا برای ما می سپارند و ما اینها را در چاپخانه های کابل برده و چاپ میکنیم. و بعد از آن به تمام پوهنتونهای افغانستان که اکثریت پوهنځی طب دارند روان میکنیم. تیراژ این کتابها ۱۰۰۰ الی ۲۰۰۰ نسخه میباشد و هر کتاب دارای یک سی دی بوده، که تمام محتوای کتاب بالای سی دی بوده و تمام کتابها را از یک صفحۀ انترنیتی که بنام www.ecampus-afghanistan.org میشود که در تمام افغانستان و در تمام دنیا داونلود شود.

- ګرانو اورېدونکو ځومیاشتې مخکې د لوړو زده کړو وزارت اعلان وکړ، چې د هېواد ټولو پوهنتونونو ته یې نوی نصاب برابر کړی دی او د کال په پیل لومړي سمستر کې به یې تدریس کېږي.

په دغه نصاب کې د طب پوهنځي لپاره هم ځینې کتابونه شامل وو چې له نورو نړیوالو ژبو څخه ژباړل شوي، خو د هېواد په سویل ختیځ کی د خوست شیخ زاید پوهنتون د طب پوهنځي محصلین اوس هم د یو شمېر مسلکي کتابونو په برخه کې ستونزې لري، دا چې دا څه ډول ستونزې دي، د فریدالله ظاهر په ګزارش کې به ورته غوږ شو.

- د دغه پوهنځي یو شمېر محصلینو آلمان غږ راډیو ته وویل، چې پوهنځي ته یې یو تعداد کتابونه له کابل څخه را رسېدلي، خو دوی ته له څو ټوکه څخه پرته نور نه دي ورکړل شوي او په کتابتون کې ساتل کېږي، دغه محصلین وایي، لا هم د طب پوهنځي

د مسلکي کتابونو له کمبود سره مخ دي او اړ دي، چې یا له چېترونو څخه استفاده وکړي او یا هم د ښار له شخصي کتاب پلورنځیو څخه په پیسو کتابونه را ونیسي.
محصل- محمد اسلام د شیخ زاید پوهنتون د طب پوهنځي د دویم کال محصل یم.
محصلین د کتابونو په برخه کې له یو شمېر ستونزو سره مخ دي، د مثال په ډول له مایکرو بیولوژي څخه باید شروع کړم، دلته په کتابخانه کې داسې یو کتاب نشته، چې هغه له مایکرو بیولوژي څخه نماینده ګي وکړي، چې محصلین ور څخه استفاده وکړي، نو هغه کتابونه چې دي کنه، استاد چپټر راکوي، همدغه چپټر چې دی، موږ همغه وایو. د فزیولوژي په برخه کې هم، د کابل پوهنتون استاد یو کتاب لیکلی دی، دلته په کتابخانه کې هغه نشته، موږ له بازار څخه په پیسو رانیولی دی.
- د شیخ زاید پوهنتون د طب پوهنځي د دریم ټولګي یو شمېر محصلین بیا شکایت کوي، کوم کتابونه چې د اړوند وزارت له لوري ورته رالېږل شوي دي، استادانو د هغه د تدریس پرځای چپټر جوړ کړی دی، چې له کتابونو څخه یوازې د آزادې مطالعې په توګه ګټه ترې اخلي او د کتاب موضوع د استادانو له تدریس سره ډېر توپیر لري.
- کوم استاد چې موږ ته درس وایي هغه او دغه کتاب، له یو بل سره سمون نه خوري، یعنې دا چې استاد موږ ته هېڅ کتاب نه وایي، هغه په خپله کتاب جوړ کړی، لس کلن چپټر یا پنځه کلن چپټر ټولو مضامینو کې هم داسې دی.
په یو مضمون کې نه، په دوو مضمونونو کې نه بلکې په ټولو مضامینو کې هماغه پخواني چپټرونه چې استادانو لیکلي دي هماغه چپټرونه تدریس کېږي، هو بلکل دا کوم چې وزارت وایي، چې موږ کتابونه را استولي دي او دا کتابونه له هماغه درس سره هېڅ سمون نه لري.
- د خوست د طب محصلین په عین حال کې له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې په ځینو برخو کې انګلیسي- کتابونه هم ورته را ولېږي؛ ځکه په وینا یې هغه علمي موضوعات، چې په یادو کتابونو کې شته، په پښتو او دري کتابونو کې یې نه شي موندلی، خو په ورته وخت کې د طب د پوهنځي رئیس جهان شاه تڼي له دې امله له آلمان غږ راډیو سره له خبرو کولو ډډه وکړه، چې په وینا یې وزارت ته یې په بیا، بیا د کتابونو او د پوهنځي د اړوندو ستونزو رسمي مکتوبونه لېږلي دي، خو تر اوسه یې د دوی په غوښتنه هېڅ غور پرې نه دی ګرولی. په همدې حال کې موږ وغوښتل، چې د یادو ستونزو په اړه د

خوست د شیخ زاید پوهنتون له رئیس پوهندوی محمد رسول باوري سره خبرې وکړو، خو هغه ته د نوموړي په دفتر کې نږدې یو ساعت انتظار شوو او د مرکې لپاره یې وخت رانکړ او نه یې په دې اړوند خبرې راسره وکړې.

خوست شیخ زایدپوهنتون ۱۵ بابه پوهنځي لري او کابو ۷۵۰۰ تنه محصلین په کې زده کړه کوي، چې دا د هېواد د بېلو بېلو سیمو ځوانان دي او نږدې ۹۰ تنه نجونې هم د یاد پوهنتون په بېلو بېلو پوهنځیو کې په زده کړو بوختې دي.

*پوښتنه: بلې، وردک صاحب د خوست رپوټ مو واورید، تاسې په دې هکله څه وایاست؟*

ځواب: لومړی خو دا باید ووایم، چې د مایکرو بیولوژي مضمون، چې موږ درې کتابونه د پوهاند دوکتور عبیدالله عبید، چې اوس برحاله د لوړو زده کړو د وزارت وزیر دی، چاپ شوي دي. دغه کتابونه په ۲۰۰۰ ټوکو کې چاپ شوي او دا مو ټولو پوهنتونونو ته لېږلي دي، چې پرازیتولوژي ده، مایکروبیولوژي عمومي او مایکرو بیولوژي خصوصي ده. همدا شان عمومي مایکرو بیولوژي د شاخص چاپ کړې ده، بله مایکرو بیولوژي د پوهاند محمد جمعه حنیف چاپ کړې ده، اساسات پرازیتولوژي د یوسف مبارک او پرازیتولوژي د ډاکټر صابر، چې په یو مضمون کې موږ دومره کتابونه چاپ کړي دي او دا مو تقسیم کړي دي.

دا چې موږ په افغانستان تر ۷۰۰۰ تنو پورې د طب محصلین لرو، نو متأسفانه نشو کولای، چې هر محصل ته یو کتاب ورکړو. دا داسې کېږي، چې موږ زیاتره کتابونه، کتابخانو ته ورکوو، محصل باید د سمستر په پیل کې کتاب، د کتابخانې څخه واخلي، بیا امتحان یې چې ورکړ، کتاب بېرته کتابخانې ته ورکړي، دا یوه مسئله.

دویمه مسئله دا ده، ښه ده چې دوی خپله تصدیق وکړ، چې کتابونه ورته رسېدلي دي، خو دا چې د دوی استادان د دغه کتابونو پر عوض پخواني چپټرنوټونه استفاده کوي دا باید دوی خپله اداري ته ووایي او همدغه استادان او مسوولین یې، یعنې رئیس د پوهنځي او رئیس د پوهنتون باید دغه استادان وهڅوي، چې د نویو درسي موادو او ستندرد موادو څخه استفاده وکړي.

- *بلی آقای وردک، یکی از شنوندگان از ولایت بلخ در همین رابطه سوال را مطرح کرده اند:*

- بسم الله الرحمن الرحیم، یکی از محصلین پوهنتون بلخ هستم، من از مهمان برنامه

سوال دارم که آیا منابع درسی ای که از خارج به زبان های ملی ما ترجمه میکند، آیا وزارت تحصیلات عالی بالای اینها نظارت دارد و یا خیر؟

ځواب- بلی، من برای شما باید عرض کنم، که تنها یک قسمت کمی از این کتابها ترجمه شده، مثلاً یک کتاب است که راهنمای اساسی انستیزی برای کشورهای رو به انکشاف، این کتاب را طوری چاپ کرده ایم که یکطرف آن انگلیسی است و همان تکست اصلی طرف دست چپ آن دری است. اکثریت کتابهای را که ما چاپ کردیم و به دسترس شاگردان افغانستان قرار دادیم، انها نوشته و تالیف استادان پوهنځی های طب افغانستان هستند. هر کتاب تصدیق میشود از طرف آمر دیپارتمنت مربوطه، رئیس پوهنځی مربوطه و رئیس پوهنتون مربوطه، آنها تصدیق میکنند، که این کتاب درست نوشته شده است و این کتاب قابل استفادهٔ محصلین است و به درد محصل می خورد، بعد از آن ما اقدام به چاپ وتوزیع آن میکنیم.

*- بلې، تشکر ډاکټر صاحب، تاسې د کتابونو ژباړې ته اشاره وکړه، خو بیا هم ځینې محصلین د ژباړې په بر خه کې مشکلات لري، لکه دغه خور چې موږ ته وایي:*

- زه له ډاکټر صاحب څخه دا پوښتنه کوم، چې دا کتابونه چې دوی ترجمه کړي دي، له دې څخه محصلین په پوره توګه استفاده نه شي کولی، یعنې مطلب مې داسې دی، چې له یو څو جملو ویلو څخه وروسته داسې یوه نقطه پکې راځي، چې محصل پکې بند پاتې کېږي، بیا مجبور دی، چې هغوی انګلیسي- ټکسټ بوکونو ته مراجعه وکړي، خپل مشکل له هغې څخه او یا د انټرنیټ له لارې موضوع ګوګل کې واچوي، سرچ وکړي او موضوع ځانته پیدا کړي، په دې اړه ډاکټر صاحب څه نظر لري؟

ځواب: د دوی دغه تشویش د هغه کتابونو په هکله پرځای دی، چې یا په خارج کې یا په داخل د افغانستان کې یو په یو د بهرنیو منابعو څخه یې ترجمانان ترجمه کوي، چې هغه د مسلکي ترمینالوژي باندې نه پوهېږي، په داسې مواردو کې دغه مشکل شته چې دا باید حل شي، زموږ کتابونه دغه مشکل نه لري، زموږ حتی دري کتابونه مکمل په انګلیسي ژبه کې دي او یو کتاب مو داسې دی، چې یوې خواته یې هغه اصلي متن په انګلیسي دی او بلې خواته یې دري متن دی، چې په دې کې دغه مشکل نشته.

*- بلی آقای وردک، شماری از محصلین پوهنتون هرات مگویند، تا اکنون هیچ نوع کتابی به زبان های پشتو و دری از طرف وزارت تحصیلات عالی در دسترس آنها قرار*

*نگرفته است. در همین رابطه همکار ما هوشنگ هاشمی از ولایت هرات گزارشی دارند که باهم می شنویم:*

- شماری از محصلین در پوهنتون هرات، از عدم موجودیت کتاب های مسلکی به حد کافی شکایت دارند و میگویند که مسوولان به این مشکل توجه جدی ندارند. نظیر احمد محصل سال سوم پوهنځی انجنیری پوهنتون هرات میگوید: به دری و پشتو بسیار کتاب کم است و به فارسی ایرانی است.

کتابهای که به درد بخور باشد خیلی کم است، بعضی لغت های دارند که ما به انها اشنایی نداریم و دیگر بیشتر به زبان انگلیسی است، کتاب های مسلکی خیلی است، ولی آنقدر که بتوانیم استفاده نماییم نیست و یا از هر کتابی اگر یک و یا دو جلد باشد، مثلاً بعضی کتابهای بخش لابراتوار هستند، شاید یک و یا دو جلد در تمام فاکولته باشد، اما به دسترس استادان و شاگردان نیست. خیلی بچه ها هستند از اطراف که بیچاره ها پول ندارند واین جا که میایند، خرچ و مصرف اطاق را حساب نموده و کتاب خریدن برای آنها مشکل میشود. این در حالیست که در شماری از پوهنځی های پوهنتون هرات عدم توجه به کتابخانه ها، مشکلاتی را برای محصلین بوجود آورده است.

پرویز عازم محصل پوهنځی کمپیوتر ساینس پوهنتون هرات میگوید:

کتابهای را داخل کتابخانه گذاشته، ولی متأسفانه ما کتابداری را نداریم، کسی که مسؤول کتابخانه است ما نداریم، متاسفانه این بی توجهی ریاست پوهنتون است.

فرهاد نیکزاد محصل پوهنځی طب میگوید:

محدودیت کتابهای مسلکی بر مشکلات محصلان، چند برابر افزوده است، تعداد کتابها کمتر از چیزی است که برای تمام محصلین برسد.

شاید ۱۰ جلد تکست بوک ما از یک مضمون داشته باشیم و طبعاً برای بیشتر از ده نفر کفایت نمیکند و مجبوریم که یک کتاب از آن گرفته و آنرا کاپی نماییم و آنرا انتشار کنیم، چون به هر صنف حدوداً صد نفر و یا هشتاد محصل در یک صنف است.

- نذیر احمد سکندری، معاون پوهنتون هرات، مشکل محدودیت کتاب درین پوهنتون را رد کرده و او میگوید در سال جاری بیش از ۲۰۰۰۰ جلد کتاب، بیش از ۵۰۰ عنوان درین پوهنتون جذب شده است.

- ما نمیتوانیم که کتاب را ببریم، به محصلین بدهیم، که باخود داشته باشند. اکثراً محصلین در قسمت حفظ کتاب کوشا نیستند.
کتابهای از لحاظ مسایل نگهداری به مشکل مواجه اند، اما کتابها همه به کتابخانه های اختصاصی که ما در هر پوهنځی داریم و کتابخانه عمومی پوهنتون هر وقت که خواسته باشید در آنجا کتابدارهای ما هستند که از آنها استفاده کنند.
- مسوولان پوهنتون هرات میگویند، کشورهای مختلف، به ویژه امریکا و آلمان در قسمت تهیه کتاب های مسلکی در طی ۱۰ سال اخیر کمک های زیادی را نموده اند.
*- بلی آقای وردک، شما گزارش را شنیدید، آیا کدام پروگرام مبنی بر خریداری کتاب برای کتابخانه های پوهنتون داشته اید و یا در آینده دارید؟*
ځواب: اول باید بگویم که محصلین عزیز راست میگویند، واقعاً افغانستان و پوهنتون های افغانستان اشد ضرورت به کتابهای به زبان پشتو و دری دارند، متأسفانه اکثریت محصلین ما به زبانهای خارجی و انگلیسی نمیدانند و کتابهای انگلیسی هم وجود ندارد و یا اگر وجود دارد، خیلی قیمت هستند، به این خاطر باید در پهلوی پروگرام کتابهای طبی، که ما از ۳ سال به اینطرف بالایش کار کردیم و یک تعداد چاپ شده و در دسترس محصلین قرار دارد. باید در تمام بخش های غیر طبی، مثلاً علوم اجتماعی، تاریخ، ادبیات، علوم طبیعی، ساینس و در تمام رشتهٔ که تدریس میشوند، در افغانستان باید یک کتاب درسی به زبان پشتو و دری وجود داشته باشد. خوشبختانه در بخش معارف، وزارت معارف از چندین سال به اینطرف یک پروگرام وسیعی چاپ کتب درسی را از صنف اول الی صنف دوازده در تمام مضامین آغاز کرده بود و در چند سال اخیر کتابها به تمام مکتب های افغانستان توزیع شده و حتی کتاب رهنمای معلم هم در این اواخر چاپ و به دسترس معلمین قرار دارد. همین طور باید برای تمام پوهنتون های افغانستان، یک پروگرام ملی کتاب های درسی را در تمام رشته ها داشته باشیم، مثلیکه محصلین گفتند، نظر من همینطور است.
در کیفیت تدریس رول عمده را استاد و کتاب درسی دارد، جاییکه کتاب درسی وجود نداشته باشد، در آنجا محصل بیچاره نمیتواند درس را خوب یاد بگیرد و درس را که خوب یاد نگرفت، یک داکتر خوب بوجود نمیاید و داکتر خوب که نداشتیم، پس مریض های ما تداوی نمی شود و باید به خارج بروند.

*- بیا به هم د اوربدونکو پیامونوته ورشو او وابه ورو، چې زموږ دغه اوربدونکی څه وایي:*

- بسم الله الرحمن الرحیم. زما نوم محمد خالد دی، د ننگرهار اوسېدونکی یم، له ډاکټر صاحب څخه زما پوښتنه دا ده، چې د دغو محصلینو لپاره په پوهنتونونو کې کوم کتابونه ژباړل کېږي، کنه د دې لړۍ باید چې تر ډېره وغځول شي. زموږ لپاره مهمه خبره دا ده، چې زموږ لپاره همغه مسلکي کتابونه، یعنې د طب پوهنځي لپاره، چې کوم کتابونه اړین او ضروري دي، باید ورته وژباړل شي.

دا مهمه نه ده، چې دوی دې د جلدونو شمېر تر ۲۰۰۰ او ۳۰۰۰ پورې رسوي، کنه یو کتاب دې و ژباړي، خو په صحیح طریقه سره، چې محصلین په ښه توگه ورڅخه استفاده وکړي.

ځواب: زموږ دغه محصل رښتیا وایي، باید همدغه لړۍ وغځول شي، یعنې پراختیا پیدا کړي، یعنې په هغو برخو کې چې کتابونه تر اوسه ندي ترجمه شوي، نه دي چاپ شوي باید چاپ شي او دوی بله مسئله د کیفیت هم مهمه ده، باید او باید ښه کتاب و ژباړل شي، ښه کتاب چاپ شي او کیفیت ته یې توجه و شي، پوره ورسره موافق یم.

*- بلی آقای وردک، مصارف کتابهای که شما چاپ کرده اید چقدر شده وکی تمویل کرده، من فکر میکنم مؤسسه همکاری های اکادمیک آلمان DAAD با شما همکار بوده اند؟*

ځواب: در مورد چاپش در قدم اول DAAD، یا جرمن اکادمیک اکسچنج سرویس با ما همکاری کرده، که اکثریت کتابها با مصارف همین مؤسسه چاپ شده است، درین اواخر خصوصاً در دو سال اخیر یک مؤسسۀ دیگر به نام (کندرهلف - افغانستان)، که رئیس آن داکتر ایروس است، آنها در بخش چاپ کتب درسی برای ننگرهار، چون آنها پروژه های تعلیمی دارند با ما همکاری کرده اند. درین جا باید بگویم، که مصارف فی کتاب تقریباً ۲ الی ۳ ایرو است، این فقط مصارف چاپ کتاب است.

ما برای حق التألیف این کتابها و یا حق الترجمۀ این کتابها حتی یک افغانی هم به استادان و به مؤلفین نداده ایم، به خاطر اینکه آنها معاش میگیرند، برای تدریس وتهیۀ مواد درسی فعلاً ۱۱٦ عنوان کتاب طبی را چاپ وتقسیم کرده ایم و درین اواخر اولین کتاب غیر طبی بنام کتاب ریاضیات از پوهنتون خوست چاپ شد. کوشش ما همین است، که در بخش چاپ کتب غیر طبی هم اگر امکانات پیدا شود، که ما چاپ کنیم.

طوریکه شما شنیدید از محصلین عزیز ما که ایشان اشد ضرورت دارند که در بخش های غیر طبی هم کتاب چاپ شود.

*- بلې وردک صاحب، له بلې خوا د پوهنتونونو د تجهیزولو او د کتابونو د چاپولو په برخه کې د لوړو زده کړو له وزارت سره د نړیوال بانک له خوا (۵۰۰۰۰۰۰) ډالرو مرسته شوې ده، آیا له دغو پیسو څخه تاسو د کتابونو چاپولو په برخه کې ګټه اخیستې ده او که څنګه؟*

ځواب: متأسفانه؛ تر اوسه پورې مو د بانک جهاني له پیسو څخه استفاده نه ده کړې، پروسږ کال مو یو پیشنهاد وکړ چې بانک جهاني دا ومنله، خو متاسفانه دغه کتابونه د ځینو بروکراسیو په خاطر چاپ نشول. زما هیله او امید هم همدغه دی چې د لوړو زده کړو وزارت او د افغانستان نورې وزارتخانې چې نړیوال کومکونه ورسره کېږي، یو پروګرام ورته جوړ شي او دا به ډېر، ډېر پرځای کار وي. که د نړیوال بانک له پیسو څخه د نورو برخو ترڅنګ د درسي کتابونو د چاپ په هکله استفاده وشي، دا به ډېر پر ځای استفاده وي. دغه پیسې د همدې لپاره ورکول کېږي، د لوړو زده کړو وزارت ته ښایي چې باید په پوهنتونونو کې د تدریس کیفیت جګ کړي او بهترین وسیله د کیفیت د درس د جګولو د کتابونو چاپ دی.

*- بلی آقای وردک، آیا کتابهای که از سوی وزارت چاپ میشود، فقط در اختیار مراکز تحصیلات عالی دولتی قرار میگیرد؟ یا که مراکز تحصیلات عالی خصوصی هم میتوانند از اینها استفاده کنند، یک بخش؟ و بخش دیگر، آیا در دیگر کتابخانه ها به فروش میرسند یا خیر؟*

ځواب: کتابهای را که ما تا اکنون چاپ کرده ایم، بخش اعظم اینها به کتابخانه های پوهنتون های دولتی قرار گرفته و پوهنتون های که پوهنځی طب دارند، مثل پوهنتون طبی کابل، پوهنتون بلخ، هرات، قندهار، پکتیا، خوست،ننگرهار والبیرونی. درین اواخر در افغانستان یک سلسله پوهنځی های طب و پوهنتون های خصوصی هم ایجاد شده، که ما دو سه جلد هر کتاب را به همین پوهنځی های طب خصوصی هم در اختیار آنها می گزاریم، چون در آنجا هم داکتر تربیه میشود، مثلاً حتی در بعضی ولایات افغانستان در بلخ، هرات، قندهار، در خوست هم پوهنځی های طب خصوصی وجود دارند، ما همرای آنها همکاری میکنیم. ما از هیچ کس یک پول هم نگرفته ایم و

بطور رایگان در اختیار این ها قرار می گیرد. در پهلوی این ما به یک سلسله ارگان های دیگر هم یک، یک نمونه کتاب را میدهیم، مثلاً وزارت صحت عامه، یک سلسله شفاخانه های افغانستان مانند چهارصد بستر، به اکادمی علوم یک، یک نمونه این کتابها را روان میکنیم، یک سلسله مؤسسات دیگر را، منتها به شکل نمونه.

*- بلې وردک صاحب، که په آخر کې دا راته ووایاست، آیا د دغو کتابونو مؤلفینو لپاره هم د لوړو زده کړو د وزارت یا ستاسو لخوا کوم امتیاز ورته ورکول کېږي، که څنګه؟*

ځواب: په افغانستان کی سیستم داسې دی چې یو استاد کتاب چاپوي، کتاب لیکي، د هغې د علمي رتبې لپاره یو ضرورت دی او که دا کتاب د انسجام امور اکادمیک لخوا تأیید او منظور شي، دی یوه علمي رتبه اخلي دا یو امتیاز دی. زموږ لخوا څخه دوی ته یوازې پنځوس ټوکه کتابونه ورکول کېږي، منحیث تشکري، له دې څخه علاوه دوی ته هېڅ نوع پیسې موږ نه دي ورکړې.

*- د عالي تحصیلاتو په وزارت کې له سلاکار او اداري متخصص محترم ډاکټر یحیی وردک څخه یوه دنیا مننه، چې په ډېره حوصله مندی سره یې زموږ او د اورېدونکو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل.*

ځواب: ستاسو څخه هم یوه نړۍ مننه، چې زه مو دلته ستدیو ته را وبللم او په دغه موضوع کې مو زما غږ، د محصلینو غږ او د کارپوهانو غږ خلکو ته و رسول.[1]

---

[1] آلمان غږ راډیو، د افغانستان د پوهنتونونو لپاره د درسي کتابونو په اړوند له ډاکتر یحیی وردګ سره مرکه، بن، ۲۰۱۳زېږدیز کال، د سپتمبر میاشت. http://dw.de/p/19eHD

# د طب په برخه کې ۱۱۵ عنوان
# نوي کتابونه چاپ شوي

*یادښت: دغه لیکنه چې د ډاکتر یحیی وردک د دفتر له خوا د افغانستان د پوهنتونونو لپاره د ۱۱۵ عنوان نوو چاپ شوو کتابونو په هکله ده، د آلمان غږ راډیو نطاقې آغلې هاجره حرکت د ۲۰۱۳ زېږدیز کال د سپټمبر په ۹مه نېټه کړې چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:*

د آلمان د بهرنیو چارو وزارت، د دغه هېواد د اکاډمیکو تبادلو د خدماتو د اداري (DAAD) او د آلمان Kinderhilfe مرستندویه ټولنې په مرسته په افغانستان کې ۱۱٦عنوان درسي کتابونو چاپ کړي، خو محصلین د لا ډېرو مرستو غوښتنه کوي.




یو افغاني الاصله آلماني چې ډاکټر یحیی وردک نومېږي، له ۲۰۰۹ زېږدیز کال راهیسې په افغانستان کې د روغتیا په برخه کې د محصلینو لپاره د آلماني مرستندویه موسسو په مالي ملاتړ په پښتو، دري او انګلیسي ژبو کتابونه چاپوي.

ښاغلی وردک وايي، چې په دې برخه کې يې هغه وخت په کار پيل وکړ، چې افغانستان ته د خپل سفر پر مهال دې موضوع ته متوجه شو، چې په پوهنتونونو کې ډېر زاړه او له وخته تېر کتابونه تدريس کېدل.




د چاپ شويو کتابونو له ډلې څخه يوازې لږ شمېر يې له نورو ژبو پښتو او دري ته ترجمه شوي دي او پاتې نور يې ټول د افغانستان د طب پوهنځيو او په کابل کې د طبي علومو د پوهنتون د استادانو له خوا ليکل شوي آثار دي.
ښاغلي وردک له دويچه ويله سره په يوې ځانګړې مرکه کې وويل:
«موږ تر اوسه په دې توانېدلي يو، چې د افغانستان د طب پوهنتون (د کابل د طبي علومو پوهنتون) او نورو ولايتونو طب پوهنځيو لپاره ۱۱٦ عنوان کتابونه چاپ کړو» هغه زياته کړه: «د هر کتاب تيراژ له ۱۰۰۰ څخه تر ۲۰۰۰ پورې دی، چې په انګليسي، پښتو او دري ژبو چاپ شوي دي.»
چاپ شوي کتابونه ټول د روغتيا په برخه کې دي او د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو کې د طب محصلين کولای شي له هغوی څخه د درسي کتابونو او منابعو په توګه کار واخلي.
که څه هم د دغو کتابونو له چاپېدو سره د افغان محصلينو ځينې ستونزې حل شوې دي، خو محصلين اوس هم په کتابتونونو کې د درسي کتابونو او

منابعو له کمښت څخه سر ټکوي.

«زموږ کتابونه باید پر نړیوالو معیارونو برابر وي.»

د افغانستان د بېلابېلو پوهنتونونو استادان او محصلین وايي، چې د کابل د طبي علومو پوهنتون او په ولایتونو کې طب پوهنځیو ته باید ځانګړې پاملرنه وشي.

د ننګرهار د طب پوهنځي د وروستي کال محصله معصومه فاروقي وايي: «موږ زیات وخت د درس پر مهال له داسې پوښتنو سره مخامخ کېږو، چې په لکچرنوټونو کې ورته ځوابونه نه شو موندلای، له همدې کبله موږ داسې کتابونو ته اړتیا لرو، چې ورڅخه د منابعو په توګه کار واخلو.»

ښاغلی وردک هم له دې ستونزې خبر دی، هغه وايي چې د آلمان په مرسته چاپ شویو کتابونو تر یو حد پورې د افغان محصلینو ستونزې حل کړې دي، خو لا ډېر کار ته اړتیا شته.

ډاکټر وردک زیاتوي: «په کابل کې د طبي علومو په پوهنتون او د افغانستان په طب پوهنځیو کې اوس هم ډېرې تشې شته، چې باید ډکې شي.»




ډاکټر وردک وايي: «له څلورو کلونو راهیسې د افغانستان د لوړو زده کړو په وزارت کې کار کوي او تر اوسه پورې یې ۱۱٦ عنوان کتابونه چاپ کړي

دي.»

د هغه په خبره، هر چاپ شوی کتاب یوه CD هم لري، چې محصلین وکولای شي چاپ شوي کتابونه په ډیجیټل بڼه هم له ځان سره ولري.

د چاپ شویو کتابونو له ډلې څخه ۳ عنوانه یې په انګلیسې او نور یې په پښتو او دري ژبو چاپ شوي دي.

د چاپ شویو کتابونو له ډلې څخه یوازې لږ شمېر یې له نورو ژبو څخه پښتو او دري ته ژباړل شوي دي او پاتې نور یې ټول د افغانستان د طب پوهنځیو او په کابل کې د طبي علومو د پوهنتون د استادانو لیکل شوي آثار دي.

اوس هم د افغانستان د پوهنتونونو استادان او محصلین له ډېرو ستونزو سره مخ دي.

په داسې حال کې، چې ډېر شمېر نوي علمي کتابونه په انګلېسي- ژبه لیکل شوي دي، ډېر شمېر افغان محصلین او استادان له دې ژبې سره آشنایي نه لري او له دې کبله نه شي کولای، چې له نویو کتابونو څخه ګټه پورته کړي.[1]

---

[1] حرکت، هاجره، آلمان غږ راډیو، بن، د ۲۰۱۳ زېږدیز کال د سپټمبر ۹مه نېټه، http://dw.com/p/19eHD

# د هېواد د طبي پوهنتونونو د محصلينو
# د درسي کتابونو ستونزې په لرې کېدو دي

*ياددښت: دغه ليکنه چې په هېواد کې د طبي پوهنتونونو د محصلينو د درسي کتابونو د ستونزو د لرې کېدو په هکله ده، ليکوال او شنونکي ښاغلي حيات الله حليم د ۱۳۹۲ هجري لمريز کال د لړم د مياشتې په ۱۲ مه نېټه په هېواد ورځپاڼه کې خپره کړې ده. د دې ليکنې تفصيل په لاندې ډول دی.*

افغانستان دمګړی، په ټولو رفاهي برخو کې نړيوالو مرستو ته اړ دی؛ ځکه د ۳۵ کلنو تپل شوو او خپلمنځي جګړو له امله يې اقتصاد داسې شړېدلی دی، چې اوس د نړيوالو مليارډونو ډالرو مرستو باوجود هم په پښو نه درېږي.

که خبره له شف شف نه شفتالو ته را وباسو، زياتره دغه مرستې په پورتنيو برخو کې د فساد قرباني شوې او د ماهرو کړيو لخوا ددې مرستو يوه برخه په خاص مهارت له هېواد څخه بهر انتقال شوه او په يوه برخه يې په کابل کې آسمان څکې بلډنګونه جوړ شول. له بده مرغه هېڅ له مسئولو اړخونو څخه و نه پوښتل، چې دا پيسې مو له کومه کړې او نه يې د ښکاره فساد مخه ونيوه؛ ځکه هماغه کسان په فساد کې ښکېل وو چې د فساد کنټرول يې پر غاړه ؤو.

په هر صورت په مقابل کې يې بيا زموږ يو شمېر زړه سواندو هېوادوالو دا نړيوالې مرستې تر خپل مديريت لاندې هېواد ته را وړې او پرته له دې، چې راوړل شوې مرستې يې ددغه راز هوس بازانو د هوسونو قرباني شي، پخپل لاس يې د خپلو هېوادوالو په دردونو دوا کړې، چې يو هم له دغه زړه سواندو هېوادو الو څخه د لوړو زده کړو وزارت سلاکار او اداري متخصص ډاکټر محمد يحيى وردک دی، چې د هېواد طبي پوهنتونونو تدريسي ـ خدماتو ته

یې داسې پروګرام جوړ کړی، چې له مخې یې په همدغو پوهنځیو کې په نړیوال معیارونو برابر د عصري او پرمختللیو وسایلو په ذریعه تدریسي- نوی مېتود پر مخ وړل کېږي، ددې فعالیتونو په اړه مو د پوښتنو لپاره د ډاکټر محمد یحیی وردک په وړاندې ګونډه ماته کړه، نوموړي په پیل کې وویل:
«په ۲۰۰۹ زېږدیز کال، کله چې زه د هېواد ځینو پو هنتونو ته تللی وم هلته مې ولیدل، چې محصلین په ګوتو له لیکل شویو دېرش کلنو پخوانیو چپټرونو څخه کار اخلي هغه له یو بل سره تبادله کوي او یا فوتوکاپي ترې باسي. دا څه د حیرانتیا خبره نه وه؛ ځکه زموږ د ټولنې معمول او ایجابات همدا وو، خو دغه حالت زه ډېر خفه کړم، آن ومې ژړل، بیا مې هم له ځان سره پرېکړه وکړه چې زه به ددې ستونزې پ لرې کولو کې خپل رول لوبوم. له همدې کبله لاس په کار شوم او تر اوسه مې په بېلا بېلو برخو کې ۱۳۶ عنوان طبي کتابونه د افغانستان د پوهنتونونو د طب پوهنځیو ته چاپ کړي دي.»
ددې پو ښتنې په ځواب کې، چې آیا دا چاپ شوي کتابونه له بهرنیو ذرایعو څخه ژباړه شوي او که د هېواد د طبي پوهنتونونو د استادانو له خوا لیکل شوي آثار دي، ښاغلي ډاکټر یحیی وردګ وویل: «هغه کتابونه چې تر اوسه پورې موږ چاپ کړي دي، لس سلنه یې له داخلي او بهرنیو ذرایعو څخه ژباړل شوي دي، خو ۹۰ سلنه نوي چاپ شوي کتابونه د هېواد د مختلفو طبي پوهنتونو د هغو استادانو په وسیله تالیف شوي، چې هر یو یې له شل څخه تر دېرش کلونو پورې کاري تجربه لري.»
ددې پو ښتنې په ځواب کې، چې دغه چاپ شوي کتابونه بیا هم د طب محصلینو ته نه رسېږي او د خوست د طبي پوهنتون یو شمېر محصلین ګیله لري، چې دغه چاپ شوي کتابونه دوی ته ډېر ارزښت لري، خو د دوی

پوهنتـون تـه ډېـر کـم شـمېر ور رسـېدلي دي، اسـتادان دوی  تـه بیـا هــم لـه چپټرونو څخه تدریس کوي! په کوم تیراژ تاسې دا کتابونه چاپوئ؟

ښـاغلي وردک وویــل: «د هېــواد پــه طبــي پوهنتونونــو کــې لــه ٦٠٠٠ څخــه تــر ٧٠٠٠ تنـو پـورې محصـلین درس وایـي او دا لـه تـوان څخـه لـوړه خـبره ده، چـې هـر محصـل تـه یـو ټـوک کتـاب و رسـېږي. خـو مـوږ هغـه کتابونـه، چـې پـه طبـي ډګـر کـې ډېـره اړتیـا ورتـه محسوسـه ده پـه لـوړ تیـراژ چـاپوو، د مثـال پـه توګـه د مـایکرو بیولـوژي، پرازیتولـوژي، اساسـات پرازیتولـوژي مضـامین هـر یـو یـې د چـاپ پـه لـړ کـې ٢٠٠٠ټوکـه چـاپ شـوي دي او د هېـواد طبـي پوهنتونونـو تـه لېږل شوي دي.»

د هغـه پـه وینـا، چـې لـه چـاپ شـویو کتـابونو سره مـل د ټـول کتـاب محتـوا پـه (سي ډي) کــې هــم شــته او سي ډي د کتــاب پــه مــنځ کــې ده او هــم د یــوې انټرنېټـي پـاڼې پـه دننـه کـې دغـه کتابونـه پـه ټـول هېـواد کـې ډاونلـوډ کېـدای شي، خــو یحیــی وردک زیاتــه کــړه، چــې کــه اسـتادان او زده کـوونکي لــه دغـه کتـابونو څخـه د کتـابتونونو لـه لارې سـمه اسـتفاده وکـړي، د ټولـو  اسـتفادې تـه رسېږي.

ددې پوښـتنې پـه ځـواب کـې، چـې دغـه کتابونـه، چـې ستاسـې لخـوا چـاپېږي، پـه دولتـي طبـي پوهنتونونـو او ادارو سربېـره خصـوصي طبـي پوهنتونونـو تـه هـم رسېږي که نه؟ ښاغلي یحیی وردک وویل:

«ولـې نـه! د ننګرهـار، کابـل، بلـخ، کنـدهار، پکتیـا، خوسـت او البیـروني پـه طبـي پوهنتونونـو سربېـره د طـب خصـوصي پوهنتونونـو تـه هـم څـو څـو ټوکـه کتابونـه مـوږ رسـوو، ځکـه چـې دوی هـم ډاکټـران تربیـه کـوي او لـه بـل پلـوه مـوږ لـه هېچـا څخـه د کتـاب پـه مقابـل کـې پیسـې نـه اخلـو، دا یـوه وړیـا طبـي خـدماتي پروسـه ده او د طبـي پوهنتونونـو تـر څنـګ مـوږ روغتونونـو او د عـامې رو غتیـا وزارت تـه

هم ددې کتابونو بېلګې ورلېږو.»

کله چې لـه يحيـی وردک څخـه وپوښـتل شـول، چـې د نړيـوال بانـک لخـوا د کتـابونو د چـاپ لپـاره د لـوړو زده کـړو لـه وزارت سره کـابو پنځـه مليـون ډالـره مرسته وشوه، ايا تاسې هـم لـه دغه پيسو څخـه دا کتابونـه چاپوي، کـه کـوم بـل مدرک لري؟

ډاکـتر يحيـی وردک وويـل: «کـوم کتابونـه چې مـوږ چـاپ کـړي او يـا يـې چـاپوو پـه دې کـې مـوږ د نړيـوال بانـک لـه پيسـو څخـه ګټـه نـه ده اخيسـتې، کـه څـه هـم مـوږ نړيـوال بانـک تـه وړانـديز وکـړ او هغـوی هـم را سره ومنلـه، خـو د ځينـو بروکراسيو لـه وجهې پـه دغـه پروسـه خاشـه واچـول شـوه او د دوی پـه پيسـو زمـوږ کتابونه چاپ نه شول.»

د هغــه پــه وينــا، چــې مــوږ دغــه ۱۳۶ عنــوان کتابونــه د آلمــان د اکــاډميکو همکـاريو د ټـولنې پـه مرسـته او ترڅنـګ يـې لـه افغـان ماشـومانو سره د آلمـاني کومېټې لخوا د مرستو پواسطه د چاپ لګښت تمويلوو.

د مرکـې پـه وروسـتيو کـې ښـاغلي يحيـی وردک وويـل: «زمـوږ يـوازينۍ هيلـه او آرزو د خپلـو هېوادوالـو د اولادونـو د لـوړو زده کـړو لپـاره د يـوې سـالمې زمينـې برابرول دي، چې ددوی ظرفيتونه لوړ او درسي محدوديتونه يې کم شي.»[1]

[1] حليم، حيات الله، د هېواد د طبي پوهنتونونو د محصلينو د درسي کتابونو ستونزې مخ په لرې کېدو دي، هېواد ورځپاڼه، کابل د ۱۳۹۲ هجري لمريز کال د لړم ۱۲مه نېټه

# ولې په زرګونو افغان ناورغان د
# درملنې لپاره هند او پاکستان ته ځي؟

*يادډښت: دغه ليکنه چې هند او پاکستان ته د درملنې په موخه د افغانانو د تللو په هکله ده، نباغلي ډاکتر شمس نجيب ليکلې او د ۲۰۱۴ زېږديز کال د جنوري په ۴ مه نېټه په اوټ لوک نومې انګليسي ژبې ورځپاڼه کې خپره شوې ده. د دې ليکنې تفصيل په لاندې ډول دی:*

زموږ په طبي پوهنځيو کې استادان ځلوېښت کاله پخواني چپټرونه او زاړه ژباړل شوي درسي کتابونه کاروي. دوی نويو درسي او تدريسي موادو ته لاسرسی نه لري. د دوی د امتحان طريقه هم د مخکينۍ پېړۍ په شان ده.

د آزموينو طريقه محصلين مجبوروي چې چپټرونه د مفهوم له پوهېدلو څخه پرته حفظ کړي. دې ته انځوريزه حافظه هم ويلی شو. د انځوريزې حافظې اغېزه په طبي پوهنتونونو کې د انديښنې وړ ده چې معلومات او پوهه تر ډېره وخته د محصلينو په ذهن کې نه پاتې کېږي. محصلين يوازې د آزموينو لپاره تياری نيسي- چې دا کار د دوی له علمي او مسلکي برېيا سره زياته مرسته نه کوي.

زموږ د طبي زده کړو په سيستم کې يوه بله ستونزه د عملي کارونو د فرصت نه شتون دی (په لومړي او دويم کال او همدارنګه د کلينيکي عملي دورې په جريان کې). محصلين يوازې تر تيوريکي (نظري) زده کړو پورې محدود شوي دي او ډېر کم تشخيص کوي. اوسنی ساينس غواړي چې محصلين بايد په ټولګي کې د کېناستو او چپټرونو د حفظ پر ځای تر ډېره په عملي کارونو کې ونډه واخلي. نننی طبي پوهنتونونه يا پوهنځي عملي پرمختګ د دوی د پروګرامونو اساسي تمرکز بولي. دا په دې معنی ده چې په ټولګي کې د لکچر ورکولو تر څنګ به محصلين په مسلکي توګه د روغتيايي مسلکي شخص په ډول د تشخيص کولو فرصت تر لاسه کړي او دوی به په زياته اندازه خپله د عملي تجربې تر لاسه کول پيل کړي.[1]

---

[1] نجيب، ډاکتر شمس،افغان ناروغان ولې هند او پاکستان ته ځي، اوټ لوک افغانستان انګليسي ژبې ورځپاڼه، کابل، ۴ جنوري، ۲۰۱۴ زېږديز کال.

# له ډاکتر یحیی وردک سره د آزادۍ راډیو مرکه

*یاددښت: دغه مرکه د ۱۳۹۳ هجري لمریز کال د غبرګولي د میاشتې په ۳مه نېټه د یو ځلوېښت عنوان طبي درسي کتابونو د چاپ په هکله د آزادۍ د راډیویي مجلې د مسئول اسدالله غضنفر په وسیله له ډاکتر یحیی وردک سره و شوه چې تفصیل یې دلته خپرېږي او په لاندې ډول دی:*




سلام علیکم!

اسدالله غضنفر یم، آزادي راډیویي مجله وړاندې کوم: د مجلې په پیل شوې خپرونه کې له ډاکتر یحیی وردک سره مفصله مرکه لرو، چې د ده په مشرۍ، پروژې تر اوسه پورې د افغانستان د پوهنتونونو لپاره ۱۴۰ عنوان طبي کتابونه چاپ کړي دي.

*اسدالله غضنفر: ډاکټر یحیی وردک، د لوړو زده کړو په وزارت کې د طبي کتابونو د چاپ پروژه پرمخ بیایي، دی د دې پروژې د چاپ شویو کتابونو او راتلونکو پلانونو او اندېښنو په اړه خبرې راته لري.*

ډاکټر یحیی وردک وایي: زه له ۲۰۰۹ زېږدیز کال راهیسې د لوړو زده کړو په وزارت کې منحیث مشاور کار کوم. په دغه وخت کې مو ۱۴۰ عنوان طبي درسي کتابونه چاپ کړي دي، البته د کتابونو د چاپ مصارف په آلمان کې د اکاډمیکو اړیکو یا DAAD په نامه یوه مؤسسه ده، چې هغو ډېر کومک کړی دی او یوه بله آلماني مؤسسه ده، د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټه چې اکثریت کتابونه د دغه دوو

مؤسسو لخوا څخه تمويل شوي دي.
دغه کتابونه اکثريت يې د افغانستان د مختلفو پوهنتونونو، لکه د کابل، ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ او کاپيسا پوهنتونونو د استادانو دي چې په پښتو، دري او انګليسي ژبو ليکل شوي دي او موږ يې چاپ کوو. څلور کاله مخکې کله چې زه افغانستان ته له شلو کلونو مهاجرت څخه وروسته راغلم، ما د ننګرهار په طب پوهنځي کې محصلين وليدل چې دوی شل يا دېرش کلن پخواني په لاس ليکلي نوټونه چې دوی لېکچرنوټ ورته وايي، ورڅخه استفاده کوله. دغه زاړه کاغذونه دوی پخپل مصرف باندې فوتوکاپي کول او دا هماغه يوازيني درسي مواد وو، چې دوی ورڅخه استفاده کوله، نو دغه وضعيت زه ډېر خفه کړم او همغه وو، چې موږ تصميم ونيو چې زه به فقط په دغه برخه کې کار کوم، نو همغه وو، چې بيا مو له آلمانانو سره خبرې وکړې، هغوی له ما څخه ملاتړ اعلان کړ او د کتابونو ټه مالي مصارف يې پر غاړه واخيستل او هم يې د لوړو زده کړو په وزارت کې ماته د کار او ځای امکانات برابر کړل او دغه کار مو پيل کړ. موږ و توانېدو چې تر نن پورې ۱۴۰ عنوان کتابونه چاپ کړو، چې د هر عنوان کتاب ۱۰۰۰ يا ۲۰۰۰ ټوکه چاپېږي. له هر کتاب سره د کتاب په داخل کې همغه د کتاب ټوله محتوا په يوه سي ډي کې د PDF په شکل هم شته او دغه ټول کتابونه موږ د جرمني بوخم پوهنتون ته لېږو او هلته د هغوی د IT مرکز له خوا څخه دغه ټول د www.ecampus-afghanistan.org په نامه يو وېب سايټ کې اچول کېږي، چې هر څوک په ټوله دنيا کې کولای شي همدغه ۱۴۰ کتابونه په مکمله او په وړيا توګه په خپل کمپيوټر کې ډاونلوډ کړي.
*اسدالله غضنفر: اوکه په چاپي بڼه څوک وغواړي، هم شته په بازار کې؟*
يحيى وردک: په چاپي بڼه موږ دا په بازار کې نه خرڅوو، دا موږ په لومړۍ مرحله کې د افغانستان طب پوهنځيو ته په وړيا توګه ورکوو او يو شمېر کتابونه موږ د علومو اکاډمي ته، د عامې روغتيا وزارت او ځينو روغتونونو ته ورکوو، په بازار کې نه خرڅول کېږي.
*اسدالله غضنفر: ډاکټر صاحب يحيى وردک! د معارف د کتابونو په برخه کې يو نظر موجود دی او دا نظر د لوړو زده کړو د مؤسسو د کتابونو په حصه کې هم شته، يو*

*کتاب که لیکل کېږي، نو درې اړخه باید په نظر کې وي، یو خو پخپله هغه علم دی، فرضاً د فزیک یو کتاب لیکل کېږي، نو هغه څوک چې کتاب لیکي یا یې کومه کمېټه لیکي، نو دوی به په فزیک باندې پوهېږي.*

یحیی وردک: بلې.

اسدالله غضنفر: *بل اړخ یې په خپله له پیداګوژۍ سره تعلق لري.*

*یو کتاب دی، فرضاً د نبوونځي د اتم ټولګي د زده کوونکي لپاره لیکل کېږي، یا د طب د لومړي کال د محصل لپاره لیکل کېږي، دلته دې تعلیمي اړتیاوې هم په نظر کې نیول کېږي، دغه بیا له علم پرته، یا د فزیک د علم پرته یو بل علم دی. د پېداګوژۍ چې ضرورت دی ورته، چې تعلیم او تربیه څه غواړي؟*

*او دریم اړخ دا دی: یو کتاب به د تعلیم و تربیې د علم په معیارونو هم لیکل شوی وي او هغه د علم معیارونه او غوښتنې به هم په نظر کې نیول شوي وي، خو یو کتاب وضوح هم غواړي، لیکوالي هم غواړي، داسې یو متن باید وي چې هغه د فهم وړ وي، دا بیا یو دریم مهارت شو.*

*ویل کېږي، چې د افغانستان تدریسي- کتابونه داسې کتابونه پکې لږ دي چې دا درې واړه ځانګړنې پوره او په لازمه اندازه ولري.*

*تاسو څنګه؟ تاسې کتابونه چاپوئ، آیا له معیار څخه یې مطمئین یاست، د دغو درې واړو معیارونو؟*

یحیی وردک: د معارف په هکله زه باید دوی په اول کې وستایم، ځکه چې دوی یو لوی کار شروع کړ.

راغلو زموږ یا د لوړو زده کړو د کتابونو په هکله، زموږ کتابونه لکه ما چې مخکې وویل، زه دغه کتابونه دغسې پر مخ بیایم، چې زه د افغانستان د پوهنتونونو استادان، پروفیسوران دې کار ته تشویقوم، چې دوی دغه خپل لکچرنوټونه، خپل یاداشتونه یا خپل کتابونه له سره یو نظر پرې وکړي او هغه د طب له نویو لاسته راوړنو او معیارونو سره برابر کړي او بیا یې موږ ته وسپاري. د مثال په توګه، دلته ما ځینې نمونې راوړي، دلته دغه دوه کتابونه، یو کتاب عضوي کېمیا ده، چې دغه پوهنوال صاحب ولیزي لیکلی دی، ده خپله په جرمني کې په خپله رشته کې تر دوکتورا پورې

تحصیل کړی دی او څو کاله یې په کابل پوهنتون کې هم درس ورکړی دی، په دې وروستیو کلونو کې.

پخوا هم مخکې له دې څخه، چې دی خارج ته ولاړ شي، دی د کابل پوهنتون استاد وو، نوموړي د افغانستان تعلیمي نصاب په چوکاټ باندې او همغه مسلکي اصطلاحاتو باندې چې دی هم پوهېږي او زموږ محصل هم پوهېږي دغه کتاب یې ترتیب کړی دی.

همدا شان دا بل کتاب د پوهاند دوکتور عبیدالله عبید دی، چې د لوړو زده کړو وزیر دی، دا پخپله استاد پاتې شوی دی، کلونه، کلونه د کابل طب په پوهنتون کې د مایکروبیولوژي کتابونه لیکلي دي، دا دوه درې وارې له سره چاپ شوي او له سره ایډېټ شوي دي. په دغو کتابونو کې ان شاء الله دغه مشکلات، چې په نورو کتابونو کې موجود دي نشته او یا ډېر کم دي؛ ځکه دغه کتابونه داسې یو بې تجربه استاد نه دي لیکلي، یا یو په یو د خارجي منبع څخه د یو ژباړن له خوا نه دي ترجمه شوي؛ ځکه چې دوی خپله لس، پنځلس کاله د استادۍ د تدریس تجربه لري، نو هر استاد چې لس، پنځلس، آن شل کاله تجربه د تدریس ولري ان شاء الله هغه د پیداګوژۍ له خوا څخه هم هغه معیارونه په نظر کې نیولي دي او دغه استادان په کتاب لیکلو کې تجربه هم لري، دوی ډېر کتابونه لیکلي دي.

*اسدالله غضنفر: ډاکټر یحیی وردک، تاسو چې کوم کتابونه یادوئ دا ۱۴۰ عنوانه، دا ټول له طبي علومو سره تعلق لري، داسې نښکاري ستاسو له خبرو؟*

یحیی وردک: بلې، هو.

*اسدالله غضنفر: د افغانستان پوهنتونونه، خو په نورو څانګو کې هم د کتابونو د کمي مشکل لري، د لوړو زده کړو وزارت، چې تاسو هلته سلاکار یاست، نورو پوهنځیو ته هم د کتابونو په برخه کې څه پروګرام لري؟*

یحیی وردک: د افغانستان په ټولو برخو کې، که دا طبیعي علوم دي، که دا اجتماعي علوم دي، د درسي کتابونو اشد ضرورت دی. زما پېشنهاد وزارت ته، همدغه دی، چې دغه چاپ د درسي کتابونو په خپل پاسني یا Top Priority کې ونیسي؛ ځکه چې په کیفیت د تدریس کې واقعاً اساسي رول تدریسي کتاب لري. متأسفانه د پوهنتون

استادان او محصلین تر اوسه، ټول په انګلیسي ژبه نه پوهېږي، نو په کار ده چې خصوصاً په پښتو او دري ژبو موږ درسي کتابونه په ټولو برخو کې ولرو.

*اسدالله غضنفر: ډاکټر صاحب یحیی وردک، تېر کال وو، که ورم کال، جمهور رئیس حامد کرزي حکم وکړ، چې په انجنیري او طب پوهنځي کې دې په انګرېزي ژبه زده کړې شروع شي، بیا ځینو خلکو په رسنیو کې مخالفت هم وکړ، مخالفت یې یو دا وو، چې ممکن دوی په دې پردی ژبه پوه نه شي او دا په محصل باندې فشار دی او ځینو خلکو یو قسم د ملي احساساتو په بنیاد هم دا خبره کوله، خو په مقابل کې بیا ویل کېدل چې اوسنی ساینس په انګرېزي ژبه دی، په انګرېزي ژبه کې په هره ساحه کې په زرګونو کتابونه پیدا کېږي، که زموږ ډاکټران، زموږ انجنیران زموږ نور متخصصان د انګرېزۍ غوندې یوه نړیواله ژبه زده نه کړي، نو دوی به د علم له یوې لویې برخې څخه د همېش لپاره محروم پاتې وي، خو په هر حال؛ دا کار خو پیل شو، نو ستاسو دغه کار، چې حامد کرزي یې حکم کړی دی، یو څه تفاوت نه سره لري؟*

یحیی وردک: دغه کار که اصولاً ښه دی، زه یې طرفدار یم، خو دا د یو فرمان یا یو حکم په صادرولو سره نه کېږي، دې ته یو پلان په کار دی، لومړی موږ باید په معارف کې په انګلیسي ژبه ډېر تأکید وکړو، چې یو څوک چې له دولسم ټولګي څخه فارغېږي باید روانه مکمله انګلیسي ژبه یې زده وي، دغه دوولسم پاس چې زموږ پوهنتون ته راشي بیا کېدای شي، چې ځینې پوهنځي چې په انګلیسي وي، دی خپل تحصیل ته په انګلیسي ژبه دوام ورکړي.

*اسدالله غضنفر: لکه په هند او پاکستان کې؟*

یحیی وردک: هو، لکه په نورو ځایونو کې.

راغلو د کتابونو په هکله، زما په نظر زموږ محصلین که موږ یوازې انګلیسي کتابونه ورکړو، دوی هغسې استفاده نه شي ځینې کولای، لکه د دوی په خپلو ژبو پښتو او دري چې کتابونه ولیکل شي، سربېره پر دې هم زه به تاسو ته دلته نمونه یې ما راوړې ده. دا یو کتاب تاسو یې وګورئ، چې یوې خوا ته یې انګلیسي ده، بله خوا یې دري ده، موږ دغسې کتابونه هم چاپ کړي دي، زموږ یو بل کتاب دی، چې مکمل په انګلیسي لیکل شوی دی، دا پخپله د ننګرهار په پوهنتون کې استاد دی، نو په کراره

کراره باید موږ انګلیسي ژبې ته عملي کار وکړو. موږ، مثلاً که نوي استادان د طب پوهنځیو او انجینري لپاره نیسو، یو شرط یې باید دا وي، چې دوی په روانه انګلیسي ژبه پوه شي او تدریس وکولای شي، که موږ لس، پنځلس کاله پورې دغه شرط په استادانو ومنو، ان شاء الله کولای شو تر لسو کلونو پورې زموږ ځینې پوهنځي په انګلیسي ژبه کړو، خو دا په یو وار نه کېږي، دا په حکم نه کېږي دا سیستماتیک کار او پلان ته ضرورت لري او د دې پلان او کار عملي کولو ته ضرورت شته.

*اسدالله غضنفر: ډاکټر صاحب یحیی وردک! په افغانستان کې په تېرو لسو کلونو کې نړیوالې ټولنې په مختلفو برخو کې مرستې وکړې، له افغانانو سره مالي مرستې، اقتصادي مرستې، تخنیکي مرستې، خو اوس چې بهرني عسکر له افغانستان څخه وزي، نو په ډېرو ساحو کې دا وېره موجوده ده، چې دوی به له افغانانو سره مرستې بندې کړي، یا به یې ډېرې کمې کړي.*

*د افغانستان پوهنتونونو ته، خو د کتابونو ډېر ضرورت دی او تاسو په دې موضوع لا ښه پوهېږئ، څنګه چې تاسو کومه پروژه روانه کړې ده، کوم کار مو روان کړی دی او تر اوسه مو ۱۴۰ عنوان طبي کتابونه چاپ کړي دي، دا به په راتلونکو کلونو کې هم دوام ومومي، وضعیت څنګه دی؟*

یحیی وردک: وضعیت متأسفانه ښه نه دی، بهرنیان په دې برخه کې متزلزل دي، چې خپل کومکونه به تر کومې اندازې پورې وکړي او د دغو کومکونو لپاره د دوی دفترونه باید دلته وي، د دوی د پروژو یو څه عملي کول او کنټرول د دغو هېوادونو د خپلو کارمندانو او خلکو له خوا کېږي. که دغه ملکي خلک او دفترونه دلته امکان د موجودیت یې نه وي، یا د خطر احساس وکړي، هغوی شاید وتړل شی، دا دفترونه چې وتړل شول، په اتوماتیک ډول د دوی کومکونه به کم شي.

دا یو اړخ د مسئلې دی، بل اړخ د مسئلې دا دی، چې دا بهرني هېوادونه، چې کومک کوي، دا دغسې سل په سلو د افغانستان اړتیاوې په نظر کې نه نیسي، له یوې خوا څخه او له بلې خوا نه زموږ حکومت او زموږ ادارې هم کمزوې دي، چې هره اداره یا هر وزارت په همغه خپل سکتور او برخه کې داسې یو پلان، پروګرام او عملي پلان نه لري، د بهرنیانو لپاره چې پوره دغه خپل سکتور یې تحلیل کړی وي، پخپل

سکتور کې یې مشکلات او هر څه ورته معلوم وي او دغه هم ورته معلوم وي چې کوم کارونه د افغانستان په ګټه دي.
خارجیان راشي، بس همغه یو څه پروژې چې لري، یا پروګرام چې لري، هغه حکومت ته وړاندې کړي، یا مربوطه ادارې ته، یا وزارت ته، هغوی هم موافقه ورسره وکړي او بس پیسې مصرفېږي.
د مثال په توګه، د طب په برخه کې هر کال جرمني ته یو شمېر افغاني ډاکټران لېږل کېږي، هلته په جرمني کې یو خارجي ډاکټر عملي کار نه شي کولای، چې هغه په مریض باندې کار وکړي.
*اسدالله غضنفر: اجازه نه لري؟*
یحیی وردک: اجازه نه لري، هېڅ نوع، هغه تنها کولای شي یو تشخیص یا یو مریض وګوري، مریض باندې لاس نه شي ابنبودی، زموږ افغان ډاکټر، همداسې یو شمېر استادان یا ډاکټران، د جرمني څخه راځي، په دغه باندې په هر ډاکټر چې جرمني ته ځي تقریباً لس پنځلس زره یورو مصرفېږي، چې دوی دا پیسې په دې باندې لګوي؛ حال دا چې موږ که دلته دغه پیسې را واخلو او په دغسې یو پروګرام یا پروژه باندې یې ولګوو، لکه د کتابونو په چاپ باندې، زموږ په هر کتاب باندې تقریباً دوه یا درې یورو مصرفېږي. تاسو وګورئ، موږ په دغه لس زرو باندې تقریباً درې زره شاوخوا کتابونه چاپوو. دا کتابونه یو استاد تشویقوي، بل دغه لاسته راوړنه په افغانستان کې پاتې کېږي، اوس ۲۰ کاله وروسته هم دغه کتاب به په همدغه ملک کې پاتې وي.
*اسدالله غضنفر: او په زرګونو خلک ترې استفاده کولای شي.*
یحیی وردک: او نور خلک ترې استفاده کوي، په ټول افغانستان کې ترېنه استفاده کېږي او دا که موږ دا ډاکټران لېږو، جرمني ته د دوه دریو اونیو لپاره صحیح ده، د ډاکټر لپاره به یو ورکشاب مؤثر هم وي، خو هغه لومړیتوب، چې موږ باید د کتاب چاپ ته ورکړو، مدنظر کېږي نه.
*اسدالله غضنفر: که بېرته ستاسو د کتابونو پروژې ته راشو، څنګه په راتلونکو وختونو کې هم تاسو د کتابونو چاپ ته ادامه ورکوئ او که نه؟*
یحیی وردک: دغه کار په ټپه نه دی ولاړ، همدغه اوس هم زموږ د کتابونو چاپ روان

دی، تېره اونۍ زه په چاپ خانه کې وم، موږ په دې ورځو کې په یو نوي فکر باندې کار کاوه، هغه دا چې دغه ټول ۱۴۰ عنوان کتابونه چې موږ چاپ کړي او په ټول افغانستان کې مو تقسیم کړي دي. موږ غواړو چې په یوه یا دوه ډي وي ډي گانو کې د (PDF) په شکل باندې راغونډ کړو، دا ریکارډ کړو او دا بیا د افغانستان ټولو طب محصلینو ته ورکړو. د دې ښه والی په دې کې دی، چې دا ۱۴۰ عنوان کتابونه به په ډېر واړه حجم کې، چې هر څوک یې په خپل کمپیوټر کې ولرلای شي، هر څوک یا هر ډاکټر یا طب محصل یا استاد یې په لپټاپ، حتی په خپل جېب کې همدغه ۱۴۰ عنوان کتابونه به ورسره وي. دغه به انشاءالله په کیفیت د درس کې مهم رول ولري او هم به ځوان ډاکټران منحیث د رېفرنس له دې څخه استفاده وکولای شي.

*اسدالله غضنفر:* کامیاب اوسئ.[۱]

❀❀❀

د دې پـر ځـای چـې د ښـوونې لارې چـارې ځنـډنۍ شي، بایـد درسي کتابونـه ولـرو، څـو د ښـوونې لارې چـارې د حفـظ کولـو او تکـرار پرځـای انتقادي تحلیل او د فکرونو په ډلبندۍ، خبرو اترو او عمل بدل شي.

**په افغانستان کې د ښوونې او روزنې بیا رغاونه او پرمختیا**
**پالیسي، موخې او استراتېژۍ**
**د افغانستان د ښوونې او روزنې خپلواک عالي کمیسیون**
**کابل-۱۳۹۲ (۲۰۰۳)**

---

[۱] غضنفر، اسدالله، د آزادۍ راډیویي مجله، یو څلوېښت طبي درسي کتابونه چاپ شول، کابل، د ۱۳۹۳ هجري لمریز کال د غبرگولي د میاشتې ۳مه نېټه.
http://pa.azadiradio.mobi/a/25411497.html

# هر کال د کتابونو لپاره زر ډالره
# د افغانستان نامجهز پوهنتونونه

*یادښت: دغه څېړنیزه مقاله چې د کتابونو له درکه د افغانستان د نامجهزو پوهنتونونو د کتابونو د تامین لپاره د محدود مبلغ تخصیص ورکول او داسې نورو مسائلو په هکله ده، د ۲۰۱۴ زېږدیز کال د نومبر په ۲۳مه نېټه په AAN شبکه کې کرېستېین رورز په انګلیسي ژبه لیکلی، پښتو متن یې دلته خپرېږي. د دې لیکنې تفصیل په لاندې ډول دی:*



د افغانستان په پوهنتونونو کې محصلین لا هم مناسب درسي کتابونه نه لري. استادان دوی ته تش په نامه چپټرونه، چې له لکچرنوټونو او تېر وخت کتابونو څخه کاپي شوي دي، ورکوي. له بل پلوه کتابتونونه، د اهداء شویو کتابونو د بې بودجې انبارونو په څېر پاتې شوي دي، چې زیاتره یې د اړتیاوو، تعلیمي نصاب او لکچرونو له محتویاتو سره سر نه خوري. له ۱۳ کلونو بهرنۍ مداخلې سره سره چې زده کړې یې د یو بریالي پړاو په توګه ګڼلي دي، ولې تر اوسه دغه حالت دوام لري؟ کریستېین رورز د مناسبو او اپډېټ شویو زده کړو او تدریس د سرچینو درې بنسټیز خنډونه تحلیل کړي دي او ښیي چې دغه موانع (خنډونه) له نورو موضوعاتو، لکه د تعلیمي نصاب اصلاح کول، بودجو او له لومړنیو او منځنیو ښوونځیو سره نه همغږۍ سره څه اړیکه لري.

نوموړي د استادانو او سلاکارانو له لوري وړاندیز شوې حل لارې راښيي، چې بالآخره به محصلین په مناسبو درسي کتابونو سره سمبال کړي. رورز وايي: «له بده مرغه، نه د لوړو زده کړو راتلونکی پنځه کلن ستراتیژیک پلان او نه هم په دې برخه کې لویو مرسته کوونکو دې سملاسي اړتیا ته پاملرنه کړې.»

کتابونه یا په ځانګړې توګه د کتابونو کمښت ښيي، چې تر اوسه د افغانستان په لوړو زده کړو کې څه کمی شتون لري. په داسې حال کې چې په نوره نړۍ کې محصلین له کتابونو ځخه ډک درانه بکسونه پوهنتونونو ته وړي او راوړي، خو افغان محصلین په یوه پلاستیکي کڅوړه کې له څو کاپي شویو پاڼو پرته نور څه پوهنتونونو ته نه وړي. د حیرانتیا خبره نه ده؛ ځکه په حقیقت کې له ۱۳ کلنو هڅو او کوښښ سره سره چې د زده کړو د پرمختګ په لار کې شوې دي، بیا هم د زده کړو ډېر مواد د لاسرسي وړ نه دي.

د ۲۰۱۴ زېږدیز کال د سپټمبر په میاشت کې په کابل پوهنتون کې له محصلینو سره څو ناخاپي خبرې اترې:

تمیم د اقتصاد پوهنځي د دویم سمستر محصل د مکرو اقتصاد په اړه د لکچر لپاره ټولګي ته روان دی. نوموړی په آبي رنګه پلاستیکي دوسیه کې د اقتصاد د اساساتو په اړه د وزارت له خوا تیار شوي کتابګوټي (رسالې) ځخه ۲۰ کاپي شوې پاڼې په لاس کې لري. د ده په وینا، د یاد مضمون په اړه د نورو کتابونو سپارښتنه ورته نه ده شوې، دی وايي: «موږ له همدې ځخه زده کړه کوو، که څه هم موږ پوهېږو چې د زده کړې لپاره څه ته اړتیا لرو.»

محمد رسول د ریاضیاتو پوهنځي محصل دی. دی له پوهنتون ځخه د باندې د انټرنېټ کلپ په لوري د تګ په حال کې دی او غواړي چې «په احصائیوي مسایلو کې د ګراف استعمال» په اړه انلاین پلټنه وکړي. د نوموړي له قوله، د دوی دیپارټمنټ د احصائیې په اړه دوه نوي کتابونه لري، خو هغه څه چې دی ورته اړتیا

لري، په دغو کتابونو کې نشته. محمد رسول شکایت کوي، چې د محصلینو لویه ډله د استاد په شاوخوا راټولېږي؛ ځکه چې د تحلیلي هندسې، مختلط تحلیل، تفاضلي ریاضي او ډېرو نورو مضامینو په اړه کتابونه نشته.

یو محصل وایي: «موږ ډېر لایق استادان لرو، خو دوی زموږ لپاره نوي درسي مواد نه شي چمتو کولای. دوی وايي چې کمپیوټرونو ته لاسرسی نه لري او نه شي کولای درسي مواد پیدا کړي او دوی په انګلیسي ژبه هم په کافي اندازه بلدیت نه لري، چې زموږ لپاره درسي مواد و ژباړي.»

نقیب الرحمن د وترنرۍ پوهنځي د دویم سمستر محصل دی، د فوتو کاپي د دوکان د خرڅلاو مېز ته ولاړ دی او د «وترنري طبي اصطلاحات» په اړه د استاد لخوا راټولو شویو ۳۰ پاڼو غوښتنه کوي. د دغه پاڼو پر پښتۍ هغه کتاب/کتابونه نه دي څرګند، چې دغه معلومات ورڅخه اخیستل شوي دي. ددې پاڼو محتویات ډېر ساده تر سترګو کېږي، د بېلګې په توګه د حیواناتو کور (یا د اوسېدو ځای) ته په انګلیسي کې Coop ویل کېږي. نقیب الرحمن وایي، چې د پوهنځي کتابتون ښه سمبال شوی دی، خو زیاتره کتابونه یې انګلیسي دي او دی وربانديې نه پوهېږي.

*ولې افغان محصلین مناسب درسي کتابونه نه لري او ستونزې یې څه دي؟*

په افغاني پوهنتونونو کې د اوسنیو زده کړو او درسي موادو د خواشینونکي حالت لوی او بنسټیز لامل لوړو زده کړو ته نه پاملرنه ده. تر ۲۰۱۰ زېږدیز کال پورې نه بسپنه ورکوونکو او نه هم افغان حکومت په دې برخه کې کومه لېوالتیا درلوده. له بلې خوا د محصلینو شمېر هم په چټکۍ سره مخ پر زیاتېدو دی. دا ځکه چې افغان حکومت او نړیوالې ټولنې په کلونو کلونو لومړنیو او منځنیو ښوونځیو ته زیاته پاملرنه کړې ده. دا کار که څه هم د دغه سکتورونو د بریالیتوب سبب شوی دی ([1])، خو دې ټکي ته یې

۱. ښوونځیو ته د ماشومانو ، په ځانګړي ډول نجونو پر تګ د تمرکز او په همدې حال د ساتلو لپاره مناسبه ده د دوی مخکیني تعداد ته کتنه وشي. په ۲۰۰۱ کال کې له یو میلیون څخه کم افغان

پاملرنه نه ده کړې، چې دغه سیستم تر هغې اندازې زیات فارغین ورکوي، چې پوهنتونونه یې ظرفیت لري.

د USAID یوه داخلي ارزونه چې د هېواد د لوړو زده کړو د اوسني ستراتیژیک پلان (۲۰۱۴-۲۰۱۰ز کال) د اجرا په اړه ده، له ثانوي زده کړو څخه د فارغینو د شمېر زیاتوالی څرګندوي (۳٦٪ په ۲۰۱۲، ۵۹٪ په ۲۰۱۳، او ۳٦٪ په ۲۰۱۴ز کې)، چې له دې ډلې څخه تقریباً ټول هیله لري لوړې زده کړې تر لاسه کړي. له ۲۰۰۲ څخه د ۲۰۰۳ ز کال د ډسمبر میاشتې تر پایه په افغاني پوهنتونونو کې د محصلینو شمېر له ۳۱،۲۰۳ څخه ۱۲۳،۵۲۴ ته زیات شوی. پر دې اساس، پوهنتونونو ته د ازموینې (کانکور) ورکوونکو زده کوونکو شمېر هر کال په لسګونو زره زیاتېږي ([۱]).

د لوړو زده کړو وزارت او ۳۴ دولتي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسې نورو محصلینو ته په فضا برابرولو کې ناچاره دي، خو دوی په ګډه سره هڅه کوي، چې د ستونزو یوه اوږده لړۍ هواره کړي. دا اصلاحات په ډېرو ولایتونو کې د لوړو زده کړو لپاره نامناسبې زېربناوې، د کیفیت تضمین، د نا تمامې درسي برنامې جوړونه، د استادانو ظرفیت جوړونه، په پوهنتونونو کې زده کړو ته د ښځو لاسرسی، پوهنتونونو ته د آزموینې (کانکور) له درغلیو څخه ډک سیستم د بیا منظم کولو ستونزې او د

---

ماشومان ښوونځیو ته تلل، د دوی تعداد په ۲۰۱۳/۲۰۱۲ کې ۸.۵ میلیون ته زیات شو (۵.۲ میلیون هلکان او ۳.۳ میلیون نجونې). له دې جملې څخه له یو میلیون څخه زیات نوي شامل شوي زده کوونکي دایمي ناسوب دي. د 2010/11 Afghanistan Multiple Indicator Cluster Survey له مخې د لومړني ښوونځي عمر لرونکي یوازې ۵۵ سلنه ماشومان ښوونځیو ته ځي. په دې اړه نور په UNESCO 2013/14 Monitoring Report کې لوستلی شئ.

۱. تقاضا په چټکۍ سره پورته ځي. د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۵ کلونو تر منځ به د ښوونځیو د فارغینو شمېر درې برابره شي. په ۲۰۱۱ کې د ۱۱۷،۰۰۰ په شاوخوا کې افغان ځوانانو د کانکور په آزموینه کې ګډون درلود. د لوړو زده کړو وزارت د یو ویاند په وینا په ۲۰۱۳ کې دا شمېره ۱۷۵،۰۰۰ وه، په ۲۰۱۴ کې ۲۵۰،۰۰۰ افغان ځوانانو په کانکور کې ګډون کړی وو. لکه څرنګه چې د لوړو زده کړو وزارت یو ویاند AAN ته وویل، په ۲۰۱۵ کال کې به تر ۳۰۰،۰۰۰ پورې زده کوونکي په کانکور کې ګډون وکړي.

پوهنتونونو علمي او مالي خپلواکي په بر کې نيسي.
ښايي دا د حيرانتيا خبره نه وي، چې له دې لېست څخه ځينې موضوعگانې لرې شوې، هېرې شوې او يا هم د راتلونکي لپاره ځنډول شوې دي، چې له هغې ډلې څخه د نويو او د لاسرسي وړ درسي موادو چمتووالی يوه موضوع ده.
د کتابونو تلاش ډېر وخت بې پلانه، په کمه اندازه، د مرستو په بنه او يا له بهرنيو پوهنځيو سره د شراکت په ډول پاتې دي. که څه هم په ځينو حالاتو کې دا هڅې هيله بخښونکې دي، خو هېڅکله هم نشي- کولای چې ټولو پوهنځيو او مرکزي کتابتونونو ته کافي اندازه کتابونه چمتو کړي. له همدې کبله هغه څه چې محصلينو ته تدريس کېږي، ډېر ځله بې پلانه وي او د محلي استادانو په مهارتونو او ماخذونو پورې اړه لري، چې دا د زړو، تر وخت تېرو او بې پلانه درسي موادو اوسنی استعمال نور هم کړکېچن کوي او د هغو محصلينو په فارغولو کې مرسته کوي، چې په بېلابېلو بې پلانه ډولونو روزل شوي دي.
په ۲۰۰۷ زېږديز کال کې نړيوال بانک «د هېواد د لوړو زده کړو لنډيز» کې داسې بيانوي: «...درسي مواد او ښوونيز او روزنيز مېتودونه په پوره توگه له دوده لوېدلي دي... د اړينو ښوونيزو او روزنيزو (پيداگوژيک) مېتودونو د امکاناتو (لکه انټرنيټ ته لاسرسی، درسي کتابونه، ژورنالونه او ازمايښتي يا لابراتواري موادو) د رانيولو لپاره د مرستو منابع په لاس کې نشته.» په اوو کلونو کې لا هم هغه څه چې بايد د زده کړې مرکزي برخه وي (نوي، معياري او د لاسرسي او پوهېدلو وړ درسي مواد) د وزارت او پوهنتونونو او همدارنگه بسپنه ورکوونکو له خوا داسې انگېرل کېږي، چې گواکې وروسته به يې په اړه اقدام وشي. په سيستم کې د لا نورو مناسبو درسي کتابونو پر وړاندې اساسي خنډونه باقي پاتې دي.
*لومړی خنډ: بودجه*

لومړی خنډ بودجه ده. د کابل پوهنتون اداري هیئت ([1]) وايي چې دوی د پوهنتون د مرکزي کتابتون لپاره یوه افغانۍ بودجه هم نه لري. همدا راز پوهنځي هم پیسې نه لري، چې کوچني کتابتونونه پرې چمتو کړي. د نورو ولایتونو د پوهنتونونو کتابتونونه هم له ورته حالت سره مخ دي.

د لوړو زده کړو وزارت له یو مالي مدیر سره یوه بررسي ښيي چې ولې حالت دا ډول دی؟ د لوړو زده کړو لپاره اوسنۍ بودجه په دریو برخو وېشل کېږي. تر ټولو لویه برخه د ۳۷،۸۹۸،۴۰۰ ملیونه ډالرو په شاوخوا کې (۲،۲۰۰،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ) د معاشونو لپاره ځانګړې شوې ده. دوېمه برخه ۳۰،۷۹۲،۴۰۰ امریکايي ډالره (۱،۷۸۷،۵۰۰،۰۰۰ افغانۍ) د لیلیو، محصلینو لپاره خوارکي موادو، د فرنیچر لوازمو، اوبو، برېښنا او نورو لګښتونه تشکیلوي. دریمه برخه ۲۱۵،۳۳۲ امریکايي ډالره (۱۲،۵۰۰،۰۰۰ افغانۍ) د کوچنیوخریداریو او ترمیمولو لپاره لګول کېږي.

ددې بودجې د دوېمې برخې، په یوه فرعي کټګورۍ کې د کتابونو د چاپ لپاره یوه برخه ټاکل شوېده. دا د ۳۴،۴۵۳ ډالرو په اندازه (۲،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ) یوه ډېره کوچنۍ برخه ده، چې د ټولو ۳۴ پوهنتونونو لپاره ځانګړې شوېده؛ په دې توګه د هر پوهنتون لپاره د کتابونو د اخیستلو لپاره مبلغ یوازې ۱،۰۰۰ ډالره ټاکل شوی دی. د دې لپاره هېڅ قانون نشته، چې پوهنتونونه مکلف کړي، چې په رښتیا سره دغه بودجه پر کتابونو ولګوي، دوی دا پیسې په نورو موادو (لکه قرطاسیه، تختې او داسې

---

[1] د افغانستان د شنونکو شبکې غړی Thomas Rutting په کابل پوهنتون کې د خپلو زده کړو له وخت څخه یادونه کوي، چې په ۱۹۸۳ زېږدیزکال کې مرکزي کتابتون خورا ښه ؤ. ډېرې لویدیزې او ختیځې اتحادیې او افغاني کتابونه یې درلودل. مختلفو هېوادونو د مختلفو پوهنځیو له کتابتونونو او همداراز مرکزي کتابتون سره په تېرو څو لسیزو کې مرستې کولې. نوموړی وایي زیاتره مواد د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۶ کلونو تر منځ د مجاهدینو په دوران کې هغه مهال له منځه ولاړل، چې حزب وحدت له کتابتون څخه د نظامي اډې په توګه کار اخیست او جنګیالیو به د ژمي په موسم کې د ګرمولو لپاره کتابونه سوځول او پاتې یې د طالبانو په واکمنۍ کې بېرته منظم شول.

نورو) باندې مصرفوي او يا يې ببرته د لويې پيمانې اړتياوو ته راجع کوي. بنايي د برېښنا د بېلونو او يا د ليليو لپاره به لګول کېږي.

له همدې امله د افغاني پوهنتونونو کتابتونونه زياتره وخت پر اهداء شويو مرستو تکيه کوي. په تېرو اوونيو کې يوه ورځ د کابل پوهنتون د مرکزي کتابتون د کتابدار مرستيال همايون نوي را رسېدلي کتابونه راوښودل. دا کتابونه د ۲۵۰ په شاوخوا کې وو، چې د کتابدار د دفتر په منځ کې د يو مېز پر سر کوټ شوي وو. همايون وويل: «دا کتابونه په کابل کې د سفارتونو، له بهر څخه د نېک اندو خلکو او يا موسساتو له خوا راوړل شوي او يا را استول شوي دي.» له دې جملې څخه ډېرو کتابونو ته په ډاډ سره بې ګټې ويلی شو. لومړی کتاب چې را وښودل شو، د ( Awakening Your Child's Natural Genius) کتاب فارسي (ايراني) ژباړه وه، چې په کتابتون کې بايد د اروا پوهنې په برخه کې کېښودل شي، خو دا به غوره وي، چې له ځان سره د مرستې په برخه کې د دويم لاس کتابونه په ګدام کې کېښودل شي.




دويم کتاب د ټولنيز مارکېټ د اقتصاد په اړه يو قاموس وو، چې په فرانسوي ژبه ليکل شوي وو. فرانسوي ژبه په افغانستان کې په پراخه کچه نه کارول کېږي. دريم کتاب چې د کتابونو له کوټ څخه را واخيستل شو، پر هغه د لګول شوې ټاپې څخه ښکارېده، چې د جرمني د Nuremberg-Erlangen د پوهنتون د کتابتون له خوا ترک شوی وو. دا کتاب د سوداګرۍ د اصولو په اړه له يوې سلسلې څخه دريم جلد وو، چې د هغه نور جلدونه له جرمني څخه افغانستان ته د راوړلو پر مهال له لاسه وتلي وو. دا کتاب هم په جرمني ژبه ليکل شوی وو.

پر داسې بې پلانه مرستو باور، کتابتونونه د محصلینو لپاره بې معنی گرځوي؛ ځکه کتابونه د استادانو له لکچرونو او آزموینې سره، چې محصلین د سمستر په پای کې ورسره مخ کېږي، سمون نه لري.

د کتابدار مرستیال همایون دا حالت په لنډه توگه داسې بیانوي: «موږ په کافي اندازه نوي کتابونه نه لرو. موږ په کافي اندازه د نویو کتابونو کاپي نه لرو او همداراز موږ په کافي اندازه په پښتو او دري ژبو کتابونه نه لرو. زموږ محصلین په انگلیسي- ژبه پوره بلدتیا نه لري، څو په هغو کتابونو پوه شي، چې موږ یې په لاس کې لرو.»

تر دې غوره یا ډېر عام کتابتونونه، د کابل پوهنتون شاوخوا د فوتوکاپي دوکانونه دي. په دې دوکانونو کې استادان او محصلین د دوی په وینا چپټرونه لاسته راوړي، چې له کتابونو څخه ځینې برخې کاپي شوي دي او یا په لاس لیکل شوي لکچرنوټونه دي. له محصلینو څخه تمه کېږي، چې له هغو څخه گټه پورته کړي او یا یې هم حافظې ته وسپاري. د تدریس او زده کړې دا دودیزه یا پخوانۍ طریقه لا هم په پراخه کچه په افغاني پوهنتونونو کې کارول کېږي، خو د ځوانو استادانو په راتگ سره دا حالت ورو ورو له منځه تللو په حال کې دی. د انجنیري پوهنځي دروازې ته نږدې «حسیب فوتوکاپي» د بېلگې په توگه (دا چې په انځور کې لیدل کېږي) ۶۰۰ یا ۷۰۰ چپټرونه لري. هره اونۍ په سلگونو محصلین راځي، چې د علم دا ډېرې کوچنۍ برخې وپېري چې هره پاڼه یې یوه یا دوه افغانۍ قېمت لري. زیاتره وخت دا هم معلومه نه وي چې دا درسي مواد له کومو کتابونو څخه اخیستل شوي دي، چا دا نوټونه راټول کړي او د لومړي ځل لپاره څه وخت لیکل شوي دي؟

*دویم خنډ: د استادانو ترمنځ د څېړنې د کلتور او علاقې نشتون*

د زده کړو په سیستم کې د نویو کتابونو پر وړاندې دویم خنډ هغه څه دي چې د لوړو زده کړو وزارت د علمي چارو معین عثمان بابري یې «د استادانو تر منځ د څېړنې د کلتور نه شتون» بولي.

په دې برخه کې يو تخنيکي او بشري عامل وجود لري. عثمان بابري د افغانستان د لويو لويو استادانو او ساينسپوهانو په اړه وايي، چې ډېر يې د کمونيستانو په رژيم کې له منځه ولاړل، پاتې يې د څو لسيزو لپاره له علمي بدلونونو څخه لرې پاتې شول او زياتره يې تر دې وروسته د تدريس سره لېوالتيا نه لري. بابري وايي: «دوی بايد خپلې رشتې يو ځلې بيا ولولي او نوي تدريسي او درسي مواد چاپ کړي، خو داسې ښکاري چې دوی هېڅ حرکت نه لري.» نوموړي *«د پوهنځي او پوهنتون د پلان تهولنه»* مجلې لپاره په وروستۍ مقاله کې د داخلي جګړو او طالبانو په وخت کې د افغانستان پوهنتونونو ته کتنه کړې. دی په دې ليکنه کې د زياترو استادانو او اداري هيئت د داخلي تمرکز لاملونه بيانوي، چې تر اوسه هم په دې سيستم کې محسوسېږي.

بابري ليکي:

*استادان، کارمندان او محصلين ځورول کېدل او ځينې وختونه نيول کېدل او د پوهنتونونو ساحې په ناوړه توګه وېجاړې شوې. علمي ژوند په شدت سره د بدلېدونکې سياسي مشرۍ، د پيروۍ د غوښتنو او د فشار او تهديدونو له وېرې څخه تر اغېزې لاندې راغلی وو. د سياسي لاسوهنې، فکري تحميل، د علاقې له منځه تللو او د تحقيق لپاره د سرمايې د کمښت له کبله تحقيق په مکمله توګه پای ته ورسېد... نظام په نورو طريقو له ماتې سره مخ شوی وو، ايډيالوژي، سمت پالنه او قوم پرستۍ په تصميم نيونه کې ډېر مهم رول درلود او په دې توګه د جګړې اغېزې وغزېدې، لکه: د بريدونو وېره، ترهګريزې بمبارۍ، وژنې، زياتېدونکي جنايتونه او د زياترو استادانو او کارمندانو داخلي تمرکز . دا د هغو خلکو چې په جګړه کې يې هوساينه او د ژوندانه وسايل له لاسه ورکړي وو، د ژوند حالت ؤو. دوی تر هرڅه زيات د خپلو ځانونو ساتلو ته متوجه وو.*

*په دې وخت کې د مرکزي واکمنۍ پخواني دودونه، تر هر څه ډېر مهم شول، چې تېټ پوړي مامورين به يې د پرېکړې له نيولو څخه وېرول او لوړ پوړي چارواکي يې*

*درانه او قدرتمند حاکمان کړل. سر بېره پر دې عمده اختلافات موجود وو، لکه دیني اختلافات، په زده کړه کې د مفکورې ونډه او په لوړو زده کړو د ځینو کړیو لخوا فشار چې غوښتل یې ښځې له پوهنتونونو څخه وباسي او په ټولنه کې د دوی ونډه کمه کړي. دې ټولو عواملو د تغیراتو لپاره هیله مندي ډېره محدوده کړه او د بدلون فرصت یې تقریباً له نشت سره برابر کړ.*

*د بودیجې له کمښت او د مرسته کوونکو له محدود ملاتړ سره (چې زیاتره مرستې لومړنیو یا ثانوي زده کړو ته ورکړل شوې)، د بریالیتوب پر وړاندې کوچني مخالفتونه ډېر لوړ وو.*

بابري په انجنیري، ځمکپوهنه او فارمسي پوهنځیو کې لوی بدلونونه (ډېر لابراتوارونه او غوره استادان) ستایي، خو دا مني چې تر اوسه هم په کابل پوهنتون کې (چې په هېواد کې تر ټولو لوی او پرمختللی پوهنتون دی) داسې استادان شته، چې له لکچرنوټونو څخه تدریس کوي. دا نوټونه یې څو لسیزې پخوا راټول کړي، په څو څله کاپي شوي او په سختۍ سره لوستل کېدای شي.

په ورته وخت کې په دولتي پوهنتونونو کې د لوړې درجې استادانو شمېر کم دی، نو دا لامل هم د استادانو ظرفیت کمزوری کوي، چې څېړنه وکړي او نوي درسي منابع را ټول کړي.

په ۲۰۱۳ زېږدیز کې د ښوونې او روزنې د خپلواک عالي کمیسیون([1]) یو پخواني مشر سیف صمدي لیکلي: «د لوړو زده کړو وزارت له هڅو سره سره، په تېرو څو کلونو کې د پوهنځیو د استادانو وړتیاوو په کافي اندازه پراختیا نه ده کړې.»

---

۱. دا بنسټ په ۲۰۰۲ زېږدیز کال کې تأسیس شو او د UNESCO په ملاتړ د افغان حکومت په لومړیتوب کې را منځته شو، چې په هېواد کې د زده کړو د سیستم د بیا رغونې او نوي کولو لپاره اړینې پالیسۍ او ستراتیژۍ ته پراختیا ورکړي. په غونډو کې افغان روزونکي، روڼ اندي، له نورو هېوادونو څخه د زده کړو متخصصین، نړیوال بسپنه ورکوونکي او د ملګرو ملتونو د نورو اېجنسیو استازي سره یو ځای شول.

دی همداراز وایي: «تېر کال د ۵۰۰ په شاوخوا کې نوي استادان وګمارل شول، چې یوه یې هم دوکتورا نه درلوده، بلکې زیاترو یې یوازې لېسانس درلود. سربېره پردې په ۲۰۱۲ زېږدیز کال کې ډېر شمېر مشران استادان د تقاعد عمر ته ورسېدل. د استادانو ترفېع او مسلکي وړتیا به د لوړو زده کړو وزارت لپاره د لویې ننګونې په توګه دوام ولري.»

اوسنی شمېر ښیي چې په افغاني پوهنتونونو کې زیاتره استادانو (۵۷٪) یوازې د لېسانس تر کچې زده کړې کړې دي، یوازې ۳۸ سلنه ماستري او یوازې ۵ سلنه استادان د دوکتورا درجې لري.

یو زیات تعداد تحقیقاتي یا د ماسترۍ او دوکتورا بورسونه (د بېلګې په توګه د USAID، GIZ، نړیوال بانک او UNESCO له خوا) چې په بهر کې د محصلینو او استادانو لپاره د لاسرسي وړ دي، کولای شي د نالایقو کارمندانو دوره او د نوي تحقیق کمښت پای ته ورسوي، نو په دې توګه به مناسب درسي مواد را منځته شي. د لوړو زده کړو وزارت یو سلاکار احمد سمین، چې د لوړو زده کړو لپاره یې د نوي پنځه کلن ستراتیژیک پلان (له۲۰۱۰-۲۰۱۴ کال پورې) په جوړولو کې مرسته کړې، وایي: «دا خلک به په پنځو کلونو کې په افغانستان کې د تدریس بڼه بدله کړي.»

د بېلګې په ډول د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي ته د آلمان له بوخم پوهنتون څخه، چې له جګړو څخه وړاندې د کابل پوهنتون پخوانی همکار دی، اته تنه نوي استادان له ماسترۍ درجو سره یو ځای راغلل.

که څه هم ښایي په بورسونو ټول تللي کسان بېرته په علمي برخه کې د کار کولو لپاره را نه شي او همدارنګه د دماغونو پرواز یا Brain Drain (بهرنیو هېوادونو ته د پوهانو تلل او هلته مېشت کېدل) هم تر یوه حده دغه ځواک له منځه وړي.

AAN ته یوې سرچینې ویل، چې د Fulbright پروګرام په بورسونو باندې تللي کسان چې افغانستان ته د راګرځېدو پر ځای په متحده ایالاتو کې پناه اخیستې ده، په

۲۰۱۳ زېږدیز کال کې له ۲۵ سلنې څخه اوس ۳۵ سلنې ته زیات شوي دي. همداراز په ۲۰۱۳ زېږدیز کال کې د لوړو زده کړو په اړه د نړیوال بانک د یوې هراړخیزې ارزونې لیکوالانو یادونه کړې: «زیاتره افغان محصلین، چې بهر ته سفر کوي، نه شي کولای بېرته راوګرزي، نو په بهرنیو هېوادونو کې دندې پیدا کوي.»

دا لیکوالان یو ضرورت ته اشاره کوي، چې باید د تحصیلي رتبو یا دې ته ورته پروګرامونو یوه پراخه لړۍ، په هېواد کې د ننه د لوړو زده کړو په موسساتو کې چمتو شي، خو دا ډېره لرې خبره ده. دا مهال افغانستان یوازې لږ شمېر د ماسترۍ پروګرامونه لري، (لکه په فزیک، کمپیوټر ساینس، ځمکپوهنه، کانونه، هایدرولوژي، د تېلو او ګازو موندنه او راویستنه او ښوونه او روزنه کې) او له پښتو او دري څانګو څخه پرته د دوکتورا په برخه کې هېڅ پروګرام نه لري.

*دریم خنډ: ژبه*

د محصلینو لپاره د نویو او غوره درسي کتابونو او اپډېټ شویو منابعو په مخ کې تر ټولو لوی خنډ ژبه ده. په پښتو او دري ژبو ډېر کم با کیفیته درسي مواد شته، په داسې حال کې چې د محصلینو او همدا راز استادانو د انګلیسي- ژبې وړتیا له انګلیسي درسي موادو څخه د ګټې اخیستنې لپاره کمزورې ده.

خو انګلیسي مواد د نړیوالې ټولنې په واسطه په پراخه کچه د رایجولو په حال کې دي؛ ځکه د دغه سکتور په بیا جوړونه کې زیاتره مرسته کوونکي نړیوال سلاکاران یا انګلیسي ژبې دي او یا په انګلیسي ژبه د کار کولو پوره بلدتیا لري([۱]).

زیاتره نوي علمي اثار Syllabi (تدریسي برنامې) لري، چې په دې وروستیو کې له نوي

---

۱. سلاکارانو ځینې وختونه له ایران څخه د کتابونو د اخیستلو لاربښوونه کړېده؛ دا کتابونه په رښتیا هم د افغاني پوهنتونونو د کتابونو لویه برخه تشکیلوي، خو د ګاونډیو هېوادونو پر کتابونو باندې ژوره بې باوري شتون لري. د پوهنتونونو استادان شکایت کوي، چې د ټولنیزو علومو کتابونه فکري اغېزې لري او سیاسي بڼه ورکړل شوې ده او د ځینو نورو تخنیکي رشتو لکه اقتصاد لپاره د دې کتابونو ژبه ډېره متفاوته او مشکله ده.

تعلیمي نصاب سره یو ځای را منځته شوې، نو له همدې کبله د انګلیسي آثارو مهمې برخې په بر کې نیسي.
دا برنامې د داسې سیستم لپاره، چې انګلیسي وړتیاوې په کې کمې وي او په داسې یو هېواد کې، چې د ۵۰ سلنه په شاوخوا کې ټول افغانان، حتی په پښتو او دري ژبو لوستل او لیکل نه شي کولای، ګټورې نه دي (د نویو ځوانانو – ۱۵ کلن یا زیات – د سواد کچه تر اوسه ۳۱.۴ سلنه او د ځوانانو – ۱۵ تر ۲۴ کاله – یوازې ۴۷ سلنه).
له تېر کال څخه را پدېخوا، په ځینو پوهنځیو کې استادانو ته امر شوی، چې ټول مضمونونه په انګلیسي ژبه تدریس کړي. دا کار په ځانګړي توګه په هغه پوهنځیو کې پلي کېږي، چې وزارت او بسپنه ورکوونکو د زیاتو اړینو رشتو په حیث درک کړي دي، لکه انجینري، کمپیوټر ساینس، طب او عامه اداره او پالیسي. په ۲۰۰۵ زېږدیز کال کې د UNESCO لخوا د لوړو زده کړو وزارت لپاره په پرمختیایي پلان کې په انګلیسي- ژبه د تدریس وړاندیز شوی وو («د پوهنځیو پرمختګ او تحصیلي برنامه وده کوي، چې په ټاکل شویو پوهنتونونو او پوهنځیو کې انګلیسي- د تدریس د ژبې په توګه وکاروي.»)
په دې برخه کې د افغانستان د پخواني ولسمشر حامد کرزي، بیا بیا غوښتنې باید وستایل شي، چې غوښتل یې په انګلیسي ژبه تدریس وشي، چې اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره شي. کرزي د بېلګې په ډول د هند، ایران او پاکستان یادونه وکړه، چې په طب او نورو مهمو برخو کې یې پر زده کړو د نړیوال تمرکز له لارې یې زیات پرمختګونه کړي دي.
خو د افغان فارغینو (چې په نړیوالو سیالیو کې ګډون کوي) راتلونکي ته په کتو سره، دېته پاملرنه نه ده شوې چې افغان محصلین تر اوسه دې حالت ته نه دي رسېدلي او ښایي تر لسو نورو کلونو پورې هم و نه رسېږي؛ ځکه په لومړنیو او منځنیو ښوونځیو کې د انګلیسي ژبې تدریس تر اوسه نیمګړی دی او داسې زده کوونکي فارغوي، چې

یوازې کولای شي انګلیسي ځینې مفاهیم و لولي، نوم یې څه دی او د کوم ځای دي. له ټولو هغو محصلینو څخه، چې په کابل پوهنتون کې ددغه څېړنې پر مهال ورسره خبرې شوې، نیمایي یې نه شوای کولی، چې په انګلیسي- ژبه ساده خبرې اترې وکړي.

د معلوماتي ټیکنالوژۍ د شپږم سمستر یو تن محصل رحیم AAN ته وویل، چې د دوی استادان هېڅکله په انګلیسي تدریس نه کوي؛ ځکه دوی غواړي، چې موږ یې په درس پوه شو. نوموړی وایي: «پوهنځي ته درې برخې محصلین له ولایتونو څخه راځي او په انګلیسي خبرې نه شي کولای. زیاتره یې ډراپ (له پوهنتون څخه ایستل) کېږي؛ ځکه استادان په ټولګي کې په دري ژبه خبرې کوي، خو درسي مواد یې زیاتره وخت په انګلیسي وي او پښتانه محصلین چې لوی اکثریت دي، نه شي کولای له هغو څخه ګټه پورته کړي.»

*نوی تعلیمي نصاب، نوي درسي پروګرامونه ـ لا هم کتابونه نشته.*

په سیستم کې د ننه چیلنجونه (ننګونې) او د مسوول اداري هیئت کمزوري په چټکۍ سره نه حل کېږي، خو ددې لپاره یوه مرحله شتون لري، چې د وزارت مرستیال پر هغه د ټینګار کولو لېوال دی. په تېرو دریو کلونو کې وزارت د کابل پوهنتون په زیاتو پوهنځیو فشار راوړ، چې د نورو پوهنتونونو د لارښود په حیث د څو لسیزو په پخواني تعلیمي نصاب بیا کتنه وکړي. دا موضوع د اوسني پنځه کلن ستراتیژیک پلان په تړون کې تر ټولو زیات ټینګار شوی جز ؤو. ۵۲ پوهنځیو دا کار سر ته رسولی دی، چې دا شمېره د ټول هېواد د پوهنځیو ۳۵ سلنه تشکیلوي. نوی تعلیمي نصاب د علمي آثارو فهرست یا تدریسي- برنامه په بر کې نیسي-، اما هغه پوهنځي چې نوی تعلیمي نصاب او تدریسي برنامه لري، هم په قطعي توګه یې نه دي اجراء کړي. استادان شکایت کوي، چې دا برنامې ډېرې پېچلې دي او دوی اړین درسي مواد، کتابونه او مرستندوی وسایل نه لري چې لومړی یې دوی زده کړي او بیا

يې محصلينو ته تدريس کړي.

د کابل پوهنتون د رياضياتو ديپارټمنت استاد انور غوري وايي، چې د تېر کال راهيسې د دوی ديپارټمنت په نظري ډول سره نوی تعليمي نصاب تدريسوي، خو په حقيقت کې استادان نه غواړي، چې مخکيني درسي مواد او موضوعات بدل شي؛ ځکه نوي مواد، چې د نصاب په درسي پروګرام کې يې سپارښتنه شوې، د دوی لپاره نا آشنا دي.

د اقتصاد پوهنځي رئيس سيد محمد تېنګار وايي، چې پوهنځی يې لږ تر لږه د نصاب د هر نوي کتاب يوه نمونه لري، خو دا کتابونه د استادانو په دفترونو کې د قلف او کلي تر شا خوندي دي، چې دغه ارزښتناک کتابونه د محصلينو له خوا د کاپي کولو لپاره د وړلو پر مهال له خرابېدو څخه وساتل شي. (همدا راز لسګونه کلونه کېږي، چې د پوهنتون له کتابتونونو څخه د غلا شويو کتابونو لپاره ګرم بازار موجود دی.) له همدې امله علم يوازې تر استادانو پورې محدود شوی دی او محصلين تحقيق ته نه هڅول کېږي.

په ژورنالېزم پوهنځي کې هم استادان په الماريو کې د نويو کتابونو يوه يا دوه کاپي ګانې لري، چې د دوی په وينا په خپلو پيسو يې را نيولي دي. يو تن استاد AAN ته وويل: «د زياتو کتابونو د اخيستلو لپاره پيسې نشته، نو هغه څه چې موږ يې لرو بايد ويې ساتو.» له بلې خوا، حتی که چېرې کتابونه په بازار کې موندل کېږي، محصلين يې د اخيستلو لپاره ډېرې پيسې نه لري په داسې حال کې چې د ځانګړو موضوعاتو په اړه نړېوال کتابونه په بازار کې نه شته. (دا يو بل دليل دی، چې بايد په پوهنتونونو کې له کتابونو څخه پر ډکو کتابتونونو ټينګار وشي، چې هر څوک وکولای شي له لګښت پرته درسي کتابونو او نورو ماخذونو ته لاسرسی ولري.) له همدې دې کبله هغه کتابونه، چې په ژورنالېزم پوهنځي کې يې استادان محصلينو ته تدريسوي، بايد چېتر په چېتر يې دوی ته کاپي کوي، محصلين نه شي کولای، له هغه څخه زيات څه ولولي، چې اوسمهال ورته تدريس کېږي. همدا حالت په نورو پوهنځيو کې هم جريان لری.

د AAN یو تن مېلمه لیکوال نعمت ابراهیمي، د شخصي- لوړو زده کړو مؤسساتو او دولتي پوهنتونونو د پرتلې په اړه په یوه لیکنه کې د ۲۰۱۳ زېږدیز کال د فارغ التحصیل یادونه کوي، چې ویل یې د تحصیل په څلور کلن پروګرام کې له دوی څخه د یو کتاب د پوره لوستلو غوښتنه هم نه ده شوې.



*د کابل پوهنتون ترڅنګ د فوتو کاپي دوکان چې له پخوانیو چپترونو او لیکچرنوټونو ډک دی*

حتی په اداره او عامه پالیسي- پوهنځي کې هم حالت ښه نه دی. دا چې دغه پوهنځی د اړینو رشتو له ډلې څخه دی او د دې پوهنځي سرپرست رئیس عبداللطیف رحماني یو تکړه ځوان دی، نو د نړیوالې ټولنې د خوښې وړ پوهنځی دی، له دې کبله د نورو پوهنځیو په پرتله زیاته پاملرنه ورته کېږي او د بسپنه ورکوونکو او بهرنیو پوهنتونونو له خوا دوه اړخیزې همکارۍ ورسره جریان لري، خو ددې پوهنځي د رئیس په وینا، دا پوهنځی تر اوسه یوازې ٦٠ سلنه کتابونه په انګلیسي ژبه لري او په پښتو او دري ژبو د کتابونو شمېر کابو په نشت حساب دی.

دی وایي: «د محصلینو لپاره په پښتو او دري ژبو د نویو درسي کتابونو چمتو کول د لومړیتوب حق لري.»

*آیا د لوړو زده کړو له زیات ملاتړ سره سره به د کتابونو شمېر زیات شي؟*

د خوښۍ خبره داده، چې بسپنه ورکوونکي اړخونه د لوړو زده کړو په له پامه غورځول شوې برخه کې خپلې هڅې زیاتوي، (په داسې حال کې، چې افغان دولت تر نن پورې د لوړو زده کړو په برخه کې د دولتي لګښتونو له ۲ سلنې څخه کمه پانګه اچونه کوي او پر لومړنیو او ثانوي زده کړو له ۱۳ سلنې زیاته پانګه اچونه کوي).

کله چې د ۲۰۰۹ زېږدیز کال په ډېسمبر میاشت کې د لوړو زده کړو وزارت او له UNESCO، نړیوال بانک او USAID څخه سلاکارانو د لوړو زده کړو لومړنی ملي ستراتیژیک پلان معرفي کاوه، دوی د هغه د پلي کولو لپاره د ۲٦۴ میلیون امریکایي ډالرو په شاوخوا کې د بودجې وړاندوینه کړې وه.

د ۲۰۱۳ زېږدیز کال تر پایه پورې یوازې ۲۰ سلنه (۱۱۱ میلیون ډالر) لاسته راغلي وو «ددې لپاره، چې دا پیسې له کوم ځای څخه لاسته راغلې او په څه باندې ولګول شوې (۱) وګوریځ». لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، دا ځکه چې بسپنه ورکوونکو (Donors) پر لومړنیو او ثانوي زده کړو پانګې اچونې ته ترجیح ورکوله او افغان

---

۱. «د افغانستان لوړې زده کړې: د کیفیت، لیاقت، او بدلون لپاره مبارزه» تر عنوان لاندې په یوه مقاله کې د Society for College and University Planning مجلې لپاره عثمان بابري او د لوړو زده کړو لپاره د USAID پخواني سلاکار Fred Hayward څرګندوي، چې حتی د لومړي ستراتیژیک پلان تر پیل پورې بسپنه ورکوونکو د لوړو زده کړو په برخه کې پانګه اچونې سره علاقمندي نه درلوده. دوی د ۲۰۱۳ زېږدیز کال تر نیمایي پورې نړیواله بودجه په تفصیل سره داسې بیانوي: ۲۰ میلیون امریکایي ډالر مقدماتي بودجه د نړیوال بانک له لورې، ۱۳میلیون امریکایي ډالر د ناټو له خوا له انټرنیټ سره د پوهنتونونو د نښلولو لپاره، ۸ میلیونه امریکایي ډالر د USAID لخوا په کابل پوهنتون کې د تعمیراتي کارونو لپاره، ۲۷ میلیون امریکایي ډالر د ARTF په مرسته، او ۲.۱ میلیون امریکایي ډالر د ولسمشر د دفتر له لورې د پوهنځیو د پرمختګ لپاره.

دا یوه بله پوښتنه ده، چې آیا کېدای شي زیاته بودجه په مناسبه او دوامداره توګه د داسې وزارت له لورې په مصرف رسېدلې وي، چې تر اوسه هم د لایقو مدیرانو له نشتون سره لاس او ګرېوان دی، او د نسبتاً خراب مدیریت لرونکو پوهنتونونو لخوا، چې فساد پکې په پراخه کچه شتون لري، په لګښت رسېدلي وي.

حکومت هم د لوړو زده کړو پر نسبت لومړنیو زده کړو ته لومړیتوب ورکاوه او همدارنګه د وزارت په مقام کې د زیاتو پیسو په اداره کولو کې بې باوري هم ددې سبب شوه.

له دې سره سره اوس نړیوال بانک ([1]) او USAID، چې په دې برخه کې تر ټولو لوی بسپنه ورکوونکي دي، د راتلونکو څو کلونو لپاره خپلې پروژې پیلوي. نړیوال بانک (چې په تېرو ۸ کلونو کې یې پر لوړو زده کړو ۶۰ میلیون ډالر لګولي دي) د راتلونکو پنځو کلونو لپاره ۱۰۰ میلیون ډالر چمتو کوي، چې د بسپنه ورکوونکو د ټولنې لخوا ARTF ته ورکړل شوي دي. ددغې پروژې پیسې به د دولت د راتلونکي پنځه کلن ستراتیژیک پلان (۲۰۱۵-۲۰۱۹) د ځینو برخو د پلي کولو لپاره په کار واچول شي؛ د ځانګړو موخو د لاسته راوړلو سره به په تدریجي توګه په وزارت او پوهنتونونو هم ولګول شي.

له بل پلوه USAID د پوهنتونونو ملاتړ او د بشري ځواک انکشاف (USWDP) پر نوي پنځه کلن پروګرام ۹۲ میلیون ډالر پانګه اچونه کوي.

پوښتنه دا ده، چې آیا دغه زیاتېدونکی مالي ملاتړ به د استادانو او محصلینو لپاره د نویو او لاسرسي وړ درسي او تدریسي منابعو په کمښت کومه اغېزه وکړي، که څنګه؟ داسې برېښي، چې ځواب یې «نه» دی.

د USAID کارکوونکو د ۲۰۱۴ زېږدیز کال د سپټمبر په میاشت کې د مرکو په ترځ کې منلې، چې د دوی نوې پروژه به په درسي او تدریسي موادو تمرکز ونه کړي، بلکي

---

۱ . په ۲۰۰۵ زکال کې UNESCO د لوړو زده کړو وزارت په انکشافي پلان کې له وړاندې څخه خبرداری ورکړی، چې په لومړنیو او منځنیو ښوونځیو کې د زده کړو له چټک زیاتېدونکي عمومي ملي پروګرام سره به، د لوړو زده کړو تقاضا ډېر ژر موجوده فضا ډکه کړي. په ۲۰۱۳ زېږدیز کال کې Urs Schrade او Michael Daxner د افغانستان د لوړو زده کړو په اړه په یوه مقاله کې لیکلي: «لا تر اوسه (۲۰۱۲ زېږدیز کال پورې) افغان حکومت لوړو زده کړو ته په لومړیتوبونو کې ځای نه دی ورکړی.» نوموړي لیکوالان همدارنګه د ۲۰۰۵ او ۲۰۰۹ زېږدیز کلونو تر منځ اصلاحاتو ته د نه پاملرنې یادونه کوي، چې په وزارت کې د قاطع رهبریت د نه شتون له کبله وه.

دوی په پام کې لري، چې ددې پر ځای به د رهبریت او اداري برنامو په ملاتړ تمرکز کوي، چې دا به له دوی سره مرسته وکړي، تر څو په افغاني پوهنتونونو کې د اعتماد سیستم رامنځته کړي، د کیفیت تضمین ته وده ورکړي او مالي سیستمونه لاسته راوړي، چې پوهنتونونه پر خپل ځان بسیا شي.

له بلې خوا، نړیوال بانک د دوی په پنځه کلنه پروژه او هم د لوړو زده کړو په نوي ستراتیژیک پلان کې درسي او تدریسي منابع په پام کې لري، چې دا د لوړو زده کړو په پرمختګ کې مرسته کوي؛ اما دا هر څه له غیر مستقیمې لارې کوي. داسې ښکاري چې بسپنه ورکوونکي اړخونه او د لوړو زده کړو وزارت هم له دې مرحلو څخه صرف نظر کوي.

د هغو کارپوهانو پر وینا چې پر دې دواړو (پنځه کلنه پروژه او د لوړو زده کړو ستراتیژیک پلان) باندې کار کوي، په راتلونکي پنځه کلن ستراتیژیک پلان کې به د مجازي زده کړو ډېر مواد هم شامل وي، چې نړیوال ډیجیټلي کتابتونونه او آنلاین زده کړې په بر کې نیسي. بهرنیو پوهنتونونو ته به بلنه ورکړل شي، چې په افغانستان کې څانګې پرانېزي. تمه ده چې افغان محصلین به په هغو لکچرونو کې برخه واخلي چې له واشنګټن او برلین څخه د استادانو لخوا براربېږي او د هغوی د پوهنتونونو لخوا له آنلاین درسي موادو څخه به ګټه واخلي، خو په انګلیسي- ژبه ډیجیټلي او نړیوال راتلونکی تدریس او زده کړې مناسب ګام نه برېښي؛ ځکه د محصلینو او استادانو ستونزې په پام کې نه دي نیول شوې، چې دوی نه شي کولای د نوي تعلیمي نصاب کتابونه ولولي او پرې پوه شي (اخیستل یې بېله خبره ده).

الکترونیکي زده کړه له الکترونیکي منابعو سره هغه وخت د پلي کېدو وړ ده، چې د محصلینو او استادانو د انګلیسي ژبې وړتیاوې، مناسب انټرنېټ او همدارنګه اړین وسایل([1]) چمتو وي؛ په داسې حال کې چې له یادو آسانتیاوو څخه یوه هم نشته. د

---

۱. سره له دې، چې د وزارت د چارواکو په وینا په وزارت او پوهنتونونو کې ټول دفترونه له انټرنېټ سره

محصلینو او استادانو ترمنځ د انګلیسي ژبې د وړتیاوو د کمښت په اړه د پوښتنې په ځواب کې د لوړو زده کړو وزارت او بسپنه ورکوونکو ډاډ ورکړ، چې انګلیسي ژبه به په نوي پنځه کلن پلان کې یوه ستراتیژیکه رشته وي. که څه هم دا موضوع د تېر ستراتیژیک پلان یوه برخه وه، چې په کې ویل شوي وو: «پوهنتونونه هڅول کېږي، چې محصلینو ته فرصتونه برابر کړي، چې په لومړي کال کې انګلیسي ژبه ولولي او که چېرې له وړاندې څخه ورسره بلدتیا نه لري، نو د زده کړو په جریان کې دې هم د انګلیسي ژبې زده کړې ته دوام ورکړي.»

کله چې د ۲۰۱۴ زېږدیز کال د جنوري په میاشت کې د پلان د اجراء د څرنګوالي په اړه د USAID د یوې داخلي ارزونې په ترځ کې د ټاکل شوي هدف (د زیات شمېر محصلینو لپاره د انګلیسي ژبې د تدریس پلان جوړونې) ارزونه وشوه، دا ترې جوته شوه چې د دې کار لپاره بودجه په لاس کې نشته. په دې برخه کې یوازې موجوده بنسټیز پروګرامونه فعالیت کوي.

معلوماتي ټکنالوژي، چې ډیجیټلي منابعو ته د لاسرسي آسانتیاوې برابروي، هم ورته حالت لري. د وسایلو مالي لګښت به څوک ورکوي؟

بسپنه ورکوونکو په تېر کې د پام وړ بودجه د لوړو زده کړو د وسایلو (کمپیوټرونه،

---

نښلول شوي دي، خو په کابل پوهنتون کې چې د هېواد په سطحه تر ټولو لوی پوهنتون دی، حقیقت بل ډول ښکاري. لکه څرنګه چې د استادانو له دفترونو څخه مو لیدنه وکړه په زیاترو کې هېڅ لپټاپ یا کمپیوټر نه تر سترګو کېږي. د یوې تازه ارزونې له مخې په ټول هېواد کې په منځني ډول د ۲۹ محصلینو پر سر یو کمپیوټر رسېږي. زیاتره یې په هغو پوهنتونونو کې دي، چې ښه یې د ښارونو په مرکزونو کې دي د ټیټ کیفیت لرونکي یې د لرو پرتو ولایتونو په پوهنتونونو کې دي. لکه څرنګه چې د څېړنې له پرمختللو وسایلو څخه د ګټه اخستنې لپاره سرعت اړین دی، اوسمهال په ACKU (Afghanistan Center of Kabul University) کې، چې ښایي په کابل پوهنتون کې تر ټولو غوره انټرنیټ وي، یو PDF فایل ساعتونه وخت نیسي، چې له Arizona پوهنتون سره له نښلول شوي سرور (Server) څخه ډاونلوډ شي. دا مرکز اوس پر خپل همکار ټینګار کوي، چې د فایلونو سایز کم کړي، تر څو د افغان محصلینو یا لږ تر لږه په کابل کې د محصلینو لپاره د کار اخیستنې وړ وي.

فرنیچر او تعمیرات) پر بیا رغونه لګولې ده، اما اوسمهال دوی هم ددې کار لپاره دوه زرې دي، چې د هارډویر په برخه کې پانګه اچونه وکړي، په داسې حال کې چې ډېر زیات وسایل خراب شوي دي او هېڅوک نه توانېږي، چې ترمیم او لګښت یې پر غاړه واخلي.

نړیوال بانک هم نشي کولای چې د ستراتیژیک پلان ټولې برخې تمویل کړي. د دې برخې یو تن کارپوه وویل: «که مور رښتیني و اوسو، یوازې د یو پوهنځي (له کتابتون، لابراتوار او نورو ورته شیانو سره) بشپړه رغونه لږ تر لږه ۲۰ میلیون ډالر لګښت لري.»

یو تن چې د پلان مسوده یې لیدلې وه AAN ته وویل چې ددې پروژې په سند کې د درسي او تدریسي سرچینو ځانګړې یادونه نه ده شوې.

نړیوال بانک دا پروژه په داسې توګه طرحه کړې ده، چې د لوړو زده کړو وزارت او پوهنتونونه په خپله خوښه کولای شي، چې په نوي پنځه کلن ستراتیژیک پلان کې د اهدافو د پلي کولو لپاره د پروژې پیسې په څه ډول ولګوي. یوازې لویې لارښوونې ورکړل شوېدي، چې په هغه کې ۱۴ لویې موخې ټاکل شوېدي. له هغو سره نورې ټولې هغه موخې شاملېږي، چې وزارت او پوهنتونونه یې باید تر لاسه کړي تر څو د نورو پیسو په کار اچولو ته لاره هواره شي.

یو شخص AAN ته وویل: «که د لوړو زده کړو وزارت یا پوهنتونونه د کتابونو اخیستل، ژباړل یا چاپول د ځانګړي هدف د لاسته راوړلو لپاره اړین بولي، نو دوی ددې کار په کولو کې آزاد دي»، خو له ډېرو ستونزو سره سره چې مخکې یې یادونه وشوه، دا د پوښتنې وړ موضوع ده چې آیا وزارت یا د پوهنتونونو چارواکي به په هغه څه تمرکز غوره وګڼي، چې په تېرو څو کلونو کې ورته پاملرنه نه ده شوې که څنګه؟

## د راتلونکي لپاره حل لارې

د افغانستان راتلونکې په هغه بشري ځواک پورې تړلې، چې اوس د جوړېدو په حال کې دی. ټول افغان ځوانان د کار لپاره د پوهنتون درجې ته اړتیا نه لري، خو هغوی

چې اوس پوهنتونونو ته ځي، باید په اړوندو څانګو کې د متخصصینو په توګه فارغ شي، اما اوسنی حالت داسې نه دی؛ ځکه د ډېرو مضمونونو لپاره په هغو ژبو چې محصلین پرې پوهېږي کم شمېر نوي کتابونه شته. په تېرو کلونو کې د لوړو زده کړو د اصلاحاتو هڅو تناقض منځته راوړی دی، یعنې هغه څه چې په نویو ساختمانونو او نویو پوهنځیو کې تدریس کېږي لا هم زاړه دي.

په تېر کې د پښتو او درسي ژبو درسي کتابونو لپاره بودجه نه ده تاکل شوې او داسې هم نه ښکاري، چې په راتلونکي کې به دې کار ته لومړیتوب ورکړل شي، په داسې حال کې چې د زده کړو چارواکي او بسپنه ورکوونکي غواړي الکترونیکي زده کړې د مجازي نړۍ او ډیجیټلي منابعو په اړه ګام پورته کړي. اما ددغه لوړ خیال په حقیقت بدلول به له دې زیات وخت ونیسي، چې د محصلینو څو راتلونکې دورې یې لري.

دا به په لومړنیو او منځنیو ښوونځیو کې د انګلیسي ژبې د تدریس د طریقې یوې منظمې بیا رغونې ته اړتیا ولري، (د لا زیاتو ښوونکو روزل، او کلیوالي سیمو ته د هغوی لېږل)، تر څو داسې زده کوونکي وروزي، چې وکولای شي د انګلیسي ژبې له ډیجیټلي سرچینو څخه ګټه واخلي او همدارنګه ددې کار لپاره د هارډویر او استادانو د روزنې په برخه کې خورا لویې پانګه اچونې ته اړتیا ده. ښایي دا هر څه په چټکۍ سره رامنځته نه شي، ددې هڅو له ډلې څخه ځینې یې ښایي هېڅ تر سره نه شي؛ ځکه د راتلونکو پنځه کلونو لپاره بودجه کافي نه ده، تر څو په پلان کې ټولو تفصیلي طرحو ته پاملرنه وشي.

دا ټول موضوعات د سیستم پرمختګ له ستونزو سره مخ کوي، چې ښایي په لرې راتلونکي کې یا فعالیت وکړي او یا یې هم ونکړي، په داسې حال کې، چې نننۍ اړتیاوې له پامه غورځول شوې دي.

له نوي تعلیمي نصاب او درسي برنامې سره کېدای شي دغه تشه په آسانۍ، چټکۍ او ارزانه توګه له داسې لارې څخه ډکه شي، چې په ټول هېواد کې درسي مواد

معياري شي او داسې کتابتونونه چمتو شي چې د ټولو استادانو او محصلينو لپاره کافي شمېر کتابونه ولري، په دې ډول به د چپټرونو د تدريس وروسته پاتې طريقه له منځه ولاړه شي.

دا بايد په راتلونکي پنځه کلن ستراتيژيک پلان کې يو اجباري شرط وګرځول شي، چې ټول پوهنځي دې د خپلو بودجو يوه برخه د محصلينو لپاره د داسې منابعو په چمتو کولو ولګوي، چې په نوي تعليمي نصاب او درسي برنامه کې يې سپارښتنه شوېده او ددې تر څنګ دې له انګليسي څخه پښتو او دري ژبو ته د کتابونو پر ژباړلو هم ولګوي.

افغان حکومت بايد په کلنۍ بودجه کې لږ تر لږه د ضروري اندازه پيسو په زياتولو سره په دې کار کې مرسته وکړي. ښايي دا هم د فکر وړ وي چې د کابل پوهنتون د پوهنځيو اوسنۍ درسي برنامه په نورو ولايتونو کې د هغو پوهنځيو لپاره معيار وګرځول شي، چې تر اوسه يې پر تعليمي نصاب بيا کتنه نه ده کړې، نو په دې توګه به د زړو او له وخته تېرو درسي موادو د کارولو مخنيوی وشي.

مخکيني بسپنه ورکوونکي او حکومتي راپورونو لږ تر لږه د کتابونو د مجموعو، درسي او تدريسي موادو ارزښت منلی دی (د بېلګې په توګه، د نړيوال بانک د راپور په ۳۲/۳۱ پاڼه کې راغلي دي: «*د هېواد شموله پلان تأسيس، چې په هغې کې اداري هيئت او محصلين کولای شي هر ډول الکترونيکي درسي موادو ته لاسرسی ولری، بايد د کتابونو او ژورنالونو په هارډ کاپي ګانو باندې له مناسبې پانګې اچونې سره موازي و اوسي؛ ځکه دا کار به له هغې يو څه وخت وړاندې وي چې علمي ټولنه ـ په ځانګړي ډول پخواني پوهان ـ وغواړي په الکترونيکي کتابونو او منابعو کار وکړي*”).

دا سپارښتنې تر اوسه نه دي پلې شوي، خو په کابل پوهنتون کې له استادانو سره د خبرو اترو پر مهال د دوی له نظرياتو څخه څرګندېږي، چې د ملاتړ وړ دي.

د يحيی وردګ نوښت يې يوه بېلګه ده چې د ملي کتابونو په کار اچولو غوښتنه لري.

نومورړی په تېرو څو کلونو کې یوازینی شخص دی، چې د څو مضمونونو په معیاري درسي کتابونو سره لږ تر لږه د لویو پوهنتونونو د سمبالولو منظمه هڅه کوي، یعنې دا کتابونه په هغو ژبو لیکل شوي چې محصلین وربانديې پوهېږي.

یحیی وردک د لوړو زده کړو وزارت سلاکار دی، که څه هم په لومړیو کې یې هغه دنده په ښکاره توګه نه وه ټاکل شوې چې د آلمان د حکومت لخوا یې پیسې ورکول کېدي، نو ده پرېکړه وکړه چې د پوهنتونونو لپاره کار وکړي، څو درسي او تدریسي- مواد تر لاسه کړي او هغوی ته پراختیا ورکړي، په داسې حال کې چې نه د بسپنه ورکوونکو لخوا او نه هم د لوړو زده کړو د وزارت لخوا بودجه ورکړل شوې وه.

یحیی وردک له استادانو او وزارت سره په ګډه د افغان استادانو په پښتو او دري ژبو لیکل شوي کتابونه او یو شمېر نړیوال معیاري کتابونه وټاکل. له هغه څخه وروسته، د نومړي پر وینا، د پیسو د غوښتلو په موخه یې سفرونه وکړل (Begging Tours)، چې له نادولتي موسسو او بهرنیو علمي ټولنو څخه د دغو کتابونو د ژباړې او چاپ لګښتونه لاسته راوړي. نومړي په دې توګه ۱۵۲ نوي درسي کتابونه ګټه اخستنې ته سپارلي دي، چې زیاتره یې طبي دي (ښاغلي وردک طب لوستلی دی).

د یادو کتابونو له ډلې څخه، ځینې یې په یوه خوا انګلیسي او په بله خوا پښتو یا دري متن لري، چې دغه کار پر بله ژبه د لیکل شویو مضمونونو د پوهېدلو یوه ګټوره لاره ده. وردک د دغو منابعو د چمتو کولو له کبله د ولایتونو د پوهنتونونو له رئیسانو څخه مننلیکونه هم تر لاسه کړي دي.

همدا راز نومړي پخپل کاري دفتر کې زیات شمېر لیکل شوې پاڼې او نړیوال درسي کتابونه لري، چې پوهنځیو یې د ژباړې او چاپ غوښتنه کړې ده. سره له دې چې نومړي د دې کتابونو د چاپ لپاره تر اوسه پیسې لاسته نه دي راوړې، په هر حال، دا به له سمندر څخه یو څاڅکی وي.

یحیی وردګ وایي: «موږ د پوهنتونونو لپاره د درسي کتابونو یو ملي پروګرام ته اړتیا

لرو.» نوموړی پر دې نظر دی، چې د استادانو د وروستیو او با کیفیته تصحیح شویو کتابونو تر څنګ باید د هر مضمون لپاره لږ تر لږه پنځه نړیوال معیاري کتابونه وټاکل شي او پښتو او دري ژبو ته وژباړل شي، چې له استادانو سره د دوی د کتابونو په اپډېټ کولو کې مرسته وکړي او بیا له هغو منابعو څخه په ګډه اخیستنې سره د افغان محصلینو له وړتیاوو او اړتیاوو سره سم خپل کتابونه چاپ کړي.

وردک وایي چې یوازې د نړیوالو او انګلیسي منابعو چمتو کول، له استادانو سره د دوی د رشتو په بیا لوستلو او د تدریس په اصلاح کولو کې مرسته نه کوي. دوی به په هر حال کې یوازې هغه کتابونه کاروي، چې پرې پوهېږي، په تیارولو کې یې ونډه اخیستې او یا یې په خپله لیکلي دي.

د وردک په وینا: د خپلو کتابونو ملکیت مهم دی، په دې معنی چې استادان به د نویو درسي کتابونو کارول خوښ کړي او د پخوانیو اهداء شویو کتابونو په شان به یې له پامه و نه غورځوي.(۱)

د عامه پالیسۍ او اداري پوهنځي د رئیس عبداللطیف رحماني نوښت هم د غور وړ دی. نوموړي له نورو پوهنځیو څخه هغه استادان راټول کړي، چې په ټول هېواد کې د دوی اړوند مضامین تدریسوي، څو په ګډه سره له نوي تدریسي- برنامې څخه کتابونه وټاکي او په ډله ییزه توګه یې په داسې ډول وژباړي، چې نسبتاً تکړه همکاران

---

۱. د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي لپاره د جرمني د بوخم پوهنتون لخوا له ۳۰ څخه زیاتو کتابونو ژباړل یې یوه بېلګه ده. ددې پوهنځي رئیس په ټینګار سره وایي: چې د دوی استادان دا کتابونه ځکه نه کاروي، چې په ټیټ کیفیت ژباړل شوي دي. دی وایي: «تاسو داسې کسانو ته اړتیا لرئ، چې په آلماني، پښتو او دري ژبو باندې رواني خبرې وکولای شي، چې په موضوع پوه او ځانګړي کتابونه و ژباړي، خو دا کار نه دی تر سره شوی.» ددې موضوع یو څارونکي AAN ته وویل داسې ښکاري، چې د دې پروسې د ترک کولو احساس هم شتون لري، له همدې امله استادان هم د داسې کتابونو له کارونې سره علاقه مندي نه لري، چې دوی یې پر محتویاتو نه پوهېږي او په تیارولو کې یې هم کومه ونډه نه وي اخیستې. اوسمهال دا کتابونه د پوهنځي په کتابتون کې ایښودل شوي او استادانو له پامه غورځولي دي، نو له همدې کبله محصلین هم ورته پاملرنه نه کوي.

به د ضعیفو هغو ملاتړ کوي.
د ده په وینا، دا کار له استادانو سره له نویو معلوماتو څخه په خبرېدلو کې مرسته کوي او همدارنګه د تولید شویو کتابونو د ملکیت په برخه کې هم مرسته کوي.
نوموړی تر دې مهاله نه پوهېږي، چې د ټولو پوهنځیو د کتابتونونو لپاره د کافي شمېر کتابونو د چاپ پیسې به له کوم ځای څخه لاسته راشي، خو هیله څرګندوي، چې د ده طریقه به د تدریس له لوړ کیفیت سره نه یوازې په کابل، بلکې نورو ولایتونو کې هم مرسته وکړي او د کیفیت تیت پرک سطحه به منظمه کړي. له دې څخه څرګندېږي، چې دا کار د یو لاربنود په ډول په نورو پوهنځیو هم پلي کېدای شي.[١]




[١] رورز، کرېستېین، د کتابونو لپاره په کال کې یوازې زر ډالره بودجه، د افغانستان نامجهز پوهنتونونه، AAN ۲۳ نومبر، ۲۰۱۴ زېږدیز کال. https://www.afghanistan-analysts.org/one-thousand-dollars-for-books-per-year-afghanistans-undersupplied-universities/

# په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کمښت محصلین لا هم  زاړه نوټونه کاروي

*یادښت: دا لیکنه چې د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو د کموالي په هکله د ۲۰۱۵ زیږدیز کال د مارچ په ۳۰مه نېټه په افغانستان ټایمز انګلیسي ژبې ورځپاڼه کې خپره شوې ده، پښتو ژباړه یې په دې ځای کې وړاندې کېږي.*

کابل: د افغانستان په پوهنتونونو کې محصلین د درسونو د زده کړې لپاره تر اوسه زړې په لاس لیکل شوې پاڼې او نوټونه کاروي؛ ځکه د دوی لپاره په دولتي پوهنتونونو کې چاپ شوي درسي کتابونه د لاسرسي وړ نه دي.

استادان او محصلین په دې باور دي، چې د درسي کتابونو کمښت او د واحد درسي نصاب نشتوالی، په پوهنتونونو کې درسي سیستم اغېزمن کړی دی.

له دې امله د مختلفو پوهنتونونو محصلین مختلف نصابونه تعقیبوي، په ځینو پوهنتونونو کې دوې، درې لسیزې پخوا زاړه په لاس لیکل شوي کتابونه محصلینو ته ور وېشل شوي دي، چې په څو کلونو کې یو ځل هم نه دي اپډېټ شوي.

محصلین غوښتنه کوي، چې دغه په لاس لیکل شوې پاڼې اپډېټ، پرمختللي او د درسي کتابونو په شکل چاپ شي، چې د باکیفیته او لا غښتلي درسي سیستم په رامنځته کولو کې مرسته وکړي.

د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي یو تن محصل ملیار داسې وایي: «زیاتره استادان تر وخت تېر او زاړه چپټرونه او لکچرنوټونه تدریس کوي او دا د دې سبب شوی، چې محصلین په درسي سیستم کې له نویو بدلونونو او پرمختګونو څخه لرې و اوسي، محصلین له حکومت او اړوندو ادارو څخه هیله لري، چې دغه زړو په لاس لیکل شویو پاڼو ته د پای ټکی کېږدي او پر یو واحد او نوي کریکولم (نصاب) باندې کار وکړي، چې په افغاني پوهنتونونو کې د باکیفیته زده کړو په رامنځته کولو کې

مرسته وکړي.»
د ننګرهار پوهنتون د حقوقو پوهنځي یو محصل وفامحمد وایي:
«دا رښتیا ده، چې د هېواد په پوهنتونونو کې استادان زاړه او په لاس لیکل شوي نوټونه د درسي موادو په توګه کاروي، له کلونو راهیسې درسي مواد نه دي نوي شوي، هغه موضوعات چې موږ یې په پوهنتونونو کې زده کوو، په کاري مارکېټ کې د ګټې اخیستنې، کارونې او عملي کولو وړتیا نه لري، یعنې درسي نصاب د کاري مارکېټ د اړتیاوو پر بنسټ نه دی جوړ شوی.»
نوموړي ټینګار وکړ، چې درسي نصاب باید د نننۍ نړۍ له اړتیاوو او نوې ټکنالوژۍ سره سم جوړ شي.
ده زیاته کړه: «موږ د استادانو له زړو او په لاس لیکل شویو پاڼو او نوټونو سره په ستونزه کې یو، که چېرې د دغو درسي موادو په بدل کې معیاري او نوي درسي کتابونه راوړل شي، دا به د استادانو، محصلینو او ټول درسي سیستم لپاره غوره وي، چې د کیفیت د ښه والي په لور حرکت وکړي، اړوندې اداري باید دا موضوع جدي ونیسي او دغه په لاس لیکل شویو پاڼو پر ځای معیاري او نوي چاپ شوي درسي کتابونه راوړي، دا به د زده کړو کیفیت ته پرمختګ ورکړي او محصلینو ته به وړتیا ورکړي، چې هغه پوهه چې دوی یې په پوهنتونونو کې لاسته راوړي، د کار په عملي ډګر کې په ګټوره توګه وکاروي.»
نوموړي د خپلو خبرو په دوام کې وویل، چې په پوهنتونونو کې د ټولو په خوښه درسي نصاب نشته، نو له همدې امله هر پوهنتون او حتی هر استاد د محصلینو لپاره مختلف نصابونه، کریکولمونه او درسي مواد لري.
ده وویل: «د استادانو لپاره دا ډېر، ستونزمن کار دی، چې خپل درسي مواد اپډېټ کړي، که چېرې ټولو استادانو ته یو کریکولم ورکړل شوی وای، بیا دوی کولای شو، چې پر هغه په ګډه کار وکړي او هغه کال په کال، میاشت په میاشت او حتی هره

اونی کې اپډېټ کړي.
په داسې حال کې به د استادانو لپاره ممکنه وه، چې د اړتیا په صورت کې د نورو استادانو په ګډه همکارۍ د دوی درسي مواد په یو کتاب کې را غونډ او اپډېټ کړي.»
د ننګرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي یو تن استاد عبادالله ناصري، افغانستان ټایمز ته وویل، چې له انګلیسي ژبې سره د افغان استادانو نابلدتیا له هغو ستونزو څخه ده، چې د زده کړې سیستم ته زیان رسوي.
نوموړي وویل: «لکه څرنګه چې پوهېږو، موږ پخپلو ملي ژبو کې اپډېټ شوي او کافي کتابونه نه لرو، نو موږ اړ یو، چې خپل درسي مواد له انګلیسي ماخذونو څخه اپډېټ کړو، له بده مرغه، د پوهنتونونو زیاتره استادان نه شي کولای چې خپل درسي مواد له انګلیسي منابعو څخه اپډېټ کړي.»
د استادانو لپاره په مضمونونو کې بدلون بله ستونزه ده، چې د دوی د درسي موادو د نوي کولو مخه نیسي، په پوهنتونونو کې استادانو ته دا نه ده څرګنده چې کوم مضمون تدریس کړي. د بېلګې په توګه، که چېرې یو استاد د یو سمستر لپاره یو مضمون ونیسي، هغه ته په راتلونکي سمستر کې بل مختلف مضمون ورکول کېږي.
ښکاره خبره ده چې په داسې حالاتو کې استادان نه شي کولای، چې د دوی درسي موادو ته پراختیا ورکړي.
سربېره پردې زیاتره په لاس لیکل شوې پاڼې هېڅ ماخذ نه لري او دا ښکاره نه ده، چې دا درسي مواد له کومو منابعو څخه اخیستل شوي دي، دا ستونزه د محصلینو مخه نیسي چې هغه اصلي سرچینې ته لاسرسی ولري چې دا مواد ورڅخه تیار شوي دي.
په داسې حال کې چې معیاري درسي کتابونه اصلي ماخذونه لري، چې محصلین په دې قادر کوي چې د اړتیا په صورت کې د مضمون اصلي منبع ته لاسرسی ولري، په عمومي توګه د چاپ شویو درسي کتابونو کمښت تقریباً په ټولو دولتي پوهنتونونو کې

جدي ستونزه ده.

کله چې یو استاد له داسې کتاب څخه تدریس کوي، چې محصلین ورته لاسرسی نـه لري، په دې صورت کې د لاس لیکل شویو نوټونو او درسي کتابونو تر منځ هېڅ تـوپیر نشته، نو له همدې کبله د باکیفیته درسي سیستم لپاره له اړوندو دولتي ادارو او هغه غیر دولتي مؤسسو څخه، چې په دې برخـه کـې کـار کـوي غوښـتنه کېږي، چـې لـه استادانو سره مرسته وکړي چې د دوی اېډېټ شوي کتابونه په کافي تعداد سره چـاپ شي او د پوهنتونونو د ټولو محصلینو لپاره د لاسرسي وړ وي.

تقریباً ۷۰ سلنه استادان تر اوسه په لاس لیکل شوي چپټرونه د درسي موادو په توگـه کاروي، حکومت یا په دې برخه کې گمارل شوې موسسې کولای شي، چې پـه کـافي اندازه د درسي کتابونو د چاپ له لارې پـه هېـواد کـې د زده کـړو کیفیـت تـه پراختیـا ورکړي.

د لوړو زده کړو وزارت سلاکار ډاکټر یحیی وردک په دې اړوند داسې وایي:

«د دې لپاره چې په پوهنتونونو کې د تدریس کیفیت ته پراختیا ورکړو، ډېرو هلو ځلو ته اړتیا ده، چې د افغان محصلینو لپاره په ملي ژبو (پښتو او دري) په زرگونو اېډېټ شوي کتابونه چاپ شي؛ ځکه تر اوسه په پوهنتونونو کې افغان محصلین معیاري درسي کتابونو ته لاسرسی نه لري، چې دا د تدریس په سیستم منفي اغېزه لري.»

نوموړي زیاته کړه چې د نویو درسي کتابونو کمښت، اوسنیو تر وخت تېرو تدریسي مېتودونو او درسي موادو د افغانستان د پوهنتونونو تدریسي سیستم له لویې ستونزې سره مخ کړی دی.

همدارنگه نوموړي د درسي سیستم په عصري کولو او د محصلینو لپاره د نویو معیاري کتابونو په تیارولو ټینگار وکړ.

ده همدارنگه وویل: «د دې لپاره چې دې موخې ته ورسېږو، موږ تر اوسه ۱۵۷ عنـوان درسي کتابونه د افغاني پوهنتونونو لپاره چاپ کړي دي، خو دا به څنگه وکولای شي

چې د زیاتو مضامینو او زرګونو محصلینو لپاره بسنه وکړي. دغه پروژه چې په ۲۰۰۹ زېږدیز کال کې پیل شوه، زیات تمرکز یې د هېواد د پوهنتونونو لپاره پر طبي کتابونو وو، په داسې حال کې چې په ورته شکل نورې رشتې، لکه ټولنیز علوم، ادبیات، تاریخ او نور هم درسي کتابونو ته اړتیا لري.»

د کتابونو د بڼې په هکله ده څرګنده کړه، چې ۹۰ سلنه چاپ شوي کتابونه د پوهنتونونو د استادانو لخوا لیکل شوي دي او پاتې یې په انګلیسي ژبه دي.

هر کتاب یوه سي ډي لري، چې هماغه کتاب د پي ډي ایف په شکل پکې موجود دی، تقریباً د هر کتاب له ۱۰۰۰ څخه تر ۲۰۰۰ ټوکه پورې چاپ شوی دی، په حقیقت کې دغه شمېر کتابونه د هېواد د طب پوهنځیو ۶۰۰۰ یا ۷۰۰۰ محصیلینو لپاره بسنه نه کوي، خو بیا هم د دې کتابونو الکترونیکي بڼه د PDF په شکل د هر چا لپاره په www.ecampus-afghanistan.org وېب پاڼه د لاسرسي وړ ده.

«له بده مرغه زیاتره محصلین او استادان د دې وړتیا نه لري، چې په انګلیسي- ژبه کتابونه ولولي او دوی پر ملي ژبو (پښتو او دري) نویو کتابونو ته اړتیا لري، نو ځکه دوی له زړو پاڼو او لکچر نوټونو څخه ګټه اخلي.»

نوموړي یو ځل بیا ټینګار وکړ، چې په عمومي توګه په هېواد کې د طب پوهنځیو لپاره د زیاتو نورو کتابونو ژباړلو او چاپولو ته اړتیا لیدل کېږي څو استادان په دې وتوانېږي چې زاړه درسي مواد په نویو بدل کړي.

د دغو ۱۵۷ عنوان کتابونو د تمویل په اړه ډاکټر یحیی وردګ وویل، چې ۹۵ عنوان کتابونه د آلمان د علمي همکاریو د خدماتو مرکز (DAAD) له لوري او ۶۰ عنوان کتابونه د Kinderhilfe-Afghanistan له لوري تمویل شوي دي.

د کتابونو لیکوالانو ته هېڅ حق الزحمه یا امتیاز نه دی ورکړل شوی، بلکې د ستاینې په توګه ۵۰-۱۰۰ عنوان کتابونه هر لیکوال ته، ۴۰۰ ټوکه کتابونه د لیکوال پوهنځي ته او ۵۰ ټوکه نور په افغانستان کې ټولو ۷ طبي پوهنځیو ته ورکړل شوي دي.

ده زیاته کړه چې سربېره پر دې په پلان کې ده د دوه ډي وي ډي ۱۰۰۰۰ کاپي گانې، چې ټول چاپ شوي طبي کتابونه د PDF په فارمټ پکې موجود دي، محصلینو ته ور وووېشل شي. په دوو DVD گانو کې د چاپ شویو کتابونو مجموعه به محصلین او استادان وتوانوي، چې ټولو کتابونو ته په خپلو کمپیوټرونو کې لاسرسی ولري.

نوموړي همداراز ټینگار وکړ، د دې لپاره چې د ښوونځیو فارغین په پوهنتونونو کې په انگلیسي- ژبه له کتابونو او درسي موادو څخه د گټې اخیستنې وړتیا ولري، په ښوونځیو کې باید د انگلیسي ژبې د کیفیت د ښه والي لپاره جدي پاملرنه وشي.

کله چې له ښاغلي وردگ څخه د نورو درسي کتابونو د چاپ په اړه وپوښتل شول، ده وویل چې که څه هم د لوړو زده کړو وزارت او اړوندې اداري ددغه پروگرام په ارزښت پوهېږي، خو دوی د کتابونو د چاپ د پروسې د دوام لپاره کافي بودجه نه لري، نو له همدې امله که چېرې بودجې ته لاسرسی پیدا شي د درسي کتابونو د چاپ پروگرام به وکولای شي، چې په پوهنتونونو کې د محصلینو لپاره نور غوره او معیاري درسي کتابونه تیار کړي.[۱]

---

[۱] افغانستا ټایمز، د ورځپاڼه، افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابون کموالی، کابل، د ۲۰۱۵ زېږدیز کال د مارچ د میاشتې ۳۰مه نېټه.

# د درسي کتابونو په هکله
# له آریانا ټلوېزیون سره مرکه

*یادښت: په کابل کې د آریانا تلویزیون نطاق خوشحال آصفي د ۲۰۱۵ زېږدیز کال د مې د میاشتې په ۲ مه نېټه د افغانستان د پوهنتونونو لپاره د درسي کتابونو د چاپ د پروسې په هکله له ډاکتر یحیی وردک سره یوه مرکه کړې ده چې د خبرو لیکلی متن یې په دې ځای کې وړاندې کېږي.*



*سهار ژوند خپرونه ده، یو ځل بیا زه خوشحال آصفي ستاسو په درانه چوپړ کې یم.*

*د خپرونې دوهمه برخه ده، نن بیا هم د دې ویاړ لرم، چې یو تکړه افغان زموږ سره په خپرونه کې شته، جناب محترم ډاکټر صاحب محمد یحیی وردک، چې دوی د لوړو زده کړو په برخه کې ډېر زیات کارونه کړي دي او د دوی کړنې واقعاً د ستاینې وړ دي. تاسو زما مخې ته دا کتابونه ګورئ، دا چې دا کتابونه چا لیکلي دي، چا چاپ کړي دي، دا کتابونه چا بالآخره را ټول کړي دي او دا کتابونه ولې موږ د مېز پر سر ایښي دي؟ په دې برخه*

*کې به لاز معلومات وړاندې شي.*

*نن مې وغوښتل، چې ډاکټر صاحب محمد یحیی وردک خپروني ته راوغواړو، د ده په ژوندلیک باندې، د ده پر کړنو خبرې اترې ولرو.*

*ډاکټر صاحب ډېره مننه، ښه راغلاست ستړي مه شئ.*

یحیی وردک: زه هم خپل سلامونه تاسو او د آریانا ټلوېزیون لیدونکو ته وړاندې کوم.

*خوشحال آصفي: مننه، زه به چای هم درته وا چوم، دا خپله پوښتنه به داسې مطرح کړم، ډاکټر صاحب چې له سفر څخه یې پیل کړې.*

*په دې معنی چې ډاکټر صاحب محمد یحیی وردک چېرې زېږېدلی، لومړنۍ زده کړې یې چېرته کړي، لوړې زده کړې یې کوم پوهنتون کې کړي دي، لومړني کارونه چې تاسو کړي دي، لومړنۍ دنده چې تاسو تر لاسه کړې ده او دا کتابونه مخکې چې ما یادونه وکړه، ستاسو نورو کړنو ته پر هغې پر جزئیاتو خبرې وکړئ.*

یحیی وردک: تشکر صیب، زه خپله په وردګو ولایت کې زېږېدلی یم. درس او تعلیم مې تر دوولسم صنف پورې په کابل کې کړی، سپین کلي مکتب کې په شش درک کې او آخري څلور کاله مې په حربي ښوونځي کې ویلي دی، بیا مې یو دولتي بورس واخېست چکسلواکیې ته او هلته مې معالجوي طب لوستی دی (یا عمومي طب)، له هغې څخه وروسته بیا جرمني ته تللی یم او تقریباً شل کاله مې هلته ژوند کړی دی او کار مې کړی دی، بیا مې په Public Health ورته وایي Health Management او Health Education یعنې عامه روغتیا او اداره صحت عامه او صحي زده کړو کې مې نور درس ویلی دی او په جرمني کې مې کار کړی دی.

اوس پنځه کاله کېږي، چې د لوړو زده کړو وزارت سره همکار یم او هغه اصلي کار او ډېر زیات کار مې چې دلته د پوهنتون د استادانو، د لوړو زده کړو د وزارت په همکاری کړی دی، هغه مو دغه د درسي کتابونو د چاپ او تکثیر په برخه کې کړی دی.

*خوشحال آصفي: پرون ډاکټر صاحب ښاغلي احسان الله آرینزي سره ناست وم، زه د*

*دوی کورته ورغلی وم او خبره پر همدغه کتابونو یاده شوه ـ ستاسو پر کارونو، تاسو واقعاً پخپل مسلک کې زیات کار کړی دی.*

*کتابونه ما ولیدل، دا کتابونه د چا دي، چا لیکلي دي، چا چاپ کړي دي او تاسو په دې برخه کې څه ونډه لرئ، څه نقش لرئ؟*

یحیی وردک: مخکې له دې نه، چې زه کتابونو ته راشم، زه به دغه څو چپټرونه تاسو ته و ښیم. ما چې د کتابونو کار پیل کړ، هم له دغه ځایه؛ ځکه چې پنځه کاله مخکې ما ولیدل، ما ډېر تعجب وکړ.

*خوشحال آصفي: دا خو ډېر زاړه دي.*

یحیی وردک: هو، همدغه ځینې یې حتی په لاس لیکل شوي وو. دا په ځینو پوهنتونونو کې، په ځینو مضامینو کې یوازیني درسي کتابونه وو. له بده مرغه تر اوسه پورې هم په ځینو رشتو کې داسې له شل یا دېرش کلنو زړو لکچر نوټونو څخه استفاده کېږي، نو همغه وو چې موږ تصمیم ونیو چې باید په دغه برخه کې کار وکړو؛ ځکه چې په یوویشتمه پېړۍ کې موږ باید د پخوانۍ پېړۍ له کتابونو، درسي موادو څخه استفاده ونه کړو. تاسو باور وکړئ، چې اوس هم په ځینو پوهنتونونو کې له همداسې لکچر نوټونو څخه استفاده کېږي.

*خوشحال آصفي: او درس ورکول کېږي.*

یحیی وردک: هو، درس ور کول کېږي. یو خو دا چې دا لکچرنوټونه زاړه دي، بل دا چې معیاري هم نه دي. ځینې یې له ما سره په دفتر کې شته، نو په همغه اساس وو چې موږ خپل کار پیل کړ.

*خوشحال آصفي: دغو لکچرنوټونو تاسې ته انګېزه درکړه؟*

یحیی وردک: هو، هو، کار له دغه ځایه شروع شو، یعنې ماته حتی ژړا راغله.

*خوشحال آصفي: دا تاسو ولیدل، بیا مو کار پیل کړ.*

یحیی وردک: هو، بیا مو ولیدل، چې ځینې استادانو هم کتابونه لیکلي دي، خو څوک

يې نه ورته چاپوي او يا په چاپ کې، په ټايپ کې، په ډيزاين کې يې ستونزې لري.
موږ بيا د لوړو زده کړو له وزارت سره، له پوهنتونونو سره، له استادانو سره وليدل وغږېدو، ورو ورو مو دوی تشويقول. اول مو ۵ عنوان کتابونه چاپ کړل، بيا ۲۰ عنوانه شول، بيا ۳۰ عنوانه شول همداسې ورو ورو دغه استادان تشويقېدل او د هغوی په مرسته دغه بهير پيل شو.
يو استاد به يو کتاب راوړو بيا به يې چې هغه وليد چې په ښه صحافت چاپ شو، تقسيم شو او ټول افغانستان ته ورسېدو، بيا به يې نور کتابونه هم راوړل.
*خوشحال آصفي: دا ټول کتابونه تاسو چاپ کړي؟*
يحيی وردک: هو، دا کتابونه ټول موږ د لوړو زدکړو په وزارت کې چاپ کړي دي.
*خوشحال آصفي: ستاسو په شخصي لګښت؟*
يحيی وردک: نه، زما په همکارۍ او منجمنټ چاپ شوي دي.
*خوشحال آصفي: اصل کار تا کړی دی، چې دوی مو وهڅول.*
يحيی وردک: اصل کار خو د پوهنتونونو استادانو کړی دی؛ ځکه چې دغه کتابونه د دوی د ۱۰، ۲۰ او يا ۳۰ کلنې پوهې تجربې لاس ته راوړنه ده، نتيجه يې ده. موږ فقط داسې کړې دي، دغه کتابونه چې دوی ژباړلي دي، دوی ليکلي دي، دا مو را غونډ کړي دي، دا مو چاپخانې ته لېږلي دي، دوی ته مو (Fund) پيدا کړی دی، بودجه مو پيدا کړې ده، دا مو بېرته استاد ته ورکړي دي، دا مو همغه مربوطه پوهنځي ته ورکړي دي، دا مو د ټول افغانستان د طب پوهنځيو ته تقسيم کړي دي.
*خوشحال آصفي: نو ډاکټر صاحب، په دې کې څومره نوي موضوعات دي، تاسو يادونه وکړه، له پخوانيو چپټرونو څخه؟*
يحيی وردک: په دې کې ډېر نوي موضوعات دي.
*خوشحال آصفي: مثلاً؟*
يحيی وردک: زه به تاسو ته دغه دوه کتابونه را وباسئ. دا يو بين المللي ستندرد کتاب

دی، چې په انستیزی کې یو امریکایي مؤلف لیکلی دی.

*خوشحال آصفي: رهنمای اساسی انستیزی برای کشور های روبه انکشاف دری، انگلیسی.*

یحیی وردک: هو، دا همدا اوس په افریقا، آسیا او لاتین امریکا په ډېرو پوهنتونونو کې تدریس کېږي.

*خوشحال آصفي: دا نوي مواد دي.*

یحیی وردک: دا ۲۰ یا ۳۰ نورو ژبو باندې هم ترجمه شوی. دا زموږ او تاسو د افغانانو لخوا په دري ژبه ترجمه شوی دی. تاسو یې که دا یوه ورقه واړوئ، دا کتاب موږ په دواړو ژبو چاپ کړی دی، یوې خواته یې مکمله انګلیسي. دا صفحه چې په انګلیسي چاپ شوې، همدا صفحه په دري هم چاپ شوي ده. مکمل دوه جلدو کې دی، یعنې هم په انګلیسي ژبه هم په دري ژبه هغه تر ټولو نوي لاسته راوړنې تر ټولو نوي درسونه په کې ځای پر ځای شوي دي او همدا شان موږ دا خپل استادان دې ته هڅوو، چې تاسو پخواني لکچر نوټونه اپډېټ کړئ، له نویو کتابونو سره یې نوي کړي، ټایپ یې کړي، بیا یې راوړي چې چاپ یې کړو. دغه په خپله استادان هڅوي، چې خپل درسونه نوي کړي او بیا یې موږ ته راوړي او په ټول افغانستان کې یې تقسیم کړو.

*خوشحال آصفي: دا (سي ډي ګانې) د څه شي دي وردک صاحب؟*

یحیی وردک: موږ چې هر کتاب چاپوو، په دې خاطر چې موږ په افغانستان کې اوس څه کم ۲۰۰۰۰ په دولتي او شخصي طب کې محصلین لرو، نو په دې خاطر ۱۰۰۰ ټوکه چاپوو. دا هر چاته نه رسېږي، په دې هر کتاب کې ... که تاسو یو کتاب را واخلئ ... موږ دا مکمل کتاب، منځ کې یوه سي ډي ده، دا مکمل کتاب PDF شکل په سي ډي کې هم اچولی دی. سافټ یې کولای شي محصلین واخلي، په کمپیوټر کې یې واچوي، بل ته یې ورکړي، چې زیاتره خلکو (محصلینو) ته ورسېږي.

دریم کار چې موږ کوو، دغه موږ د جرمني د بوخم پوهنتون ته لېږو، همدغه سافټ کاپي بیا یو وېب سایټ په نامه دي www.ecampus-afghanistan.org په مکمله توګه هلته

پورته کېږي او هرڅوک يې کولای شي، چې خپل کمپيوټر ته يې ښکته کړي.

دا درې ورځې مخکې ما ته زموږ او تاسو يو محصل له ترابلس ليبيا څخه ايمېل را لېږلی وو، چې زموږ د کتابونو نه خبر شوی، بيا ما همغه معلومات ور ولېږل، چې ته کولای شې ټول کتابونه ډاونلوډ کړې.

ستاسو پوښتنې ته راځم دغه DVD چې تاسو گوری، بيا دغه ټول سافت کاپی د ۱۴۰ کتابونو په ۲ DVD گانو کې جوړ کړي دي.

خوشحال آصفي: *دا خو ډېر ښه کار شوی دی.*

يحيی وردک: دا داسې ده لکه مکمل طب، چې په ابتدا کې دوی کيميا، فزيک، بيولوژي ځينې مضامين لولي، بيا اناټومي هستولوژي همداسې سمستر وار موږ ټول اچولي دي. دا چې يو محصل ته ورکړو، يعنې مکمل طب يې په جېب کې دی، يا پخپل کمپيوټر کې دي.

خوشحال آصفي: *يوه بله پوښتنه وردک صاحب، دا په افغانستان کې چې تشخيص اوس درست نه کېږي او دوی ځي پاکستان ته او د افغانستان د طبابت ډگر همدا اوس هم پاکستان دی، دا خو ته هم منې زه يې هم منم، ټول خلک يې هم منې، د دې وجه څه ده؟ چې دوی په پوهنتون کې تل دا زاړه نوټونه لوستلي دي، تل نظريه ده، تل تيوري ده او د عمل په ډگر کې يې کار نه دی کړی، په نويو موضوعاتو باندې نه پوهېږي، ته حد اقل بايد پوه شې چې نن په امريکا کې ستا په گاونډيو هېوادونو کې نوی څه شی راغلی دی، زه به هسې ډاکټر څه کړم، چې شل کاله مخکې راته ببولالې ووايي.*

يحيی وردک: ښځي تاسو درست وايئ، يو مهم فکتور يې همدا دی، چې زموږ د طب محصلين متاسفانه، متاسفانه په تيوري برخه کې هم په عملي برخه کې پوره او په ښه توگه نه تربيه کېږي. تاسو پخپله ورته اشاره وکړه، زه بر عکس وايم، که موږ محصل ته په اول صنف کې دوهم صنف کې پوره نوي درسي مواد په سمه توگه برابر کړو او دا په

داسې ژبه په داسې فورم کې ورته برابر کړو چې دوی پرې پوه شي، دغه ډېره مهمه ده.
په انګليسي کې په انټرنيټ کې ځينې مواد شته، خو متاسفانه زموږ استادان او زموږ محصلين ټول نه پرې پوهېږي. چې دا موږ ورته برابر کړو چې هغوی په تيورتيکي اساس پاخه راشي.
د دې ترڅنګ چې موږ بيا دغه محصلينو ته کادري شفاخانې ولرو چې دوی درې، څلور کاله عملاً هلته کار وکړي، چې د مريض د بستر تر څنګ د هغه ستونزه و ګوري، داسې زموږ ښه ډاکټر تربيه کېږي.
*خوشحال آصفي: يوه بله ښېګڼه داده چې دا هم په پښتو دي، هم په دري دي، هم په انګليسي دي، هم هغه څوک چې په پښتو پوهېږي، کېدای شي هغه د هغې نه په پښتو ګټه پورته کړي، هغه څوک چې مورنۍ ژبه يې دري ده، هغه کېدای شي په دري ژبه يې و لولي.*
*انګليسي هم ښه ده؛ ځکه چې په انګليسي ژبه هم بلد شي؛ ځکه چې په نور هېوادونو کې په انګليسي کنفرانسونه ورکوي او د هغوی له تجربو څخه ګټه پورته کوي، يعنې دا په ټولو دريو ژبو باندې دي، پښتو، انګليسي او دري، دا کار تاسو په خپله کړی دی، که نه مخکې ليکوالانو کړی دی؟*
يحيی وردک: نه، موږ دغه کتابونه نه دي ترجمه کړي، ځينې مؤلفين دي... حتی يو مؤلف دی په کندهار کې درس ورکوي هغه په انګليسي- ژبه د انتاني ناروغيو يو کتاب ليکلی دی، موږ دا چاپ کړی دی. بل مؤلف د هرات دی، هغه په دري ژبه ليکلی دی، موږ راوړی دی دا مو په دري ژبه چاپ کړی دی. بل مؤلف د ننګرهار دی، په پښتو يې ليکلی دی، هغه مو په پښتو چاپ کړی دي. موږ داسې کوو، چې داکتابونه نورو ولاياتو ته هم لېږو، ځکه چې نور هم ځينې استفاده وکړي. په يو مسلک کې چې يو کتاب په يو ولايت کې چاپېږي، بايد هم مسلکان يې او نور طب پوهنځي استادان هم له هغو څخه خبر شي او له هغو څخه استفاده وکړي.

*خوشحال آصفي: بله پوښتنه ډاکټر صاحب، یو بل کتاب به ستاسو په خوښه البته اجازه باندې را واخلم، مثلاً دلته لیکلي دي، د کوچنیانو ناروغۍ دوهم ټوک، څو جلده دا چاپ شوی دی؟ یوازې پنځه، سل یا زر؟ پوښتنه مې دا ده، چې له هر یو څخه څو جلده چاپېږي؟*

یحیی وردک: دغه کتاب چې ستاسو په لاس کې دی، دا ۱۰۰۰ ټوکه چاپ شوی دی.

*خوشحال آصفي: دا په ټولو پوهنتونونو د افغانستان کې کارول کېږي؟*

یحیی وردک: هو، ۱۰۰۰ دانې سي ډیانې ورسره دي، د دې یوه برخه ... پخوا مو ۵۰ ټوکه مولف ته ورکول اوس ۱۰۰ ټوکه کتابونه مؤلف ته ورکوو. زه باید دلته ووایم چې دغه ټول کتابونه چې چاپ شوي دي، مؤلفینو ته، محترمو استادانو ته موږ کومې اضافي پیسې یا حق الزحمه نه ده ورکړې. دغه د دوی د کلونو کلونو زحمتونه دي چې په وړیا توگه یې د لوړو زده کړو د وزارت په اختیار کې ورکوي او غواړي چې دغه پوهه د خلکو، د ټولنې په خدمت کې و اوسي. ځینې نور کتابونه زموږ شته دي چې د هغه تیراژ ۲۰۰۰ ټوکه دی، جمع ۲۰۰۰ سي ډي او همداسې موږ غواړو... زما ارمان هم دغه دی، چې هر مضمون چې تدریس کېږي باید درسي کتاب ولري.

*خوشحال آصفي: دا څنگه رسوئ، ټولو پوهنتونونو ته ډاکټر صاحب؟*

یحیی وردک: زما دفتر په لوړو زده کړو وزارت کې دی، هلته موږ له پوهنتونونو سره ارتباط لرو او هلته مسئولین یې، نمایندگان یې، راځي بیا دا کتابونه موږ ورته سپارو. دا په تېره بیا موږ ۸ دولتي طب پوهنځیو ته رسوو، چې ننگرهار، خوست، پکتیا، کندهار، هرات، بلخ، کاپیسا او کابل دي.

*خوشحال آصفي: شخصي پوهنتونونو ته څنگه، ډاکټر صاحب؟ دوی هم راځي؟*

یحیی وردک: شخصي پوهنتونونه هم زیات شوي دي، هم ورو ورو زیاتېږي، هغو ته هم یو جلد دوه جلده ورکوو؛ ځکه چې هلته هم د دې وطن لپاره ډاکټر تربیه کېږي.

*خوشحال آصفي: مفت یې ورکوئ؟*

یحیی وردک: هو، زیاتره یې دولتي پوهنتونونو تـه ورکـوو، شخصي۔ پوهنتونونـه هـم زیـات شوي دي، طب پوهنځي هـم ډېـر لـري، مـا واورېـدل چـې ۲۷ طـب پـوهنځي لـري ټـول افغانستان کې.

*خوشحال آصفي: ډېر اعلی، تاسو پخپله څه لیکلي دي، په خپل مسلک کې؟*

یحیی وردک: ما پـه جرمنـي کـې د افغانسـتان پـه عامـه روغتیـا بانـدې لیکلـی، هملتـه د درس په وخت کې.

*خوشحال آصفي: ستاسو د ماسترۍ یا دوکتورا تېزیس وو، که نه بېل کتاب مو لیکلی؟*

یحیی وردک: هو، تېزیس دی.

*خوشحال آصفي: د ماسترۍ که د دوکتورا؟*

یحیی وردک: نه ما دوکتورا نه ده کړې، یـوازې د ماسـترۍ پـه لېـول کـې پـه یـو پوهنتـون کې ما درس ویلی، هغه متاسفانه په آلماني ژبه دی، دلته مې لیکنـې د لـوړو زده کـړو پـه هکله شته دي، تاسو ته یې هم درکولای شم.

*خوشحال آصفي: ډېره مننه، زه به یې واخلم، ګټه به ترې پورته کړم. ډېره زیاتـه مننـه کـوم د محترم ډاکټر صاحب محمد یحیی وردک نه، چې بلنه یـې ومنلـه، زمـوږ ویـاړ یـې، زمـوږ افتخار یې، د ټول ملت ویاړ یې، افتخار یې ډاکټر صاحب. ډېـر لـوی کـار مـو کـړی دی، واقعاً دا به د افغانسـتان پـه تـاریخ کـې پـه زرینـو کرښـو بانـدې ولیکـل شي او دا کـار هـر څـوک نـه شي. دا فکـر، دا سـوچ او انګېـزه، چـې تاسـو لـرئ او دا کـار مـو کـړی دی، زه شخصاً د یو افغان ځوان په حیث ستاسو قـدر کـوم، تاسـو نـه مننـه کـوم، د ټـول ملـت پـه استازیتوب، مننه کوم ډاکټر صاحب.*

یحیی وردک: مننه له تاسو څخه هم، بیا هم زه وایم، هغه اصـلي کـار واقعـاً زمـوږ محترمـو استادانو کړی دی، چې موږ ته یې فقط دغه زمینـه برابـره کـړې، چـې دا کتابونـه، چـاپ، خپاره او د لوړو زده کړو موسساتو ته توزیع کړو.

*خوشحال آصفي: ولې اوس دغه دلسوزي او انګېزه نشته، چې دا ټـول شي او چـاپ شي،*

*په نوي بڼه بانديې او خلکو ته ورکړل شي، دا هم لوی کار دی ډاکټر صاحب.*

یحیی وردک: هو، انشاء الله خدای دې وکړي چې په راتلونکو کې زموږ مسئولین دې ته متوجه شي، چې په طب کې او هم په نورو رشتو کې لکه انجنیري، ساینس، نور ډېر مهم مضامین دي، چې موږ په هره رشته کې همداسې نوي کتابونه ولرو، محصلینو لپاره.




*خوشحال آصفي: ډېره زیاته مننه ډاکټر صاحب، ډېره زیاته مننه له محترم وردک صاحب څخه.*[1]

---

[1] آصفي، خوشحال، د افغانستان د پوهنتونونو لپاره د درسي کتابونو د چاپ پروسه، له ډاکتر یحیی وردک سره مرکه، آریانا تلویزیون، کابل، د ۲۰۱۵ زېږدیز کال د مې د میاشتې دویمه نېټه.

# د افغانستان د پوهنتونونو
# لپاره درسي مواد نوي کېږي

*یاددښت: دغه لیکنه د هغه ګزارش لنډیز دی چې د آلمان غږ دیچویلې راډیو ژورنالیست نباغلي خلیل الرحمن امید د افغانستان د پوهنتونونو لپاره د درسي موادو د نوي کېدو په باب د ۲۰۱۵ زېږدیز کال د جون د میاشتې په ۱۴ مه نېټه تهیه کړی او له آلمان غږ راډیو څخه خپور شوی دی. د دې ګزارش متن په دې ځای کې خپرېږي.*

د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت وايي، په پوهنتونونو کې به اصلاحي پروګرامونه او نوي درسي مواد رامنځته کړي.
په افغانستان کې درسي مېتود او له پخوانيو چپټرونو څخه درس ورکول ډېر ځله تر نیوکو لاندې راغلی.



په داسې حال کې، چې افغانستان وړتیا لرونکو کادرونو ته په بېلابېلو برخو کې جدي اړتیا لري، بیا هم د دغه هېواد پوهنتونونه نه دي توانېدلي، چې وزارتونو ته غوره کاري او متخصصه کتله وړاندې کړي.
د لوړو زده کړو وزیري فریدې مومند د ۱۳۹۶هجري لمریز کال د جوزا د میاشتې ۲۴مه نېټه د خپل سل ورځني پلان د وړاندې کولو پر مهال وویل: «هغه کوي چې په

پوهنتونونو کې لوړې زده کړې د بازار له اړتیا سره سمې پر مخ یوسي.»
مېرمن مومند هیله څرګنده کړه، چې د پلان په پلي کېدو سره به وتوانېږي، چې د پوهنتونونو درسي توکي له ورځنۍ اړتیا سره سم رامنځته کړي.
هغې وویل: «موږ په پوهنتونونو کې د تدریسي ارزونې تګلاره په پام کې نیولې، دا پروسه دوام لري او موږ غواړو، چې پوهنتونونه باکیفیته او پر معیار برابر تدریس ورکړي.»



د لوړو زده کړو وزیرې زیاته کړه، چې په پوهنتونونو کې جنسیتي مساوات په پام کې نیسي او د نجونو لپاره هم په کابل کې د ترکیې په مالي مرسته یو ځانګړی پوهنتون جوړېږي.

## دوکتورا لرونکواستادانو ته ترجیح ورکول:

د پخوانیو درسي تګلارو تر څنګ، د پوهنتونونه د دوکتورا لرونکو او ماسترو ښوونکو په برخه کې هم نیمګړتیاوې لري.
د لوړو زده کړو وزیره وایي: تر دې وروسته به په پوهنتونونو کې ماسترۍ او دوکتورا ته پراخوالی ورکړل شي.

هغې وویل:«د لوړزو زده کړو وزارت یوه ژمنه دا ده، چې ماسترۍ او دوکتورا ته پراخوالی ورکړي، چې په دې توګه ماستران او ډاکټران ډېر شي.»

آغلې مومند په داسې حال کې د ماسترۍ او دوکتورا څانګو ته د پراختیا خبره کوي، چې دا مهال په ډېرو پوهنتونونو کې د لېسانس درجې استادان تدریس کوي.

مومند همدا شان وویل، چې له دې وروسته به په پوهتونونو کې د تدریس ژبه انګرېزي ته واړوي، چې په دې توګه به محصلین په راتلونکي کې په آسانۍ سره پراخې مطالعې ته لاسرسی پیدا کړي.

ټاکل شوې د لومړي ځل لپاره د انجنیرۍ او زراعت د پوهنځیو تدریس په انګرېزي ژبه پیل شي.

د څېړنیزو پروګرامونو رامنځته کول هم د لوړو زده کړو وزارت بل پلان دی، چې پر مټ به یې د تحصیل په برخه کې لا ډېرې آسانتیاوې رامنځته شي، دا مهال په ډېرو پوهنتونونو کې څېړنیزه برخه نشته.

مېرمن مومند وویل: «ټاکل شوې ده چې د بهرنیو مرستو پر مټ په ډېرو پوهنتونونو کې علمي څېړنیزې پروژې پلې کړي، چې په نړیوالو معیارونو برابرې وي.»

د نړۍ له معتبرو پوهنتونو سره د اړیکو پراخوالی، د لوړو زده کړو وزارت پلان لري چې له دې وروسته د نړۍ له پرمختللو پوهنتونونو سره اړیکې ټنیګې او نوې تګلارې را انتقال کړي، چې له مخې به یې افغان استادان او زده کړیالان د هغوی له تجربو او معیارونو څخه پخپلو پوهنتونونو کې ګټه واخلي.



دا تګلاره په دوه ډوله پلې کېږي، یو دا چې ښوونکي به بهرنیو معتبرو پوهنتونونو ته د تجربو د لاسته راوړلو لپاره ځي او بل هم دا چې د ځینو بهرنیو پوهنتونونو استادان به دلته د تدریس لپاره راوستل کېږي.

دا مهال په افغانستان کې د تحصیلي بورسونو په اړه هم ګڼې نیوکې موجودې دي او ویل کېږي، چې ډېر محصلین د اړیکو له لارې بهرنیو ملکونو ته په بورسونو کې ځي، چې یا هلته زده کړې پرېږدي او یا هم د ټمبلۍ له کبله بېرته پسې را اخیستل کېږي، خو د لوړو زده کړو وزیره وایي: «له دې وروسته به یوازې د لیاقت له لارې بورسونه وېشل کېږي.»

بل پلو په افغانستان کې د کانکور آزموینه هم له درغلیو څخه ډکه بلل کېږي او په تېرو څو کالو کې په وار وار د کانکور له پروسې څخه شکایتونه وشول، خو فریده مومند وایي په دې برخه کې یې د روڼتیا په موخه یوه غوره تګلاره جوړه کړې ده.[۱]

[۱] امید، خلیل الرحمن، د افغانستان د پوهنتونونو لپاره درسي مواد نوي کېږي، کابل، د ۲۰۱۵ زېږدیز کال د جون د میاشتې ۱۴مه نېټه. *http://dw.de/p/1Fh2E5*

# يو افغان غواړي د پوهنتونونو چيپټرونه
# او لېکچرنوټونه کتابي بڼې ته واړوي

*يادښت: دغه  ليکنه د هغه گزارش متن دی چې ښاغلي محمد آصف احمدزي د پژواک خبري آژانس لپاره کړې او د ياد آژانس په ويب پاڼه کې د ۲۰۱۵ زېږديز کال د نومبر په ۱۱ مه نېټه خپره شوې ده. د دې ليکنې عنوان داسې دی چې: ( يو افغان غواړي د پوهنتونونو چيپټرونه او لېکچرنوټونه کتابي بڼې ته واړوي)*




يو افغان هڅه کوي، د افغانستان په پوهنتونونو کې د چيپټرونو او لکچرنوټونو مېتود ته د کتاب چاپولو له لارې د پای ټکی کېږدي، چې تر اوسه پورې يې په هلوځلو کابو ۲۰۰ عنوان کتابونه چاپ او د هېواد د لوړو زده کړو موسساتو ته وړيا وېشل شوي دي.

دغه شخص چې ډاکټر يحيی وردگ نومېږي او په لوړو زده کړو وزارت کې سلاکار دی، له پژواک خبري اژانس سره يې په ځانګړې مرکه کې وويل، کله يې چې په ۱۳۸۸ هجري کال ننگرهار پوهنتون ته سفر وکړ، نو هلته يې وليدل چې محصلين له چيپترنوټونو څخه استفاده کوي، په داسې حال کې چې دغه کار د ۲۱مې پېړۍ له معيارونو سره برابر نه دی، نو هوډ يې وکړ چې دغه چيپټرنوټونه د مرستندويو موسسو له لارې په کتابي بڼه چاپ او خپاره کړي.

ده زياته کړه، په ۱۳۸۹ هجري لمريز کال کې يې دا کار په عملي ډول پيل کړ او د بېلابېلو پوهنتونونو له استادانو سره په اړيکه کې شو چې په پايله کې يې يو شمېر کتابونه راټول او له اړوندو آلماني موسسو څخه يې د دې کتابونو د چاپ په برخه کې همکاري وغوښته.

د نوموړي په وینا، کله یې چې د پوهنتونونو له استادانو او لیکوالانو څخه د کتاب ایډېټ شوې سافټ بڼه ترلاسه کړه، نو د کتاب د چاپ د اړتیا په موخه یې د اړوندې څانګې تایید اخیستی، ورپسې یې د مربوطه پوهنځي او پوهنتون هوکړه هم ترلاسه کړې ده.

د هغه په وینا، دغه کتابونه




چې ډېری یې په طب، انجنیري او ساینس پورې اړه لري او په پښتو، دري او کم شمېر یې په انګلیسي ژبه دي، د تېرو پنځو کلونو په موده کې یې شاوخوا ۲۰۰ عنوان کتابونه چې ځینې یې ۱۰۰۰ او یو شمېر یې ۲۰۰۰ ټوکه په هېواد کې د ننه مطبعو کې چاپ کړي دي.

وردګ وایي، په دې برخه کې ورسره د آلمان د علمي همکاریو ټولنې (DAAD)، د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټه او افغان - جرمني پوهنتونو ټولنې (DAUG) مالي مرسته کړې ده.

دی زیاتوي، دغه هر یو کتاب یې په سي ډي ګانو (CD) کې ځای په ځای کړی او له هر کتاب سره یوه مل سي ډي هم شته، چې محصل کولی شي د هر کتاب له سافټ کاپي څخه هم استفاده وکړي، همدارنګه یې ۱۴۰ عنوان کتابونه په (DVD) کې هم ځای په ځای کړي، څو محصلین له دې ټولو کتابونو په اسانۍ د کمپیوټر له لارې استفاده ترې وکړي.

نوموړي وویل، له دې ور هاخوا هر چاپ شوی کتاب د ISBN د ځانګړي کوډ د لرلو تر څنګ د (www.ecampus-afghanistan.org) ویب پاڼه کې هم ډاونلوډ کېدلی شي چې هر څوک ترې په وړیا توګه کار اخیستلی شي.

یاد افغان زیاته کړه، د هر کتاب ۱۰۰ ټوکه په خپله لیکوال ته، شاوخوا ۴۰۰ ټوکه هغه پوهنتون ته چې د کتاب لیکوال په کې درس ورکوي، ۵۵ ټوکه دولتي پوهنتونونو او پاتې نور یې دولتي کتابتونونو او شخصي پوهنتونونو ته په وړیا ډول ورکوي.

نوموړي د دې پوښتنې په ځواب کې چې ولې یې یوازې د طبیعي علومو اړوند کتابونو چاپ ته زړه ښه کړی؟ وویل چې په طبیعي علومو کې د کتابونو نشتوالی یې احساس کړی او له بلې خوا که کله زموږ یو ډاکټر، انجنیر او ساینسپوه کتابونو ته په آسانۍ لاسرسی و مومي، نو دا به یې په طبیعي علومو کې د پوهنتونونو د درسي کیفیت په لوړولو کې مرسته کړې وي.
وردګ وایي، اوسمهال ورسره په سلګونو عنوانه نور کتابونه هم د چاپ لپاره چمتو دي، خو دا چې مالي سرچینې ورته نه لري، نو د چاپ انتظار یې باسي.
ده وویل، دا چې له ۳ کلونو راهیسې د آلمان د بهرنیو چارو وزارت او DAAD موسسه له دغه پروګرام سره مرسته نه ده کړې، نو له ولسمشر غني څخه غواړي چې یو ځل بیا د آلمان یا نورو مراجعو څخه غوښتنه وکړي چې د دغه پروګرام ملاتړ وکړي.
نوموړی وړاندیز کوي چې د لوړو زده کړو په موسسو کې باید د چیپټرونو او لکچرنوټونو مېتود ته د پای ټکی کېښودل شي، په هره برخه کې باید د پوهنتونونو د استادانو له خوا نوي کتابونه تالیف او وژباړل شي، هر کال باید ۱۰۰ عنوان کتابونه چاپ شي چې په دې توګه به په ۵ کلونو کې ۵۰۰ عنوان کتابونه چاپ شي، هر درسي مضمون باید لږ تر لږه یو معیاري، درسي او چاپ شوی کتاب ولري.
هغه دغه راز د لوړو زده کړو وزارت ته وړاندیز کوي چې د "تدریسي کتابونو ملي پروګرام" پیل او دغه کار ته لومړیتوب ورکړي او هم استادان وهڅوي، څو د خپلو مسلکونو په اړه کتاب و ژباړي، ولیکي او چاپ یې کړي.
دی وایي په ۲۰۱۵ زېږدیز کال کې پلان لري چې ۵۰ عنوان طبي درسي کتابونه چاپ کړي، د دوو ډې وي ډي ګانو زر کاپۍ چې ټول طبي درسي کتابونه به پکې شامل وي، د طب پوهنځیو هر زده کوونکي ته ووېشي او همدارنګه ۱۰۰ عنوان غیر طبي درسي کتابونه چاپ کړي.
ده زیاته کړه، د مالي سرچینو په پیدا کولو سره به هڅه وکړي چې د بشري او اسلامي علومو اړوند کتابونه هم چاپ کړ.
خو دی له مرستو کوونکو په ځانګړي ډول نړیوال بانک، د امریکا متحده ایالاتو له پراختیایي ادارې او د آلمان د علمي همکاریو له ټولنې څخه هیله کوي چې د "تدریسي کتابونو د ملي پروګرام" ملاتړ وکړي او د کتابونو د چاپولو لګښت ورکړي.

وردگ وويل، سره له دې چې د لوړو زده کړو له وزارت سره يې د کتاب چاپولو د پروګرام موضوع شريکه کړې ده، خو هڅوی د دې کار يوازې هرکلی کړی او په عملي ډګر کې يې کومه مرسته ورسره نه ده کړې.

دی وايي: "د لوړو زده کړو وزارت په ورکشاپونو جوړولو او فرنېچرو اخيستلو ډېرې پيسې مصرفوي، کتاب چې ورته اشد ضرورت دی، د چاپ لپاره يې مصارف نه ورکوي، دوی بايد له استادانو سره د کتابونو په چاپ کې مرسته وکړي."

د کابل د پوليتخنيک پوهنتون استاد پوهاند دوکتور محمد غوث حکيمي چې د ياد پروګرام له لارې يې يو عنوان کتاب هم چاپ شوی، د کتابونو د چاپ دغه بهير د لوړو زده کړو د بهير په کيفيت کې اغېزمن او ګټور بولي او وايي، په اوسنيو شرايطو کې دغه کار د تاييد وړ او يو نېک عمل دی.

ده پژواک اژانس ته وويل: "ځيني کتابونه چې ډاکټر يحيی وردک چاپ کړي، ډېر نوي کتابونه دي چې په پوهنتونونو کې يې آن استادان ارزيابي کولی هم نه شي؛ دا کتابونه خاصتاً د اطراف د پوهنتونونو لپاره ډېر مؤثر دي، لويه پانګه ده؛ ځکه کتابخانې له منځه تللې، لابراتوارونه نشته، ريسرچ نشته، نو دا کتابونه چې دوی يې چاپوي، لويه مرسته ده."

خو نوموړي له اړوندو ارګانونو غوښتنه وکړه چې د دغه بهير ملاتړ وکړي او پر وړاندې يې خنډونه جوړ نه کړي.[1]

[1] احمدزی، محمد آصف، يو افغان او د لېکچر نوټونو کتابي بڼه، پژواک خبري آژانس، کابل، د ۲۰۱۵ زېږديز کال د نومبر د مياشتې ۱۱مه نېټه، *http://www.pajhwok.com/ps/2015/11/11*

# اېډېټور ته لیک

*یاددښت: دغه لیک د ډاکتر یحیی وردک له لوري د لوړو زده کړو د موسساتو لپاره د نوي واحد درسي نصاب یا کریکولم د نه شتون په هکله (افغانستان ټایمز) انګلیسي ژبې ورځپاڼې ته د (اېډېټور ته لیک) تر عنوان لاندې لېږل شوی وو. دا لیک د ۲۰۱٦ زېږدیز کال د اپرېل د میاشتې په ۳مه نېټه د یادې ورځپاڼې په ۲۴۳مه ګڼه کې خپور شوی چې متن یې په دې ځای کې خپرېږي.*

زه ډېر خوښ یم چې د مارچ د ۲۰۱٦ زېږدیز کال د میاشتې په ۳۰ نېټه ستاسې د ورځپاڼې سرلیکنه د یوې ډېرې مهمې موضوع په اړه لیکل شوې وه. په رښتیا هم د افغانستان په دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې ډېرې ستونزې شتون لري، چې له هغې ډلې یوه ستونزه د داسې درسي نصاب کموالی او د درسي کتابونو نه شتون دی چې د ټولنې او کاري مارکېټ د اړتیاوو پر بنسټ ولاړ وي.

د درسي نصاب له نوي کولو وروسته، درسي مواد په ځانګړې توګه کتابونه باید د استادانو او محصلینو لپاره د لاسرسي وړ وګرځول شي څو په تدریس او زده کړو کې ترې ګټه واخلي. دا چې درسي نصاب د تدریس په پلان او چوکاټ کې ښه والی راولي، د هغه د پلي کولو لپاره باید د استادانو او محصلینو په مورنۍ ژبه درسي کتابونه موجود وي. ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کابل[1]




---

[1] وردګ، ډاکتر یحیی، د نوي درسي نصاب د نه شتون په هکله اېډېټور ته لیک، افغانستان ټایمز انګلیسي ژبې ورځپاڼه، کابل د ۲۰۱٦ زېږدیز کال د اپرېل ۳مه نېټه.

# خیرمن وګړي

## له زړو چپترونو بې غمه کړو

*یاددښت: دغه مقاله ښاغلي ډاکتر محب زغم لیکلې او د ۲۰۱۶ زیږدیز کال د جولای د میاشتې په ۱۷ مه نېټه د ملي محور په اونیزه کې تر دې عنوان لاندې خپره کړې وه چې: (یو خیرمن سرې له زړو چپترونو بې غمه کړو). د دې مقالې بشپړ متن په دې ځای کې خپرېږي.*

په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې یو افغان ډاکتر له جرمني څخه کابل ته راغی، کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون او څو نورو پوهنتونونو ته لاړ، ویې‌لیدل چې محصلان له زړو چپترونو څخه د درسي کتابونو په توګه استفاده کوي. دا ورته د حیرانۍ خبره وه چې په یوویشتمه پېړۍ کې داسې زاړه مواد تدریس کېږي.

ځان سره یې فکر وکړ چې څنګه کولای‌شي محصلان له دې ستونزې خلاص کړي. له استادانو سره یې خبرې وکړې چې ولې د خپلې علمي او عملي تجربې محصول د کتابونو په شکل نه‌لیکي؟ ځینو استادانو وویل چې کتابونه مو لیکلي دي خو څوک یې نه‌چاپوي. ځینو استادانو چې تیار کتابونه لرل، د کمپوز او ډیزاین په برخه کې یې ستونزې درلودې.

ده مختلفو موسسو ته مراجعه وکړه او بالآخره یې د آلمان د علمي همکاریو ټولنه (DAAD)، د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټه او د افغان – جرمني پوهنتونونو ټولنه (DAUG) په دې قانع کړل چې د کتابونو د چاپ لپاره ورسره مرسته وکړي.

همدا وو چې د پوهنتونونو د درسي کتابونو د چاپولو لړۍ یې پیل کړه، په لومړي سر کې یې پنځه کتابونه چاپ شول. نورو استادانو چې دا ښکلي کتابونه ولیدل، هغوی هم و هڅېدل او په تالیفاتو لاس پورې کړي. په همدې توګه کرار کرار کتابونه لیکل کېدل او ده به چاپول چې تر دې دمه یې شمېر ۲۲۰ عنوانونو ته رسېږي.

اکثره کتابونه ۱۰۰۰ ټوکه او یو نیم یې ۲۰۰۰ ټوکه چاپ شوي دي. له دې څخه ۱۰۰ ټوکه مولف ته، ۴۰۰ ټوکه هماغه پوهنتون ته چې مولف په کې تدریس کوي،

۵۰ ټوکه د افغانستان هر يو دولتي پوهنتون او پاتې نور يې دولتي کتابتونونو او شخصي پوهنتونونو ته ورکول کېږي. دا چې د کتابونو تيراژ کم او د محصلانو شمېر زيات وو نو ده د هر کتاب سافټ کاپي په سي‌ډي کې واچوله چې لا ډېرو محصلانو ته و رسېږي. همدارنګه يې د جرمني د بوخم پوهنتون په مرسته يو آنلاين کتابتون جوړ کړ چې د هر کتاب سافټ کاپي په کې خوندي شي او هر څوک يې په آسانۍ او وړيا ډول ترلاسه کړي. د دې آنلاين کتابتون پته ده: www.ecampus-afghanistan.org
بل کار يې دا وکړ چې د طب د محصلانو لپاره يې داسې ډي‌وي‌ډي ګانې برابرې کړې چې ۱۴۰ عنوان درسي کتابونه يې په بشپړه توګه پکې خوندي کړي او د ده په خبره هر محصل کولای شي «درست طب په جېب کې وګرځوي.»
په دې ۲۲۰ عنوان کتابونو کې زياتره يې د طب دي او پاتې نور يې د ساينس، فارمسي، انجينري، اقتصاد، زراعت، ارواپوهنې او د ښوونې او روزنې په څانګو پورې اړه لري.




دغه خيرمن وګړی، ډاکتر محمد يحيی وردک دی چې ګڼو محصلانو ته يې خير رسولی دی. دی په پام کې لري چې د پوهنتونونو د درسي کتابونو د چاپ لړۍ همداسې روانه وساتي خو د مالي امکاناتو نه شتون يې لاسونه ورتړلي دي. د آلمان د علمي همکاريو ټولنه دا درې کاله کېږي چې مرسته ورسره نه‌کوي. ډاکتر يحيی وردک د لوړو زده‌کړو وزارت پر چارواکو غږ کړی دی چې دې کار ته بودجه بېله کړي او استادان وهڅوي چې کتابونه وليکي او و ژباړي خو چا يې تر دې دمه غږ په موثره توګه نه دی اورېدلی.[1]

---

[1] زغم، ډاکتر محب، يو خيرمن سړي له زړو چپترونو بې غمه کړو، ملي محور اونيزه ۳۴مه ګڼه، کابل، د ۲۰۱٦ زېږديز کال د جولای ۱۷مه نېټه.

# پوهنتونونه نوي نصاب ته اړتیا لري

*یاددښت: دغه لیکنه د هغې غونډې گزارش دی چې (نوي نصاب ته د پوهنتونونو د اړتیا) تر عنوان لاندې د رڼا فکري مرکز له خوا په کابل کې جوړه شوې وه او د افغانستان ټایمز انگلیسي ژبې ورځپاڼې د ۲۰۱۶ زیږدیز کال د جولای د میاشتې په ۲۰ مه نېټه خپور کړې وو. د دې گزارش پښتو متن په دې ځای کې خپرېږي.*



د رڼا فکري مرکز لخوا د ۲۰۱۶ زیږدیز کال د جولای د میاشتې په ۲۰مه نېټه په جوړه شوې غونډه کې د لوړو زده کړو کارپوهانو وویل چې حکومت باید د واحد او نوي نصاب لپاره کار وکړي څو په هېواد کې د زده کړو په کیفیت کې ښه والی راشي. د یادې غونډې گډون وال په دې باور وو چې محصلین د زده کړو په موخه پر لاس لیکل زاړه لکچرنوټونه کاروي، ځکه دوی چاپ شویو کتابونو ته لاسرسی نه لري. په پوهنتونونو کې د کتابونو او واحد نصاب نه شتون په درسي سیستم باندې هم اغېز کړی دی. له همدې کبله رڼا فکري مرکز له دولت څخه وغوښتل چې د پوهنتونونو لپاره د نوو درسي کتابونو په ملتیا نوی نصاب جوړ کړي څو په هېواد کې یو پرمختللی تحصیلي سیستم رامنځته شي.

د لوړو زده کړو سلاکار ډاکتر یحیی وردک وایي: «د باکیفیته تدریس ترڅنګ د لوړو زده کړو په مؤسسو او پوهنتونونو کې نوي درسي کتابونه د محصلینو لپاره اړین دي.»
نوموړي وویل چې د پوهنتونونو استادان زاړه لکچرنوټونه تدریسوي.
«د طبي زده کړو محصلین د ناروغیو تداوي د نوټونو له مخې زده کوي، نو له فراغت څخه وروسته د ناروغانو تداوي په هغه توګه کوي چې لوستلې یې وي، بې له دې چې ناروغي تشخیص کړي.»
په فزیک، کېمیا او ساینس کې هم ورته ستونزې موجودې دي، نو موږ اړتیا لرو چې د باکیفیته زده کړو په لرلو لپاره نوي درسي کتابونه چاپ کړو.
ښاغلي وردک همدارنګه وویل چې دوی ۲۲۳ عنوان درسي کتابونه چاپ او دولتي او نادولتي پوهنتونونو او ځیني نورو بنسټونو ته یې ورکړي دي. دی وایي د نویو کتابونو د چاپولو موخه داده چې د زده کړو لپاره زیات امکانات برابر شي. وردک زیاته کړه چې ۲۰ عنوان نور کتابونه یې هم برابر کړي دي چې ډېر ژر به چاپ شي.
نوموړي همداراز وویل چې یو شمېر نور کتابونه هم د چاپ لپاره تیار دي، خو د چاپ لپاره یې بودجه په لاس کې نشته.
د لوړو زده کړو وزارت باید د ملي کتابونو د چاپ پروګرام ته لومړیتوب ورکړي او باید د بې ګټې ورکشاپونو پر ځای، د کتابونو د چاپ لپاره میلونونه ډالر ځانګړي کړي.
د کابل پخواني والي عبدالجبار تقوا غونډې ته وویل: «له حکومت څخه غوښتنه کوو چې باید د لوړو زده کړو د سیستم د پرمختګ لپاره ګام پورته کړي.» ده همداراز وویل که څه هم د افغانستان له حکومت سره میلیونونه ډالر مرستې وشوې، خو اوس هم په پوهنتونونو کې زاړه لکچرنوټونه تدریس کېږي، نو اړینه ده چې د لوړو زده کړو وزارت د نویو درسي کتابونو د چاپ لپاره بودیجه ځانګړې کړي.[1]

[1] رڼا فکري مرکز، نوي نصاب ته د پوهنتونونو اړتیا، د علمي او څېړنیزې غونډې راپورتاژ، کابل ښار، کابل ټایمز انګلیسي ژبې ورځپاڼه، د ۲۰۱٦ زېږدیز کال د جولای د میاشتې ۲۰مه نېټه

# د لوړو زده کړو زوړ سیستم باید نوی شي

*یاددښت: دغه لیکنه د هغې غونډې ګزارش دی چې د (د لوړو زده کړو زوړ سیستم د نوښت په لور) تر عنوان لاندې د رڼا فکري مرکز له خوا په کابل کې جوړه شوې وه او د دنیا پښتو ژبې ورځپاڼې د ۲۰۱۶ زیږدیز کال د جولای د میاشتې په ۲۰مه نېټه خپور کړی وو. د دې ګزارش متن په دې ځای کې خپرېږي.*



د رڼا فکري مرکز په خپلې میاشتنۍ غونډه کې دا ځل د افغانستان د لوړو زده کړو په بهیر ناسته ترسره کړه. په غونډه کې د لوړو زده کړو د وزارت سلاکار ډاکتر یحیی وردک د افغانستان د لوړو زده کړو په وضعیت په ځانګړې توګه د لکچر نوټونو، کتابونو او درسي موادو پر موضوعاتو خبرې وکړې.

نوموړي په پوهنتونونو کې د لکچرنوټونو د پخواني سیستم په شتون ته په نیوکې سره وویل: «چې دغه سیستم پخوانی دی او کله هم د شاګرد د علمي سویې او د هغه د زده کړې په کچه کې تغیر نه شي راوستلی.»

نوموړي وويل: «په لکچرنوټونو کې اکثریت د ۳۰ یا ۴۰ کلونو څخه پخواني درسي مواد ځای کړل شوي وي او محصلین هم هغه لکچرنوټونه حفظ کوي او له کوم علمی تغیر پرته یې بیرته په آزموینه کې لیکي او په دغه ډول پوهنتون پاس کوي.»
یحیی وردک د لوړو زده کړو په برخه کې د افغان دولت په پالیسیو په نیوکې سره وویل: «د لوړو زده کړو په وزارت کې د پروژو تر نامه لاندې لسګونه میلیونه ډالر لګول شوي، خو د کار عملي نتیجه یې نه ښکاري.»
دی وایي: «بهرنیان هم د افغانستان د لوړو زده کړو مشکل ته د پروژې په شکل ګوري، په هسې چټې مسائلو پیسې لګوي.»
ډاکتر وردک زیاتوي، د لوړو زده کړو وزارت کې هم اصلي مشکل نه درک کیږي، بلکې یوازې په تشو ورکشاپونو او ګران بیه ډوډیو پیسې لګول کیږي.
وردګ وایي: «تر هغو چې د افغانستان د پوهنتونونو وضعیت د لکچرنوټ له پخواني او فرسوده سیستم څخه د کتاب او انترنټ نوي سیستم ته وا نه ړول شي، محصل له زده کړو سره مینه نه پیداکوي او یوازې لکچرنوټ د څو نومرو د اخیستو او امتحان د پاس کولو لپاره د څو محدودو ورځو لپاره په ذهن کې ساتي.»
ډاکتر وردک وایي، د افغانستان حکومت باید په تیرو کلونو کې د پوهنتونونو د علمي سويې د لوړولو لپاره لازم اقدامات ترسره کړي وای.
د لوړو زده کړو وزارت دغه مشاور وایي، د زړه په وینو یې کتاب ته د استادانو د لکچرونو او درسي موادو د بدلولو بهیر پیل کړی چې تر اوسه یې شاوخوا ۲۲۳ عنوان کتابه چاپ کړي دي.
دی وایي، یاد کتابونه ټول د پوهنتونونو د استادانو دي چې د هر پوهنتون او د لوړو زده کړو وزارت د علمي بورډ له خوا تائید شوي او بیا د ځینو مرستنیدویو ټولنو او موسسو په مالي مرسته چاپ او د استاد، محصل، دولتي او شخصي پوهنتونونو او اکاډمیکو مرکزونو په اختیار کې ورکول شوي دي.

دی وایی، په دغې لاره کې یې ډېرې ستونزې ګاللې دي، څو د راتلونکي لپاره یې د یو مثبت کار پیل کړی وي.

دی په ټینګار سره وايي: «کله چې په پوهنتونونو کې د استادانو لکچرنوټونه چاپ او محصلینو ته په واک کې ورکړل شي، دا دوه ګټې لري، لومړی دا چې محصل له زده کړو او کتاب سره علاقه پیدا کوي او بل دا چې استاد هم د علمي آثارو لیکلو ته هڅول کېږي او استاد او محصل هڅاند آموخته کېږي.»

نوموړی زیاتوي، که څه هم ده دغه کار یوازې د طبي زده کړو د کتابونو د چاپ په برخه کې کړی، خو له نورو غواړي چې د ده په شان په خپلو برخو کې هڅې وکړي.

نوموړی د لوړو زده وزارت ته سپارښتنه کوي چې د درسي کتابونو د چاپ ملي پروګرام جوړ کړي، څو لږ تر لږه په هره برخه کې یو علمي کتاب چاپ شي.

دی وايي، یاد وزارت باید د استادانو لپاره تشویقي پروګرامونه جوړ کړي او په دغې برخه کې د هر ډول پروژو ملاتړ وکړي.

ډاکټر وردک زیاتوي، استادان باید خپل ټول کتابونه له سره وګوري او داخلي محتوا یې پیاوړې کړي.[1]




ټول کتابونه د افغانستان دننه د کابل په مطبعو کې چاپېږي په چاپخانه کې د هغو کتابونو د چاپ بهیر چې د ډاکټر یحیی وردک دفتر یې په کابل کې چاپوي.

---

[1] رڼا فکري مرکز، د لوړو زده کړو زوړ سیستم د نوښت په لور، د علمي او څېړنیزې غونډې راپورتاژ، دنیا ورځپاڼه، کابل، د ۲۰۱۶ زېږدیز کال د جولای د میاشتې ۲۰مه نېټه

# د درسي کتابونو په اړه د شرق تلويزيون راپور

*يادښت: دغه ګزارش چې شرق تلويزيون د ۱۳۹۵ هجري لمريز کال د ليندۍ د مياشتې په ۲۲مه نېټه خپور کړی وو، د هغو ۱۰۰۰۰ ټوکه درسي کتابونو په هکله دی چې په همدې کال په کابل کې د يحيی وردک دفتر چاپ کړي وو او د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي محصلينو ته يې ور و وېشل. د ګزارش متن په لاندې ډول دی:*

د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي مصحلينو ته هغه ۱۰۰۰۰ ټوکه کتابونه چاپ او ورکړل شول چې د ياد پوهنتون د استادانو لخوا ليکل شوي وو. دغه کتابونه چې ۲۰ عنوانه وو او ۱۰۰۰۰ ټوکه کېږي په آلمان کې د افغان ماشومانو لپاره د يوې خيريه مؤسسې لخوا چاپ شوي دي. د افغانستان د لوړو زده کړو سلاکار يحيی وردک وويل چې دغه لس زره ټوکه کتابونه د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي د استادانو او محصلينو د پرلپسې غوښتنو پر اساس چاپ شوي دي. وردک وويل چې د چاپ شوو کتابونو څخه به يو شمېر د هېواد د نورو ولايتونو د طب پوهنځي محصلينو ته هم ورکړل شي څو هغوی هم ترې ګټه پورته کړي. هغه وويل چې طب پوهنځي محصلينو ته د کتابونو تر څنګ يو سي ډي هم ورکول کېږي چې د اړتيا په صورت کې ترې استفاده وکړي.

ډاکتر يحيی وردک وويل: «شل عنوانه طبي کتابونه مو د ننګرهار طب پوهنځي ته ورکړل. جمله تقريباً ۱۰۰۰۰ کتابونه وو چې د دې زياتره برخه د ننګرهار د طب پوهنځي د استادانو کتابونه وو. سل سل ټوکه يې مؤلفينو ته ورکړل شول او ۴۰۰ سوه ټوکه به محصلينو ته په وړيا توګه ورکړل شي.»

استاد بهسودوال وويل: «څکه چې پخوا نوټونه او چپټرونه په زاړه سيستم وو نو له دې کتابونو سره هغه زوړ سيستم ختم شوی دی.»

د ننګرهار پوهنتون رئیس ببرک میاخېل وویل چې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې داسې خیریه مؤسسې شته چې وخت ناوخت داسې تدریسي کتابونه محصلینو ته چاپوي.

میاخېل په دې هکله وویل: «د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې ځینې خیریه مؤسسات دي چې د وزارت په چوکاټ کې مرستې کوي. دا کتابونه د ډاکتر یحیی وردک لخوا چاپ شوي دي. دغه کتابونه نن استادانو او محصلینو ته ورکړل شول. دا کتابونه ګټور کتابونه دي، په کرېکولم کې موجود کتابونه دي، د بېلابېلو کمپټو څخه پاس شوي کتابونه دي او زیاتره هغه کتابونه دي چې په تدریسي نصاب کې شامل دي.»

یو شمېر محصلینو بیا وویل چې دغه ډول کتابونه کولای شي له محصلینو سره د زده کړو په برخه کې ښې مرسته وکړي.

یو محصل وویل: «اوس موږ ته دا کتابونه راکول کېږي، دا کتابونه دایمي ذخیره ده موږ ته، موږ همېشه دې نه استفاده کولای شو. دې کتابونو سره موږ ته یو سي ډي راکول کېږي چې دغه سي ډي موږ کولای شو ځان سره وساتو او کتاب ترې کاپي کړو، موبایل کې یا بل هر ځای کې.»

بل محصل وویل: «دغه کتابونه چې مونږ ته توزیع کېږي ډېرې زیاتې ګټې په دې کې په پام کې نیول شوې دي او زموږ لپاره به انشاءالله ډېر مفید تمام شي.»

د یادونې وړ ده چې له دې وړاندې د ننګرهار په طب پوهنځي کې په لاس لیکل شویو چپټرونو څخه محصلینو ګټه پورته کوله چې د دې کتابونو په چاپېدو سره به زاړه لیکل شوي چپټرونه لرې او د نویو کتابونو څخه به ګټه پورته شي.[1]

[1] شرق تلوېزیون، د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي محصلینو ته د لس ټوکه درسي کتابونو د وېش بهیر، جلال آباد، د ۱۳۹۵ هجري لمریز کال د لیندۍ د میاشتې ۲۲مه نېټه.

## د درسي کتابونو په اړوند
## له آریانا ټلویزیون سره د ډاکتر یحیی وردک مرکه

یادښت: دغه مرکه چې ډاکتر یحیی وردک له آریانا نړیوال تلویزیون سره د ۲۰۱۷ زېږدیز کال د اکتوبر د میاشتې په ۲۳مه نېټه د درسي کتابونو د لیکنې، تهیه کولو، چاپ او توزیع په هکله په پښتو او دري ژبو کړې وه، متن یې په دې ځای کې خپرېږي. د مرکې متن په لاندې ډول دی:



*آریانا: داکتر یحیی وردک مشاور وزارت تحصیلات عالی همین لحظه همرای ما در برنامه است و شما میبینید که چقدر کتاب های زیاد را همرای خودشان آورده، میخواهد در رابطه به کتب درسی پوهنتونهای افغانستان صحبت های داشته باشند. خوش آمدید صبح شما به خیر*

یحیی وردک: مننه زه هم د آریانا تلویزون قدرمنو لیدونکو او اوریدونکو ته سلامونه او نیکې هیلې وړاندې کوم.

*آریانا: سلامت باشید، در رابطه به کتب درسی پوهنتون ها میخواهیم صحبت کنیم، وضعیت کتب درسی در افغانستان چطور است، میشود در رابطه به هر کدام این کتاب ها برای ما معلومات داشته باشید؟*

یحیی وردک: په وروستیو کلونو کې د افغانستان په لوړو زده کړو کې د کمیت له پلوه ډېر پرمختګ شوی خو له بده مرغه چې د تدریس کیفیت ته ډېره پاملرنه نه ده شوې، په لوړو زده کړو کې درسي کتابونه د استاد او نورو اکاډمیکو مسائلو تر څنګ ډېر

اړين دي ځکه په درسي کيفيت کې مهمه ونډه لري. نو له همدې امله موږ د کلونو راهيسې د درسي کتابونو د چاپ او خپرولو يو پروګرام شروع کړی دی، چې تر اوسه مو د افغانستان د بېلابېلو پوهنتونونو لپاره په پښتو، دری او انګليسي ژبو مختلف کتابونه چاپ کړي دي او د افغانستان ټولو پوهنتونونو ته مو ويشلي دي.

*آریانا: این کتابها در داخل افغانستان چاپ می شود، طی مراحل و همه چیز آن در افغانستان می شود؟*

يحيی وردک: بلی، دغه کتابونه ټول دلته په کابل کې چاپېږي. دغه کتابونه موږ د دوو- دريو مطبعو سره چاپوو. په دې کتابونو کې له ۹۰٪ څخه ډېر يې د افغانستان د مختلفو پوهنتونونو د استادانو کتابونه دي. د مثال په ډول دا کتاب چې تاسو ګورئ ليکوال يې د ننګرهار پوهنتون استاد دی، دغه کتاب د بلخ د پوهاند ولی محمد فايض دی چې په بلخ پوهنتون کې استاد دی، همداسې د خوست او د هرات او د نورو پوهنتونونو استادان دي چې دوی په همدغه خپلو رشتو کي درس ورکوي، زياتره يې ليسانس او ماستری لري او ۲۰ يا ۳۰ کاله دوی په همدغه څانګه کې تحصيل کړی دی، تدريس يې کړی دی او په دې برخو کې بشپړه تجربه او پوهه لري، هم علمي پوهه لري او هم په همدغو څانګو کې درس ورکوي.

*آریانا: بیشتر محصلین شکایت دارند از سیستم درسی پوهنتونها، می گویند وقتی استادان به تدریس حاضر میشوند، به ما درس های اپدیت روز را داده نمی توانند، یعنی تجربه کافی ندارند و مسلکی نسیتند، چپتر را حفظ میکنند و می آیند، فقط به ما تشریح میکنند و از ما انتظار هم دارید که ما بهتر از آنها یاد بیگریم و همچنان پشتکار قوی داشته باشیم، گله گزاری در بین محصل و استاد زیاد شده، شما به عنوان مشاور وزرات تحصیلات عالی چه گفتنی دارید، راه حل این می تواند چه باشد؟*

یحیی وردک: ما په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې د افغانستان په پوهنتونونو کې ولیدل چې زموږ محصلین په طب کې، انجنیری کې او په نورو برخو کې هماغه شل- دیرش کاله پخواني چپټرنوټونه چې زیاتره وخت په لاس هم لیکل شوي دي، ورڅخه ګټه اخیستل کېده، ستاسې خبره ښځی درسته ده او له دغه حالت څخه زیاتره محصلین شکایت کوي خو متاسفانه په لوړو زده کړو کې یا په پوهنتونونو کې د دغې ستونزې بنسټیز حل لپاره یو جامع پروګرام تر اوسه پورې وجود نه لري، ځینې استادان په خپله خپل کتاب لیکي بیا یې چاپ کوي، بیا یې خرڅوي، په ډېرو مشکلاتو کې دي او ځینی استادان حتی دغه توان نه لري چې خپل آثار چاپ کړي. نو په دغو برخو کې باید د لوړو زده کړو وزارت او هم نورې مرسته کوونکې ټولنې او مؤسسې چې د تحصیلاتو او پوهنې په برخه کې ډېرې پیسی مصرفوي، باید یو جامع پروګرام جوړ کړي.

پنځلس کاله د مخه د نړیوالو په مرسته د معارف وزارت لپاره د درسي کتابونو د چاپ، یو لوی پروګرام پیل شو، چې ځینې ستونزې په کې شته او حل به شي. د لوړو زده کړو لپاره هم همدغسې یو لوی او جامع پروګرام چې ما یې وړاندیز کړی دی، ( Afghan National Textbooks Program) یا (د افغان درسي کتابونو ملي پروګرام) په نوم چې که فعال شي او پیل شي او همدارنګه د پوهنتونونو استادان وهڅول شی چې هر استاد په خپل مسلک کې کتاب ولیکي. د افغانستان په پوهنتونونو کې هر مضمون چې تدریس کېږي باید حد اقل یو درسي کتاب ولري، موږ ځینې پوهنځي لرو چې په دې وروستیو کلونو کې تاسیس شوې دي، خو هغوی متاسفانه یو درسي کتاب هم نه لري، نو واضح خبره ده چې محصل شکایت لري چې استاد راځي او موږ ته یو څه وایی خو موږ کوم علمي سند په لاس کې نه لرو.

*آریانا: خوب بیایید در رابطه به این کتابها صحبت میکنیم، کتاب که اول شما برای ما نشان دادید "کارتوګرافی با اساسات توپوګرافی" دراینجا وقتی من چند صفحه آنرا مرور کردم، چند جای مشکلات املایی را دیدم، من نمی توانم بالای نوشته های کسی که شما ګفتید یک شخصیت بسیار بزرګ است که این را نوشته، ولې من چند*

*جای مشکلات املایی آنرا دیدم، مثلا ستندرد بود الف نداشت در صورت که ستندرد الف میخواهد قبل ازینکه حرف سین بیاید الف میخواهد و چند تا لغت دیگرکه در اینجا ذکر شده بود همین است مشکلات، محصلین می گویند حتی املای استادان درست نیست در این کتابها و این مشکلات بسیار اساسی ایشان است، کسی است که این ها را ببیند و مشکلات املایی آنرا برطرف کند؟*

یحیی وردک: دا کتاب چې تاسې ورته اشاره وکړه د کارتوگرافی با اساسات توپوگرافی په نامه دی، لیکوال یې پوهنوال دوکتور محمد طاهر عنایت دی، چې کلونه-کلونه په کابل پوهنتون کې استاد پاتې شوی دی، په همدغه رشته کې تر پوهنوالۍ رتبې پورې رسېدلی دی. ښاغلی عنایت د کابل پوهنتون رئیس پاتې شوی، یو وخت کی د لوړو زده کړو وزارت مشاور هم وو او په وروستیو وختونو کې د ننگرهار پوهنتون رئیس تېر شوی دی. زموږ د کار پروسه داسې ده چې موږ استادان هڅوو چې په خپلو رشتو کې خپل کتابونه اېډېټ کړي، ویې لیکي، ټایپ یې کړي او ډیزاین یې کړي، بیا یې موږ ته را ولېږي. دغه کتابونه د مربوطه ډیپارټمنټ له خوا تصدیق کېږي، د مربوطه پوهنځي له رئیس او د پوهنتون د رئیس له خوا تصدیق کېږي، نو د ځینو اصطلاحاتو په اړه موږ متاسفانه په افغانستان کې داسې سټنډرډ چی تاسو ویلي سټنډرډ یا استندرد هغه نلرو، ځینې یې په الف لیکي او ځینې یې پرته له الف څخه، دا اصطلاحات فرق لري، نو زه فکرکوم د علمي اړخه او د املا او انشاء له نظره په دې کې لوي مشکل نشته، ځکه چی دا په خپله د استاد د دیرشو- څلویښتو کلونو محصول دی، کېداې شي په ټیپ کې کومه غلطي وي، زه نه وایم چې دا ټول کتابونه سم دي او د دې مسوولیت هم زیاتره د استاد په غاړه دی.

*آریانا: محصلین و متعلمین پشت همین چیز ها زیادتر میگردد، چرا که به ما گفته شده است که مثلا شما از وزارت تحصیلات عالی یا از وزارت معارف کسی را دعوت کردید می شود که همرایشان همین مشکلات را در میان بگذارید.*

یحیی وردک: بلی، لومړی خو باید کتابونه زیات شي، موږ باید د کتاب لیکنې او کتاب لوستلو کلتور پیل کړو او دې ته پراختیا ورکړو، هر کتاب چې په اول وار چاپېږي څه غلطي به پکې وي، په نوره نړۍ کې چې کتابونه ډېر دي او له کیفي پلوه ښه دي، املا او انشا یې هم ښه ده، هغه دېرشم حتی پنځوسم اډیشن ته رسېدلي دي، انشاالله په دې کتابونو کې که کومه غلطي وي، هغه به په دوهم چاپ کې اصلاح شي او مولفین به دې ستونزو ته متوجه وي او اصلاح کړي.

*آریانا: بلی باید مرور صورت بگیرد تا مشکلات کتاب ها دور شود. این کتاب ها را که ما می بینیم سی دی هم دارد و راحت تر میتواند از طریق سی دی هم تدریس داشته باشند و راحت تر بیاموزند. این کتاب در باره چی است؟*

یحیی وردک: دا یوه مهمه مسئله ده، اول به سي ډي ته راشم، دا ټول کتابونه چې موږ یې چاپوو او خپروو، موږ مکمل دغه سافټ کاپي په پي ډي اف کې اچوو او مکمل کتاب په دغه سي ډي کې هم رایټ کوو، ځکه چې دغه کتابونه زیاتره محصلینو ته نه رسېږي او چې محصل او استاد، دا په خپل کمپیوټر کې واچوي او بل کار چې ما کړې دی تاسو وګورئ ما دوې دانې ډي وي ډي درته راوړي دي، په دې کې لیکل شوي دي ۲۱۴ عنوان طبي درسي کتابونه او دا یعنې ۲۱۴ عنوان مکمل کتابونه دي، په دې کې نه پوهېږم اویا-اتیا زره صفحې کتابونه دي چې د طب له لومړي صنف څخه نیولې، کمیا، فزیک، بیالوژي، بیا داخله، جراحي، سترګې او ولادي نسایي یعنې ټول مکمل کتابونه په کې شامل دي.

*آریانا: ۲۱۴ عنوان کتابها در این ډی وی ډي وجود دارد ؟*

یحیی وردک: بلې، دا ټول د طب کتابونه دي چې موږ د استادانو او محصلینو لپاره ځای په ځای کړي دي، سربېره پر دې موږ په دې هم اکتفا نه ده کړې ځکه چې د ژوند اکثره شیان ډیجیتل کېږي، موږ دغه ټول درسي مواد کتابونه د آلمان هېواد بوخم پوهنتون ته لېږو، هلته بیا دوی آنلاین دا خپروي، که چیرې د تلویزیون کامره امکان ولري دلته دا لینک ورکړئ یعنی هر څوک وروسته له راجستر څخه که په افغانستان کې وي، که په افریقا کې وي او که په اروپا کې وي کولی شي دغه درسي کتابونه ټول ډاونلوډ کړي، او ګټه ترې واخلي.

ما ته د کنړ او بدخشان څخه هم تلیفونونه شوي دي زه بس بیا دغه د ویب سایت آدرس ورکوم چې د دې نه بیا دوی دغه کتابونه په آسانی سره کولای شي خپلو کامپیوټرونو ته ډاونلوډ کړي او ګټه ترې واخلي.

*آریانا: خوب از این ډی وی ډی های تان ، اگر به دسترس ما قرار دهید که با خود داشته باشیم.*

یحیی وردک: بلی، دا نمونې یې د تاسې د پاره در کولی شم.

*آریانا: ما در برنامه صبح و زندگی بخش پانزده دقیقه یی، بخش سلامتی داریم، چون بخش های مهم آن بر میگردد به طب، میخواهیم اینها را داشته باشیم، در بخش پانزده دقیقه سلامتی، من این را از پیش تان بگیرم؟*

یحیی وردک: بلی، ښځي سمه ده، او راغلو موضوع ته چی پاته شوه، دا Breast Cancer په افغانستان کې یوه مهم مسئله ده، دلته تېره اونۍ فکر کوم څو سیمینارونه او ورکشاپونه هم وو، له بده مرغه په افغانستان کې په مهمو موضوعاتو کې دا خبرې ډېرې کېږي او سیمینارونه جوړېږي، خو موږ دغسې علمي کار ورته کړی دی او د سینې سرطان تشخیص، تداوۍ او مخنیوی په اړه مو یو علمي کتاب چاپ کړې دي، په همدغه وروستیو ورځو کې چې دا به ان شاالله د سینې سرطان د مخنیوي، تشخیص او تداوۍ کې به موږ له ډاکتر صاحبانو سره مرسته وکړو.

*آریانا: با مطالعه این، کار شان راحت تر هم پیش می رود.*

یحیی وردک: بلی، بلی.

*آریانا: تشکر داکتر صاحب یحیی وردک از این که دعوت ما را پذیرفتید، سلامت باشید، وقت خوش برای شما میخواهیم.*

یحیی وردک: تشکر

*آریانا: کتاب های تان زیاد بود و صحبت های زیاد باقی مانده، ان شاالله در برنامه های بعدی باز هم شما را دعوت خواهیم کرد.*[۱]

---

[۱] آریانا نړیوال تلوېزیون، د افغانستان پوهنتونونو ته درسي کتابونو په اړوند له ډاکتر یحیی وردک سره مرکه، کابل، د ۲۰۱۷ زېږدیز کال د اکتوبر د میاشتې ۲۳مه نېټه.

# د پوهنتونونو لپاره شل عنوان درسي کتابونه چاپ شول

*یاددښت: دغه ګزارش چې د پژواک خبري آژانس ژورنالېست ښاغلي محمد حلیم کریمي د ۲۰۱۷ زیږدیز کال د اکتوبر په ۳۱مه نېټه لیکلی (د افغان پوهنتونونو لپاره شل عنوان کتابونه چاپ شول) نومېږي او د هغو ۲۰ عنوان نوو کتابونو په هکله دی چې د افغانستان د لوړو زده کړو د موسساتو لپاره په کابل کې د یحیی وردک دفتر نوي چاپ کړي او شمېر یې ۲۰۰۰۰ ټوکه وو. د ګزارش متن په لاندې ډول دي:*




د "افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې" (Kinderhilfe-Afghanistan) په مالي مرسته شل عنوان کتابونه چاپ شوي او ټاکل شوې ده چې د هېواد د پوهنتونونو په واک کې ورکړل شي.

د لوړو زده کړو وزارت سلاکار، ډاکټر یحیي وردک وایي چې دغه کتابونه یې د یادې کمېټې په مرسته چاپ کړي چې د طب، انجنیري، اقتصاد، کرنې، ساینس او ژورنالېزم په برخو کې دي.

د نوموړي د معلوماتو له مخې په چاپ شویو کتابونو کې اطلاعاتو ته د لاسرسي لارې چارې، عمومي بیولوژي، د پروژو تحلیل او مدیریت، د انجنیرۍ میخانیک، کلکولس او تحلیلي هندسه، لومړۍ برخه، کلکولس او تحلیلي هندسه دوهمه برخه، د کرنیزو محصولاتو بازارموندنه، کارتوګرافي د توپوګرافي له اساساتو سره، انرژي سمپاکوونکې ودانۍ، د موادو مقاومت، فزیکي کېمیا ګازونه او کېمیاوي ترمودینامیک، حیاتي جغرافیه، د فاصله اوبو انجنیري، د عصبي سیستم اناټومي، د وینې حجرې، تنفسي جهاز، هضمي جهاز او د نوو زېږېدلو فزیولوژي، اقتصادي جیولوجي، د سیني، بطن او حوصلې اناتومي.

دغه راز فزیکي تشخیص او تاریخچه اخیستنه، د ځانګړو حساسیتونو، پوستکي او تونومیک او مرکزي سیستم فزیولوژي او د درملو بدې اغېزې شاملې دي.

د ډاکتر وردک د معلوماتو له مخې، دغه کتابونه د دولتي او خصوصي پوهنتونونو او ځینو کتابتونونو او نورو بنسټونو په واک کې ورکول کېږي څو محصلین، استادان، ډاکتران او نور خلک کار ترې واخلي.

سرچینې وویل چې د دغو کتابونو د ژباړې او تالیف لپاره یې هېڅا ته حق الزحمه نه ده ورکړې؛ خو د دغو چاپ شوو کتابونو په بدل کې د کتاب لیکوال یا ژباړونکي ته د تشویق لپاره ۱۰۰ ټوکه کتابونه ورکړل شوي او زیاته یې کړه چې که څوک د دغو کتابونو مطالعې ته اړتیا لري، د (www.ecampus-afghanistan.org) انټرنېټ پاڼې څخه یې په وړتیا توګه ډانلوډ کولای شي.

هغه چې له ۱۳۸۹ هجري لمریز کال څخه په دېخوا د مختلفو موسسو په ملتیا توانېدلی کابو ۲۵۰ عنوان کتابونه چې ډېری یې طبي او یو شمېر یې غیر طبي دي، د افغانستان د پوهنتونونو لپاره چاپ کړي، زیاته یې کړه چې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې د طب، انجنیري، اقتصاد، کرنې، ساینس او ژورنالېزم په برخو کې ټول ټال ۱٤۰عنوان کتابونو د چاپ لګښت ورکړی دی.

که څه هم چې د دغو کتابونو په چاپېدو سره د ډېرو محصلینو ستونزې تر یو حده حل شوې دي؛ خو لا هم د افغانستان د نورو پوهنځیو محصلین د درسي کتابونو او سرچینو له کمښت څخه شکایت لري.

د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي یو تن محصل (الیاس غیاثي) وویل چې د دغه پوهنځي محصلین، له درسي نصاب سره ستونزه لري او یو شمېر درسي کتابونو د ریفرنس د مشخص کېدو له نه شتون څخه شکایت لري.

هغه زیاته کړه چې د دغه پوهنځي ځینې استادان مشخص کتابونه نه تدریس کوي، له انټرنېټ څخه د موضوع اړوند ډېرې داسې لکچرنوټونه کاپي کوي چې د افغانستان له شرایطو سره توپیر لري.

هغه د لوړو زده کړو وزارت څخه د یو مسئول ارګان په توګه غواړي چې په پښتو او دري ژبو داسې درسي کتابونه چاپ کړي چې هم له نړیوالو معیارونو او هم د افغانستان له شرایطو سره توافق ولري.

په ورته وخت کې د کابل پوهنتون یوې تنې محصلې آغلې (آرزو) هم اندېښنه څرګنده کړه چې ډېری استادان د تدریس لپاره مشخص درسي مواد نه لري.

آرزو زیاته کړه چې د لوړو زده کړو وزارت باید دې ستونزې ته لازمه پاملرنه ولري.

د کابل پوهنتون دغه محصل د خپلو خبرو په دوام کې د لوړو زده کړو وزارت سلاکار ډاکټر یحیی وردک د دغو هڅو چې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې په مالي مرسته یې سلګونه عنوان کتابونه چې شمېر یې لسهاوو زره ټوکه ته رسېږي، چاپ کړي دي، خوشالي څرګنده کړه او دا اقدام یې وستایه.[۱]

---

[۱] کریمي، حلیم، د افغان پوهنتونونو لپاره شل عنوان کتابونه، پژواک خبري آژانس، کابل، د ۲۰۱۷ زېږدیز کال د اکتوبر ۳۱مه نېټه

# د چاپ شوو کتابونو په هکله د خوست شیخ زاید پوهنتون له استادانو او محصلینو سره مرکه

*یادښت: دغه راپورتاژ په کابل کې د ډاکتر یحیی وردک دفتر د هغو نوو چاپ شوو درسي کتابونو په هکله دی چې د خوست شیخ زاید پوهنتون لپاره یې چاپ کړي وو. دغه راپورتاژ د ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د لیندۍ د میاشتې په ۴مه نېټه د لوړو زده کړو وزارت د نشراتو د ریاست د کارمند نباغلي نسیم ګل سهار له خوا د خوست شیخ زاید پوهنتون د استادانو او محصلینو سره د مرکو پر بنسټ جوړ او د لوړو زده کړو په نشراتي چینلونو کې خپور شوی دی.*

*د دې راپورتاژ متن په لاندې ډول دی:*

یو هېواد تر هر څه د مخه یو پیاوړي او معیاري تحصیلي نظام ته اړتیا لري او دغه تحصیلي نظام هغه وخت رامنځته کېدای شي چې هېواد یې په مسلکی کادرنو او همدارنګه معیاري او نویو درسي کتابونو سمبال وي، په یو معیاري تحصیلي سیستم کې د ښه استاد ترڅنګ ښه کتاب ته جدي اړتیا ده. که څه هم افغانستان کې د تېرو ۱۸ کلونو په اوږدو کې په تحصیلي برخه کې د کمیت له پلوه د پام وړ پرمختګونه رامنځته شوي او دولتي پوهنتونونو ترڅنګ ګڼ شمېر خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې هم فعالیت کوي، خو تر اوسه په ډېرو دغو بنسټونو کې د پخوانیو درسي چپټرونو څخه خلاصون نه دی شوی. په پوهنتونونو کې د چپټریز نظام د ختمولو او پر ځای یې نویو درسي کتابونو ته د سپارلو لپاره ځینې د پام وړ اقدامات ترسره شوي او د ګوتو په شمېر ځوانانو د نویو درسي کتابونو د چاپ لپاره هڅې کړې.

له دې جملې څخه یو نوم چې د افغانستان تحصیلي نظام لپاره یې د نویو او معیاري کتابونو د چاپ په برخه کې د پام وړ هڅې ترسره کړي او د افغانستان بېلابېلو پوهنتونونو لپاره یې د طب، انجنیرۍ، زراعت، اقتصاد، ژورنالیزم او نور بېلابېلو برخو کې د استادانو تدریسي کتابونه چاپ کړي او د محصلانو په خدمت کې یې ورکړې، د ډاکټر یحیی وردک دفتر دی. نوموړي د آلمان د بېلابېلو موسسو او ادارو په مرسته

د ګڼ شمېر دولتي پوهنتونونو لپاره د استادانو منل شوي تدريسي اثار چاپ ته سپارلي او د پوهنتونونو کتابتونه يې پرېږ غني کړي، چې اوسمهال ورڅخه محصلان په خپلو زده کړو کې ګټه پورته کوي. يو له دغو پوهنتونونو څخه د خوست شيخ زايد پوهنتون دی چې په لسګونو استادانو علمي آثار يې د ډاکټر يحيی وردک دفتر له خوا چې په لوړو زده کړو وزارت کې قرار لري، چاپ شوي او د ياد پوهنتون ادارې ته سپارل شوي دي. دا چې د دغه پوهنتون استادان او محصلان له يادو کتابونو څخه په څه ډول ګټه پورته کوي او د دغه پوهنتون په درسي کيفيت يې څومره اغېز کړی دی په اړه يې د ياد پوهنتون له څو تنو استادانو او محصلانو نظريات لولو.

*د خوست شېخ زايد پوهنتون طب پوهنځي استاد پوهاند دوکتور بادشاه زار ابدالي:*

*لومړی پوښتنه: دا چې تحصيلي نصاب د افغانستان په پوهنتونونو کې ډېر پخوانی دی او په زياتره پوهنتونونو کې د پنځوسو کلونو مخکې چپټرونو څخه استفاده کېږي او اوسمهال چې علم نوی شوی، غوښتنې يې نوې شوي او هغه زاړه چپټرونه اوس کفايت نه کوي، نو اوس د نويو تدريسي موادو او کتابونو چاپ ته څومره اړتيا ده؟*

ځواب: اوس مهال چې د افغانستان ټول دولتي او خصوصي پوهنتونونه د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې د کيفيت د تضمين تر پروسې لاندې دي او دوی کوښښ کوي چې باکيفيته او وړ محصلان ټولنې ته وړاندې کړي. د باکيفيته محصلانو په تقديم کې تر هرڅه مهم درسي مفردات او ښه درسي کريکولم دی چې د ټولنې د اړتياوو پر وړاندې ځواب ويونکی وي او د هغې پر بنسټ محصلانو ته زده کړې ورکړل شي. څرنګه چې د اوو- اتو کلونو راهيسې په لوړو زده کړو وزارت کې د ډاکټر يحيی وردک په مشرۍ يو دفتر وجود لري چې د هغوی له خوا بېلابېلو پوهنتونونو ته ډېر زيات کتابونه په پښتو او دري ژبو چاپ شوي او له پوهنتونونو سره کمک وشو، موږ او تاسو پوهېږو چې لوړو زده کړو وزارت اوسمهال ډېر امکانات نه لري او د دې وزارت يو مهم لومړيتوب دادی چې پوهنتونونو ته د پرمختګ لپاره نوي او اغيزمن درسي

کتابونه برابر کړي، اوس هم ځینې زاړه چپټرونه په پوهنتونونو کې شتون لري چې ډېرې ستونزې لري. دغه مواد باید په نوې بڼه د کتاب په شکل واړول شي، له نویو نړیوالو مفرداتو څخه پکې ګټه پورته شي او د اوسني عصر د غوښتنو سره سم کتابونه چمتو شي. د نویو کتابونو په چاپ باندې استادان ترفیع کوي نو باید باکیفیته کتابونه برابر کړي او د محصلانو په خدمت کې یې ورکړي. یوه ستونزه دا ده چې اوس د لوړو زده کړو وزارت له خوا د کتابونو چاپ پروسه ډېره بطي ده او باید په دې برخه کې ډېر کار وشي.

دغه دفتر چې د ډاکټر یحیی وردک په مشرۍ د لوړو زده کړوت په چوکاټ کې د استادانو لپاره په لوړ کیفیت تدریسي کتابونه چاپوي ډېر زیات ورڅخه منندوي یو. زه د خوست ولایت شیخ زاید پوهنتون جراحي څانګې مشر یم او دوکتورا مې په شوروی اتحاد کې کړېده، زما ۷ بېلابېل درسي کتابونه د دغې ټولنې له خوا چاپ شوي دي او ټول د محصلانو د مفرداتو سره سم دي، چې ما پرې علمی ترفیع ګانې اخیستي دي، نور هم ډېر استادان دي چې ډېر زحمت باسي او کتابونه یې له همدې دفتر له خوا په لوړو زده کړو په وزارت کې چاپ کېږي. باید ووایم چې د دې دفتر هڅې او خدمت د پوهنتونونو او محصلانو په پرمختګ کې او د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د تضمین پروسې په پلي کولو کې عمده ونډه لري. د یحیی وردک دفتر سره هره اداره چې مالي مرسته کوي هغه که د آلمان دي او که افغانان دي، واقعا پر ځای مرسته ده او زما غوښتنه دا ده چې دغه مرستې نورې هم زیاتې شي، څو د دې دفتر له خوا د افغانستان په اکاډمیکه برخه کې لا ښه خدمتونه ترسره شي. د ښه کتاب په چاپ سره موږ کولی شو ټولنې ته ښه محصلان وړاندې کړو. د آلمان له هېواد څخه چې تل یې له افغانستان سره همکاري کړې او ټولو هغو موسسو څخه په ځانګړې توګه (افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې ...) چې همدا اوس د دې دفتر مالي ملاتړ کوي مننه کوم او د هغوي د لا ډېرو همکاریو په هیله یم. ځکه دغه دفتر تل د پوهنتونونو

په خدمت کې دی، دغه دفتر د ټولو دولتی پوهنتونونو لپاره یو ډول خدمتونه وړاندې کوي او علمی آثار ورته برابروي. موږ چې هر کتاب دوي ته ورلیږلي د پوهنځي د ضرورت پر بنسټ ټاکل شوی، د علمي معاونیت څخه ټاپه شوي او دوی ته سپارل شوي چې دې دفتر له دریو څخه تر شپږو میاشتو په اوږدو کې زموږ لپاره چاپ کړی او زموږ د محصلانو په چوپړ کې یې ورکړی دی. زه د دوی له خدمتونو څخه د زړه له تله مننه کوم او د لا ډېرو همکاریو د دوام په هیله یم. د لوړو زده کړو وزارت له مسئولینو او په ځانګړې توګه له علمي معینیت څخه مې هم هیله ده چې له دغه دفتر څخه خپل ملاتړ زیات کړي.

کتاب هغه څه دی چې محصل ورڅخه په ښه ګټه پورته کولی شي، که څه هم په انټرنېټ او کتابتونونو کې ډېر کتابونه شتون لري، خو په خپله ژبه د محصلانو لپاره د کتابونو برابرول ډېر اړین دي او هغوی ورڅخه ښه ګټه پورته کولی شي. همدارنګه خپلې ژبې ته خدمت هم په کتاب پورې تړلی دی او موږ باید خپلې ژبې ته د علمي آثارو د رامنځته کولو له لارې خدمت ترسره کړو.

*پوښتنه: استاد محترم دغه کتابونه چې په دې وروستیو کې چاپ شوي مثلا ۷ عنوان کتابونه ستاسې دي، همدارنګه د نورو استادانو کتابونه دي، اغیزمنتیا یې څومره ده؟*

ځواب: که چېرې زموږ د پوهنتون څخه لیدنه وشي نو لیدل کېږي چې زموږ محصلان ۸۰ سلنه له هغو کتابونو څخه ګټه پورته کوي چې په لوړو زده کړو وزارت کې د ډاکټر یحیی وردک دفتر له خوا ورته چاپ شوي او په دې کتابونو سره د هغو زړو چپټرونو چې غیر معیاري وو د استعمال مخه نیول شوې ده. دغه کتابونه د نویو درسي مفرداتو مطابق دي او د محصلانو لپاره ډېره ګټه کوي او ورڅخه خوښ دي. دغه کتابونه د څانګې مشر، پوهنځي مشر او وروسته علمي معاونیت له خوا کتل کېږي او وروسته چاپ ته لېږل کېږي چې هېڅ ډول غلطي په کې شتون نه لري.

*پوښتنه: دغه کتابونه څومره اپډېټ دي یعنې څومره د نوي تدریسي سېستم سره جوړ دي؟ او په راتلونکي کې کوم معیار نه باید په نظر کې ورته ونیول شي؟*

ځواب: دغه کتابونه که وکتل شي ټول نوي دي، له نویو ریفرینسونو څخه پکې ګټه اخیستل شوې، نوي ګرافیک او تصویرونه پکې کارول شوي، د هر کتاب په پای کې که ولیدل شي نوي ریفرینسونه ورکړل شوي دي او موضوعات یې نوي دي.

دا چې کتابونه نور هم پرمختګ وکړي او علمي کتابونه زیات شي، د هرې څانګې او پوهنځي دنده ده چې استادانو ته نوي آثار په لاس کې ورکړي، ویې لیکي او نوي آثار خپلو ژبو ته وژباړي، لکه ایران او ځینې نور هېوادونه چې د نړۍ په هره برخه کې نوی کتاب چاپ شي دوی یې خپلې ژبې ته را ژباړي او د خپلو خلکو په خدمت کې یې ورکوي.

زه وایم کوم کار چې د ډاکټر یحیي وردک دفتر په لوړو زده کړو وزارت کې پیل کړی، نورې ټولنې، اداري او اړوند اړخونه هم باید ورته خدمت ته ملا وتړي. یوازینی شی چې ټولنې ته پرمختګ ورکولی شي نوی او معیاري کتاب دی، نو دولت باید د دغسې ټولنو څخه ملاتړ وکړي.

د علم اساس کتاب دی، پوهنتون دی او د پوهنتون استادان دي .

*پوښتنه: استاده د دې کتابونو په چاپ سره په تدریسي سېستم کې څومره بدلون رامنځته شوی؟*

ځواب: زه به دومره ووایم چې د ډاکټر یحیی وردک دفتر له خوا چې د مختلفو پوهنتونونو لپاره کوم کتابونه چاپېږي هغه ټول موږ ته رارسېږي یعنې ټولو پوهنتونونو ته استول کېږي، که تاسو د شېخ زاید پوهنتون طب پوهنځي کتابتون وګورئ، ۹۰ سلنه کتابونه یې د همدې دفتر له خوا زموږ په واک کې راکړل شوي او که عمومي کتابتون وګورئ نو نږدې ۵۰ سلنه کتابونه یې د همدې دفتر له خوا څخه راغلي دي. نو طبعا موږ چې کله محصل ته درس وایو او ریفرنس ورته ښایو نو له همدې کتابونو

ځخه استفاده کوي. مثلا زه د ګېډې د ملحقاتو جراحي تدریسوم چې دغه کتابونه د یاد دفتر له خوا ته ۱۰۰۰ جلده چاپ شوي او زموږ په کتابتون کې شته چې محصلین په همدغه کتابتون کې ورځخه استفاده کوي، زموږ هر محصل د لومړۍ ورځې ځخه د کتاب ځښتن دی او له همدې کبله په استادانو پسې ځان رسوي، په داسې حال کې چې مخکې به چپټرې وې او تر ډېره وخته به د محصل په لاس کې نه ورکول کېدې او یا به محصل غریب چاپولی نه شوې، خو اوس دغه کتابونه د محصلانو لپاره وړیا دي. زه هیله لرم چې د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې نورې هم ورته ټولنې رامنځته شي چې د استادانو د علمي آثارو په چاپ کې له موږ سره مرسته وکړي.

*پوښتنه: که په لنډ ډول راته ووایاست چې له دغو کتابونو ځخه محصلان ځومره خوشحاله دي؟*

ځواب: که تاسو زموږ د پوهنځي له درسي خونو ځخه لیدنه وکړئ نه یوازې کتابونه بلکې پراجکټورونه هم موږ ته د همدې دفتر له خوا راکړل شوي چې موږ په تدریس کې ورځخه ګټه اخلو او موږ همښ په خپلو ټولګیو کې د لوړو زده کړو وزارت او په ځانګړې توګه د ډاکټر یحی وردک له همکاریو ځخه مننه کوو او زموږ محصلان له دې دفتر او ټولو هغو موسسو ځخه چې په دې برخه کې همکاري کوي ډېر خوشحاله دي. زه د یو استاد په صفت د لوړو زده کړو وزارت له علمي مرستیال ځخه په خورا درنښت هیله لرم چې تاسو دغه دفتر ته ځانګړې پاملرنه وکړئ، ستاینلیکونه ورکړئ او خپل ملاتړ ورځخه زیات کړئ ځکه یو ارزښتمن کار د پوهنتونونو لپاره د معتبرو کتابونو چاپول او د محصل په لاس کې ورکول دي چې نوموړي دفتر دغه کار په غوره طریقه ترسره کړی دی.

*پوښتنه: استاد یو لورې ته د تحصیلي نصاب د نوي کولو موضوع ده چې د لوړو زده کړو وزارت لومړیتوب دی او کار یې پرې پیل کړی دی او بل لورې ته په دې برخه کې*

*د نويو تدريسي کتابونو شتون هم ډېر مهم دی، په دې لاره کې ستاسې وړانديز څه دی نورو استادانو ته چې څه بايد وکړي؟*

ځواب: لکه څرنګه چې په نوره نړۍ کې تحصيلي نصاب هر پنځه کاله وروسته نوی کېږي، زما وړانديز دا دی چې موږ هم د پنځو کلونو په موده کې هر کتاب بايد نوی کړو، نوې څېړنې ور شاملې کړو، استادان بايد شپه او ورځ کار وکړي، د مشرانو استادانو تر لارښوونې لاندې خپلې څېړنې بايد کتابونو ته داخلې کړي، علمي مجلې بايد رامنځته کړو او د ټولو پوهنتونونو ترمنځ شريکې شي. موږ بايد د لوړو زده کړو په وزارت کې يوه ځانګړې اداره ولرو چې کار يې يوازې او يوازې د تدريسي موادو رامنځته کول او چاپول وي. د ډاکټر يحيی وردک د دفتر ترڅنګ يوه بله اداره هم بايد په کار پيل وکړي او د استادانو آثار چاپ کړي. زموږ ځوان استادان تکړه دي، زياتره يې د بهرنيو ژبو سره بلدتيا لري، دوی بايد ژباړې وکړي، علمي تحقيقات ترسره کړي او د کتابونو په بڼه يې چاپ کړي. د اوسنيو ناخوالو څخه د خلاصون لاره هم د علمي پانګې غني کول او د ټولنې روزنه ده. که وغواړو چې د نورو پرمختللو هېوادونو په علمي کاروان پسې ولاړ شو نو بايد کار وکړو.

*پوښتنه: په لنډو ټکو که راته ووايې استاده محترمه چې د ډاکټر يحيی وردک له دغه کار څخه څومره راضي ياستی او غوښتنه مو څه ده؟*

*ځواب: زه ډاکټر صيب يحی وردک ته د اوږد ژوند هيله کوم او سپارښتنه مې دا ده چې د علمي آثارو د چاپ په برخه کې نور هم ګړندي ګامونه پورته کړي، ډاکټر صيب ته مو دعوت دی چې راشي او زموږ پوهنتون څخه ليدنه وکړي، موږ چمتو يو چې په دې برخه کې ورسره خپل مالي ملاتړ هم ترسره کړو.*

*د خوست شيخ زايد پوهنتون ژورناليزم پوهنځي رئيس پوهنوال ماسټر واحدي*

*پوښتنه: هغه کتابونه چې د ډاکټر یحی وردک دفتر له خوا ستاسو پوهنتون لپاره چاپ شوي څومره اغیزمن تمام شوي، محصلانو ته یې څومره ګټه رسېدلې او څومره اسانتیا یې په تدریسي سېستم کې رامنځته کړې ده؟*

ځواب: اغیزمنتیا یې ډېره زیاته ده ځکه موږ تر اوسه پورې درسي مرستندویه کتابونه نه درلودل. په دې وروستیو کې چې ځینې استادانو دا اراده وکړه چې نوي کتابونه چاپ کړي، د پوهنتون لپاره یوه سرمایه شي او محصلان ورڅخه ګټه واخلي. مخکې ټول لکچرنوټونه وو، ما هم دوه کتابه د ډاکټر صاحب یحیی وردک دفتر په همکارۍ چاپ کړي، له دې مخکې ما د کابل پوهنتون استادانو او نورو لیکوالو له کتابونو څخه استفاده کوله او د هغوي لکچرنوټونه مو تدریسول، خو بالآخره دې ته مجبور شوو چې موږ هم باید خپل تدریسي کتابونه ولرو او خپل کتابونه مو چاپ کړل، په دې کار سره موږ ته ډېره آسانتیا رامنځته شوه. د لکچرنوټ او درسي ممد کتاب تر منځ ډېر توپیر دی، ما د راډیوي پروګرامونو تولید او تلویزیوني پروګرامونو تولید په نامه دوه کتابونه چاپ کړل څو زموږ محصلان یې ولولي. دغه د کتابونو چاپ له موږ سره واقعا د دغه دفترستره همکاري ده، دوي یوازې د ژورنالیزم نه بلکې د طب، اقتصاد او نورو برخو کې هم کتابونه چاپ کړي چې موږ له دوی څخه ډېر منندوی یو، ځکه زموږ محصلان اوس درسي ممد کتاب لري.

*پوښتنه: استاد محترم لکه څرنګه چې لوړو زده کړو وزارت په دې وروستیو کې د درسي نصاب د معیاري کولو لپاره هڅې پیل کړې او غواړي زوړ چېټریز تحصیلي نظام څخه لوړې زده کړې را بهر کړي او تدریسي کیفیت لوړ کړي، په دې برخه کې د نویو تدریسي کتابونو اړتیا څومره ده؟*

ځواب: له اندازې زیات ګټور دي، چېټرونه ډېر زاړه دي، دا چې زموږ د ژورنالېزم پوهنځی اوس مهال د امریکې له یو پوهنتون سره توامیت لري او کریکولم مو نوی شوی او چېټریز نظام مو ببخې له منځه وړی، هڅه مو همدا ده چې د چېټرونو معیار

